


## په ادارو کی څه تیریږي؟





لیکوال: روبرت توماس (یوناما)

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**فساد تر طالب خطرناکه دی.**
**( دناټو عمومي قوماندان السن)**





| | | |
|---|---|---|
| دکتاب نوم | : | په ادارو کي څه تیریږي |
| لیکوال | : | روبرت توماس (یوناما) |
| ژباړونکي | : | منصورعلي سیل بین |
| دیزاین | : | خادم حسین |
| کتاب خانه | : | حضرت علي کتاب چاپولو موسسه |
| تیراژ | : | ۱۰۰۰ ټوک |
| کمپیوتر کار | : | احمد علي |
| کال او محل | : | ۱۳۹۳ – پیشاور- پښتونخوا |
| حق محفوظه | : | ازاد |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تقریظ

ښاغلی سیل بین ته تبریکي وایم ، چي په ډېر دقت او پوره سنجیش یي مستند ناخوالي پېښي راټولي او تاریخ ته سپارلي دي او ډېر زحمت یي ایستلي او په پوره بي پرې یي پېښي تعقیب کړیدي.

شر او فساد یو ټولنیز رنځ دي او هر رنځ په لومړی سر کي تشخیص شي او علت یي څرګندشي ، دوهمه مرحله یي اسانیږي، چي باید اصلاحات پکي راشي او درملنه یي وشي.

دلته ښاغلي منصور علي سیل بین زیار ایستلي، چي پیښي راټولي کړي او دراتلونکی نسلونو د پاره څرنګه چي ده محترم لیکلي دي، دعبرت او پند سبب شي. او دایي په ګوته کړي ، چي دهیواد دبدبختي لامل په څه کي دي او مقدس جهاد څنګه خراب او دمجاهد ارمان څه ډول تر خاورو لاندي شو ؟

په ډېر افسوس زموږ ولس د قاچاق، رشوت، اختلاس، غصب، اختطاف، لاري نیول، تجاوز، فریب، جاسوسي، زورګویي، تبعیض، جعل،تزویز، خیانت او بل هر ډول لوی او وړه قانون شکنی نه رنج وړي او د نجیب ولس د بدنامي لامل دي، د پرمختګ او د ولس د رفا لار یي ډب کړیده.

دسیل بین صیب دا یو پر ځای کاردي. کور یي ودان او زوی یي لوی.

په درناوي

ګل مرجان ودان

پښتونخوا ـــ پیشاور

۲۰/ ۸/ ۱۳۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیلامه

بسم الله الرحمن الرحیم

**حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ نِعْمَ الْمَوْلَى وَنِعْمَ النَّصِيْرُ**

وايي سيېل بين د ېنځو وزيرانو عقل لري. ما دوطن ناخوالي په خپلو سترګو ليدل او يا اوريدل، تحليل به مي کاوه، رنج به مي وړي، مګر د اصلاح توان راسره نه ؤ او نه د مداخلي حق. ترڅو دامي قصد وکړ، چي دا ناخوالي د کال ۲۰۰۱ نه پيل او تر ۲۰۱۴ پوري ثبت کړم، چي دا جينائي پيښني د استاد برهان الدين رباني او مجاهدينو د دور دسکي کټ مټ بل مخ دي اويا دهغه عصر دوام دي، چي کارګردګان او هيروګان يي هم هغه کسان دي. تاريخ ته وسپارم ، چي څيري بربنډي دي او دجهاد د بدنامولو علتونو سره پيوند لري او قضاوت و ګرانو لوستونکو ته پريږدم.

کله چي دا څو پاڼي ليکل بشپړ شوي او دکتاب ډول يي غوره کړ، حيران وم چی څه نوم ورکړم، په لومړی سر کي هم د نوم په فکر کي نه وم، ولي چي لومړی بايد زوی پيداکړي او بيا يي نو د نوم په فکر کي شي.

کله به مي ويل چي ( افغاني ويکي لکس) و نوموم، ولي چي افشاکيري پکښي وي. کله به مي دا ويل ، چي ( جينايي کيسي ) نوم ورکړم. کله به هغه د طالب اصلاح چي ( شر او فساد ) به يي باله غوره کړم.

او يا (دهيواد په ادارو کي څه تيريږي) تاسي ارجمندان چي هر نوم ورکوي. ما وکولای شوای، څو مستند د شر او فساد پيښني نمونه راټولي کړم او د پند او عبرت د پاره ستاسي حضور ته وړاندي کړم، چي دا څيري او دشر او فساد مرحلي و پيژندل شي او زموږ د هيواد دبدبختي علتونه په همدي مرحلو کي نغښتي دي، آن کورنی او اولادونه به يي پدي کړو وشرميږي.

همدا کړني چي په ادارو کي تيريږي ، چي د شر او فساد لامل ګرځيدلي دي.

سياسي بحث نلرم، مګر ولس بايد دا هم ومني او ورسره عادت وومي چي دا ديوي وړي سيمي ( ولسوالی) په دولت کي يوه لويه برخه ورسيږي، که نه د لجاجت نه کار اخلي. او ارومره ددولت په سر کي به ځای لري، به غير ددي نه د مارشال فهيم خبره، د عدم قناعت په صورت کي به بيا غرو ته پورته شي. مثلاً :

د کرزي صاحب د لنډ مهالي او انتقالي دوره کي مارشال فهيم لوی مرستيال ؤ، د لومړي انتخابي دوري په وخت کي ضياً مسعود، په دوهمه انتخابي دوره کي بيا مارشال فهيم ، د مارشال فهيم د وفات نه وروسته فوري دده ځای محمد يونس قانوني ته ورکړه شوو، اوس د احمدزی وخت کي ضياً مسعود واجب الاحترام غير مسؤل او هر کاره، هغه بلي خواته ډاکټر عبدالله او ملګري يي ځای لری.

دا خپل حق بولي ، نه قانون مني او نه ديموکراسي. کومه قضيه چی ما اوريدلي ده، يا يي منبع باوري وه او يا يي مستند سازي کړيده. څه چی راغلي دي پر واقيعت او حقيقت ولاړ دي.

په درناوي

منصور علي سيل بين

۱۳۹۰ /۸ /۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان فهرست صفحه


مرام....1
له کانونو څخه غیر قانوني ایستني....20
جان سپکو ویلي دي چي دافغانستان له یوه بانکي حساب پنځوس ملیونه ډالر ورک شویدي....21
ددرغلی یوه بیلګه....22
ستا نه یو زوی غواړم....23
دیوه پولیس دزړه حال....25
شرکتونه دي خپل لګښتونه؛ په زکات کي حساب کړي....27
د داینمنټو غلا....28
داداري فساد د پاره عدم سیاسي اراده....29
چاته له بداخلاقي څخه د لاس اخیستو نصیحت مه کوي، چي برخلیک مو وهل او ټکول کیږي....31
دمخدرو توکو قاچاق او دقانون حاکمیت....32
په ملي دفاع وزارت کي یو قرارداد....34
د اختلاس یوه نمونه....36
حاجي جمال قدیر....38
پرمنصور احمدزي تور....41
د وسله وال بغاوت یوه بیلګه....42
ددرغلی یوه نوی بیلګه....43
د زورواکی د چلولو یوه بیلګه....44
په پښتني بانک کي خیانت....46
سپیشل فورس....47
د شهید سردار محمد داود خان قاتل په کابل کي دي....48
بي پوښتني او بي حسابه لګښتونه....50
دمور په مخ کي د زوی وژل....51
پروژي او دسیمي امنیتي مسوولین....52
جمهوررئیس په جنګي جرمونو سترګي پټوي....53
خوش ګذران سفیران....54
دخمکو د مافیایي کړیو د غصب یوه بیلګه....55
جنرال محمد کبیر اندرابي....56

(c) ketabton.com: The Digital Library

غیرمسلکي دیپلومات ........ 57
روسیي اوره ........ 58
دووو مرموزو کمپنیو جګړه ........ 60
عاطله او باطله وزارت خونه ........ 62
دچاروکو غیر ضروري لګښت ........ 64
مشاور وزیر ........ 66
غصب او زورواکی ........ 67
د شهر نا پرسان یوه قضیه ........ 68
کابل بانک ........ 69
په لوګر کي اختلاس ........ 70
د زور واکي یوه بیلګه چي ځوک یي د پوښتني توان نه لري ........ 71
د نکاح په جرم په شهادت رسیدل ........ 72
اریانا افغان هوایي شرکت ........ 73
د حاجیانو انتقال ........ 75
کاستر او که پلانکوچ ؟ ........ 76
د پوهني وزیراو د وکیلانو امر ........ 77
قاچاقبران او قاضیان ........ 78
د قضا استقلالیت ........ 79
د ناموس ساتونکی او که دناموس غل ؟ ........ 80
د ۲۵۳۵۶۸۲۵ افغانیو اختلاس ........ 81
د حاجیانو خرڅول ........ 82
په پښتني بانک کي د اختلاس د یوي بلي قضیي بیلګه ........ 84
د یو ترافیک بدي ........ 85
ملي مشارکت ........ 86
د ګلبهار تاور قضیه ........ 90
دلورپوړو چارواکو جعلي اسناد ........ 93
شرین اقا قاتل او دده رواني تکلیف ........ 95
دننګرهار په ګمرک کي دلرګیو چور ........ 96
د عامي روغیتا په وزارت کي یوه درغلی ........ 97
دحکم نه تنفیذ ........ 98
دیو ي ښځي دسنګسار ........ 99

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهرات ښاروال ........ 100
دبلخ مستوفیت ........ 101
د مهاجرینو دراستنولو پخواني وزیر ........ 102
زوریا زر ........ 103
دمالیي په وزارت کي داختلاس او درغلي قضیه ........ 104
دډیزل جنراتورونو ترون ........ 105
د بهرینو هیوادونو د خواکونو له خوا د افغانانو د وژني یوه بیلګه ........ 106
روابط مهم دي که ضوابط ؟ ........ 107
د ملي دفاع وزارت او اختلاس ........ 108
مسخه شوي قاضیان........ 109
چارواکي هم په میخ وهي او هم په نال ؟! ........ 110
د محصل تبادله ........ 111
د اختلاس یوه قضیه ........ 112
دګلاب الدین شیرزایي پور........ 113
دتیمورشاه اعدام ........ 114
دالبیروني پوهنتون رئیس........ 116
عصمت الله دولت زی ........ 117
د ۹۲۱ لاریو داوسپني قاچاق ........ 118
بیدل شرکت........ 119
په بهرنیو چارو وزارت کي د ۱۵۰۰۰۰ دالرو د اختلاس........ 120
( I.S.S ) شرکت........ 121
لیست قسمتی از املاک غصب شده وزارت دفاع را مشاهده کنید ........ 122
مصؤنیت که معافیت ؟ ........ 125
جنرال عبدالرشید دوستم........ 127
د صدر مارکیت ........ 128
تورنجنرال اندرابي صاحب ........ 129
دایي قباله په چا یي مني ؟........ 130
د نوي ښار پروژه ........ 132
ظاهرشاهي سراي ........ 134
شیطان باید ورته ګوته په غاښ ونیسي........ 135
په بهرنیو استخباراتو پوري تړلي رسني........ 136

(c) ketabton.com: The Digital Library

میر عبدالاحد صاحبي ........ 138
یو شمیر چارواکي د مخدرو توکو په قاچاق کي مرسته کوي ........ 139
وادي گرگان ........ 140
په ولسي جر گه کي څه تیریږي؟ ........ 142
په سفارتونو کي چور ........ 144
د لاجوردو په کان برید ........ 145
کانونه او زورواکان ........ 147
دکابل بانک فاجعه ........ 148
د ولسي جرگي ۶۲ غړو درغلي ........ 150
د ولسمشر پرخاي ، خوناوخته څرګندوني ........ 155
دتښتوني یوه قضیه ........ 156
د یو شمیر والیانو په اړوند ریوټ ........ 157
په گمرکونو کي ددرغلی یوه بیلګه ........ 158
دحاجي اکبر دتښتوني قضیه ........ 160
ایراني جاسوسان ........ 161
دمخدرو توکو قاچاق او جان محمد ........ 162
وزیر صاحبان ........ 163
دارزگان والي ........ 165
دکابل دهوایي ډګر اختلاس ........ 167
زاخیل وال تسلیم شو ........ 168
که زما خان غواړي تر تا به یي قربان کړم ........ 169
پلنګ در لباس ملنګ ........ 171
پردی لاربنود ........ 173
دکانونو درایستلو مخنیوی ........ 175
دقروغ دغونډیو غصب ........ 177
دافغانستان په جګړه کي دامریکا لویي تیروتني ........ 178
لیوني سپي ........ 180
لمرپه دوو گوتو ........ 181
زورواکان او په ملیاردونو ډالر زیان ........ 182
ددو ماشومانو اختطاف قضیه چي پایله یي په برائت سره تمامه شوه ........ 183
دکور غل ........ 184


(c) ketabton.com: The Digital Library


زور حق دئ ..... 185
وسیله او واسطه ..... 186
د ۳ میلونه دالرو ورکیدل ..... 187
نورستان او د غنمو ویش ..... 188
دسردار محمد داؤد خان روغتون ..... 190
لوړپوړي چارواکي به هیڅکله دعدالت میز ته راکش نه شي ..... 192
دبریښنا په ریاست کي ناوړه گټه ..... 193
د یویشتمي پیړی په لومړي لسیزي کي د خپلسریو یوه بیلگه ..... 194
دبریښنا دتخنیکي اداري لخوا غصب ..... 195
دنفتو شرکت په نامه یوه جالبه درغلي ..... 196
دکرومایت د ډبرو استخراج ..... 197
دتوطیي نمونه ..... 198
دعزیز الله لودین او داکتر شریفي موازي اداري ..... 199
عبدالمجید زابلي دملکیتونو غصب ..... 201
ناوره گټه اخیستنه ..... 202
دستري محکمي تجارت ..... 203
د پنجشیریانو په نامه یو لیک ..... 204
د ایران فرهنگي یرغل ..... 206
انوردنگر : ..... 209
د پردو دمبایلو دنمبرو څخه ناوړه گټه ..... 210
گندم نما جو فروش ..... 211
دجهاد اعلان ..... 212
ابتکار په خیانت کي ..... 213
غصب په ۱۱ راکت لواکي ..... 214
په بریښنا ریاست کي فساد ..... 215
دولتي بي عدالتي ..... 216
په نفتو کی درغلي ..... 217
په فساد کي تخصص ..... 220
د Anham کمپنی ..... 222
د ۱۱۱ قطعي د خوا وژنه ..... 223
دفواید عامي د وزارت بي کفایتي ..... 224

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد او فساد ........................................................ 225
قدم په قدم مفسد اجراات.................................................. 226
شیر پور چورشو...................................................... 227
چور لمان................................................................ 240
د فساد مخنیوي...................................................... 243

(c) ketabton.com: The Digital Library




دپاک ښښتن تعلی په نامه

## مرام

دا باید ووایم چي زه ولي دي ته اړ شوم، چي هلي ځلي وکړم ، چي د فساد په هکله د نموني په ډول څه مواد مسند را ټول کړم. ممکن د ټولني د ستونزو په تاریخ کي داهم د نسلو د پاره یو دعبرت درس وي او یا هغو کسانو چي دي ولس یي یي زړه سوی نه درلود، تاریخ ثبت کړی وي او یا زوی، لمسی او کورني یي پدي پوه شي، چي د راوړی شتمني باد نه ده راوړي، بلکي دناوړي ګټو د لاري په لاس راغلي ده او د نورو حق پایماله سویدي، لکه چي منتسکیو وایي:

« هر ځای چي لوړپوړي قصرونه ویني، بل ځای په هغه اندازه ځای کنده او چغور شویدي ».

په تاثر افغان هیواد کي په ډیره پراخه ډول فساد دود شو. کوم کسان چي د اخلاقو پر بنا او یا د خدای د بیري نه د فساد نه ډډه کول، یوازي دګوتو په شمار ؤ.

زه به چي ددي مزمن رنځ په هکله چي سیل بین ؤم د عواملو په برخه کي هم تماس ونیسم او روښنایي پر واچوم، پر علتونو بحث وکړم، میتود او دمجرمینو او مفسیدینو په تکتیک هم خبري ولیکم او پر ډولونو هم لیکنه وکړم، هیله ده ، چي ګټه ورسوي او په ویلو وارزي.

هڅه به مي همدا وي، رنځ تشخیص کړم ، نو بیا به یي درملنه او دارو لږ څه اسانه شي.

فساد دومره رسوایي ته ورسید، چي په داخلیانو یي چاره ونشول، بلکي بهرنیان د مرستي د پاره راغلل. کمیته شفافیت، سیګار او MEC نه مي مطلب دي، چي په مخ نیوي کي مرسته وکړي.

فساد د څو کلو راهیسی داد او بیداد کوي او هر ډول فساد دود موندلي ؤ، بالاخره د هغه په نتایجو هم وړغیږو.

طالبانو خپل راتګ د فساد د منځ وړولو هدف وباله. هغو به فساد په ډیر ساده ډول ( شر او فساد ) باله. واقعآ چي د طالبانو رژیم د وړاندي شر او فساد په لوړه کچه ؤ. هر ډول فساد لکه ، غصب، اختطاف، رشوت، قاچاق، تبعیض، جاسوسي، اختلاس، خویش خوري، غلا، تجاوز، لاري نیول په عام ډول دود شوی ؤ، چي پورتني ډول یو خبیثه مثلث تري جوړ ؤ. د شر او فساد تر ټولو مهم لاملونه فقط او فقط رشوت او بډي، واسطه، او زورواکی ؤ. جهاد د خاورو سره برابر شو، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهیدانو ارمان تر خاورو لاندي شو، د دوه نیم میلونو شهادت عبث ، یتیم او بوره مور او کونډې بې عزته او خواره پاته شول. دجهاد ګټلي نوم بې عزته او سپک شو. ددې ټولو لامل شر او فساد ؤ او ټوله ولس د غواي اوم او د غواي اتم یو شاني بولي.

انسان یو عاصي مخلوق دي او پدې کې شک نشته. فساد او قانون شکني په هره ټولنه کې وجود لري، مګر هلته بازخواست شته، دلته بازخواست او تپوس نشته. تربل هر وخت شر او فساد د استاد برهان الدین رباني په وخت کې اوچت تللي ؤ او دود شو.

طالبانو هم د شر او فساد د ورکیدو تر شعار لاندي راپورته شول او هر یو یې پر ځای کیناوه. امنیت راغلی، فساد کم شو، د فساد عاملین تیښتي ته اړ شول. حاجي قدیر ، حضرت علي او دننګرهار د جهادي شورا غړي مخ پر پیښور کړ. ګل اغا شیرزی کویټي کې میشته شو، قوماندان خان محمد د کندهار نه زهدان ته ور واوښت، ملا نقیب اخند تسلیم شو، جنرال محمد اسمعیل د هرات نه مشهد ته ورسید، جنرال عبدالرشید دوستم د خپلو بکسونو او میرمن سره د ترکیې استانبول کې واړول، عطا نور او شمالي ټالوال او احمد شاه مسعود تاجکستان کولاک ته ورسیدل، ګلبدین حکمیتار او حاجي عطا محمد سرکاتب زاهدان ته ورسیدل، د ملا نسیم او ملا غفار او ملا رسول د هلمند د قوماندانانو کورني هم ایران کې ځای پر ځای شول، استاد رباني خپل تخت په ځان پوري نیولي بدخشان ، کله یو ځای ، کله بل ځای اوسیده، پیر ګیلاني او حضرت مجددي په اروپا کې اوسیدل ، سیاف او مزاري هم تري تم شول. د هر چا ناموس او مال خوندي شو، غوڅ حکم او لنډه محاکمه دود شول، د ظالم لاس لنډ او پښه یې ور ټوله شول، شریعت جاري شو، ( اګر او مګر ) له منځه ولاړل، پلمې او بهانې ورکې شوې، مشکلتراشي او میرزا قلمي له منځ ولاړي. د طالب لخوا هرڅه په سپین استدلال د شریعت په رڼا کې ترسره کیدل. ایراني جاسوسان د ډیپلومات تر نامه د خپل اعمالو په سزا ورسیدل، کوم چې نن یې استاد عطا په نامه کوڅه نوموي.

پدې کې شک نشته چې طالبانو هم ستونزی درلودې ، مګر د امریکا غوښتنی ته تسلیم نشول، افغاني میلمه پالني دود یې رعایت کړ، اسامه بن لادن یې په لاس ورنکړ او خپل تاج او تخت یې په قمار کیښود، زه یې په نورو اړخونو تبصیره نه کوم، خو طالباني نظام تباهي ومنل.

تر طالبانو د وړاندي استاد برهان الدین رباني د رژیم په وخت کې نه یې خپله لیاقت درلود او نه یې بل ته وار ورکاوه. په تخت پوري سریښ شوي. کله ، کله یوه پلمه او کله بله پلمه مخ ته کول، کله به یې حل او عقد جرګه د خپلې ګټې پر بنا جوړه کړه، کله به یې د خپل دوام د پاره د ستري محکمې د رئیس فضل الهادي شینواري فیصله تر لاسه کړه، هغه ستره محکمه چې غړي یې ده ټاکلي وه. کله به یې د جنرال محمد اسمعیل خان پواسطه په هرات کې جرګه د خپل بقا دپاره جوړه کړه او کومه فیصله چې لاهورپنډي د قایده رهبرانو لخوا د حضرت مجددي د پاره دوه میاشتی او دده دپاره څلور میاشتي وي. رعایت یې ونکړ، ګلبدین ورته ټینګ شو ، راکټونه یې ورته کش کړه. کابل په ناحیو وویشل شو. ده لومړی خپل تخت کاریز میر ته انتقال کړ، ارګ یې پوري اور کړ، کله چې نور هم فشار پر ډیر شو، بدخشان ته وتښتید ، اما تخت یې ټینګ په ځان پوري سریښ کړي ؤ. تفاهم ته حاضر نه ؤ. د کابل اوسیدونکو کوم چې د مهاجرت توان ورسره نه ؤ، ډیر زجرونه او ظلمونه ولیدل، ډیرو انجینو د تجاوز نه د ځان بچ کولو په خاطر تر بامو ځانونه وغورځول، د مړو ښځې په نکاح شوی، مګر استاد دا ټولي جدي نه نیول. یو دوست مې راته یوه تراجیدي کیسه کول، چې د زاړه میکرویان په استادګاه کې مې څنګ ته یوه چادري داره میرمن د یو لس کلن هلک سره ولاړه وه ، چې د مرجان د غونډي دوه ګلم جم راکوز او میرمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

يي په زور کش او بو تله ، هلک چيغی کړي چي ( خاله ام است ) ، فايده يي ونکړه، نيم ساعت وروسته هغه ښځه بيرته را ورسيدل او هغه ګلم جم ورسره ؤ او وي ويل ( اينه چه شد ؟ پس برايت اوردم ) .

د هلکانو تجاوز، اختطاف او نښا په شمالي خوا کي ډير دود شوي ؤ. داحمد شاه مسعود هم نور د وضعي نه خلق تنګ ؤ، د استاد عبدالرسول سياف له خولي چي يي ويلي ؤ ، کولای سم د طالبانو سره مقابله وکړم ، اما د چا دپاره ؟؟ ايا د استاد رباني د پاره ؟؟ تر چنګيز، روس، او انګريز نه د رباني حکومت د ظلم او ناروا ډک ؤ.

استاد رباني ډير محيل ؤ، کله دا بهانه ، کله دا پلمه ، هيڅ لار يي نه نيول، په عين زمان کي مادي ګټي ته سم چمتو ؤ.

طالب دده د وضعي نه را وزيږيدي، په لومړی سر کي ده خپله هم دا ( يو خود جوشه حرکت ) باله او څو لاري جعلي لوټونه يي کندهار ته ور وليږل. که طالب نه وای ، حالت به تر اوسه دوام درلودای. داستادانو ګټي ګرنتي ويي. دواړو استادانو ډيره په داخل او خارج کي سرمايه ګزاري وکړل.

استاف سياف څه زرنګ ؤ، دخپل حزب ( اتحاد ) په نامه سرمايه ګزاري کول، چي دا يوازي يو نوم دي، ګرچه د استاد سياف پر ويش د احمد شاه احمدزي سره چي دده مرستيال ؤ، څه لانجه راغلل.ښاغلی ارسلا د مولوی خالص د تنظيم غړی دافغاني سفارت غړی په مسکو کي په يو مجلس کي  وويل شول ، چی احمدشاه احمدزي ۱۲۰ کوره په کابل کي لري، هغه ورته وويل، کله چي موږ کابل ته راغلو او دارايي مو ثبتول نو د احمدشاه  احمدزي ۱۲۰ کورونه حقيقت نلري، يوازي ۸۰ کوره لري.  بل چا کيسه کول ، چي ما غوښتل د پخواني د دفاع وزير خان محمد خان کور په نوي ښار کي پر احمدشاه خرڅ کړم، دګروال نافع وايي: سلا مو دا سوه ، چي اول به قيمت لوړ ووايو ، وروسته به سوکه ، سوکه ورته راکښته شو، قيمت چي موږ ۲ لکه ۴۰ زره دالره ووايه ، په هغه لومړی ډز نوموړي چمتو شو. دوی خپلي باد راوړي پيسي محضي يو ځای بندولي. استاد رباني هم د ډيرو کورونو څښتن شو. په کابل او بدخشان کي پوره سرمايه ګذاري وکړه.

د جهاد پيسي نورو هم لکه حاجي قدير، استاد عطا نور، جنرال محمد اسمعيل خان .....  ټولو درلودي. که کوم چا ددي قوماندانانو نه درلودي، هغو چور، ياتک او غصب ته ژر لاس ورواچاوه.

عطامحمد نور ميلونر نه بلکي ميليياردر دي، چی د همدي شتمنيو په زور په سياست کي مطرح دي. ښارګوټی، مارکيټونه ، ترانسپورتونه، دوکانونه، دتيلو پمپونه، کورونه، شرکتونه، روغتونونه په لږ وخت کي خاوند شو. اما سوال به پاته وي چي پدي لږ وخت کي دا د قارون دنيا دکومي خوا شوه. ؟ په يو راپور کي راغلی دي چي:

بر اساس معلومات از املاک مزار شريف و بعد از بررسی ها بدست امده و الی بلخ  تنها در شهر مزار شريف با قباله ی شرعی بيش از 500 جايداد دارد که يا به نام خانمش پسرانش و دخترش ثبت شده است.

1- شهرک خالد بن وليد اين شهرک که از جانب والی بلخ عرضه گرديده و هم اکنون 6000 نمره اش به فروش رسيده او هر يک نمره اين شهرک از 8000 دالر است در اين شهرک 200 نمره در موقعيت های اعلی وجود دارد که برای خود تخصيص داده است.

2- باختر مارکيت زير زمينی که 200 دوکان دارد.

3- نزديک سينا استديوم، مارکيت بادام که ملکيت خودش است.

4- به نام عجب خان يک مارکيت اسبق که هم اکنون کارش جريان دارد و گفته می شود که بيش از 500  دوکان در ان اعمار خواهد شد که ملکيت شخصی خانواده ی والی دانسته شده.

5- نور بزنس سنتر که هشت طبقه و 100 دوکان دارد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

6- مارکیت ادویه فروشی که مقابل شفاخانه موقعیت دارد.

7- کلینیک لایزری نور.

8- در منطقه دروازه بلخ شرکت تیل نور.

9- شهرک میترا نور که بیش ا ز 400 خانه دارد.

10- مقابل شاروالی مزار شریف یک مارکیت 10 منزله که کارش جریان دارد.

11- شرکت ترانسپورت میترا نور که بیش از 300 موتر بار بری کاماز دارد.

12- در منطقه سینمای اسبق مزار مارکیت آریا که بیش از 1000 دوکان دارد.

13- در شاهراه مزار کابل سرای میترا نور.

14- در مناطق مختلف مزار شریف پمپ استیشن های خالد نور.

15- یک خانه به نام مولانا درجوار قوماندانی امنیه.

16- خانه ی چهار طبقه ی که همین حالا زیست مینماید به ارزش دو میلیون دالر ساخته شده.

17- منزل دو طبقه بنام دفتر سیاسی که در دروازه ی بلخ موقعیت دارد.

18- سرای که عقب منزل اختر ابراهیم خیل که استگاه شولگره در انجا موقعیت دارد.

19- یک بلند منزل در عقب ولایت در کوچه قاضیان شهر مزار شریف.

20-یک بلند منزل که عقب لیسه ی سلطان راضیه قرار دارد و به یک کلینیک به کرایه داده شده بنام خانمش ثبت است.

21- موسسه خصوصی آریا – مزارشریف که احمد ضیا مسعود نیز در ان شریک می باشد دارای منزل 5 طبقه ای است.

22- شرکت سرک سازی خاله نور که در سرای مهمان مزار شریف موقعیت دارد مارکیت خود والی است.

23- دو شفاخانه ها به نام های مولانا جلال الدین و الفلاح.

24- مارکیت سینا فر که بیش از 400 دوکان دارد.

25- ذخیره های تیل در شهرک بندری حیرتان شرکت وارداتی تیل بنام انترنشنل شراکت با کمال نبی زاده – تلویزیون به نام ارزو یک پرودکشن بنام شمال تلویزیون میترا شرکت بیل بورد ها بنام بلهیکا که تمام قرار داد های شاروالی را منحصر بخود ساخته است.

په همدي ډول د ننګ او ویاړ جهاد په بي ننګي واوښت . که دعلل او معلول فرمول درست وي، رهبران ددي عمل ملزم دی ، چی باید محاکمه شی. کله چي به د جهاد په وخت کي کوم هیوادوال دوي تیګداران بلل، زما به ورسره خوله شوه. په ډیر تأثر منم ، چی هغه حق په جانب ؤ، چي دوی پر وینو تجارت کاوه .

د رهبرانو خودخواهي منجر په خپل منځي جګړو سول، وطن تباه او د جهاد ویاړ په ډیر بي شرمانه ډول په خاورو ګډ کړه، ددي قربانی له برکته اتحاد جماهیری شوري مات او ډیر هیوادونه ازاد شول، اما د افغان ولس بدبختي پای ونه موند.

پورتني مطلب تائید دي، تر ټولو توره تیاره همدا ډول د استاد رباني دوران ؤ. دلته هیڅ سیاسي اړخ نه شنل کیږي، یوازي جنایي برخي ته پام را اړوم. عبدالعلی مزاري ( رقص مرګ ) رواج کړ، د پښتنو په سرونو کي يې میخونه ووهل، د ښځو سیني يې پري کړي. عبدالعلي مزاري هغه څوک دي ، چي نن يې حاجي محمد محقق د وژلو تجلیل کوي. عبدالعلي مزاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

د طالبانو ګیر ته ورغي او وي وژي. د جناب مجددي هم شهادت په برخه نه ؤ، ولي چی د احمد شاه مسعؤد راکت د هغي الوتکی نه چی مجددي یي د اسلام اباد نه کابل ته راوستی بچ شو. مجددي هم د خپل بقا په هیله د ګلم جم مشر دوستم ته د خالد بن ولید لقب ورکړ.

په همدي دوره کي د قلم ، چمن او زرداد جنایات به د وطن په جینایي تاریخ کي تل پاتي وي. ګرچه زرداد د حقوق بشر دنقفي په جرم ونیول شو او په لندن کی په ۱۲ کاله بند محکوم شو .

زرداد  یو انسان سپی کړی، چي د سروبي په لاري کي به یي انسانان په ډارل، د حزب اسلامي قوماندانان وه، د شمال پهلوانانو هم هر جنایت وکړ، پهلوان رسول او پهلوان ملک به هم څوک هیر نکړي.  د عبدالحکیم شجاعي په ارزګان کي په سلو کسان ووژل ، مګر د محمد کریم خلیلي له برکته هیڅ چا محکمي ته راکش نکړای شوای.

په مزارشریف کي د مزارشریف او د کندز ولایت د طالبانو جنګي اسیران، د فاریاب د لیلي په دښت کي تر دري زره ډیر کسان په ډیر وحشت او فجیع ډول د جنرال دوستم لخوا قتل عام شول. د حقوق بشر او جنګي جنایاتو د قانون خلاف  عمل دي. طالبانو هم خپل مخالفین په مزارشریف او بامیان کي هیڅ زړه سوی ونکړ. زه یوازي دانه وایم چي افغان، افغان وژني، بلکي دا وایم چي انسانانو، انسانان وژل. د هغه کسانو وژنه زه یادوم، چي د جګړي د میدان نه دباندي وژل شویدي. دجګړي پر مهال وژنه چندان څوک کیسه نکوي. داچي د جهاد د وخت نه وروسته جګړي ته ورلیږل، د زور څخه کار اخیستل کیدو، په رضا هیڅوک مرګ ته نه ځي ، جنګ د مرګ لوبه ده، پداسي حال کي ، چي جهاد ته خلک د وطن د ناموس او دخدای د رضا د پاره په شوق داخلیدل، مګر داجګړه په زور سره عملی کیدل. د طالبانو په بریدونو کي د پنچشیر د فتح د پاره هم ددواړو خوا تلفات او وژنی ډیرؤ.

د طالبانو جلب او جذب ټوله په زور ؤ. اکثره ځوانان چي جنګ ته به په هیڅ ډول تیار نه ؤ، تعلیم او تربیه به یي کمه وه، ترینینګ به یي نه وکړي، نو پدي خاطر تلفات به یي درانده وه .

په همدي تاریکه فضا کي ټوله بشري ، افغاني او اسلامي ارزښتونه تر پښو لاندی شول، هر چا د خپل ژوند د بقا د پاره په هرڅه لاس پوري کاوه. ټولنه پر دوو طبقو ظالم او مظلوم وویشل شوله. څوک چي د ظالمانو په کتار کي ودریدل، د ځان د شومو اهدافو د پاره یي ظروف هم برابر کړه، کسان یي پر ځان راټول کړ او تنظیم یي کړه، دا ډله اکثره هغه د جهاد پخواني قوماندانان وه . د جهاد تر عنوان لاندي هر روا او ناروا مرتکب شول، په سیاسي ډګر کي هم دوي د جهاد د امتیاز تر نامه لاندي هر جنایت لاس پوري کړ. تهدید ، اختطاف، تجاوز، غصب،وژني او تبعیض نه کار واخیست.

دوي د خپل ناکامي دلیل دا وایي چي امریکا او غرب موږ تنها پریښودلو، دا یوه پلمه ده ، خپل کور په خپله څوک ودانوي، دبله ګیله پکار نده. تا ولي خپل کور پخپله خرابوه او ولي دی ورور وژنه کوله . او وایي چي امریکا د اسلامي نظام زغم نه درلود او خپله پړه پر بل ور اچوي.

استاد سیاف د ا خپلي ناخوالي چي د کابل ښار دده او د وحدت د خودخواهي په خاطر ډیري خرابي په برخه شوي. دلیل دادي، چي کفارو د سوچه اسلام د مخنیوي په خاطرزموږ وطن داسي خراب کړ. البته د پردو د لاس رول هم د هیریدو ندي.

استاده ! وایم چي تاریخ قضاوت کوي، کفارو زما وطن ندي خراب کړي، زما وطن تا او تا غوندي جهادي رهبرانو خراب کړ. انصاف پکار دي، توبه وباسه، ستا د خبره غوندي الحادي رژیم بقایا  لکه ، کشتمند، سلیمان لایق، دستګیر پنچشیری، شهنواز تنی، محمد یونس فکر، نورمحمد نور،حسن سرق وغیره، غیره جنایت کارانو دا ټوله خپل خیانت او جنایت د ساړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنګ محصول بولي. داچي د سيوسيالزم د پلي کولو دپاره يي د حفيظ الله امين له خولي يوازي يو ميلون کمونستان پکار ؤ، نور يا دپردو په صحراوکي اواره کړل ، يا قتل عام پروانه کول.

د جهاديانو او کمونستانو شعارونو تر منځ ډير ورته والی ليدل کيږي او دواړو د ايدلوژي فکر درلود او ديو ديکتاتور نظام پلوي درلوده. مثلاً کمونستانو به دالحادي نظام وخت کي شعار ورکاوه ، چي ( ګاريګران جهاد سره يوشي). مګر اخوانانو به ويل چي ( اسلام مرزنه پيژني )، چی يو بل ته د مانا په لحاظ نژدي دي او يوه جهان بيني لري او د بل فکر زغم نلري.

زموږ هيواد هم دغو دوو مفکورو خراب کړ. استاد سياف ؤ، چی اسامه بن لادن يي په جلال اباد کی پذيرايي کړ، مګر اوس يي پر امتيانو بد وايي او طالب غندي. خاطرات امرالله صالح په ماندګار کي کال ۱۳۹۲.

که نوره عادلانه محکمه يي په داد ونه رسيدل، تاريخی محکمه خوبه دوي محاکمه کړي او زوی او لمسي يي پري خجالت وباسي. يعنی دا هر جنايت کاره او خائين د ځان د پاره اوس هم د برائت لاري پلټي.

نو همدا جنګی جنايت کار ؤ، چي هيواد خپله شيرازه د لاسه ورکړه، د ظلم دسکي بل مخ را واوښت، اخلاق کمزوري شول، ظلم او تادا بل رنګ وموند. پر ولس ظلم وشو، چي دکيڼ خوانه ؤ او که د ښی خوا نه ، دظلم د پاره زمينه برابره شوه.

رشوت، واسطه او زورواکي ، شر او فساد اوج ته ورسيد، شر او فساد ديو دري ضلعی هندسي شکل جوړ کړ، چي بايد ورته د شراو فساد مثلث ووايو او هره ضلعه يي د يو خبيثه جرمی عنصر نه جوړوي، کوم چي پورته ذکر شو.

البته طالبانو هم ستونزي لري او عام ولس تري په عذاب کي ؤ.

که يو سړی رنځور وي روغ به شي، که غريب وی خان به شي، اما که يو ځوک او يا يوه کورنۍ او يا يوه ټولنه اخلاق خراب شول، اصلاح يي اسانه نده.

شر او فساد دومره عام شويدي ، چی د ټولني په ټولو ابعادو کی ريښي ځغلولي دي. اصلاح يي غوڅ حرکت غواړي. ښه او بد سره ورک دي، په خيانت او قانون شکني برعلاوه چي نه شرميږي، بلکي په مغروره کيږي.

د طالب نه د هر چا ډار کيده، مګر طالب امن راوست ، ناموس خوندی شو، شرعيت قايم شوو او زورګويي ختمه شوه ، دتجزيي مخه ونيول شوه او د فدراليزم کيسه هيره شول، د کابل ښار چی د جهادي قوماندانانو تر منځ ويشل شوی ؤ خلاص شو.

زه سيل بين ترخپل توان پوري د خبيثه مثلث هره ضلع بيان او تشريح کړم.

شر او فساد مختلف ابعاد،انګيري او علتونه لری ، لکه اقتصادي ، اجتماعي ،تربيتي او داسي نور. زه يي د جرم پر علتونو بحث نکوم ، دلته دجرم تشخيص او د مجرم د نيولو او د جرمونو د مخ نيوي په هکله بحث کوم، چي زموږ ټولنه کی و دی خبيثه مثلث ته پام وشی .

۱ ـــ واسطه: **(إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤدُّواْ الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُواْ بِالْعَدْلِ إِنَّ اللّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِ إِنَّ اللّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا)**

د شر او فساد د مثلث يوه خبيثه ضلع واسطه ده. واسطه او وسيله زموږ هيواد يوه عام دول لري او چندان عيب او شرم نه دي. ګرچه اغيزه يي تر دوو نورو ضلعو لږ نده. زموږ د ټولني تشکيل او ساختار واسطي ته ډير جوړ او مساعد دی. هيڅ کار بيله رشوته مخ ته نه ځي. که رشوته نه ؤ، نو واسطه ارومرو ضرور ده. هرچاته چي څوک وغواړي ، لار ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

موندلای شی. کوم کس ته چي چا ورته کاربند دي، هغه گاونډی ، همنصنفي، ملګری او وطن دار لري او ګوندی او کورنۍ سره اړیکي پیداکولای شي، که نورنه ؤ ، نو پردو هم لاس ارومرو لار ورته پیداکیدای . ټاکنی هم پواسطه دي میعار مد نظر ندی، همدا سبب دی چي د مامورینو بي تفاوتي او بي پروایي سهل انګاري . بی مسؤولیتي لوی رول لري. دنا لایق مامور نه هم پوښتنه نشی کیدای، شاته پشتوانه لري. دشر او فساد لوی لامل همدا واسطه او وسیله ده. کار و اهل کار ته نه سپارل کیږي.

واسطه هم څوډوله ده ، مثلاً یو ساده سپارش وي او دکار د اجرا هیله تري کیږي، البته دا هیله سبا یو مجرایي هم لري. کار په کار دي او سپارش په سپارش، اسانه سپارش خو هغه دي، چی یو قانوني لار هم ولري. ځیني یو ستونزمن سپارش وي، یو څه مسؤلیت هم باید ومنل شی، چی مقابل لوري پدی ارزي او که نه .؟

هغه د سپاس او شکران د اداکولو وخت کي په ډیر ویاړ او ممنونیت سره دا وایي ( چي والله یو غټ کار او غیر قانوني زما سپارش یي اجرا کړ). دا نو کوم عوض او مجرایي هم لري، کار په کار دی ته وایي. بل هغه سپارش دي ، چی یا ستونزمن وي یا مامور صاحب نه غواړي، که څه هم لار لري ، داجرا نه یي ډډه کوي او خپه پدی وي، چی سپارښت او واسطي ته څه ضرورت ؤ، تر څو افغانیوي به تیرشوی وای. دي سرګرداني ته څه ضرورت ؤ، زما دي هم په خوله خاوری کړي. آن کله، کله نو بیا ورسره مشکلتراشي کوي؟

که واسطی ته ووایي او عذر کړی، چی دا غیر قانوني عمل دي، په ډیره درایت وایي ، چي که قانوني وایم، نو زه نه راتلم، پدي خاطر راغلم چی غیر قانوني کار راته وکړه. ناروایي هغه حالت دي، چی په هر ملحوظه چي ؤ، ونه غواړي، یا ونه کولای شي، چي سپارښت مثبت ځواب وایي. دی نو دتهدید سره مخامخ کیږي، توطیه ورته جوړوي او په غیر مستقیم که کوم وخت دده کوم قانونی کار یا قانوني حق وي، هم نه اجراکیږی او پدي ډول مجازات کیږي، آن پروپاګند او تبلیغ پسي کیږي.( در این راه کشته ګان زیاد است ). څوک یي بازخواست هم نشي کولای، چي پدي لار کي قرباني شویدی. کیدای شي ، چي څوک رشوت رد او تري پرهیز وکړي، مګر د واسطي نه هیڅ چاره نشته، داسي یو محترم یا دوست به درته راولي، چي ته هیڅ ورته ویلای نشي، هغه تا ته ډیر ګران وي. مراجعین یا عارض په هیڅ صورت طاقت نه راځي، چي کار په خپل نورمال او طبعي مسیر ولاړشي،ارومرو په واسطه پسي ګرځي. دا کلتور اودا فرهنګ تر رشوت بدتر دی، مراجعه او سپارښت هیڅ عیب ندي. که څه هم یو انحرافي عمل دي او دا عمل په قانون کي منعه شویدي، مګر عملي ندي، پدی کار کي د شورا وکیل ډیر ماهر او بي پروا اداره په اداره مؤکل ګفته وزی او ننوزي. دا به یي پلمه وي، کمیشن خوبه اخلي. کار دیده، کار کوي او په ډله ګرځي.

مقرري او تبدیلي پسله رشوته، اکثرأ په سپارش وي، سپارش هم درجي لري، دلوړ پوړو سپارش اغیزه ډیره وي.

پخپله د قومی د ترکیب لاندي دا پخپله د واسطي لار هواره وي او اهلیت به مد نظر نه نیول کیږی. هر مامور او یا وزیر خپل ولي نعمت ته تسلیم دی، نه حکومت ته.

مارشال فهیم په واسطه او سپارښت کي تر هرچا دمخه ؤ.

لږ لیدل کیږي، دغریب بچی د ښه موقیعت او موقف خاوند شی، که څه هم دلوړ لیاقت او اهلیت خاوند او پر معیارو برابر وي. پدي معیارو کي تقوا تر ټولو بي ارزښته صفت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپارښ تل زموږ په ټولنه کي يو دود ؤ. دا دطبقاني ټولنه کي ډير وي. زموږ هیواد کي اکثراً طبقه موجود ؤ، نو له همدي سببه قانون يکسان د تطبيق ستونزو سره مخامخ ؤ. په پاچاهی نظام کي مو سرداران او شتمن درلودل. په کمونستی رژیم کي بله طبقه رامنځ ته شول، کميټي مرکز او يوليت بيرو ؤ. د مجاهدينو په دوران کي د رهبرانو او لوړ پوړو قوماندانانو کورني د پخوا سردارانو ځای اشغال کړ.

سپارش دومره عمومي دی، چی تری يو ځای فارغه ندی، محکمه، ښونځی، د کانکور د ازمويني هيآت، روغتون، قراردادونه، د کورنيو او بهرنيو چارو وزارتونه او نور، نور.

تر اندازی دا موضوع يو بل سره تړاو هم لري، دولتي کارکونکی هم په نورماله ډول کار مخ ته نه وړی او مراجعين هم تلوار لري، حوصله نلري، چي بايد کار يي ژر او سم وشي، نو واسطي ته مراجعه کوي.

د هر جرم د بازخواست او تعقيب عدلي مخ همدا خبيثه مثلث دي، چي مخ يي نيسي، يعني يا به رشوت وي، يا واسطه او يا زور گويي. څرنگه چي مي وويل چي واسطه يو عمومی دود دی، مگر پدي برخه کی د ملی شورا غړي ډير مخ کي په ډير جسارت او حق په جانب څيره ، اداره په اداره وزي او ننوزي، يو څه کميشن کاری په گډه وي. ددوي په هکله ډير نيوکی ،پيغورونه ويل کيږي، مگر دوي يي جدي نه نيسي.

د وکيلانو نوم چی ( چورلامان )هم بلل کيږي. لکه ( اسپرين باير) د هر رنځ دوا ده. د زنا او لواطت نه نيولي تر قاچاق، رشوت،تروريزم او قتل پسي بيله شرمه روان وي. مؤکل گفته دروازي ته ولاړ وي، دا ددوي په کرکتر کي نسته ، چی وواييي چی دا کوم او دا نه ، څپلی يي و شکيدي، وکيل صاحب بايد خپه نشي. په هيواد کي د تروريزم مخدر مواد، رشوت په څنگ کي د بدبختي لوی لامل پارلمان دي، چی ځان ته د ملت استازي وايي او پارلمان د ملت کور بولي، چی هيڅ ندي، هغه د گوتو په شمير کوم کسان دي ، لکه محترم داکتر رمضان بشر دوست ، چی بايد د چورلمان نه نور ووزي. دملت دا استازی دوه سره خنجر غوندي کار کوي، هم واسطه کيږي او سپاربښت کوي، رشوت هم اخلي او زور هم چلوي.

دا بايد ووايو چي ښا غواړو په خدای سره.

څرگنده ده چي هر افغان يو وکيل لري، ځيني وکيلان ددي د پاره چی موثريت ثابت شي، په ډله گرځي يو دبل د ناروا حمايي تعهد لري. وکيلان خپل منځ کي داد او گرفت لري ، دجرگي رئيس او مرستيالان او دکميټنو رئيس هم بايد په جيب لاس ووهي . وايي ډم د ډم نه ، داکتر د داکتر نه پيسی نه اخلی ، مگر وکيل د وکيل نه پيسی او رشوت غواړي.

**۲ــــ رشوت( بډي ): « عَن امام الصادق قَالَ قَالَ رَسُولُ الله لَعَنَ اللَّه الرَّاشِي وَ الْمُرْتَشِي وَ الْمَاشِي بَيْنَهُمَا »**

د خبيثه مثلث بله ضلعه رشوت دي. رشوت ډيره عامه معنی لري. د جزا قانون کی نقدي پيسی يا مال ، امتياز او يا کټه په لاس راوړل رشوت دي. شرعي هم ناروا دی.

اخلاق او اسلاميت کمزوره کوی. په موږ کي عمومی شويدی. دکارونو اجرا د تور بازار ډول غوره کړی، تر څو مراجعه ورته وشی. هر مامور د خپل رسمي او دولتي موقيعت پر مبني د خپلي خولي په اندازه د رشوت گوله پورته کوي، البته چي د مامور، مدير او رئيس اندازه توپير لري، د والي او وزير لقمه لويه وي.

رشوت په ترافيک ، ښونځي، ښاروالی، مستوفيت ، روغتون، پوليس، څارنوالی، قضا، گمرک، په هر محل او ځای کی ليدل کيږی. په ادارو، سرکانو، کورونو، او هوټلونو کي اخيستل کيږي. اوس رشوت هم مدرن شويدي او يا د خطر دکميدو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاطر په دوبۍ کې اخیستل کیږي. دقاچاق ، ګمرګ، تروریزم په څنګ کې رشوت د هري ملي پروژې که ساختمانی ، زراعتی او یا امنیتی وی ، چی رشوت او ناوړي ګټي پر ننوتی ، پروژه به ناکامه او ناقصه او په درد بخوره به نه وي.

رشوت ( بډي) په دري ډوله دي:

۱ـ مراجعین او عارضین هم سړی تشویقوي، کله، کله یي نوم سوغات او تحفه پر کښیږدي، مګر مانا یي هغه یوه ده. رشوت د کار د اجرا او یا د نه اجرا په مقابل کي وي. یو هغه رشوت دي چي د قانونی کار د اجرا په مقابل کي وي، پدي مقابل کي شیریني ګفته یو څو روپۍ ورکړي، البته عارض، د کار اجرا ژر غواړي او خپله یي مراجعه کړي وي، د همدی کار اجرا مامور ته بي خاره او بي مسؤولیته دي، خپله غوښتنه کوي.

۲ـ بل ډول یي دعارض د ناپوهی نه ګټه پورته کوي او قانوني کار ورته سخت کړي او د مارانو سرونه ورښکاره کړي، چي عارض خپله لار ورکه کړی او یا یي په بیروکراسی را وپیچي او نخود سیا پس روان کړی، دا کسان بیا هم د زغم نه کار اخلي او هیڅ مربوطه ادارو ته شکایت نکوي، ګرچه اعلانونه کیږي، مګر مراجعه نشته ، تر څو هغه و رشوت ته حاضر شي. او کله ، کله عارض د بزرګواري نه کار اخلي، د مامور د غوښتنی په غیر یو څو افغانی د ( چای پولي ) په نامه ورکوي. که څه هم کار یي قانوني شکل نلري.

دغه دواړه ډولونه دود دي.

۳ـ بل ډول د دریا دلانو رشوت دي، چي د هیڅ نه ، نه ډاریږي، تور سپین کړي او سپین تور. ددي ډول اجرااتو په مقابل کي رشوت هم ډیر دروند وي او جعل او تزویر هم په کار اچوي. برملاکیدو په صورت زندان او یا فرار هم مني او یا پخپله دروند تاوان ته چي هغه به د رشوت تادیه وي، چمتو کیږي. او یا په زور او تهدید رشوت غواړي ، لکه چی په ۱۳۸۶ کی عبدالجبار ثابت لوی څارنوال د خپل جهاد د اعلان په ترڅ کی و ولایاتو ته لشکر کشي پیل کړه، چي دلته زه یوازی د ننګرهار د خوا اجراات لیکم: ثابت صاحب خپل نظامي مرستیال چي په نادر چور مشهور ؤ د عملیاتو امر وټاکی او پخپله په جلال اباد کی د حاجی ظاهر قدیر پر ځای مرکز ونیوي، میله چالانه شوه ، پسونه دی او کبابونه، پټي داني دی چی تااو بالا کیږي. چور نادر د سروبي نه تورخم پوري د تیلو ټوله پمپونه پدي نامه چي اوبه ورسره ګډي دي ، مهرولاک کړل، داچی اوبه لري او که نه په چا به یي ثبوت کړي ؟. موټرونه توقف وکړ او لاري دي چي ودریدلي . په ښار کي غوغا شول ، ثابت صاحب نه څوک ګوري او نه عرض اوري او نه د بل بازخواست مرجع شته. پداسي حال کي چي موضوع حقیقت نه درلود.

لنډه داچي جلسی او غونډي شوي ، هدف معلوم شو، چندي ټولي شوی او پیسي را غونډي شوي. هر یوه خپل حق ادا کړ. حاجي ظاهر څه وساطت وکړ، هرڅه سم شول. ثابت کابل خواته حرکت وکړ، مګر د نادر چور سره پر فیصدي لانجه راغلل. نادر چور پنځوس فیصدي غوښتل، ثابت و دی ته حاضر نه ؤ. بالاخره په ۲۵ فیصده فیصله وشوه ، مګر بیا هم د نادر پر برطرفي لانجه ختمه شول، مګر بازخواست چا ونکړ، نه مډیا څه وویل، نه پارلمان او نه امنیت ملي.

بل هغه ډول رشوت دي، چی ددواړو خواوو ګټي پکي تضمین شوی وي، لکه ګمرکات محصول کم کړی، د ګمرک مامور هم په حق ورسیږي او تجار هم . یا قراردادونو کی ، د دواړو خوا تر منځ تفاهم او باور راشي، ددواړو ګټی تضمین شي. ددوو تر منځ معامله ده ، دریم نه په خبریږي، دواړي خوا راضي ښکاری. دداسي معاملو کشف هم مشکل یا نا ممکن وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغه مخکني ډولونو کې د شکايت او اطلاع امکان شته، مګر پدي ډول معامله کی شکايت او اطلاع موجود نه وي، يوازی دولت متضرر کيږي. دولت بيچاره وارث نلري. خريداري هم دهمدي ډول د دواړو لخوا موافقه وي.

په اوسني حالت کی ډير او ستر رشوت په مقرريو کي دي. کوم مامور نه غواړي، د واسطی له لاری مخ ته ولاړ شي، بي حقه به پاته وي. رشوت اسانه او بي خطر او بی زحمته لار ده. هر ولايت او هر پوست جلا قيمت لري. ښاروالي، د پوليسو قومنداني، ولسوالي، سرحدونه، محکمه او قضا، د ترانسپورت مامورين، د ګمرک مامورين، بندروالی، مستوفيان، و غيره و غيره. هر ولايات هم په جلا قيمت دي. هره څوکی سرقلفی لري، کله دا معامله او تاديه مخ کي تر مقرري کيږي، کله په فرصت وروسته تر مقرري. د خدای دپاره ، د ضرورت او لياقت پر بنا مقرري ډيره کمه ده، يا به واسطه وي او يا رشوت.

د اطرافو رشوتونه اکثره د ارباب او ملک او قريدار لخوا په ولسواليو کی اجرا کيږي، چي د مامورينو د اعتبار وړ کسان دي او بي خطره دي . د شورا وکيلان هم پدي کارو کی تر نورو وړاندي دروازه د مراجعينو په مخ خلاصه وي، چی ژر څوک يوه درنده او د برکت ډکه موضوع ورته حواله کړي. کميشن کاران يوه بله بلا ده چي را دود شويده.

رشوت دومره زمونږ په ټولنه کي ريښي کړيدي، چي يوه کړی تري جوړه ده. څرنګه مي د ځينو وکيلانو نه اوريدلي دي، چي مونږ هم مفت او مجاني ډول رايه نه ده راوړي، دا مصرف بايد را وګرځوي او دبلي دوري د پاره هم بايد پس انداز ولري، د کميشن کاري په څنګ کي د وزيرانو نه د رايو او استحضاح په وخت کی خپل مصرف بايد پيداکړي. ډير وزيران همدا کار کوي. وامی وريدل چي د انجنير ضرار احمد مقبل د کورنيو چارو د وزات په وخت کي د استحضاح په مقابل په هغه يوه شپه ځلور لکه دالره و شيندل. دضرار احمل مقبل په وخت کی ، کله چی وزير ؤ، د کورنی چارو وزارت هر څوکی ، لکه سرقلفي خپل معين قيمت او اجاره درلوده. وزارت د راهنماي معاملات نوم ګټلی ؤ.

وزيران ددي مصرف د پوره کيدو د پاره د مامورينو د مقرري پر مهال دا مصرف بايد راوګرځی. او مامورين د ولس نه . دا يوه لړی ده. ممکن که پام وشی ، تر ټولو ولس زيان ګوري.

زما يو دوست په اداره کي يوه لوړه څوکی درلوده، زوی يي د پوهنتون نه فارغ شو او په يو مناسب ځای کي مقرر شو، دي زوی دومره ژر په رشوت او بډو پيل وکړي ، چي آن منوګراف يي لا نه و تمام کړی، د پلار خط تعقيب کړي.

لکه چي وړاندي اشاره وشول، هر يو دخپل موقعيت پر مبني کار کوي. ښوونکي د شاګرد په نمرو کي خپل کار کوي، قاضی په فيصلو کي ، د پوليسو مامور د قيمارخانو او شراب خانو او فاحشه خانو سره شريک وي، همدغه د فاحشو بيچاره ګانو پيسي د کورنيو چارو لوړپوړو ته رسيږي، چي هغو د ځان په خرځلاو پيداکړي دي.

د وطن د پاره د رشوت هر عمل جلا، جلا خطر لري. همدا سبب دي، چي د پوهنتون نا لايقه کسان فارغ او دواسطي يا رشوت پواسطه مهم ځای ونيسي. د نالايق او بد اخلاقه مامور چی پيل يي په رشوت کړيدي، نظام به څه هيله تري ولري .؟ بډي اخيستونکی دغله ، قاتل ، قاچاقبر او تروريست ملګری او شريک دي.

د پوهنتون استادان په خپل وار او امکاناتو او يا ادارو کي د ښځو او انجونو نه هم د بد اخلاقي او نامشروع غوښتني اوريدل کيږي. ولي چی رشوت يوه پراخه مانا لري.

د نظام يو مهم رکن مقننه په درغليو راغلل دي. چي تر بودن يي نبودن د ملت په ګټه دي. د څراغ ورځپانه د چنګاښ پر ځلورمه او کال ۱۳۹۰ داسي ليکي : « اين شورا توام با تقلب و دستکاري، جلوسی زده، و تلاش دارند که به خود مشروعيت کسب نمايد .... ».

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهان داسي وايي « فساد زماني اوج ميگرد، که روحيه خدمت گزاري تضعيف گردد و بالاخره جامعه به انارشي سوق ميگردد .... »، چي زموږ په ټولنه کي صدق کوي. بل ځای وايي « چي فساد د قانون حاکميت او عدالت مختلوي .. ».
د ناتو د قوماندان جنرال السن دا خبر د ويسا د ورځپاڼي په کال ۱۳۹۳ او غواي پر ۱۳ چي « فساد تر طالب خطرناکه دي » خپره کړي ده .

فساد هر وخت ؤ او په هره ټولنه کي لږ او ډير شته. نورو هيوادونو کی بازخواست شته ، مگر زموږ هيواد کی ډيرو مسايلو ته سرسری نظر کتل کيږي، بي تفاوتي سخته مسلط ده. که دي موضوع ته په دقت وکتل شي، چی د بابای ملت او سردار داؤد خان په وخت کي رشوت ډير کم ؤ او هغه هم د مامورينو په ټيټه طبقو کي. د هغه راوروسته د کمونستانو په رژيم کي هيڅ رشوت نه ؤ. که کوم چا به ناوړه ګټه واخيستل ، البته دمکرويانو يو پارتمان به ورسيدي. طالب د رشوت مخالف ؤ او په جدي مبارزه کی ورته ولاړ ؤ. د شرعيت او قانون په پلی کيدو ډير جدي ؤ، مگر دربانی په دور کی هر ډول جنايت رواج ؤ . او دکرزي دورکی چي دربانی د وخت چارواکي رويکار ؤ، البته په ډير لږ تفاوت هره ناروا ليدل کيدل. ممکن عمده دليل به هم د بهرنيانو موسسي او NGO گاني وی، چی بهرنيان هم پدي اختلاس او ناروا کی شريک ؤ. البته چي د ژوند سويه بدله شوه لوکس ژوند رواج وموند. دشيرپور کورونه، کروزين موتران او د دوبی چکرونه.
مگر طالبانو يوازي نکاحوي ډيري کولی ، مثلاً پخپله ملا محمد عمر څلور نکاحوي کړي وي او د رشوت په ضد ؤ.
د کرزی وخت رشوت او بي بازخواستي پدي کچه وي چی په اکثره ځايونو کي خلک دخپل بازخواست د پاره د خپلي سيمی طالب ته ورتلل او مشکل او دعوا به يي په حل کول. د طالبانو د اسلامی تحريک د ختم سره د استاد رباني د وخت مسلط قوماندانان په لومړيو کی ډار درلود، مگر د وخت په تيريدو بيرته ځان ونيوي. هغه آش هغه کاسه شوه.
البته د فساد د ډيروالی يو لامل د دفتر او ديوان نه درلودل او پر معيار برابر کارکونکی نه درلودل ؤ، چی دا دواړه په جنگونو کی له منځه تللي ؤ.
هرځای چي فساد وي، د وکيل صاحب نوم ورسره يو ځای اخيستل کيږي، مثلاً د لته د وکيلانو بي پروايي ددوي د غيرحاضري يو ښه ثبوت دي، لکه چي د ۸ صبح ورځپاڼه کال ۱۳۹۰ او د غبرگولي ۱۷ نيټه د هغو و کيلانو نومونه چي غير حاضر ؤ، خپاره کړه، وکيل ددي شيانو پروانکوي. وکيلان بي کبره دی هيڅ کله د حق او نا حق، مظلوم او ظالم توپير نکوي.
د هيواد يو لوی د عايد مدرک گمرکات دي، مگر د مربوطه رئيسانو سره واليان په ډير جسارت شريکان او دولت ته يو لوی زيان دي، لکه د اسلام کلاه او تورغوندي، د وخت د والي محمد اسمعيل خان، حيرتان د استاد عطامحمد نور، تورخم د حاجی قدير، بيا د حاجی دين محمد، سپين بولدک د گل اغا شيرزی او بيا د والي اسدالله خالد او نيمروز د عبدالکريم براوي په لاس او کنترول کي ؤ.
کوم کسان چی د استاد ربانی په وخت کی رويکار وه او يا کومه وضعه چی د استاد رباني په وخت کي وه، عيني وضعه او د هغو کسانو لخوا بيرته البته په يو لږ څه تفاوت مسلط شول، هغه اسمعيل خان ؤ، هغه استادان ، هغه مارشال او هغه حاجی قدير، چي حامد کرزي ورسره مشت و گريبان ؤ، اما په هغه کچه چي د رباني په وخت کي ؤ، اوس هم دي.
گرچه د کرزی به تل دا وينا ؤ، چي د حکومت ستونزه پخپله د حکومت نه ده ، مطلب يي همدا کسان ؤ.
فساد او رشوت چي کوم د حامد کرزی وخت کي ؤ. او د رباني وخت کي ؤ، د پاچا او او داؤد خان او طالبانو آن د کمونستانو وخت کي نه ؤ. جهادي رهبران هغه نه ؤ، کوم څه چی به يي ويل، مگر کارمل او تره کي هغه ؤ کوم څه چي يي ويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دارمان ملي جريدي يو مضمون د ښاغلی مبشر په قلم تر ( عجب است که بحران افرنيان، بحران زدايي مي کند ) عنوان لاندي يو مضمون خپور کړي ، چي څو ټکي يي را اخلم : « فساد بحرانزا در کشور به زماني بر مي گرد که نجيب سقوط کرد ، ولي مجاهدين راستين از صحنه سياسي و نظامی کشور رانده گرديدند، و قدرت را زورگويان و شماری تفنگ سالاران قبضه نمودند، که امر ان گونه را تا امروز مردم بيچاره افغانستان به گوشت و پوست لمس ميکنند. »

فساد عمومی شو، هر ډول جنايت او قانون شکنی د يو څو بدماشانو لخوا مسلط شو، ولس به دا ويل چی د الحادي رژيم د ( کور، کيږه، ډوډی ) نه غواړو، اما ظلم ولي راسره کيږي ؟ بي عدالتی ولي عمومی شول.؟

په همدي مضمون کي بل ځای ليکي : « بد نه بزرگي از فساد را گروه های جهاد سابق تشکيل ميدهد، که اعضای جمعيت اسلامي با حضور پررنگ ان، خورد تا راس هرم، در تشکيل دهی آن دست مجال تري دارد .»

په جمعيت کي لوی لاس د نظار شوراؤ او شورای نظار د پنچشير نه عبارت دي.

بل ځای ليکي :

« جمعيت اسلامي که خودرا فاتح کابل حساب ميکردند، چنان برزمين دولتی، ساحات سبز و حتی خانه های شخصي مردم شکم افگندند. که شايد اين چنين واين گونه غارت ها در تاريخ کشور کم سابقه باشند.

که شايد از ياد استاد رباني رفته باشد، که چگونه خانه های مردم بدستان تفنگدارانش ويران شدند وتوسط ارجمندان و نزديکانش بتواند، در فساد را در دولت کابل گشود. و ازقانون شکني های و غصب و تاراج انان مردم اگاهي کامل دارند. تفنگداران غارتگر وحق ناشناس بلکه در (دراکولای ) که از نوشيدن خون انسانهای و ازيت و ازار حظ می بردند و بدست اوردن هدف سوم خود که همانا غصب و تاراج دارايی مردم بود، چنانچه فاجعه و بحران در کشور دامن زد که بالاخره نظام استاد ربانی از اوج طوفان به پرتگا سقوط مواجع گرديد. خاطره های درد ناک رقص مرده ،ميخ کوبی ها ، سينه بری های ، گوش بريها، هنوز زنده استند ....

بخش عظيمی از فساد در کشور اعضای جميعت اسلامی دست دارند...

محترم مبشير په اخيرکي زياته وی:( در نظام کنونی گيريم ، اگر پنج چارک مسوليت به دوش کرزی باشد دست کم يک سير ان بدوش معاونان ان است ......»

څرنگه چی محترم مبشير پخپل پورتنی مطلب د ده مرستيالان مسؤل بولی. مرستيالان آن په ډيرو جناياتوکی لاس درلود. دده مرستيالانو د قانون د حاکميت مانع گرځيدل،په ارزگان کی د ډيرو کسانو په وژنو تورن، جنرال عبدالحکيم شجاعی د زندانی کيدو مخ محمد کريم خليلی ونيوی او هغه يی په يو ډول ، دډولونونه مانع شو. مارشال فهيم د هر جانی شاته ولاړؤ، اميرگل اوکمين د بغلان قاتلان ده خوشی کړل. د دوی دواړو ورونه حاجی نبی د کابل د جنوب د مځکو غصب د ده په حمايه دوام ورکړ. او حاجی حسين د مارشال ورور په هره سواستفاده کی ولاړ ؤ چی کابل بانک يي يو مثال دی.

په رښتيا ټولي ناخوالي، چي تاريخ يي يادونه کوی، لکه چی د ربانی په وخت کی پردی هيواد راغلل، اوس يی هم د کابل د زړه غونډي په مرگ هم ونيول. د ده وخت کي ان تجزی خطر موجود ؤ. ورسره پدي نا خوالوکي، جنرال عبدالرشيد دوستم، استاد سياف، عبدالعلی مزاری څنگ ته ولاړؤ. ترڅو د (شر او فساد) چيغه پورته شوه.

کله چي ملا محمد عمر را ورسيد. دوی ټوله اواره. او وطن د لنډ مهاله دپاره د دوی د شر او فساد نه وژغورل شو. گر چه گلبدين حکمتيار د رباني د خود سری جلوگيری کوله. کله کله به يی راکت ورته حواله کوله، مگر غوځ حرکت د ملا عمر ؤ، چی دوی د وطنه وتښتی ته اړشول.

رباني تر دي اندازه محيل ؤ ، چي هڅه يي وه چي د بن کنفرانس هم خراب و مختل کړي او د حامد کرزی درا تگ مخه ونيسی. کله دا پلمه او کله دا پلمه رامنځ ته کړي، البته پدي کی د محمد يونس قانونی، چی اوضاع او د امريکا او غربيانو په وضعه پوه شو تصميم اغيزه من واقع شو. د ده قصد همدا ؤ، چی وطن بيا په بحران کی ډوب کړي، مگر نور چا مجال ورنکړي. ضرورت ؤ، چی طالب نور ختم شی. طالب و وهل شو، البته پلمه يي هغه د (11سپتمبر ) ؤ. داځلی بيا امتياز هغه يوه ډلی ته ورسيد، چي د رباني په وخت کي په لاس کي ؤ، مگر د بن کنفرانس عملي سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داخلي د جهاد په نامه نه، ولی چی جهاد یوه عمومی پروسه وه. دا ځلی د مقاومت نغاره رامنځ ته سوله او امتیازونه، څوکی گانی، غصبونه، قدرت او ثروت، ویاړونه ټوله ورسره مل ؤ، کومه مرحله چی پنجشیر د طالب سره مقابله کړیوه.
په حقیقت د افغانستان فاتح او د طالبانو نسکوریدل b16 او b52 ؤ، نه شمال تالوالی، مګر امتیاز تلوالو واخیست.
د حامد کرزی دور پیل شو. هغه کسان ، هغه څیری او هغه سالنګی ، امان الله ګذر، حاجی الماس، حاجی قدیر، جنرال اسمعیل خان، بسم الله خان، امرالله صالح ،عارف سروری ، مارشال، یونس قانوني او داکتر عبدالله چی تر پخوا نور هم تیز او تیزترشوی و. د هیواد شارګونه یی په منګولوکی ونیول. ټوله مادی او معنوی امتیازونه او ویاړونه په دوی پوری ورتپ شول.
ګر چی د نړیوالی ټولنی طرحه د اوه، چی هیوادُ، سوکه ،سوکه د مدنیت ، قانون او عدالت خواته سوق شی. د یوناما دفتر جوړ شو. د وسلو ټولول، DDR او دایاک پروسه پیل شو.مګر په شمال کی دا پروژه ناکامه ؤ، غصب، زورګوی دوام و موند.
په شمال کي د پښتنو مځکی ونیول شویُ وسله تسلیم نه شول. دیو شمیر وطني خاینانو په مرسته د ګاونډیانو لاسونه او فرهنگی یرغل نور هم شدت وموند.
د دي کتاب لیکنه مطلب ددی دور د فساد او شر لیکنه او تاریخ ته سپارل دی. او یا د دولت داری او فساد سره د مبارزي اجراات او کړنی لیکل دی، چی څنګه په هر اړخ کی د فساد شتون دی او څنګه هیڅ یوه پروسه بیله درغلی مخ ته نه ولاړه. دیموکراسی د ناکامی سره مخ شول، ان ټاکنوکی د شومه پدیدی په څرګند ډول شتون درلود. د ۱۶ دوری د ولسی جرګی انتخابات د درغلیوډک ټاکنی وی، د ولسمشری دواړي دوری داعتراضو په څپوکی لاهو شول.
استاد عطا محمد نور به کله د موازی حکومت چیغی پورته کړي او امرالله صالح به د ارګ ننوتل او تردیوالونو د اوښتولو د خپلی شبکی پواسطه اخطارونه صادرول. د 13 کالو دیموکراسی، شورای ملی تفاهم، د مدنی ټولنی ټوله نادیده نیول، چی دا ټوله د شر او فساد منحوسه څیره ده.
د خدمتګار ورځپانه د امرالله صالح په هکله لیکلی: ( چی ته د خودمختاره اداری یو ناکامه مشروی اوپه جعل او تذویر کی سابقه لری، ان د 12 شهات نامه یي جعلی ده، د CIA سره ستا د خاصو اړیکو نه هر څوک خبر دی.)
کله چی کوم کس دا وایی، چي اوبه د سره خړی دی، مطلب یوازی حامد کرزی نه دی، بلکه دده چهار اطرافیانو نه مطلب دی، مثلا د ارمان ملی ورځپانه په 1388/9/30 نیټه کی ښاغلی رومان لیکی « اقای ریس جمهور خانه از پای بست ویران است» مطلب د نورو نه هم دی، نه یوازی حامد کرزی نه.
داچی کرزی به اکثره وخت ویل، چی دولت مشکل پخپله دولت دی. دا رښتیا خبره ده، مګر واکداران یی دا مطلب ځان ته نه نیسی. د مارشال ورور حاجی عقیم په خیرخانه کی سپینه ورځ خپل دتجارت شریک پر یوه وړه خبره ووژی. وژنه په خود کشی بدله شوه، کوم مرد میدان دی، چی دده څخه تحقیق او یا د طب عدلی نظر واخلی. حق العبدی یی حل شوه، کیسه ختم شول، خلک به اعتراض کوی، چی ولی کرزی دداسی واقعاتو تعقیب نکوی. دا هم باید وویل شی، چی وطن یوازی د کرزی نه دی، هر لوی او واړه په وطن باید د حق او عدالت پلوی وکړی، ایا که دا پیښي تعقیب شی، نو مارشال به ارام کښنی، که به تردی نور خطر هم رامنځ ته کړی؟
یو بل مثال: یو ډاډمنی سرچینی بیان کاوه، چی جنرال عبدالمنان د کورنیو چارو د تروریزم ریس ته د شهزاده سرای صراف شکایت اوعرض وکړ، چی یو څوک یي تهدیدوی او تری جزیه غواړی. پلان جوړشو، صراف ته هدایت ورکړه شو، چی پیسي ورکړی، دوی به یی باالفعل ونیسی، سړی یا ډاکو یو لک دالر واخیستل، پولیسو په ملکی لباس کی تعقیب کړ، چی نور څوک ورسره دی او چیرته یی وړی، ترڅو ټوله شبکه کشف کړی، نفر شیرپورکی د بسم الله خان کورته ننوتی او یه ډیر جرائت او خندا یی د خدای په امانی لاس وښوراوه. کومه قدرت او کوم مقام به د بسم الله خان محمدی کورته چی هغه وخت لوی درستیزؤ، ورننوزی. یا د ضیاء مسعود ۷۰ میلونه دالر په غیر قانوني ډول په دوبی کي ګیر شول ، اسناد یي نه درلوده ، ځان یي قرار ونیوي او خوله یي پټه کړه، پیسي هلته د ضبطیدو په حال کي دي.
پدی هکله څو پانی وړاندی ښاغلی مبشر مضمون له لوستونکی پام بیا راګرځوم.
پدی باید پوه شو، چی دهیواد رفاء او پرمختګ، نه دمیس عینک اونه دشبرغان ګاز پواسطه ممکن دي، بلکي شخصیتونه دی چی وطن به اباد کړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مګر کله چې چاروا کې په فساد لړلی وی، دنور به څه هیله ولرو .

چې اسدالله خالد چې اصلي نوم يي عنايت الله دغزنی اوسیدونکی، د حاجي هاشم زوی او نری ملا يي درلوده، داتم ټولګی فارغ التحصیل. د داکتر نجیب خاد جذب او د مجاهدینو صفوفو ته ولیږی. شیرعلم د استاد سیاف قوماندان خوش کړ. و سید علم دشیرعلم وروړته یی خور ورکړه. د مجاهد ینو پوستوکی شپی سبا کولی، چی وروسته په مامور اسد مشهور شو،تیز او چالاکه انسان دی. خلیلزاد سره یی اړیکی پیدا کړی، د امریکایانوپام یی ځان ته راوګرځول، دغزني والی شو. قاچاق چی تر ټولوشتمنی دپاره لنډه لار ده، لاس پوری کړ، نیول سوی تریاق يي دغزنی پر حاجی محمد علی خرڅ کړه، بیا دکندهار والی سو. د طالبانووخت کی تاجکستان ته و تښتیدی، هلته دقاچاق په تور بندی شو. دوزیر دپاره لوړ تحصیلات یه اساسی قانون کي اړین بلل شوی دی. نوموړی دزندان شپی په تحصیل کی ادعا وکړه، چی دولسي جرګی دخوست وکیل همایون خلقی، چي په اتحاد جماهری شوروی کي تحصیل کړی ؤ،په پارلمان کی تری وپوښتل، چی درس در نه تپوس نه کومه، یوازی دخپل یو استاد نوم ووایه. داسی يي نه ؤ زده ، مګربیا يي هم رایه یو وړي. لومړی دسرحداتواوبیاد امنیت ملی رئیس شو. بیکاره او بی کفایته دی، خرابه ځوانی یی تیره کړی ده. بي ناموسي يي په برملا ډول و. پدی لارکی چندان د چا پروا نکول. د پیسو په مقابل کی يي رايي واخیستي.

محمد حنیف اتمر : دخاد غړیتوب درلود. تحصیلات نلری پښه يي د جلال اباد په جنګ کی د مجاهدینو په جنګ کی د ( الله اکبر ) په ګولی ولګیده .تیز او رند دی ، په مهم وزارتونوکی يي دنده اجراکړه. څرنګه چی دخاد ترینګ او اصولی يي لیدلی، ډیرژر M6 سره اړیکی تینګی کړی. مادی او مالی حمایه یی څرکنده ده، دحق او عدالت ګوند يي تاسیس کړ. عبدالجبار ثابت دده د سرچینه پیسو تپوس وکړ، ترڅو هغه يي دګوند نه وشاړه او ثابت صاحب هم د داکتر عبدالله و خواته ولغړیدي.

شراو فساد بله د پارلمان د مدام العمر بیمه او امتیاز دی چي د خپل راتلونکی د پاره د مصؤنیت یو قانون پاس کړ، چي ددوي راتلونکی يي ګرنتی کوله او دایمی معاش ، بادیګارد، وسله او موتر به ورته حواله وای، مګر دا وړاندیز لومړی د مشرانو جرګي لخوا شوی ؤ. ولسي جرګي هم په غوڅ اکثریت تصویب کړ، مګر پدي هکله ددوي اخلاقو او ناوړو ګټو په هکله ليکني راغلي، لکه د عدالت او رفا ورځپاڼي د چنګاښ پر ۲۸ کال ۱۳۹۳ داسي لیکي: « این بار بالاخره تمام و فداکاري تام سر به استادان مقدس اختلاس ، چپاول و غارت بیت االمللي فرود اورد، و قلا ده ریا سرمایه اندوزی به ګردن می اویزند..... ثابت شد که پارلمان خانه ملت نه بلکي مرکز امن سود ګرايي است . »

او دا امتیازات د شریف الله کاموي لخوا جرګی ته وړاندي ، چی په اکثریت په نیته ۹۳/ ۴/ ۲۲ تصویب شو، مګر په انفرادي ډول چي به دي هر وکیل نه تپوس وکړ، جواب يي داؤ، چي زه نه وم .

د وکیلانو غیر حاضری نور دوي ته کوم د شرم کار نه ؤ. داچي دوی په کال کي یوازي ( ۱۰۲ ) ورځي کار کاوه ، بیا يي هم غیر حاضري کول او معاش يي پوره اخیست. کومه پټه خبره نه وه . په رشوت راغلي او په رشوت اخته، چي ولس ورته چورلمان نوم ورکړیدي اوچورلمان هغه دریمه قوه ده ، چي خبرو پر ځای، بوټونه او بوتلونه ویشتل پکي دود دي.

د ګاوندیانو بریدونه او د امریکایانو مخالفت ، حامد کرزی ملاحظاتو ته اړ ایست او د مشارکت ملی تر عنوان لاندي یو کمزوری حکومت په سرکي قرار درلود، چي خپل وزیرانو ورسره مخالفت او فریب کاوه .

دبلي خوا د پارلمان بي بندوباري او بدي اخیستل او د حکومت سره مخالفت ددولت د پاره یوه لویه ستونزه وه ، چی د ۸ صبح ورځپاڼه لیکي « نمایندګان برای ازد یاد درامد شان کمیشن کار ودلالي مینمایند..... »

آن ماندګار د چنګاښ پر ۲۳ کال ۹۳ د نمایندهګانو پر ځای ربایندګان بللي دي.

مقصد فساد په هره برخه کي لیدل کيږي ، لکه چي ویسا د غواي پر ۱۲ کال ۹۳ د کرومیات د تیږو د ورځي ۲۰۰ ټنو قاچاق خبر لیکلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا ډول د ارمان ملي ورځپاڼي کی په نیټه د لندی ۳۰ کال ۱۳۸۸ کي ښاغلي خلیل رومان د ( نامه سرگشاه عنواني رئیس جمهور ) داسي لیکي: « پرسیده شود که ۱۰. ۱۵. ۲۰ سال این مامورین چه داشتند، که گردن ملت از ستم و ظلم ، بی امني، ارتشا و اختلاس ، فساد سیاسي، مالي ، اداري، بي عدالتی به کلی شکسته است ... ».

دیورتني مطلب داهم باید علاوه شی، چي د سیګار ( اداره باز رئیس عمومي امریکا برای افغانستان ) یو راپور د اقتصاد هفته په ورځ پاڼه کي نیټه ۲۲ تله، کال ۱۳۹۳ د ( رازهای که فاش میشود ) لیکي : چي ۱۰۴ میلیار دالره حیف ومیل شویدي او ۲۰۳ زرو ۸۲۴ قبضه اسلحه ورکه شویده .

د سرنوشت ورځپانه په نیټه ۹۳/ ۲/ ۱۳ داسي لیکي:

« د اداري فساد په پراختیا کي امریکایانو هم مرسته کوله ، چي پدی برخه کی د ( بلومبرګ ) ورځپاڼي راپور ډیر مستند لیکل شویدي. او زیاتوي، چي همدا قراردادونه، جنګسالارانو د پیاوړتیا سبب شو او یوازي امنیتي کمپنیو ته امریکا دوه میلیارده دالر ورکړیدي. »

حمید د عبدالرحیم وردګ زوی د همدي امنیتي قراردادیانو نه دي، چي اوس د همدی درکه میلیاردر شویدي. نوموړي کمپنی چي به د ناتو یا ایساف مالونه لیږدول، دخپل پلار په مرسته به د اردو افرادو د هغو ساتنه او انتقال کاوه، مګر پیسي به حمیدالله اخیستل.

کله چی په ارمان ملي په ۹۳/ ۲/ ۱۶ نیټه او څراغ هم پدي نیټه لیکي: « او کله چي د کابل ښاروال محمد یونس نواندیش او قیس حسن د ولسي جرګي استازي یو پر بل باندي د فساد تورونه ولګول، دلته دولسي جرګي رئیس عبدالرؤوف ابراهیمي خبره هم راپورته شول ، چي د نواندیش په خبره ابراهیمي هم څو نمري مځکه غوښتل .»

دلته ډیر شکایت پارلمان له غړو نه دی، چي پدي هکله ویسا ورځپاڼه په ۹۳/ ۴/ ۱۱ کي لیکي : « چي لوی قراردادونه ټوله د وکیلانو په لاس کي وي او یا ددوي د خپلوانو لخوا ... » . رشوت دود دي، هیڅ کار بیله رشوت نه اجراکیږي، چي د ولس ملا يي خم کړه. د سبا تشویش او د راتلونکي عدم تضمین یو لوی لآمل دي، چی دولت پدي برخه کي هیڅ پام ندي نیولي .

### ۳ـــــ زورواکي:

زورواکي د قانون د حاکمیت د مخ نیوی لوی عامل دي. حکومت ددوي د اعمالو په مقابل کمزوري دي.

دا هغه کسان دي، چي د زور په څنګ د یو قوي نفوذ خاوندان دي. دا هغه کسان دي، چي هر یو یي لوی نهنګ غوندي دي، دحکومت د اجراأتو مخه نیسي، لکه احمد ولي کرزی، استاد رباني، استاد سیاف، مارشال فهیم، جنرال محمد اسمعیل خان ، استاد عطا محمد نور، جنرال دوستم، محمد کریم خلیلي، استاد حاجي محمد محقق او څو تنه نور زورواکان او ددوي خپلوان او کورني.

د قدرت متعدد مرکزونه دي، چی د خپلو ګټو د پاره ملي ګټي په اسانه قربانوي، د ملي پروژو مخ نیسي، امتیاز غواړي او یا باید ورسره شریک شي. مثلأ د بریښنا په عاید کي شریکان دي، که نه د برق لین پري کوي. د مبایل د شرکتو نه خبل حق غواړي، د امنیت په خرابولو کی لاس لري. په ډیرو ځایونو کي د طالبانو سره شریک دي. همدا زورواکان ډاډ لري، د طالبانو تر نامه لاندي هر جنایت ته لاس اچوي او پدي ډول خپل حریفان هم ټکوي. حریفانو ته توطیي جوړوي، د نفوذ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کار اخلي. په عمومي ډول زورواکان د زور منبع څلور ډوله ده : ا- تفکسالار، ۲- وکيل، ۳- لوړپوړي دولتي چارواکي ، ۴ منفذين.

ددې ډلې نه منفيذين لکه پرازيت دنورو د خوا نه تغذيه کيږي. غلا او جزګيري کوي. پدې درو نورو ډلو پوري چسپيدلي دي. دهغو تر لاسه ورته راوزي، لوی عمده کمال يي د خولی صفايي ده. په کميشن کاری ژوند کوي. په جاسوسي هم نه شرميږي، پر دي زورواکانو باندي هيڅ قانوني امر پر اجرا کيدای نشي. د دوي د موافقي نه په غير يوه عمراني او بازسازي پروژه عملي نده. او يا ددوي امتياز بايد پکي پروت وي. البته دا ليوان لکه حاجي ظاهر قدير، الله ګل مجاهد، ملا تره خيل، ملا شيرمحمد اخند، کريم براوي، امان الله ګذر، ملا عزت، حاجي الماس، حاجي احمد خان سمنګاني او نور، په هر ولايت کي داسي ليوان شته، چي د نورو غوښی خوري ، دانسانانو مرګ ورته عادي کار بريښي. دغه لاملونه يو بل ته لاس ورکړي، چي د شر او فساد د يو بوي ناکه چټل ډنډ جوړ وي، چي د خپلو ګټو په خاطر د هر ډول پرمختګ او د ولس د سوکالي مخه نيسي او آن د دولت مشربه ويل چي ماته کاسه مي په لاس کي نيولي وه، چي تر دي ځايه مي را ورسول. چي همدا ډول هم وه.

هر دم د خطر سره مخامخ ؤ، ددي کسانو سره هيڅ ډول ملي او اخلاقي حساس نشته، هر ډول جنايت او ملي خيانت ته د خپلو ګټو د پاره چمتو دي. زامن او وړونه يي د هر امتياز خاوندان دي.

( ماته کاسه هغه کاسه ده، چي د ۲۰۰۹ کال د رياست جمهوري د کمپاين په وخت کي د يوي مناظري په ترڅ کي ښاغلي حامد کرزي د ملاحظاتو د ساتلو په هکله وويل ).

لکه چي وايي : دولت عبارت د نفوس( ولس) ، جغرافيا( مځکه )، زور او وقت ولري، چي خپل مقررات او غوښتني تطبيق کړای شي، مګر زموږ هيواد کي دا دريم عنصر کم او ناقص دي. دولت خپل قوانين او مقررات نشي عملي کولای. ډيري سيمي نا امن دي او په ډيرو سيمو کي زورواکي او متنفذين د مقرراتو مانع کيږي. نوی دولت لا تراوسه ندي جوړ شوی.

دا هريوه د مافيا او دغلو ټولګي پر ځان راټوله کړی، چي ديوي خوا ځان په ساتي او دبلي خوا د نورو د تهديد وژنو او غير قانوني اعمالو داجرا قومندي ته چمتو ولاړ دي. وسله وال کسان لري، لاري بند وي.

دا جنايي ټولګي د خان او يا رهبر، ريښي جوړه وي. خان پر دوي تکيه دي، هغه دده دپاره جنايات تر سره کوي، مګر رهبر مادي او ددوي سياسي حمايه کوي. دا مافيايي تشکيل دي، چي د يو دبل لازم او ملزم دي.

دغه هر يوه رهبر او يا مشر په لسګونو وژنو او د بشر د حقوقو ناقضان دي، چي حامد کرزی د مدارا نه کار واخيست او ملاحظات يي ساتل، د حکومت زور نه په رسيدی،غوڅ اجراات نه ليدل کيدل او سازمان يافته ډول لري.

حامد کرزي هڅه دا ؤ، چي د مافيا يي کړی، دنامشروع قدرت د لاس راوړلو نه يي مخنيوي وکړی او سياسي استقامت ته سوق کړي، چي ولسی او مشرانو جرګي ته ورمات شول، ځينو ته يي د مشاور وزير مقام ورکړ، مګر دوی بالاخره لاري ته نه راغلل ، بلکي دواړي لاري خپلي کړی لکه ، امان الله ګذر، ملا عزت ، احمدخان سمنګاني، يونس قانوني، استاد محقق، استاد رباني، استاد سياف، ملا تاج محمد، حاجي ظاهر قدير، ملا تره خيل، الله ګل مجاهد، او نور شورا ته راغلل، مګر اصلاح نشول، اوس دواړي غاړي خپلي کړي او په دولت کي متعدد قدرتونه او يا واړه، واړه قدرتونو مرکزونه جوړ کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ هیواد هيځ دول په داخل کي سياسي ناقراري نشته، کمونستان مات شول، بهرني پښتوانه او مربي يي پخپله له منځه ولاړل. بهرني عوامل لکه ګاونډيان دي چي د نا ارامیو لامل ګرځيدلي دي او وسيله يي همدا سرزوران دي.

نو زورواکي د همدي حالت نه ګټه پورته کوي. د قانون حاکميت يي خدشه داره کړی او د پرمختګ مخه نيولي ده او دجرمونو د ارتکاب عاملين دي. مافيايي کړی جوړه کړيده او د عدالت مخه نيسي، ظلم رواج کړيدی او دولت يي تر اخيري کچی بی اعتباره کړيدي.

ولس قانع او صابره قوم دی، کور، کيږه، ډوډی نه غواړي، اما دا وايي چي ظلم بايد ورسره ونه شي. همدا د قدرت متعدد مرکزونه چي بدماشان پر راټول ، تهديد د نورو د ازار سبب ګرځي، چي ولس ورته ( کله خوران) وايی، کوم چي هند او پاکستان کي ( ډاکو ) ورته وايي.

دا کسان دومره امکانات لري، چي آن مديا ته يي هم لاس ور واچاوه، هر يو يي تلويزون لري، لکه نورين، ميترا، دعوت، او فردا داسي نور دي .

ددي مافيايي کړی، چي د جهاد نه،تغير شکل ور کړ، ځيني يي په دولتي قدرت کي ورګډ کړل، چی د دولتي حيثيت په چوکات کي به دا صلاح لار ونيسي، مګر ګټه يي ونه رسول. استاد محمد کريم خليلي، محمد قسيم فهيم، جنرال محمد اسمعيل خان، استاد عطا محمد نور، حاجي قدير، دوی هغه زورواکي او مافيايي خويونو ته دوام ورکړ. کوم کسان چی په علم او اخلاقو اراسته ؤ، عملاً يي په جهاد کي برخه وانخيستل او کلاشينکوف يي په لاس کي نه ؤ نيولي، د خدمت چانس يي نه ورکاوه او دهغو د پاره په اتلامي دولت کي ځای نه ؤ. دا دولت يوازي د مجاهدينو حق ؤ، يوازي توپکسالارانو د پاره ځای دي.

د زورواکانو بل خصوصيت داؤ، چي په دولت کي دهر تنظيم او يا هر قوم سهم او برخه معلومه وه، چي د هغه مربوطه قوم و مشر ته په اطاعت مکلف ؤ، نه ولس مشر او يا مرکزي حکومت ته. او په ښکاره به يي ويل، چي دا وزارت د فلاني قوم دی او ځان به يي مرکزي حکومت ته مسؤل نه باله .

دا د قدرت متعدد مرکزونه د مرکزي دولت د کمزوري لامل ګرځيدلي. دبلي خوا څلور سرحدونه خلاص او کنترول نشته. چي د قانون تطبيق نه تښتي. دطالب جنګ هم امنيتي ځواکو نه مصروف ساتلي او د طالب سره په جنګ کي بوخت دي، اصلي دنده تري پاته ده. د حکومت غوڅ اجراات نه کول هم دا د زورواکانو مداخله وه. زورواکان عبارت دي د لوړپوړو چارواکو، توپکسالارانو، وکيل او سناتور او متنفذين دي. توپک سالار د جهاد پخواني قومندانان دي، متنفذين يا قومي مشران دي او يا سرمايداران. يو دبل ګټي ساتي او لاس د ولس پر ضد يوکړيدي.همدا لړ کسانو ولس ګروګان نيولي دي. د وکيل او يا توپکسالار، قومي مشران او سرمايدار ددوي تر سيوري لاندي نيولي دي او دا ددوي مالي اړتياوي رفع کوي او تقريباً جزيه ورکوي، ترڅو ځان او سرمايه وساتي، البته دا دري ډلي د سرمايدارانو د بلا او د قوانينو مخ ته ولاړ دي. همدا سبب دي چي فساد عمومي دي او عدالت نه تطبيق کيږي. کله چي موږ متنفيذ وايو ، يوه پرازيت ډوله طبقه ده، چي د نورو د ګټو نه ژوند کوي.

بدماشان او زورواکان دي چي زور، واسطه، او وسيله چلوي او د تهديد ، تطميع نه کار اخلي، سپين سترګي او بدماشي کوي، د خرابي لامل دي، مافيا يي سازمان دي.

متنفذين پخوا هم وه، چي د کمونستي رژيم سره څه ضعيفه شول، اما بيخي له منځه نه ولاړل. د طالبانو په وخت کي يي په داخل کي سر نشوای پورته کولای، پوره پټ شول. همدا طبقي او ډلي دي، چي قانون پري يو ډول نه تطبيق کيږي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدبختي لامل دي. په ټولنه کي برابري نشته. زورواکي کله، کله خپل موقيت تبديلي وي. توپکسالار دي، کله چارواکي شي او يا چارواکي دي، کله وکيل شي او يا په وکيل پوري و تړل شي.

دا لړی داسي دوام لري، خان او متنفيذ ، وکيل جوړوي او وکيل وزير جوړوي، نو ارومره به دا کړی ديو بل ګټي ساتي. همدا وجهه ده چي زموږ ديموکراسي بي خونده شوه.

چوکي پر قومي اصولو او خواستو باندي ويش ؤ، نه پر معيارونو باندي. که به يو وزارت د پښتنو ؤ، بل بايد د تاجک قوم استحقاق رسيدي، يا د ازبک او هزاره، دي ته به يي قومي مشارکت او ترکيب باله، اما ضرر يي په اداري لحاظ ډير ؤ.

ګرچه په لنډ مهاله او بيا انتقالي دوره کی کليدي وزارتونه ټوله په شمالي ټلوالو تاجک ( پنچشيريانو ) پوري اړه درلوده، لکه وزير دفاع مارشال فهيم، کورنيو چارو وزارت محمد يونس قانوني، بهرنيو چارو وزارت داکتر عبدالله، لوی څارنوال محمود دقيق، امنيت ملي لومړی انجنير محمد عارف سروري او بيا وروسته امر الله صالح ؤ.

دټاکنو وروسته خو کله چي کرزی ولسمشر شو، نو بيا يي څه اصلاحات راوستل. زورواکی پدي کچه جدي ؤ ، چي د ۲۰۱۴ کال ټاکنو کي داکتر محمد اشرف غني شعار ؤ ، چي سهامي غوندي حکومت به جوړ نکړي، کله چي بريالی شو. د ټول ټاکنو د کميسيون د اعلان له مخي يي ۵۷ په سلو کي راي وګټلي، مګر اړشو، چی داکتر عبدالله ته سهم ورکړي. دلته بله نړی ده او بل نظام چليږي. زورواکي حق ده ، نو د استاد عطا نور اخطارونو ځای ونيوي، چي کله به يي عدم اطاعت اعلان کړ ، کله موازي حکومت. د حامد کرزی پر هر چا نظر ؤ او پر هر چا يي لاس راتيراوه. ۷۵ نفر چي قومي مشران او يا جهادي شخصيتونه وه، د مشاور وزير په حيث په دربار کي ځای ورکړی، چي ځيني يي د ديني علما په نامه هم د علما سراسري شورا په نامه راټول کړي وه.

د هيواد په اساسي قانون کي د وزير، د بهرنيو چارو د وزارت کارکوونکو او افسرانو نه دخارجی ښځو واده منع شويو. دا دهيواد د لومړی کس دپاره ، چا دا لغوه نسوای کولای . دا يو احتياطي تدبير ؤ. ملي احساس همدا وي، چي د وطن انسانان لا څه، بلکي کانی او بوټي يي هم پر ګران وي. هيواد کي هم ښکلي او اخلاقي پر معيارو برابر انسانان موندل کيدای شي. په هر صورت دا د داکتر صاحب نصيب او قسمت ؤ او يا خپل کار، مګر دځينو سره دا تشويش شته، چی محترمه بي بي ګل ( رولا ) د يو داسي سيمي راغلي ده، چي هلته د موساد نفوذ ډير دی. موږ په دي متل ( زړه چي مين شي ښايست نه غواړي ، خوب چي راشي بالښت نه غواړي) بسنه کوو.

داکتر محمد اشرف غني احمدزي چي د احمدزی پسوند ليري کيدل غواړي، غوڅ اقدام، سخت دريځ، دقانون او عدالت په تطبيق کي قاطع دي، البته قانون د خير په مانا دی او عدالت راوړي، مګر دده مخ ته غرونه ، دريابونه او رودونه دي او د تطبيق طريقه بي تدبيره ښکاري. داسي معلوميږي چي د افغانستان په جغرافيه کي نمره کمه ده. دريځ يي د تائيد وړ دي، که وشي. دي ته چي دی پخپله پام وکړي، چي د چا پر اوږو راغلي. زموږ يو بل ښه پيژنو ، که څه هم بي وسه يوو. جنرال عبدالرشيد دوستم ، محمد حنيف اتمر، حاجي دين محمد او داکتر حضرت عمر زاخيلوال په ټولنه کي پيژندل شوي څيري دي. هر يو يي جلا سابقه لري.

داکتر احمدزی په کمپاين کي ويل، چي سهمي شرکت نه جوړي. ايا ( وحدت ملي ) د سهمي شرکت په مانا ندي ؟ زور ته تسليم شوو؟ ولي يي نشوای کولای چي استاد عطا محمد نور لاري ته راولي. دا وايم ، نشي چي تر بد، بدتره خواته ټيل وهل شوو. دا نيم بند نظام چي بايد تدريجي رشد وکړي. د پخوا په شان نور هم خراب شي، ولي چی د افراط خوا ته يي لنګر

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي. خلګ وايي چي داکتر د معدي تکليف لري او نيمه معده يې نشته، يوازيني داخلي ارګان دي، چي نيغه په نيغه د عصاب سره ، سر او کار او رابطه لري، عصاب پر روح او روان تاثير لري، نو داسي ښکاري، چي داکتر صيب رواني تکليف لري. همدا ده چي وايي : ( سليم عقل په سالم بدن کي دي ).

زه دلته د ډيرو موضوعاتو له جملي نه چي ماته په لاس راغلي ګرانو لوستونکو ته د مثال په توګه يو شمير وړاندي کوم.

هر مامور چي د متنفيذيو د سپارش پر بنا که حساب په نقده کي نه وي خلاص شوي يعني د قومي ، تنظيمي او يا نورو اړيکو پر بنا مقرر شوی وي، خپل حق په مياشتني او د ضرورت په وخت کي او يا په کلني معياد کي ادا کوي. مثلاً : زري کروزين ورکوي ، کور ورته جوړه وي او نقدي په نقدو ور مجرا کوي. همدا سبب دي چي نور د اداري زور نه په رسيږي. مامور په خطر جمعي سره خپل ژوند مخ ته وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱)

**له کانونو څخه غیر قانوني ایستنې**

دالمان غږ راډیو د ۱۳۹۲ کال دمرغومي په دریمه نیټه یو رپورټ خپور کړ، چې په کې ویل شویدي:

" نن ورځ په ډېره غټه پیمانه دافغانستان کانونه، د لاریو موټرو په ذریعه له هیواد څخه ایستل کیږي، ځکه خو دافغانستان په طبعي زیرمو د څارني شبکه دهغو افرادو او شرکتونو په وړاندي د جدي کړنو غوښتنه کوي، چې په خپل سر او په غیرقانوني توګه کانونه راباسي."

حسین سیرت په دي اړه یو رپورټ لیکلي چې ستاسو پام ورته را اړوو.

دهیواد په کانونو دڅارني شبکه وایي، چې هره ورځ په زرګونو ټنه کاني توکي، دډبرو سکاره، کرومایت قیمتیي ډبري، دمرمرو ډبري، او نور کاني توکي په غیر قانوني ډول له کانونو څخه ایستل کیږي.

دهیواد په کاني توکو دڅارني دشبکي غړي جاوید نوراني په کابل کي په یوه خبري غونډه کي وویل: "دفساد پدیده په افغانستان کي دنه کنترولیدو په ډول د ټولني په ټولو برخو کي ریښه لري او په هرځاي کي چې د اقتصادي عاید خبره کیږي، په هغه ځاى کي خامخا دفساد نښي ویني او دکانونوزیاتره ایستني دلوړپوړو چارواکو له ملاتړ څخه پرته له امکان څخه لیري بریښي."

پرطبعي زیرمو دڅارني مسوولین وایي چې د افغانستان په یوزرو څلورسوو سیمو کي، شرکتونه او افراد دکانونو څخه په را ایستونکو توکو لګیا دي، چې د هغوي له دغه غیر قانوني کارڅخه مخنیوي نه کیږي.

دغه شبکه وایي، چې د کابل په شاوخوا کي له دري اویا کانونو څخه دغیر قانوني ایستنو کار جریان لري او دغه راز دسمنګانو په دري سوه شپږ اویا برخو کي دا ګړي په غیر قانوني ډول له کانونو څخه ایستني دوام لري.

دنوموړي شبکي غړي په ډاګه کوي، چې دوي د یوشمیر اشخاصو نوم لړ په لاس کي لري چې په هغي کي دغیرقانوني معدن کارانو نومونه شته، چې دغه لیست هیڅکله هم د افغانستان د حکومت له خوا په ډاګه نه شو.

دغه راز په طبعي زیرمو د څارني دشبکي مسؤل محمد تواب ستانکزي، په دغه غونډه کي وویل: هغه اشخاص چې له سیاسي اړخه مطرح نه دي، دهغوي نومونه په ډاګه شوي خو هغه اشخاص چې له سیاسي اړخه مطرح دي موږ کولاي شو، چې د هغوي نومونه وانه خلو ولي یي نه شواخیستلاي ځکه چې د هغوي نوم لړ په دولت کي پټ پاتي شویدي. دغه نوم لړ یوکال دمخه جوړ شوي او دکانونو وزارت لخوا دچارو اداري ته استول شویدي، چې ښایي دهغوي نومونه په ډاګه شوي واي.

دغه شبکه وایي چې ددغو کانونو غیرقانوني را ایستلو څخه د میاشتي له شپږو څخه تر اوو ملیونو ډالرو پوري رسیږي چې دافغانستان دولت په زیان دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال( ۲)

**جان سپکو ویلي دي چي دافغانستان له یوه بانکي حساب پنځوس ملیونه ډالر ورک شویدي**

ویسا ورځپاڼي دخپلي ۱۳۹۲ کال دغوایي دمیاشتي دیویشتمي ګڼه کي د رسنیو په حواله لیکلي دي، چي د افغانستان دبیا رغاونو په چاروکي د امریکا عمومي سر مفتش وایي چي د امریکا د متحده ایالتونو د مرستیي له پیسو څخه د افغانستان له یوه بانکي حساب څخه ورکي شویدي.

دافغانستان د بیارغاونو په چارو کي دامریکا د پلټني عمومي اداره یا ستیګار وایي: ( چي د امریکا د مرستو څخه پنځوس ملیونه ډالر چي په یوه بانکي حساب کي یي تیرکال پیداکړي وو دفعتاً ورک شویدي)، په داسي حال کي چي دغه بانکي حساب دافغانستان دحکومت ترڅارني لاندي وو. دامریکا ځانګړي سر مفتش په یوه وینا کي له دي مطلب څخه پرده پورته کړه او دافغانستان حکومت یي په دي تورن کړي چي له ټیټ پوړي څخه ترلوړ پوړو کارمندانو یي په فسادکي لاس لري.

دازادي راډیو له رپورت سره سم د امریکایي مالیه ورکوونکو د پیسو حیف او میل په اړوند اخطار ورکړ او ادعا یي وکړه، وروسته له هغه چي دافغانستان حکومت دنوموړو پیسو بانکي حساب په کنګل کیدو موظف شو، ملیونونه ډالره ورک شول.

دامریکا دځانګړي سر پلټونکي د امریکن فونډیشن په نامه یوي موسیسي ته وینا کوله وویل: په لنډه توګه وایم چي پنځوسو میلونو ډالرو په حدودو کي غلا شوي پیسي دافغانستان په یوه بانکي حساب کي ساتل شوي وي، پیژندلي دي.

دنوموړي په وینا موږ دامریکا د متحده ایالتونو د محکمي حکم په لاس کي درلود چي له هغه سره سم د افغانستان حکومت دنوموړو پیسو د لاسته راوړلو او ضبطولو موظف شوي وو.

اما متاءسفانه څواووني وړاندي معلومه شوه چي دغه بانکي حساب د یو شمیر زورورو بیروکراتانو په واسطه دوباره پرانستل شوي او اواوس دنوموړو پیسو زیاته برخه ایستل شویده.

د سیګار مشرجان سپکو دغه راز وویل: دغه قضیه دیو زیات شمیر دغسي قضایاوو بیلګه ده چي دهغو له امله د امریکا حیاتي مرستي په تعلیق کي واچوي ، ترڅو پر کابل زور واچول شي چي دامریکا دمرستو په ساتنه کي لازم تدبیرونه تر لاس لاندي ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال( ۳)

**ددرغلۍ یوه بیلګه**

دیوي باخبري سرچیني په حواله ویل شویدي چي په ۱۳۸۴ کال کي غلام دستګیر د نظام الدین زوي، چي عبدالرحیم دحاجي عبدالواحد د زوي دریوري یي پرغاړه درلوده ، دغلطو معلوماتو او درغلی په پایله کي چي ګواکي ستاسو موټرونه د هرات د قول اردو قوماندانۍ ته په کرایه ورکوي، ددغي درغلۍ پایله داشوه چي دحاجي عبدالرحیم نه لس موټرونه اخلي.

نوموړي له یو څه مودي وروسته په دغه درغلی بسنه نه کوي او په دي بهانه چي د هرات دقول اردو قوماندانی خپل داغمه وسایط پلوري او له حاجي عبدالرحیم څخه ۷۲۲۵۰ ډالر ترلاسه کوي.

ددرغلی په دغه لړي کي دهرات د قول اردو دمعاونیت ددفتر آمر خالق نور دپادشا میرزوي هم له حاجي عبدالرحیم څخه سل زره ډالره واخلي.

کله چي حاجي عبدالرحیم پوهیږي چي ده ته غلام دستګیر او خالق نور دوکه ورکړي، نوموضوع دڅو عرض پاڼو په ترڅ کي دهرات ولایت مقام ته وړاندي کوي او د نوموړو د در غلی ادعا کوي ، چي دهمدي دعوا له کبله موضوع ترڅیړني لاندي نیول کیږي اوتورن کسان په خپل جرم اعتراف کوي ، چي صرافان هم ددغو پیسو ورکړه غلام دستګیر او خالق نورته تصدیق کوي.

دتحقیق پلاوي د غلام دستګیر او خالق نور دمسوولیت په اړوند نظر ورکوي او د قضیي د څیړني پاڼي د هرات ولایت د محکمي دعامه امنیت دیوان ته سپاري.

نوموړي دیوان په خپلي ۱۳۸۶ کال د زمري د میاشتي په یو دیرشمي نیټي په ۱۶۰ مه فیصله کي تورن غلام دستګیر او خالق نور په غیابي ډول په یو کال تنفیذي حبس محکوم اودغه راز غلام دستګیر په ۷۲۲۵۰ ډالر او خالق نور د سلو زرو ډالرو په ورکړي حکم کوي.

د کابل دمرکزي محبس د معلوماتو په ترڅ کي څرګندیږي ، چي غلام دستګیر نوم د تبنتوني ، له دښمنانو سره دمرستي او دجعلي پیسو حیازت له امله په شلو کلونو بند محکوم او په محبس کي شپي او ورځي تیروي.

په همد ي بهیر کي دهرات ولایت د استنیاف دیوان خالق نور د پادشاه میرزوي په پنځو میاشتو حبس تعدیلوي او دغه راز دسلو زرو دالرو په ورکړي حاجي عبدالرحیم ته حکم کوي، چي سزا کمه معلومیږي او محکمي د جرم نه غلط تعریف وکړ.

دپام وړ موضوع دلته داده چي رسمي او دولتي چاراوکی هم په هرجنایت او جرم کي ګډیدلو نه ډډه نه کوي .

او بل د موټرانو د کرایي په پلمه ډیر کسان همدا ډول دوپه شول ، دکرایي په پلمه موتر د جوازسیر سره په لاس راوړي او بیا خرڅوي، چي دپولیسو د وخت ضایع کول او دخلکو دسرګرداني سبب ګرځي او یو نوی جرم منځ ته راغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۴)

**ستا نه يو زوی غوارم**

ديوي باوري با خبري سرچيني په رپورټ کي راغلي دي: پرسپوږمی جنسي تيري وشو، چې تر اوسه ځوريږی . ددي درکه چې خدای زوی ورکړ، نوم يی عبدالکريم شو.

د ۱۳۸۹ کال د لړم دمياشتي په اتلسمه نيټه ، يو تن چي ماهر اود تراب زوي دي اړوند مقاماتو ته خپل غوښتنليک وړاندي کوي، چي لور يي د سپوږمي په نامه دعبدالکبير رنجبر، دولسي جرگي پخواني استازي، رفيع، اوگی او رحمن الله په مرسته د يوه مخکني پلان له مخي ، دخشونت د کيسي تر نامه لاندي دکابل د ده سبز څخه ، د رحمن الله او ديوي ښځي په مرسته چي هوگی نوميږي ، د اوگی کورته بيول کيږي. او ديوي شپي له تيريدلو څخه وروسته کله چي عبدالکبير رنجبر ددي له پاره چي په راتلونکي کي له ستونزو سره مخامخ نه شي ، له خپل شخصي شناخت سره په کټي اخيستني نوموړي د بشري حقونو کميسون ته د اوگي په سلسله او دنوم د بدلولو (ډيوه) معرفي کوي.

چي وروسته له يو څه مودي نوموړي د اوگي له خوا تسليميږي او دعبدالکبير رنجبر کورته راوړل کيږي، د سپوږمی د مالوماتو له مخي په کوکا کولا کي ورته شراب ورکول کيږي او وروسته د کبير رنجبر له خوا ورباندي جنسي تيري کيږي او اوگي له دغي قيصي خبره ده.

په رپوټ کي زياته شويده چي سپوږمی له تښتولو وروسته چي د عبدالکبير رنجبر په لاس کي لويږي هيڅ يوه امنيتي ارگان ته خبرنه ورکول کيږي او کورني ته يي هم نه سپارل کيږي.

سپوږمی په دغو مره وخت کي حامله او د رابعه بلخي په کلينيک کي ولادت کوي او وړکی دي.

اوپه مکرويان کي داوگی په کور کي دبندي په ډول ساتي، کومه شپه چي دعياشي محفل جوړ اوشراب نوشي په عمومي ډول رامنځ ته کيږي، سپوږمي وايي چي داکترصاحب عبدالکبير رنجبر او خور يي راضيه نومي او نور هم موجود وه، سپوږمی کيسه کوي چي زه يي نشه کړم، سهار چي راپورته شوم هرڅه بل ډول شويدي، تر څو پر رنجبرمي حمله وکړه چي په خوله کي مي ووهه، ترڅو ده دوه حلقي چلي ( انگشتر ) راوړاندي کړي، تر څو زما سره يي نکاح وکړه.

داکتر عبدالکبير رنجبر دولسي جرگي پخواني وکيل بل ډول کيسه کوي:

دحقوقو داکتر رنجبر پر سپوږمی په اجباري زنا اقدام وکړ، که عدالت وي بايد رجم شي، مگر دده جعلي نکاح خط محکمي په غير عادلانه ډول ومنی. دده داعمل دپغمان دعمل سره يوازی دا تفاوت لري، چي هغه دسته جمعي ؤ،مگردا ده په انفرادي ډول اقدام وکړ.

داکتر صاحب وايي ،چي سپوږمی زما نه زوی غوښت، چي همدا سي يو گل مورگک پيداشو.

داکتر صاحب هغه کمونست دی، چي اسلامي او افغاني اصولي نه مني، نوموړی يوه روسی ميرمن هم لري.

(چي سپوږمي مي داوگی په کور کي وپيژندله، او زما نه يي يوه خاصه هيله وکړه ، چي زما نه يو زوي ولري..........).

چي داسي معلوميږي کله چي موضوع رسوايي ته راوځي داکتر صاحب رنجبر نکاح رامخ ته کوي، او بيا طلاق ورکوي.

او نکاح چي نه يي ملا معلوم دی او نه يی شاهد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمحکمي په ۲۸۳۱ ـــ ۹۰/ ۷/ ۲۵ لمبر فيصله کي اجباري زنا، تهديد او اختطاف د برآئت حکم کيږي، استيناف او تميزيي هم تائيد وي.

عبدالکبير رنجبر کله چي دکمونستي رژيم په پوهنتون کي استادؤ ، هغه وخت کي يي پريوي بلي يتيمي شاګرد دکورنی کار ددرس په پلمه کورته غوښتي او بندي کړي يي وه، چي د ميراکبر خيبر لخوا دحزب نه وايستل شو. دهغه وخت محصله فخريه نوميدل، جنسي تيری وکړ.

ددي دپاره چي سپوږمی ارامه شي، په ميکرويان کي ديو پارتمان وعده هم ورکړه، طبعاً چي عملي نشول.

مير اکبر خدای دي يی وبخښی، تر فضيلتاب قاضی ښه ؤ، چي اقلاً دګوند نه داکتر رنجبر وايستی. او حق دعدالت په ګوند کي دمحمد حنيف اتمر څنګ ته تر اوسه په جګه غاړه ناست وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۵)

**دیوه پولیس دزره حال**

بي بي سي راډيو ۱۳۹۲ کال د لیندۍ د میاشتي ددیارلسمي نيټي په خپله ماښامنۍ خپرونه کي یو رپورټ او یوه مرکه خپره کړه چي په کي راغلي دي:

د روغتیا نړیوال سازمان په رپوټ کي لیکل شوي ، چي په جنوبي آسیا کي افغانستان فاسد ترین هیواد دي. ددغه رپوټ په حواله د آسیا په جنوبي، منځني آسیا هیوادونو کي افغانستان فاسد ترین هیواد په ګوته شوي ، یاني ایران، پاکستان، هند، تاجکستان او ازبکستان د افغانستان په پرتله په ښه وضعیت کي قرار لري.

په هغو یو سلو اوه اویا هیوادونو کي ، چي فساد په کي څیړل شوي، افغانستان یو سلو پنځه او یایم او سومالیا د نوموړي لړ لیک په آخر او شمالي کوریا دریم ځاي لري.

په نوموړي رپوټ کي راغلی ، چي د تاجکستان وضعیت یوه څه ښه شوي او په دغه برخه کی بدترین هیوادونه سودان، جنوبي سودان، لیبیا، ازبکستان، ترکمنستان او سوریي هیوادونه دي ، چي په وروستي مقام کی ځاي لري.

خو دافغانستان فساد سره د مبارزي مالي او اداري مرستیال ښاغلی خرمجي دغه ارزونه نه مني او وایي چي دغه ارزونه په واقعیتونو ولاړه نه ده، دروغ هم اندازه لري، دا اداره هم لړلي ده، چي د فساد دفاع کوي.

دیوه پولیس مرکه وړاندي کوم:

د پولیسو یوه افسر چي ویي نه غوښتل خپل نوم واخلي وایي : چي یو ویشت کاله کیږي چي د پولیسي دنده اجرا کوي او څه موده وړاندي یي و غوښتل چي د ننګرهار په یوي ولسوالي کي د پولیسو قوماندان ځان مقرر کړي. او دغه مقام ته درسیدلو په موخه یي غوښتل چي اته لس زره ډالره بډي ورکړي.

هغه په داسي حال کي چي دغه پیسي یي هم ورکړي پرځاي یي بل څوک مقرر شو، ځکه هغه له ما نه زیاتي پیسي دکورنیو چارو وزارت چارواکو ته ورکړیدي.

له هغه نه مي وپو ښتل، بډي یي ورکړي؟ ځواب یي راکړ چي بلي، زه مجبور شوم چي دري ځله دولسوالیو د قومندان په توګه کاروکړم. او دري واره زه دپیسو ورکړي ته اماده وم، چي زه باید پیسي ورکړم، پرته له هغه نه ماته اونه زما مسلک ته ، چي د پولیسو لیسانس یم اونه زما یوویشت کلني کاري تجربي ته پام نه کیږي.

پوښتنه: څومره پیسي دي ورکړي چي امنیه قوماندان شي؟

ځواب: هر ځل مي له پنځلس زرو تر شلو زرو دالره ورکړي.

پوښتنه: دغه پیسي تا له کومه ځایه په لاس راوړي؟

ځواب: څرنګه چي ما یو ساختماني شرکت درلود، زه باید خپل مسلک ته د خپلو دغو امکاناتو څخه ګټه واخلم که څه هم زه یو پخواني او با تجربه افسر یم.

پوښتنه: تاسو چي پیسي ورکړي تر څو د ننګرهار ولایت په یوه ولسوالي کي امنیه قوماندان مقرر شي څرنګه نو تاسو پرځاي بل څوک مقرر شو؟

ځواب: له ما څخه یي زیاتي پیسي ورکړي. وزارت لکه د راهنمایي معاملات غوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: چاته او د وزارت کوم ځاي ته باید پیسي ورکړل شي؟

ځواب: په کورنیو چارو وزارت کی، د پیژنتون عمومي ریاست هري شعبي ته باید پیسي ورکړل شي.

پوښتنه: که تاسي وغواړي چي رتبه مو پورته ولاړه شي او امنیه قوماندان مقرر شي، څومره پیسي باید ورکړي؟

ځواب: هرولایت ځانته بیه لري، آن داچي ماته ویل شوي که اگر خواهش قومانداني امنیه داشته باشید مثلاً فلاني ولایت ته دوه لکه ډالره، ننگرهار ته دري لکه ډالره، بدخشان یو لک ډالره.

پوښتنه: تاسو ته یوه ډاډمن شخصي ویلي دي؟ یا په کوڅه او بازار کي مواوریدلي دي ، چي امنیه قومانداني دري لکه او دوه لکه ډالره بیه لري؟

ځواب: به شخص خودم گفته شده دولک دالر بدهید ، به فلاني ولایت و سه لک دالر بدهید براي فلاني ولایت.

پوښتنه: دغه پیسي پیژنتون اخلي یا تر هغه لوړ پوړي لکه وزیر، معین هغوته هم دغه پیسي رسیږي؟

هغوي له یو بل سره پوره اړیکي لري، طبعاً باید شل پنځلس زره خپله کمیشن کارهم واخلي.

پوښتنه: یو څوک چي قوماندان د یوه ولایت مقرریږي ولي باید پیسي ورکړي، حاصل یي څه شي دي او له دغه کار څخه څه گټه ترلاسه کوي؟

ځواب: طبعي ده چي شخصي موضوعات او ښه درآمد لري، هر مسلک خپلي لاري لري.

داوضعه په قضا کي هم شته اوپه ترانسپورت، مالیي وزارت او تقریباً په ټولو ادارو کي دود دي.

دپولیسو پیژنتون باندي خپلو پولیسانو دانجنیر ضرار احمد مقبل وخت کي د ( رهنمایي معاملات) نوم ورکړي ؤ. پورتنی مرکه واقعیت لري، هر وزیر همدا ډول ؤ. وزیر هم اړ دی، چي د رایو په وخت کي او یا استیحضاح کي د وکیلانو ناف ورغوړ کړي.

او پیسي په همدي ډول دخپلو زیرداستانو واخلي، زیرداستان هم باید پیسي په همدي ډول پیداکړي.

رنځ او عذاب باید مظلوم ولس وکاږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۶)

**شرکتونه دي خپل لګښتونه؛ په زکات کي حساب کړي! ؟**

په هیواد کي کله چي د باد راوړو ګټو هنګامه خپریږي، نو د نورو دول دوکه بازیو او درغلیو ترڅنګ ځیني ساختماني شرکتونه هم دګټوله پاره متي رانغاړي او پرته له دي چي فکر وکړي له هغه چا سره چي قرار داد کوي د قرارداد صلاحیت لري او که نه ؟ خو په پټو سترګو په ساختماني کارونو لاس پوري او یوازي په دي بسنه کوي چي مقابل طرف یي خارجي اتباع دي او بس.

موضوع د څو ملیونه دالرو ده.

قضیه داسي پیل کیږي چي دفلپین دوه اتباع چي کلا ریتو او جي جي نومیږي ، یو شمیر پروژي چي له بهرنیو هیوادونو څخه یي ترلاسه کړي دي ، ددویم لاس افغاني شرکتونو سره د آي سي آي شرکت په نامه چي اصلاً په هغوي پوري هیڅ اړه نه پیداکوي، قراردادونه لاسلیک کوي. کله چي افغاني ساختماني شرکتونه چي دشرکت برق رساني غرب الکتریشن، شرکت سرک سازي اړوند، شرکت ساختماني عمران هرات باستان، شرکت ساختمان رفاه سعادت ، شرکت ساختمانی یو بي جي، شرکت ساختماني آریانا استحکام، شرکت ریل ایفل، لابراتوار مواد ساختماني او داحمد مرید په نامه دکارونو ۸۵ سلنه کارسرته رسوي. د پیسو غوښتنه له آي سي آي شرکت څخه کوي، خو آي سي آي شرکت د پیسو له ورکړي څخه انکار کوي او په پاي کي داسي څرګندیږي، چي کلاریتو او جي جي د نوموړي شرکت عادي کارکونکي دي او دقراردادونو صلاحیت نه لري، کله چي محکمي ته موضوع راجع کیږي، دڅلورمي حوزي د ابتدائیه محکمي ریاست په خپل ۱۳۹۲ کال د لړم د میاشتي د څورلسمي نیټي په دیرشمه ګڼه قضایي قرار کي له دي امله، چي د نظامي موافقت نامي له مخي چي ایساف د نړیوالو ځواکونو او دافغانستان د مقاماتو سره لاسلیک شوي البته د ۲۰۰۱ کال د دسامبر د میاشتي په پنځمه.

چي دالف د ضمیمي لومړي برخه کي دریمه او څلورمه فقره کي یی داسي راغلي دي.

دریم بند: که چیري د آیساف پرسونل او یاله هغوي سره دمرسته کوونکو او حمایوي اشخاص ، که چیري له هغوي څخه جرمي یا انظباطي پیښه رامنځته کیږي، هغوي دخپلو ملي عناصر و پوري اړوند دي او موقته اداره د غړو هیوادونو سره د قضایي فعالیت په برخه که مرسته کوي.

څلورم بند: د آیساف او هغوي حمایوي پرسونل له نیولو اوبندي کولو څخه مصؤن دي او هغوي نه شي کولاي چي په افغانستان کي یي محاکمه کړي، او باید فوراً خپلو هیوادونه ته یی واستوي نو له دي امله نوموړي محکمه په خپله ۱۳۹۲/۸/۱۴ پریکړه کي له دي امله چي د موافقي د دریمي او څلورمي فقري له امله درسید ګی صلاحیت نه لري پریکړه ونکړه، محکمي دقرارداد نه غلط تعبیر را اخیستي دي. او افغاني شرکت په نخود سیا پسي ولیږل شو.

آن بهرنیان په موږ باندي چنګاو دي، هیڅ عدالت او منطق دانه مني، چي پردي دي دبل پیسي خوري، مګر مصؤنیت دي ولري. دا باید بین المللي محکمي ته شکایت وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۷)

**د داینمنټو غلا**

که ددولت مخالفین په ترورو وژنو او بمي چاودونو لاس پوري کوي، نو دا د هرمخالف کړني دي چې غواړي په دغه ډول ځانونه دواک ګدئ ته ورسوي، خوکله چې ددولت په اړانه کی شامل اشخاص له دولتي دیپوګانو څخه انفجاري توکي او پټاقی باسي ، نو دا ډېري اندیښني او دتامل وړ خبره ده ، چې ښایي دیوي عادي قضیي په توګه ورته ونه کتل شي.

د باوري سرچینو په حواله د شبرغان د تفحصاتو رئیس قطب الدین قایم د ۱۳۹۲ کال دچنګاښ دمیاشتي په شلمه نیټه د قانون په نظر کي نیولو پرته په غیر رسمي وخت کي د سلطان کوټ دامر بسم الله په مرسته پنځوس صندقه داینمنټ، چي له هغو څخه په انفجارونو که کار اخیستل کیږي د محسن په دریوری دالکس موټر په واسطه او ددیپو ګانو د مدیر محمد فاروق په مرسته ایستل کیږي او دجنرال دوستم قوماندان ستارنومي ته سپارل کیږي. کله چي رسمیات رامنځ ته شوه، داینمینټ مسترد شول.

دغه انفجاري توکي چي دري زره څلور سوه ګرامه داینمنت له پټاقیو سره کیږي، د تفحصاتو درئیس په مرسته معامله شویده.

او دغه قضیه د شبرغان دابتدایه محکمي د ۵/ ۹/ ۱۳۹۲ فیصلي له امله چي ګواکي دتحقیق اسناد بشپړ نه دي دوسیه یي بیرته مسترد شویده، ولي چي ددوستم نه تحقیق ندی شوي.

ددوستم نه څوک تحقیق نشي کولای، دا نور هم باید محکمه معاف کړي، دا یوه بهانه ده.

که څه هم د نوموړي موضوع د څارني او عدلي تعقیب په اړوند منډي تړړي خورا چټکي وي ،خو داسي اټکل کیږي چي په سیمه کی دزور واکانو د شتون له امله یي د عدلي تعقیب پروسه په ټپه دریدلي او بیا چاسر وربانديي نه دي ګرولي.

کار پیژاندي وایي که چیري دغي قضیي ته داړوندو ارګانونو جدي پاملرنه ونه شي، دا به ډیري زره بوږنونکي پایلي ولري.

په داسي حال کي چي زورواکان په سیمه کي وسله وال تشکیلات لري ، نو د قانون تنفیذ ارګانونه نشي کولاي چي په زور واکانو قانون تطبیق کړي او سرغړوونکي سزا ووینې.

مال ورک دي او غلا شویدي، غل یی هم معلوم دي. داچي جنرال عبدالرشید دوستم باندي دچا وس نه رسي، نو دانور هم باید معاف شي. که داسي ووایو، چي زورور حق لري، نو دکمزوری حق ولي نشته، هغه باید دقانون منګلو ته ورکړو . چي معافیت عمومي شي. زورور ته خدای زور ورکړي، باید سیالي ورسره ونه شي. وایي چي دګل د رویه، اغزي هم اوبه خوري.

په ټولنه کي قاضیان یوه مسخه شوی طبقه ده، چي ولس نه اعتماد پري کوي او نه ورته احترام.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۸)

**داداري فساد د پاره عدم سياسي اراده**

په هيوادکي په لوړه کچه ناوړه ګڼه، او اداري فساد او رشوته هغه وخت مطرح کيږي ، چي په لوړه کچه يعني دلوړپوړو چارواکو لخوا پشتوانه ولرى يا شريک وي او يا پخپله دده له خوا اجرا کيږي.

دا په داسي حال کي چي اداري فساد او اختلاس په نړيواله کچه دافغانستان پرستيژ او حيثيت ته زيان اړولي او زموږ هيواد ته يي دفاسدترين هيواد لقب ورکړيدي.

موږددي ادعا له پاره دفساد يوه بيلګه چي پايله يي تر وزير پوري رسيږي. او دقانو له مخي څرنګه چي د لوړپوړو چارواکو څخه تحقيق ، پلټنه دڅانګړو محکمو له خو اسرته رسيږي ، نو زموږ په هيواد کي چي يو شمير وزيران په اختلاس او فساد تورن شويدي ، تراوسه يي يو هم محاکمه او پوښتنه ور څخه نه ده شوي او داځکه چي ، زموږ يو زيات شمير وزيران او لوړ پوړي چارواکي له بهرنيو هيوادونو سره تړاو لري ، نو د قانون د تنفيذ ارګانونه خو څه چي د جمهوري رياست مقام هم په زغرده د هغوي د محاکمي حکم کولاي نه شي.

دهغه باوري سرچيني د خبر له مخي چي زموږ لاسته راغلي داسي حکايت کوي: دافغانستان داسلامي جمهوريت دوزيرانو شورا د ۳۸ مي فيصلي پر خلاف د هيواد د څلورو هوايي ډګرونو (کابل، هرات، مزار شريف او کندهار) په امنيتي تړون کي فساد او د پيسو حيف و ميل اودترانسپورت وزارت له وظيفوي واک څخه په تړون کي ګټه اخيستنه له يوي کمپنۍ سره چي د او ليف ګروپ سره شوي په ډاکه شويدي.

په رپوټ کي څرګنده شويده ، چي دداو طلبي په لومړي سرکي ، د هوايي ډګرونو چاري ، امر سترينګ په ۷۶۳۶۴۲۵ امريکايي ډالرو، ايور ګرين په ۶۰۹۲۵۰۰ ډالرو او اوليف ګروپ په ۸۹۱۸۹۵۱ ډالرو لوړه بيه وړاندي کړي وه.

دترانسپورت وزارت د خپل ځان له پاره د حيف ميل زمينه برابروي او دري مياشتي وروسته دافرله خلاصولو وروسته ديوه مکتوب په ترڅ کي، له او ليف ګروپ څخه غوښتنه کوي چي په خپله بيه کي کموالي راولي ، چي دا په خپله د ناوړي ګټي ثبوت بلل کيږي او يو جوړجاړي دي.

بله داچي دنوموړو څلورو هوايي ډګرونو تړون پرته له تفکيک څخه يو ډول شويدي چي دهر هوايي ډګرله پاره د شپږو مياشتو په بهير کي ۱۷۳۷۵۰۰ امريکايي ډالره ، حال داچي د هوايي ډګرونو تر منځ زيات تفاوت شته.

دغه راز د ترانسپورت وزارت ددويم ځل له پاره د ۳۸ مي مادى پرخلاف چي په نهمه فقره کي راغلي دي: دهوانوردي دامنيت رياست جوړول په پرنسيپ کي تاييد دي، دترانسپورت وزارت موظف دي ترڅو د هوا نوردي دامنيت تړون ديوه بل کال له پاره له دولتي بوجي څخه وروسته قطعي تړون دګلوبل شرکت سره لاسليک کړي، د ترانسپورت ، کورنيو چارو اومالیي وزارتونه موظف دي، چي د امنيتي تخصصي او تخنيکي تدبيرونو په نيولو سره، د يوه کال په دوره کي، د هوانوردي امنيتي خدمتونه دترانسپورت وزارت او يابل ارګان ته وسپاري.

دترانسپورت وزارت د شخصي ګټي له پاره بيا هم ، د هوايي ډګرونو د امنيت چاره د ۲۰۱۳ د مي د مياشتي له اوومي څخه د ۲۰۱۴ کال د مي دمياشتي تراوومي پوري ديوه کال له پاره بيا هم د اوطلبي ته وړاندي کړ او دافرونو دخلاصولو په پايله

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي څرګنده شوه چي اولیف ګروپ ۱۸۷۵۸۴۱۶ ډالر لوړه بیه او د ام سترینګ کمپني ۱۳/۵ ملیونه ډالر دیوشمیر تخنیکي ماشینونو او وسایلو په ګډون ټیټه بیه وړاندي کړه او برنده وبلل شو.

خو بیا هم د ترانسپورت وزارت د شخصي ګټي له پاره له اولیف ګروب څخه د مقرري پرخلاف غوښتنه کوي ، ترڅو په خپله بیه کي کموالي راولي، چي په پایله کي نوموړي ګروپ د بیي کموالي مني او دترانسپورت وزیر نجفي شخصاَ سپارښتنه کو ي چي له اولیف ګروپ سره تړون دوام پیداکړي او دیوه کال له پاره په ۱۳۵۷۳۳۰۰ امریکایي ډالره له اولیف ګروپ سره تړون کیږي.

په دغه بهیر کي هغه مامورین چي دفساد په برخه کي مخالفت کاوه ،د قانون پر خلاف له خپلودندو څخه د خدمتي په ډول نورو ادارو ته ولیږل شول.

ددغي قضیي پلټل چي ښایي د ترانسپورت له وزیر نجفي څخه پوښتنه و شي. نو څرنګه چي په سریزه کي مو ورته اشاره وکړه چي د لوړ پورو چارواکو څخه پوښتنه له یوي خوا د ځانګړو ځانګو رامنځته کولو اړتیاده اوله بله اړخه په اداري فسادکي ښکیل یو شمیر کړئ چي د هغه ننګه کوي، نو ښایي چي ددغي قضیي عدلي تعقیب او څارنه بي پایلي پاتي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۹)

**چاته له بداخلاقي ځخه د لاس اخیستو نصیحت مه کوي، چي برخلیک مو وهل او ټکول کیږي**

یوي ښځي چي ژړغوني حالت یي درلود او په زړه کي یي د غوسي علامي له ورایه معلومیدي، مخامخ شوم او ورځخه مي وپوښتل چي موري خیریت خو به وي، ولي دي حالت خراب دي ؟ هغي هیڅ ځواب رانکړ، خو ما بیا پوښتنه ځیني وکړه چي څه خبره ده؟ زه کولاي شم چي له تاسره مرسته وکړم؟

زما دبیابیا غوښتني له امله خپله د غوسي کیسه راته داسي پیل کړه، چي زما نوم قندي گل او دمرحوم وکیل عبدالرحمن لوریم او همدلته په لومړي مکرویان کي اوسیږم. او د ۱۳۸۶ کال د کب د میاشتي پرېنځمه، د شپي پرځلوربجي شاجهان نومي له خپلي خور او وسله والو ساتونکو سره زموږ پرکور برید وکړ زما میړه سید عبدالله او نیلوفر نومي لورمي، ووهل او وډبول او په وسله یی راته گواښ وکړ، چي وژنودي، چي دغه پیښه د بلاک اوسیدونکو اووکیل ته معلومه اوآن داچي زما دمیړه عریضه په امنیتي حوزه کي شته.

او دغه راز بیا ۱۹/ ۱۲/ ۱۳۸۶ نیټه دورځي ځلور بجي وي، په داسي حال کي چي له موټر ځخه کښته کیدم دشا لخوا په سوک سره پرسر ووهل شوم او پرځمکه پریوتم اووروسته د بي هوښی په حالت کي یي په خیټه په چاقو ووهلم، چي په پایله کي ټیپي او شفاخاني ته یوړل شوم او ټیونه مي عملیات شول ،ځلور سوه بستره بیزه روغتون کي بستروم، کله چي روغتون ځخه ووتلم له هغه راهیسي معلول او معیوبه یم چي دغه برید دصفي الله د خاکسار زوي ، عزیز شا د خواجه نظر او محمد عمر د حاجي فدا زوي له خوا چي د کابل اوسیدونکي دي، پرما وشو.

له دغي پیښي وروسته په ۱۶/ ۱/ ۱۳۸۷ نیټه نوموړو بیا هم زموږ پرکور برید وکړاو د کوردروازه یي ماته کړه اوزما میړه یي په وژني وگواښاوه.

ددغو پیښو اصلي لامل دولسي جرگي غړي فوزیه کوفي ده ، چي ما اوزما میړه او خپلوانو هغي ته توصیه کوله چي خپل ناروا اړیکي له صفي الله نومي سره پریکړه.

دیادولو وړده چي فوزیه کوفي پنځه کاله کیږي، چي صفي الله سره ناروا اړیکي لري چي زموږ ټول خپلوان له هغي ځخه خبر دي. او زموږ دټولو د بي عزتي لامل شویدي.

له همدي امله فوزیي کوفي له ما ځخه وغوښتل چی له خپل میړه چي یو باعزته او باناموسه شخص دي طلاق واخلم په داسي حال کي چي نهه تنه او لادونه لرم.

ځرنگه چي ما دنوموړي غوښتنه ونه منله له دغه مصیبت سره مخامخ شوم. د قندي گلي بازخواست چا ونکړ.

دلته هم دزور او نفوذ موضوع مطرح ده. قندی گلي یوي رسنی ته بیان وکړ، چي پد ي هکله مي د شکایت پاڼه د ولسي جرگي رئیس ښاغلي یونس قانوني پر میز هم پرته ده. فوزیه پخپله په قاچاق کي لوی لاس درلود، آن د بدخشان د امنیتي قوماندانانو په تغیر او تبدیل کي دي رول درلود. دوه وړونه یي په قاچاق کي باالفعل په بند محکوم شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۰)

**دمخدرو توکو قاچاق او دقانون حاکمیت**

دزور واکانو په وړاندي مبارزه بي پايلي پاتي کيږي.

دهشت صبح ورځپاڼه دويکي ليکس د خپرونو پربنياد پخپله ۱۳۸۹ کال د ليندۍ د مياشتي د اووه ويشتمي گڼه کي د مخدرو توکو قاچاقبرانو د خلاصون ترعنوان لاندي ليکي: چي پام ورته اړول کيږي، کله چي باخبري سرچيني د هشت صبح ورځپاڼي لولي ، نو په دغه برخه کي ځيرني پيل کوي او دي پايلي ته رسيږي، چي دمخدره توکو په وړاندي دمبارزى رياست د ۱۲۳,۵۰۰ کيلوگرامو هيروئينو په گمان هر يو بلال احمد دو لي محمد زوي، سيد ببرک د سيد ميرزا زوي، امرالله دمحمد رحيم زوي، شهزاده دگل داول گل زوي او شاملنگ د مختارزوي دبرخليک له پاره دمخدره توکو په وړاندي دمبارزي ځانگړى محکمي ته د شرعي انفصال له پاره سپارل کيږي. دغه محکمه په خپله ۱۴۰ – ۱۳۸۶/۸/۲ فيصله کي په اتفاقي توگه هريو په اته لسو کلونو بند او دوه مليونو افغانيو نقدي جريمي په جزا محکوم او شاه ملنگ يي په شپاړلسوکلونو تنفيذي بند او يو مليون لس زرو افغانيو جريمي په جزا محکوم کړل، خو په حکومت کي دځينو مافيايي کړيو د مداخلي له امله دهغوي جزا وبښل شوه.

په نوموړي دوسيه کي ځرگنديږي چي دمخدره توکو دقاچاق په برخه کي ، داتمي سرحدي لوا قوماندان حاجي ظاهرقدير هم گډون لري چي تراوسه يي دنامعلومو د لايلو له امله له عدلي تعقيب څخه پاتي شويدي.

دنوموړي قضيي په تورنيول شوو کسانو د پلاوي د پوښتني په ځواب کي ويلي وو ، چي دوي قاچاقي توکي د حاجي ظاهر له کورڅخه بارول او تخار ته دده قومنداني ته وړل.

دنيوني پلاوي داهم ځرگنده کړي وه چي بلال نومي د جنرال ظاهر د ترور زوي او په غير رسمي توگه يي د نظامي قطعي د سکرتر په توگه د جنرال ظاهر لخوا گمارل شوي و، ورته ويلي و چي له موږ سره مرسته وکړئ او دمرستي په بدل کي درته سل زره ډالره درکوم او د شلو دقيقو په موده کي درته سپارم.

نوموړي چي دمياشتي شپږ زره افغاني تنخوا درلوده څرنگه يي کولاي شول ، چي موږ ته په شلودقيقو کي سل زره دالره راکړي. له دي څخه جوتيږي چي نوموړي سل زره ډالره دحاجي ظاهر لخوا په شلو دقيقو کي ترلاسه کول.

دنيوني پلاوي داهم ويلي وو، په هغه صندوق کي چي مخدره توکي ځاي پر ځاي کيدل، کيلي يي د حاجي ظاهر د ترور زوي بلال سره وه . نو دغه ډول په اثبات رسيږي چي د قاچاقبرانو سرداران په خپله مخدره توکي نه ليږدوي ، بلکي دغه چاره په خپلو باوري کسانو د قاچاق ليږدونه پرمخ بيايي.

له دغو ځرگندونو څخه دي پايلي ته رسيږو ، چي قاچاقي توکي چي له ننگرهار څخه په حکومتي موټر کي و تخارته هغه قوماندانى ته چي حاجي ظاهر يي قوماندان دي ليږدول کيږي. او داحقيقت په ډاگه کيږي چي د هيواد شمالي ولايتونه د قاچاقو د ليږدوني د گودر حيثيت لري.

په رپوټ کي زياته شويده چي د سرحدي اتمي لوا قوماندان حاجي ظاهر له خپلي واکوالى څخه په گټي اخيستني سره ، دوه تنه افسران هريو سيد اسدالله او محمد صادق چي ډير باوريي ورباندي درلود، د سوء استفادي او رشوت اخيستلو له پاره يي دشيرخان بندر په کميسارئ کي گمارلي وو چي هغه نقليه واسطي چي دنوموړي بندر له لاري تاجکستان ته ليږدول کيدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرته له محصول څخه ولېږدوي او پيسي يي په خپلو جيبونو کي واچوي، داپه خپله ښيي چي نوموړي نه يوازي دقاچاقو په جرمونو کي لاس درلود بلکي په  په مالي جرمونو کي يي هم لاس درلود.

کله حاجي ظاهر قدير نه دامريکا سفارت مربوطه څانګي تحقيق کاوه، ده به ژړل اوزاري به يي کولي او دابه يي ويل چي ټوله داکارکوي، لکه حاجي الماس، حاجي داؤد او مارشال فهيم او داسي نور.

دا دفساد او مافيايي کړيو د ځواکمنتيا يوه بيلګه ده چي قاچاق وړونکي ښنل کيږي او داسي څوک نشته چي قاچاق برانو اصلي کړئ محاکمي ميز ته کش او سزا ورکړي، ولي چي حاجي دين محمد لري.

حاجي دين محمد دننګرهار والي پاته شويدي او دحاجي ظاهر تره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۱)

**په ملي دفاع وزارت کي يو قرارداد**

تر څو چي په هيواد کي زورواکي او دفساد مافيايي کړي شتون ولري هيڅکله به مجرمين د عدالت منګلو ته ونه سپارل شي او نه به هم قانون په هيواد کي پلي شي.

دملي دفاع په وزارت کي د ۲۶ قلمو د فساد دوسيه ، چي جرمي وصف په کي څرګند دي تر اوسه يي عاملين په سرو سترګو ګرزي او څوک ددي جوګه نه دي چي هغه محاکمه او دخپل جرم په سزا ورسول شي .

له دغي جرمي قضيي داسي اټکل کيږي ښايي په نوموړي وزارت کی په لسګونو داسي نوري قضيي شتون ولري خو څوک يي د را برسيره کولو او پلټني ځواک نه لري ځکه په نوموړي وزارت کي زورواکي حاکمه ده.

دباوري سرچينو په حواله،کله چي دملي دفاع په وزارت کی د ۲۶ قلمو دقرارداد قضيه دولسي جرګي په کميسيون کي رابرسيره او دولسي جرګي د ملي دفاع د کميسيون غړي همايون، د ملي دفاع وزارت او له اداري فساد سره د مبارزي د عالي اداري رئيس عزيزالله لودين ترمنځ په اړودوړ بدله شوه نو د رسنيو دلاري د افغانستان ټولو خلکو غوږو ته ورسول شوه خو بيا يي د سزا په اړوند په رسنيو کي کوم څوک ونه لګيد.

دغه موضوع داسي شروع کيږي: کله چي د ملي دفاع وزارت د ۲۶ قلمو داړتيا وړ توکو بيه په مجموعي توګه (۵۶۲۳۸۳۴۳۲۰ ) افغاني چي له (۱۱۲۴۷۶۶۸۶) دالرو سره برابريږي . دقراردادو له پاره تياريږي او ددغه وزارت د لوژستيک داړتيا د تثبيت له اداري څخه د ملي دفاع وزارت دپيريدلو رياست ته د ۲۳۴ ګڼه ليک ۳/۲/۱۳۹۱ په ذريعه استول کيږي.

دپيرودني درياست دقراردادونو مديرت پرته له دي چي په نوموړي تعيين او تثبيت شوي بيه مسولانه کتنه وکړي او د هيواد لوړي کټي په پام کي ونيسي اعلان ته سپاري، کله چي په ۳۱/۳/۱۳۹۱ د افرونو پاکټونه خلاصيږي په هغي غونډه کي د ولسي جرګي ددفاعي کميسيون څلور تنه غړي هر يو همايون همايون ،شايسته بازناصري ،الحاج فتح الله قيصاري او الحاج محمد اسمعيل محمدي هم ګډون درلود. ګرچه دوي دعوت نه دي، مګرد شخصي ګټي پر بنا راغلي دي.

په دغه غونډه کي ۳۱ تنو ګډون درلود . داسي وانګيرل شوه چي د کابل کرستال شرکت ټيټه بيه به (۱۱۰) مليونو امريکايي ډالره ده او د قرارداد ګټونګي وګڼل شو.

د معلوماتو له مخي دولسي جرګي دا کسان دغه داوطلبي رنه نه بولي او دملي دفاع وزير ته سپارښتنه کوي چي بيايي اعلان ته وسپاري. دا ځل دافرونو دخلاصولو غونډه کي ۳۷ شرکتونو ګډون کړي وو.

په داسي حال کي د افر خلاصولو پروسي دوام درلود چي د فايف ستار شرکت چي دداو طلبا نو له ډلي څخه وو او تضمين پيسي يي هم راوړي وي، له غونډي څخه وزي او له بيا راتلو سره له داوطلبي څخه خپله تيريدنه اعلاموي.

دملي دفاع وزارت د پيريدلو رياست د نوموړي د تيريدني موضوع د وسلوالو تهديد په ګوته کوي. وروسته له تا ويلو او ما ويلو څخه د نوموړي شرکت تيريدنه مني پرته له دي چي افر يي خلاص شي او غونډه دوام مومي دا ځل هم دکابل کرستال شرکت ددوونورو شرکتونو سره يو ځاي چي دقيس روهيد او ارو په نامه ياديږي مشترکآ په ۳۳۸۷۷۸۸۷۳۸۰ چي د ۶۷۷۵۵۷۴۷ ډالرو معادل دي يعني د ۴۷ مليونو دالرو په شاوخوا کي له مخکني بيي نه لږ ګټونکي اعلانيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په داسي حال کي چي ددواړو غونډو په بهير کي کوم کمي او کيفي بدلون په کي نه ؤ راغلي . خو دا ځل له فساد سره دمبارزي د عالي اداري پلاوي چي دافر خلاصولو په غونډه کي ګډون درلود . دغه افر خلاصونه يي رټه ونه بلله او غونډه يي د اعتراض په توګه پريښوده او دغونډي رپوټ يي خپلي اداري ته ورکړ.

سربيره پردي دفايف ستار شرکت رئيس هم دافر خلاصوني غونډه رټه ونه بلله او خپله عرض پاڼه يي له فساد سره د مبارزي عالي اداري ته وسپارله. او د قضيي دڅيرني غوښتنه يي وکړه.

له فساد سره د مبارزي عالي اداري له ملي دفاع وزارت څخه وغوښتل چي د فايف ستار شرکت افر خلاص او يا بيايي دداوطلبي له پاره اعلان ته وسپاري. چي بالاخره د ملي دفاع وزارت دغه پريکړه مني. خو په دغه ترڅ کي دداو طلبي برنده شرکتونه خپله عرض پاڼه دولسي جرګي دفاعي کميسيون ته وړاندي کوي او دغه کړنه غير قانوني بولي. په دغه بهير کي دولسي جرګي دد فاعي کميسيون غړى محترم همايون او له فساد سره د مبارزي د عالي اداري رئيس عزيز الله لودين تر منځ موضوع تريخوالي پيداکوي او يو بل په فساد تورن کوي.

بالاخره ددريم ځل له پاره اعلان ته سپارل کيږی او د ماليی وزارت د تدارکاتو رياست ته دنده سپارل کيږی ترڅو له خپلی لاری قرارداد وکړی، په پای کی د ۲۶۰۸۸۰۴۸۸۰ افغانيو په ارزښت يانی ۷۷۸۹۸۲۵۰۰ افغانی په کمه بيه له دويم افر خلاصولو له غونډی څخه بيا هم د کابل کرستال شرکت او شريکان يی برنده ګڼل کيږی.

په پاي کي داسي ارزول کيږي چي د بيو له ابتدآ څخه تر قرارداد پوري (۳۰۱۵۰۲۹۴۴۰) افغاني تفاوت راځي.

ديادونی وړ ده چی دبډو اخيستل اوناوړي ګټي تر ټولو په قراردادو کي او بل په ګمرکاتو کي شتون درلود او شتون لري، مخنيوي هم ستونزمن او کشف يي ناممکن ښکاري . دا يو مثال ؤ. په ټولو قراردادو کي همدا حال دي.

خو ښاغلی لودين پر ښاغلي همايون دناوړي ګټي ادعا لري، برعکس ښاغلی همايون پر لودين ادعا لري.

په اداره کي چي په هره اندازه هيآت او هيآت بازي ډيره شوه، په هغه اندازه به بډي هم اوچتي شي. هر هيآت به خپل حق غواړي. په ځينو مواردو کي متنفيذو د کلاه برداري نه هم کار اخيست ، کله چي به په کار او يا معامله پوري اړه نه درلود او يا به د نفوذ نه کار اخيست ، واسطه به کيدي، مثلاً د خولي په صفايي او چالاکی وعده ورکول، د کابل د ولسي جرګي وکيل جميل کرزی په يوه نامه او بل نامه د حاجي حفيظ الله صراف نه ۵۰ زره دالره پورته کړل او ورور يما کرزی د کابل بانک مرستيال خليل فيروزی نه ۳ لکه دالره قرض واخيست.

وکيل ميرداد نجرابي هم د بل زره کرزين تر لاسه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۲)

**د اختلاس یوه نمونه**

د باوري خبري سرچینو په حواله او د هغو گردي میزونو،چي د رسنیو په څپو کي خبري شوي، یو شمیر ژورنالستانو دیته ملا وتړله تر څو د جمال الدین بدر د نورستان د پخواني والي په اړوند کره معلومات ترلاسه او هیواد والو ته یي وړاندي کړي.

1. دنورستان پخوانی والی د هغو دولسو لکو افغانیو، چي ددولت له خوا هره میاشت د والیانو په لاس ورکول کیږي ، له خلګو سره مرسته وکړي او خلک د حکومت پلوی ته راواړوي ، چي نوموړي دغه پیسي د جعلي اسنادو په جوړولو سره په کال ۱۳۸۸ کي ټولي (۱۶۴۰۰۰۰۰) افغاني حواله او هغه ددي پر ځای چي پرځای ولګیږي ، له خپلو شریکانو سره په خپلو جیبونو کي اچولي دي چي دمصرف سند نلري.
2. د خلګو دشکایت له مخي کله چي ۳۶۲۰ بوري د کرني دتخم د غنمو او کمیاوي سري، چي د برگ متال ولسوالی له پاره سهمیه وه دغه توکي ددي پرځاي ،چي خلګو ته وویشل شي دجلال اباد د ښار او کنړ ولایتونو کي یوه بوری په ( ۱۹۰۰) افغانیو پلورلي ده ، چي له دغه درکه (۶۸۷۸۰۰۰) افغاني د جمال الدین بدر او شریکانو له خوا حیف و میل شویدي.
3. په جمال الدین بدر باندي تور لګیدلی، چي نوموړي او ددفتر رئیس یي عبدالغفور نومي چي د کا کا زوی یي کیږي ، یو کور د ۱۳۸۹ کال د وری د میاشتي څخه د یوه کس په نامه کرایه نیولی او پیسي یي په جیب کي اچولی ، چي دغه موضوع د نوموړي ولایت ددارالمعلمین له خوا تایید شویدي.
4. د نورستان امنیه قومندان جنرال شمس الرحمن زاهد د ۱۳۹۰ کال دوري او سنبلي په میاشت کي د پنځوسو و سیمه ییزو پولیسو په نامه شپږ ملیونه اوولس زره اته سو افغاني حواله او اسناد یي د جمال الدین بدر له خوا امضآ شویدي او پیسي یي حیف و میل شویدي.
5. ۱۳۹۰ کال د چنګاښ،زمري او دوري د میاشتو دمندول دولسوالی د پولیسو معاشونه دجمال الدین بدر او د امنیت امر له خوا حیف و میل شویدي.

دغه راز د نوموړي په اړوند په سیمه کي داسي ګونګسي دي چي نوموړی له لشکر طیبه سره اړیکي لري.

او بله داچي کومي پیسي چي د سړکونو د جوړولو له پاره دنورستان ولایت ته تخصیص ورکړل شوي و، د جعلي اسنادو په جوړولو سره یي پیسي حیف و میل شویدي. د محکمي له خوا تیر شوی بند کافي وبلل شو، نور مجازات نه شوو.

رپوټ ورکونکي دي پایلي ته رسیږي چي نوموړي ټولي شپږ څلوېښت ملیونه نهه سوه پنځه اویا زره پیسي اختلاس او حیف ومیل کړیدي.

دغه راز په نوموړی ولایت کي اوازه ده ، چي دري عرادي وسایط د امریکایانو له خوا د نورستان ولایت ته ورکړل شویدي چي ربتیا به وي او که دروغ ؟

دغه راز په یوه بل رپوټ کي راغلي دي چي دنورستان د امنیه قومنداني دپرسونل دمعاشونو قضیه د ایستناف محکمي له خوا څیړل شوي او په پایله کي دخپل ۱۳۹۲ کال د غوایي د میاشتي په پنځه ویشتمه نیټه د ۳۴ ګڼي کي داسي پریکړه کړیده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څارمن مجیب الرحمن،څارمن عنایت الله ، سمنوال سلطان محمد او دویم څارن محب الله په اړوندیی د ابتداییه محکمي پریکړه تایید او د محمد حسن د محمد هاشم زوي چي په فیصله کي يي برائت اخستي وو تایید او د جمال اللدين بدر په اړوند يي دابتدایه محکمي فیصله نقض شوي او په شمس الرحمن زاهد دري کاله تنفیذي حبس حکم کړیدي .

داچي په دغو نورو قضیو کي د هیواد محکمي او د قانون د تنفیذ ارگانونه څه کوي دابه په راتلونکي معلومه شي . خو موږ یوازي ددي له پاره چي په هیواد کي د اختلاس او اداري فساد لړي څخه قضیي له حا فظي څخه پاتي نه شي دغه رپوټ مو خپور کړ.

زموږ هیواد کي ځیني جرمونه ملي حیثیت لري او ځینی یی دیوه ناروا عمل په توگه ارزول کيږی لکه : یوه کیسه بر دچا دجیبه زر یا دوه زره افغاني کیسه بري وکړي، شرعي او قانوني یو ناروا عمل دي، مگرپه حقیقت کي که ورته گوري هغه پیسي دیو افغان دجیبه بل افغان ته ولاړي، مگر چي جمالدين بدر دسربازانو اعاشه او معاشات وخوړل، سربازان وتښتیدل ، پاکستانیان راغلل د نورستان دري ولسوالي يي ونیولي،دا یوه ملي موضوع ده. اما بدر له دي کبله چي دمشرانو جرگي درئیس مسلمیارپه موټرکي ورسره ؤ چا نشواي نیولاي، او داستاد سیاف هم لاس پري پروت ؤ، ولي چي دتنظیم ورور يي ؤ. او دسناتور حافظ قیوم حمایه لري.

د هیواد په ټولنیز ژوند د مافیایي او اداري فساد پوري د تړلو کړیو تسلط هیواد د اداري فساد او ما فیایي کړیو په منگلو کي د یوه هیواد دوست او ملي گټو ته ژمن شخصیت یادښتونه د هیواد په اوسني روان حالت ښایي چي د اوښکو پر ځاي ويني وژړل شي .

افغانستان د زورواکو ، او اداري فساد او مافیا يي کړیو په منگلو کي پروت دي.

ځینو ته چوکی او قدرت تر هرڅه مهم دی، کله چي سیاف د ریاست جمهوري په کمپاین کي هيڅ رایه تر لاسه نکړه او غني احمدزي هم په قدرت شریک نکړ، اخطارونو ته يي ملا وتړل. احمدزی هم په ډیر تکلیف چوکی تر لاسه کړل، چي دده او امیر عبدالرحمن تر منځ چندان توپیر نشته، که کوم توپیر هم وي، هغه به جزي وي. امیر عبدالرحمن د قدرت د پاته کیدو په خاطر د ډیورنډ کرښه لاس لیک کړه او احمدزي و قدرت ته د رسیدو په خاطر د دوستم لمن ونیول او د اخلاقو تر سري کرښي ور تیر شو. د زرو وژلو او جنایاتو نه يي سترگي پټي کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۳)

**حاجي جمال قدير**

د باوري سرچينو په حواله د يوي زورواکی د جايدادونو او پيسو د غصب رپوټ زموږ لاسته راغلي چي موږ يي لنډيز د هيوادوالو د خبرولو په موخه خپروو.

د ننګرهار ولايت د يو شمير هيوادوالو د بيا بيا شکايتونو له مخي ، چي وايی له يوي مودي راهيسي يو شمير غير مسول وسله وال ګروپونه او باندونه د خپلو وسلو په زور زموږ د هيوادوالو مال او دارايي غارت کوي او ځيني وخت دپيسو ښتنان ددي له پاره ، چي له هغوي څخه پيسي تر لاسه کړي هغوي تښتوي. او زموږ دجلال اباد ښاريان ددغو وسله والو باندونو له ويري او د خپل عزت او ابرو د خوندي کولو له امله له ويري نه شي کولاي چي شکايت هم وکړي.

نو کله چي يو جرمي پيښه رامنځ ته کيږي نو کشفي او امنيتي ارګانونه د فاعلينو د نيولو هڅي پيل کوي چي له هغي ډلي څخه يو ګروپ وسله وال چي خلک يي تر پوزي راوستلی وو او ددوی شته او مالونه يي په زور ور څخه اخيستل او تښتونو کي يي لاس درلود هغه د حاجي جمال قدير په نامه د ننګرهار ولايت د ولايتي شورا رئيس وو، چي په وړاندي يی د جرمي پيښنو پوره اسناد او شواهد موجود و، کله چي نوموړي خبريږي او له سيمي څخه تښتي .

بالاخره د خلګو په مرسته هغه نيول کيږي او توقيف خونه کي اچول کيږي.

دجلال اباد ښاريان کله چي خبريږي چي اوس عدالت تامنيږي ، نو د حاجي غلام فاروق،حاجي شاه لالا ،مجاهدين او محمد اقرار په نومونو او يو شمير نورو د جلال اباد ښاريان د نوموړي دجرمونو د ارتکاب لکه تښتوني، برمته نيوني، وهل او ډبول تهديد او د جايدادونو د غصب په اړوند امنيتي ارګانونو ته عارض او د خپلو حقوقو غوښتنه کوي.

له هغي ډلي څخه يوه پيښه چي په ۲۴/۱۰/۹۰ نيټه د حاجي جمال قدير د حاجي قدير زوي او د ولايتي شورا رئيس دي، د حاجي غلام فاروق د يخ جوړولو په فابرکه وسله وال بريد کوي.

حاجي غلام فاروق ادعا کوي چي د وسله والو بريد له امله يي د برښنا ترانسفار او دوو موټرونو د مرميو لګيدولو له امله زيانمن شوي. او دمحافظينو لس ميله وسله ،دوه تنه محافظين او څلويښت مليونه افغانی يی له ځان سره وړي او دده زوی احمد بيګ مشهور په ولي د تښتولو قصد هم درلود.

څرنکه چي د سيمي د پوليسو ارګانونه دهغوي د ويري له امله يي له نيوني څخه عاجز او ناتوانه او د سيمي د قانون د تنفيذ ارګان نونونه شواي کولاي، چي د عدالت له پاره يی محکمي ته وسپاري .

حاجي ظاهر هم دتليفون بکس چي په جعلي ډول دپردو تليفوني دستګاه څخه ګټه اخيستل عبارت درلود، چي دا کار يي په کابل او جلال اباد کي کاوه، په جلال اباد کي مافيايي جرم په سرکي ابرار وکيل مقرر ؤ.

د هغه اووه تنه وسله وال لکه ، نورزي ابرار، محمد حيدر دشرين اغا زوي ، نجيب الله د نصرالله زوي، عبدالحق د تاج افضل زوي سليم د زلمي زوي، رحيم الله د حبيب الرحمن زوي او حسن خان د مير زا شرين زوي په نومونو له کلا شنکوفونو ، شا جورونو، پرتلي او مرميو سره د حاجی جمال قدير دجناياتو ملګري دي، چي د حاجي فاروق فابريکه يي ورانه کړيده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاجي شا لا لا هم داسي ادعا کوي: په ۱۸/۹/۱۳۹۰ کال چي زه له بيت الله شريف د حج له اداکولو څخه وروسته راغلی وم د شپي ۹:۴۰ بجي وي د حاجي جمال اته تنه له دوو پيکپ موټرونو سره راغلل او ما ته يي وويل ، چي حاجي جمال غوښتي يي ، په داسي حال کي چي له ما سره شل تنه ميلمانه وو ما ورته وويل: چي زه ميلمانه لرم ،هغوي تليفون له حاجي جمال قدير سره رخ کړ چي زما کور ته راشه ډير وخت مي نه يي ليدلي. ساتونکو يي ورته وويل : چي مجاهدين هم ورسره دي ،هغه ورته وويل چي دواړه راولي.

موږ دواړه يي بوتلو، کله چي کور ته ننوتلو موږ يي ډير ووهلو او وډبولو او حاجي جمال قدير موږ ته وويل : چي دوه سوه پنځه اتيا لکه کلداري راکړي، موږ چي له هغه سره کومه معامله نه درلوده او د نوموړو پيسو د ورکړي توان مو هم نه درلود ورته ومو ويل: چي نه يي شو کولاي . هغه بيا ووهلو تر څو چي له حاله ولويدو ان داچي د لاس نوکان هم زما له منځه ولاړل، نو مجبور شو چي خبره يي ومنو او ورسته يي دديرشو لکو کلدارو خط له موږ څخه واخيست ، کله چي له کور څخه راووتلو ډاکټر ته ولاړو او د عدلي طب اسناد په لاس کي لرو.

دغه راز حاجي شالالا دا خبري تائيدوي او نوموړي جريان کيسه کوي.

په همدي ډول حاجي عبدالرحمن چي د سيبو تاجردي ادعا کوي چي زه د سيبو تاجر يم کله چي حاجي جمال قدير د ولايتي شورا رئيس و د نوموړي په اشاره قهار چي د نوموړي ورور دي د سيبو په سراي کي يي ووهلم او راته ويي ويل: چي د سيبو په هر موټر به لس زره کلداري راکوي او يا به دغه دنده پريږدي او د پاکستان په خاوره کي د نادر خان ترازو سره يي پاتې اچولي وو او خلک به يي ويرول او ماته به يي شکنجه راکوله ، چي اوس هم دقطاع الطريقي په نا مه يي اته تنه دپاکستان په محبس کي بندي دي .

دغه راز هريوه جنت ګل ، زراب کل،حاجي اسلم ، منګل،عبدالغفار او حاجي ميرزمان هم دجمال قدير او ظاهر قدير له خوا د هغوي د جايداد ونو د غصب قضيه، چي د سرخرو د ولسوالي د خير اباد په کلي کي شتون لري ادعا لري.

او په دغه لړۍ کي د غلام دستګير او محمد اقرار په نومونو پر حاجي جمال قدير د اختطاف او برمه کيدني ادعا لري او وايي چي له موږ څخه يي پيسي اخيستي دي.

محمد اقرار وايي: چي په ۱۳۸۰ کال کي زه او زما ورور عالم دين ، حيات الله دريور چي د صرافي له بازار څخه مو شپږ مليونه او پنځه سوه زره کلداري له ځان سره واخيستي او د جمعه بازار په لور روان وو، دحضرتانو په سيمه کي حاجي جمال قدير موږ د خپل مرکز په لور يووړو، لومړی يي زموږ موټر تلاشي کړ بيا وروسته زموږ پيسي واخيستي او په خوړو خبرو يي موږ غولولو، ترڅو شپه راشی او تياره شي ،موږ پوه شوو ، چي موږ دشپي ساتي نو له موږ څخه يو تن له ديواله ځان واچاوه او د حاجي حضرت علي مرکز چي نږدي وځان ورساوه، وروسته يي زموږ فاميل او خپلوان خبر کړل، هماغه وو چي زموږ پلرونه او مشران راغلل ، حاجي ظاهر يي خبر کړ او موږ يي خلاص کړو، کله چي موږ د پيسو غوښتنه وکړه ويل يي چي حاجي جمال پاکستان ته تللي هر وخت چي بيا راغلي بيا به خبري کوو، کله چي حاجي جمال راغلي ويل يي چي زه پيسي نه لرم که چيري ځمکه اخلي زه وکالت درکوم ،نوهغه و چي د کور نيو چارو وزارت ته مو عريضه وکړه، ددي له پاره چي حاجي دين محمد د کابل والي و، وويل چي موضوع به جرګه فيصله کوي او حاجي ظاهر ته يي وويل چي نوموړي پيسي جبران کړه . خو هرڅه مو چي وکړه کوم شی لاسته رانغله او دجلال اباد د ښار دنوموړي په اړوند بلا بيلي قضيي چي وايي د زورواکی له کبله هري دروازي ته چي ددريدلو کومه پوښتنه مو ونه شوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځرنګه چي نوموړي زوروالی او ورور یي دولسي جرګي لومړي مرستیال وو نوله بند څخه خوشي او تر اوسه یي د محاکمي هیڅ چا پوښتنه ونه کړه، په داسي حال کي چي د نوموړي په اړوند کافي اسناد او شواهد شته.

دکارپیژاندو په اند د زورواکو په وړاندي مبارزه خو اوس هیڅ امکان نلري او زیات لیدونکي پرته له دي چي دخدای (ج) دربارته ددعا لاسونه پورته کړي او د هغو د واک د چپه کیدلو غوښتنه وکړي بله لار نلري.

دحاجي قدیر زامن همدا ډول یو ډول یابل ډول ډاکوګان به وي، چي ننګرهار ټوله تري په عذاب کي دي .اویو مافیایي حرکت کوي، او دجنایت کارانوکړی یي جوړه کړیده او ابرار غوندي کسان پر ځان راټول کړیدي، چي ابرار هم دولایتي شورا غړی دي. البته جمال هم د حاجي ظاهر او حاجي دین محمد په زور خیزک وي. کله چي عبدالجبار ثابت دوخت لوی ځارنوال ته خلګو شکایت وکړ، دهغه جواب داؤ: « چي دخدایه یي غواړي » ، نو ثابت به څه وکړي، چي دظاهر قدیر په میلمستون کي دورځي دوه، دري پسونه ورته ویرته کیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۱۴)

**پرمنصور احمدزي تور**

منصوراحمدزی دجان محمد زوی ، دکرزی هوايي ډګر دالوتکو دتګ او راتګ محاسبه په لاس کي اخلي او ياداشتونه ليکي چي څومره ملکي او څونظامي الوتکي پورته او کښته کيږي.

کله چي دډګر هوايي مامورين يو شخصي اوبي مسؤليتی ته پام کيږي منصور احمدزي نيسي.

لومړی منصور دولسي جرګي له ادرس بالاخره دقيس حسن ، چي دنوموړي ترانسپورت کميسيون رئيس دی ځان معرفي کوي، مګر دشورا اداري هيات خپل بي خبري بيانوي. معلوميږي، چي دا هدايت دقيس دی.

دقيس حسن او منصور دا ډول اجرآت يو جرمي عمل دی چي دوسيه کيږي.

۱۳۹۱ کال د وږي د مياشتي د نهه ويشتمي نيټي په قضايه غونډه کي له دندی څخه د ناوړي ګټي په تور په څلورو مياشتو تنفيذی حبس او دشپيتو زرو افغانيو د ورکړي په نغدی سزا محکوم شو او قيس حسن يي د عدلي تعقيب وړ بللي دی. خو څرنګه چي دغه سزا د نوموړی له جرم سره تناسب نه درلود چی داړوند ادارو له خوا وشوه . کله چي قضيه د استيناف محکمي ته ځي نو په خپل د ۱۳۹۱ کال دلړم د مياشتی په پنځمه نيټه په ۳۷ قضايي قرار کي په دي دليل چي د تحقيق هيات دکشف و تحقيق قانون د څلورمي او جزايي قانون د ۲۳ مي مادي په اساس کړني نه دي تر سره کړي ، نو د ابتدائيه محکمي حکم دي . خو دا چي قيس حسن د ولسي جرګي غړي دي تراوسه د تحقيق د پاره نه حاضريږي ، نو د موضوع څيړنه او مجرم ته سزا ورکول په ټپه دريږي.

چي ابتدايي محکمي منصورد مالي مجازات په څنګ کي په بدني مجازات هم محکوم کړ

مګر دکابل استناف محکمي د قيس حسن تحقيق پلمه راوړه. دابتدايي محکمي د ۴۰۱ ــ ۹۲/۷/۷ حکم نقض کړ، او پدي ډول يی دواړه له مجازاتو خوشي شول. کله چي قاضي وغواړي، چي حکم ونکړي نو يو زورواکي پلمه راوړي، چي کمزوري هم نجات پيداکړي.

دلته دصلاحيت نه ناوړه ګټه مطرح ده، پارلمان هم پدي هکله کوم العمل ښکاره نکړ. داهم روښانه نشول، چي محترم د ولس استازي دنظامي او ملکي الوتکو تګ او راتګ چاته او دڅه د پاره ورکاوه.

او دمحکمي بي عدالتي دوي دواړو ته دقانون نه دفرار زمينه برابره کړه.

وکيل صاحب قيس کومه بله قضيه دمځکي غصب چي منجر په وژنو وسول هم شکيل دي، چي څوک ورته څه نشی ويلای، ولي چی مصؤنيت لري.

دهيواد ډير بدماشان په شورای ملی کي راټول شويدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۱۵)

**د وسله وال بغاوت یوه بیلګه**

په پښتو کې یوه لنډۍ ده چې وایي: ستا د ښایست ګلونه ډیر دي ـ ځولۍ مې تنګه زه به کوم کوم ټولومه .

له هغي راهیسي چې بهرنی ځواکونه هیواد ته راننوتي جرمي قضیي ، وسله وال بغاوتونه ، زورواکي، د مخدرو توکود قاچاق قضیي او پیښي دومره زیاتي دي چې نه شي کولاي ټولي راټولي او د هیوادوالو غوږو نو ته یې ورسوو.

نو زموږ پریکړه داده تر کومه ځایه چې زموږ لاس رسیږي تر هغه ځایه به خپل مسولیت ادأ کړو او سیل بین بیله هغه دېنځو وزیرانو عقل لري.

کله چې د ملي اردو دري تنه د مرکزي بغلان په ولسوالی کي ووژل شول، نو رسنیو خپله دنده وګڼله چې نوموړی پیښه وڅیړي او حقیقت خپلو هیوادوالو ته په ډاګه کړي.

د وژني اصلي عاملین چې د مرکزي بغلان پخوانی ولسوال امیر ګل او امنیه قومندان کمین خان دي، چې تر اوسه محاکمه شوي نه دي.

که څه هم د قتل دغه پیښه محکمو او د قانون دتنفیذ د ارګانونو له خوا لاس په لاس شوي ، خو د زورواکی او داچي قاتلین د محکمي میز ته راکش کړي یوازي دکندز نظامي محکمي دومره کړي دي چې په خپل ۲۴/۵/۹۲ په ۲۱ قرار کي یوولس تنه چي په نوموړي وژنه کي تورن بلل شوي و او تر توقیف لاندي وو، هغوي بري الزمه او قومندان امیرګل او کمین الله یي د عدلي تعقیب وړ بللي دی.

کارپوهان د قضیي تاریخي بهیر ته په کتو سره چې زور واکي او صلاحیت لرونکي چارواکي د پیښي تر شا شتون لري، نو ګمان نه کوو چې قاتلین به محاکمه کړل شي.

وایي چې هر علت معلول لري اوهر معلول علت.

په عام ډول علت معلوم دي او په رسمیاتو کي څه ثبوت نلرم ، کوم اجرات چې پدي هکله دبغلان دامنیه قومندان اسدالله شیرزاد، دکورنیو چارو دوزیر ښاغلي پتنګ په امر وکړه ، موضوع دومره جدي شوه چی دمارشال فهیم دجدي مخالفت سره مخامخ شول. دپیښي عدلي تعقیب په ټپه ودرید. د مارشال صاحب تر سیوري لاندي دده جهادی ملګرو په هر ډول جنایت لاس پوري کاوه.

البته پدي کي شک نشته چې د راتلونکي عدم تضمین او د آینده نه تشویش یو عمده لأمل دي، چې د دولت لخوا اقلاً یو جزوي تدبیر په نظر کي ندي نیول شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۱۶)

**ددرغلی یوه نوی بیلګه**

قضیه داسي پیلیږي، چي د سراج شرکت رئیس سرور د سید خان زوي، څو ځله له پښتني بانک څخه د لعل مارکیټ په تضمین سره ، چي په محمد جان خان واټ کي موقیت لري یو ځل ۱۹۷۰۰ ډالره، بل ځل ۱۹۶۰۰ دالره ، دریم ځل ۴۰۳۰۰۰ دالره او د څلورم ځل له پاره ۳۰۲۱۷۰۰۰ افغاني او د پنځم ځل له پاره ۱۰۷۱۷۰۰ افغاني اخلي. کله چي نوموړی پورونه په خپل وخت نه اداکیږي نو پښتني بانک تصمیم نیسي چي نوموړی جایداد وپلوري.

کله چي د شرکت نور غړي هر یو صدیق احمد د عبدالکریم زوي ، حبیب الرحمن د عبدالقادر زوي او محمد قاسم د الف الدین زوی خبریږي، خپله عرض پاته اړوندو مقاماتو ته وړاندي کوي. په داسي حال کي چي د شرکت رئیس پنځوس سلنه سهم په نوموړی جایداد کي لري، پرته له دي چي د پور اخیستلو په وخت د شرکت نور ګډونوال خبروي، له پښتني بانک څخه پور اخلي.

چي وروسته له ډیرو منډوترړو د تجارتي ابتدایي محکمي ریاست له خوا په ۱۶۷ قضایي قرار چي د ۱۳۹۰ کال د زمري د میاشتي د لومړي نیټي کي صادر شوي ، پریکړه کوي ، چي نوموړی جایداد دي و پلورل شي او پنځوس سلنه چي ددري تنو دي هغوي ته خپل حق ورکړل شي او پنځوس فیصده نوردي د بانک د قرضي په پور کي ورکړل شي.

که چیري له پور څخه د پنځوس سلني جایداد پیسي زیاتیږي هغه دي په یوه امانت حساب د سراج الدین په نامه واچول شي .

داډول درغلي ښایي چي زیاتي وي خو موږ یوازي د یوه ریوټ په توګه، چي زموږ لاسته راغلي خپروو.

مطلب دادي : داسي اجرآت فقط درشوت خورو مامورینو دناوړو ګټو په موخه اجرا کیږي. مامورین دخپلو څوسوو اویا څو زور بډو په خطر یو لوي مبلغ په خطر کي اچوي، او پیښه دومره مغلق او پیچلي کړي چي بالاخره نه دقاضي سر پري خلاصیږي او نه د محاسب او څارنوال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۷)

**د زورواکۍ د چلولو يوه بيلګه**

تر څو چي د پوښتني او با زخواست "ابی" مره وي او زورواکي په څوکيو ناست وي،هيڅکله به هم په هيواد کي قانون واکمن نه شي او نه به هم په هيواد کي سم سمکي را شي . موږ ددي ادعا د ثبوت له پاره يوه بيلګه وړاندي کوو.

يو ليک چي د افغانستان داسلامي جمهوريت د ولسمشر په نامه ليکل شوي؛ موږ هغه کټ مټ خپرو، تر څو زموږ هيوادوال قضاوت وکړي چي آيا زموږ د هيواد په برخليک زورواکان حاکم دي او که قانون ؟

**په کميسون کي دزور واکي نمونه:**

نيټه د ۱۳۹۲ کال دغبرګولي ۱۳ مه

دافغانستان اسلامي جمهوري دولت جلالتمآب ولسمشر محترم مقام ته !

سلامونه اونيکي پيرزويني :

موضوع : دټاکنو دخپلواک کميسيون رئيس په لارښوونه دهغو ساتونکو له خوا دمامورينو او داداري توهين :

قدرمن جلالتماب جمهور رئيس :

له هغي ورځي څخه چي تاسو د دي خاوري ديوه بچي په توګه، پرما دخدمت او عدالت راوستو په اړه باور کړي دي ورسره جوخت مي د کميسيون په چارو کي ، ټول مسايل دشفافيت او عدالت پر بنسټ پر مخ بوولي او دهغه کسانو مخه مي نيولي ده ، چي په کميسيون کي يي فساد، نژاد پرستي، تعصب او سوء استفادي ته لاره هواره کړي وه.

په کميسيون کي دګومارني موضوع هغه مهمه او اړينه موضوع ده، چي دبيلابيلو کميټو او شفافيت له لاري مو په هيواد مين، تکړه او بي پري استعداد ونو د وړتيا پر بنسټ ګومارلي او دهمدي ګومارنو له امله ديو شمير کسانو هاغه نامشروع هيلي او ارمانو يي چي درلودل نه دي پوره شوي، چي له امله يي وخت ناوخته زموږ دقانوني چاروپه اړه د خنډ او ځنډ سر بيره دمامورينو حيثيت او دولتي حاکميت يي تر پښو لاندي کړي دي.

قدرمن جلالتماب جمهور رئيس ! دروان کال دغبر ګولي ( جوزا ) په ۱۲ نيټه ، دکميسيون دمشر فضل احمد معنوي دبشري منابعو رئيس احمد منصور فريد خپل دفتر ته په (۲:۳۰ ) بجو ورغوښتي و او هغه ته يي ويلي وچي سکتورټي په ګارډانو کي زما ( ۲۰ ) تنه او دکال سنتر ديوست له پاره زما ( ۳۱ ) کسانو لست چي دارالانشآ ته مي ليږلي و، ولي نه دي استخدام شوي ، دبشري منابعوي رئيس ورته ويلي وچي جناب معنوي صيب دکسانو استخدام د دارالانشاء د رئيس په لارښونه د ازاد رقابت له لاري ترسره شوي دي او بريالي شوي کسان ټول د وړتيا له مخي راغلي دي ، په دي صورت کي معنوي مداخله کړي ده او ورته يي ويلي دي، چي زه دلته دکيسيون دمشر په توګه ناست يم، چي زما کسان استخدام نه شي دا پروسه در سره نه منم ، په همدي وخت کي معنوي دبشري منابعو په رئيس باندي دريموټ ګوزار کړي او ويشتلي يي دي، کله چي رئيس دمعنوي خوني څخه را وځي ، دهغه سلاکار خيرخوا پري رارسيدلي او له ستوني يي نيولي دي اوپه سوکانو او لغتويي وهلي، په دي وخت کي دمعنوي باديګارډانو هم په رئيس ګوزارونه کړي او په ټيل وهلويي ، دټولو مامورينو په مخکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيرون ويستلي دي ، په همدي وخت کي دمعنوي په لاربنونه دهغه مسلحو باديگارډانو لومړي د کمسيون دبشري منابعو رئيس کاري دفتر ته ننوتي او ټول اسناد يي دالماري او ميز څخه په زور راخيستي دي او ځيني يي شکولي دي او بيا دبشري منابعو دکار کوونکو دفتر ته ورغلي او هغوي ټول يي يو خواته و درول او ښکنځلي او بدي ردي يي ورته ويلي او ټول اسناد يي راټول کړي دي او له ځان سره يي وړي دي .

وروسته دمعنوي د باديگاردانو دکميسيون دامنيتي بخش مسول مصطفي يي، دخلکو په مخ کي ترلاسه نيولي او په ټيلو ټيلو يي دکميسيون دبيروني دروازي څخه ويستلي او سپکي سپوري يي ورته کړي دي.

د معنوي باديگارډانو د دارالانشاء شا او خوا لوي سرک ټول کلابندي کړي و او خپلو وسلو ته يي مرمي ورتيري کړي وي چي په دي کار سره دکميسيون ټول کارکوونکي شاهدان دي او دکميسيون ارامه فضا د معنوي د باد يگارډانوله خوا په يوه نظامي پوسته او دجنگ په ميدان بدله شوي وه.

دمعنوي دا ډول غير معقول عکس العملونه يوازي دهغه دشخصي گټو څخه سرچينه اخلي او کله هم چي غير معقولي غوښتني يي ونه منل شي نو داستدالال، منطق او قانونيت پرځاي په ټوپک پورته کونه او جنگ او جدل ته مخه کوي .

جناب جمهور رئيس ! دټاکنو کميسيون ځوان او با استعداد ټيم، شپه او ورځ زيار ويستلي دي ترڅو راتلونکو شفافو ټاکنو ته ټول اړين چمتوالي ونيسي او دمعنوي دا ډول غير معقولي کړني دراتلونکو شفافو ټاکنو پر وړاندي يوه ستره ننگونه او خنډ او ځنډ څخه بله مانا نلري .

پورته ټول جريان ستاسو جلاالتماب محترم حضور ته کتې مټ وړاندي شو.

په درنښت

ضياولحق امرخيل

دټاکنو د دارالانشا رئيس

داسي بدماشي او په زور او غير قانوني خپلي غوښتني نه يوازي د فضل احمد معنوي نه ليدل کيږي، بلکي دشمال ټلوالو داکثرو غړو نه ليدل کيږي. داولمپيک مشر ځارنوال اکرام امرين او استاد عطا نور داسي بدماشان دي، چي پر معنوي صاحب به شکر وباسو. د ځارنوال اکرام الدين د بدی رويي او د ناوړو گټو سروصدر هر خواته پورته شو، مگر چا بازخواست ونکړ. د معنوي د دا ډول چلند، اقلاً يوه پوښتنه هم ونه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۸)

**په پښتني بانک کي خیانت**

عبدالسمیع د محمد یعقوب زوي چي په درغلي سره یي ځان د ولید عبادت شرکت رئیس معرفي کوي او د ۸۴ ـــــ ۲۷۷۳ ۱۳۸۶ کال دسلواغي ددویمي نیټي شرعي قبالي، چي په درغلی سره جوړه شوي او مثني ۱۷۱۳ ـــــ ۱۳۸۴ د یو جایداد چي په څلورمه ناحیه کي یي شتون ذکر شوي، په داسي حال کي چي اصلاً نوموړی جایداد شتون نه لري له دوو بانکونو څخه د یوه جعلي جواز چي د ایسا په اداره کي ثبت شویدي لومړي ځل له ملي بانک څخه ۱۷۰۰۰۰ امریکایي ډالره اوله پښتني تجارتي بانک څخه (۵۴۵۰۰۰۰۰) افغاني د پښتني تجارتي بانک په مرستي سره تر لاسه کوي . خو کله چي د قرضي وخت پوره کیږي او نوموړی تر جلب لاندي نیول کیږي، یو اوږد داستان رامنځته کیږي او هغه په دي ډول چي ځیني ملکیتونه چي د افغان نساجي و هغه یي هم ددرغلي په پایله خپل ملکیت ګڼي، چي موږ یي د موضوع د اوږدوالي له امله صرف نظر کوو .

په پایله کي د نوموړی اختلاس او درغلی ثابتیږي او داستیناف محکمي د ۳۴ ګڼه ۲۸/۸/۱۳۹۱ نیټي قضایي قرار له مخي ګرم بلل شویدي .

دا د هغو اختلاسونو او درغلیو د لړي برخه ده چي په پښتني تجارتي بانک کي رامنځته شوي او ددغه بانک ملیونونه ډالره چي په سر کي یي حیات الله دیاني قرار لري.

دلته که په سرسري ډول پام وسي دایسا جواز او دکور ملکیت دواړه جعلي دي، دا دواړه د تجربي له مخي ساده کار ندي، بلکي یوه اوږده پروسه لري او تر څو بندرونو یعني په ادارو باید تیرشي ، مګر داړوندو مامورینو په مرسته په ډیر سهولت طي مراحل کیږي . بالاخره څو کاله وروسته که یوڅوک ورته پام کوي ، خو کار تر کار تیر وي او بانک سم متضرر شوي وي.

هرڅه دبانک دمامورینو په مرسته ترسره کیږي. دبانکونو مامورین حقیقي کار بیله پیسو نه اجراکوي، په جعلي او تزویر اجراتو کي ددوي ونډه سمه درنده وي.

اداري فساد پدي کچه لوړ تللي دي، چي دلته اجازه غواړم یو بلي پیښي نه هم یادونه وکړم، چي هغه د کورنیو چارو د وزارت ښاغلي رشا قراردادي دي ، چی په ۲۰۰۴ کي یي د ۱۱ میلونو حواله په جعلي ډول سره په تکرار طی مراحل پیسی وایستلي . د پنجشیري چارواکو په زور، پدي بهانه چي د مقاومت سره یي مرسته کول.عدلي تعقیب په ټپه و درید. که به کار په خواهش نه کیدی، پنچشیري وړونه به د سرزوری او بدماشي نه کار اخیستي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۹)

**سپیشل فورس**

ځرنګه چي ټولو هیوادوالو د رسنیو له لاري رپوټ تر لاسه کړ چي ۱۳۸۸ کال د چنګاښ د میاشتي اتمه نیټه د کندهار په ولایت کي دسپیشل فورس ځواکونو په خپل یو څلوېښت کسیزه پرسونل سره له روحاني نومي افغان تبعه سره د مفاهمي په پایله کي داسدالله په نامه چي د سپشل فورس پخواني غړي و او ددرغلي په یوه جرمي پیښه کي تر تعقیب او تحقیق لاندي وو ، دخلاصون په موخه د کندهار په استیناف څارنوالي برید و کړي.

نوموړی برید چي د سپیشل فورس قوماندان اتل نومي په قومانده چي دملا محمد عمر دکور قطعه ؤ په رڼا ورځ پیل شوي وو چي موږ یي د لیکني د زیاتوالي له امله له تفصیل څخه تیریږو ، خو یوازي دومره وایو چي دغه برید د سپیشل فورس د ځواکونو له خوا د قانون او پوځي اصولو پرخلاف د کړني یوه بیلګه چي د امریکایي ځواکونو له ملاتړ څخه په الهام اخیستو سره زموږ په هیواد کي ترسره کیږي او په پایله کي یي بي ګناه انسانان د ښځو،ماشومانو او سپینږیرو د مړیني لامل کیږي.

په دي قضیه کي د سپیشل فورس ځواکونو له خوا برید ددي لامل شو چي په پایله کي دکندهار امنیه قوماندان جنرال مطیع الله ، جنایي مدیر څارمن عبدالخالق همدرد، عجب ګل، فضل احمد، غلام رسول چي سربازان و شهیدان او هر یو جاوید، عبدالصمد، محمداقبال،عبدالوهاب ، محمد حسین او مولاداد ټپیان کیږي.

دا دبي پروایي یوه نمونه ده چي دلیونتوب سرحد ته رسیږي.

دا تنکي ځوانان دیو بي پروا او مغرور قومندان اتل لخوا استعمال او په لوړ مجازات محکوم شول، چي ددواړو خواوو کورونه تباه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۲۰)

**د شهید سردار محمد داود خان قاتل په کابل کي دي**

د تاند تر نامه لاندي یو ایمیل ، چي د افغانستان د خلګو او د کورنیو چارو وزارت په ادرس استول شویدي په کي ویل شویدي، چي د شهید سردار محمر داود خان قاتل، د ناروي هیواد په پاسپورت له خپلي کورنۍ سره، دیو شمیر مفسدواو وطن خرڅوونکو په منځ او ډاډ کابل ته راغلي دي.

نوموړی چي د سردارمحمد داود او ټوله کورنۍ يي په شهادت رسولي ده په خپله ځو واره ویلي دي چي هغه يي وژلي دي.

امام الدین چي د لوګر ولایت اوسیدونکي دي د ثور د اوومي خونړۍ کودتا د وژنو بنسټګر بلل کیږي . د همدوی په اصطلاح انقلابي عمل له امله دجنرالي لوړي رتبي ته ورسید، د نوموړی نیونه او محاکمه کول دافغانستان دخلګو له لویو غوښتنو ده.

ویل کیږي چي امام الدین په یوه ماشیندار نه یوازي سردار محمد داؤد ،بلکه دده د کورنۍ واړه او زاړه غړي لکه سردار محمد نعیم، زینب داؤد، دده میرمن شینکي زرلښته، عمر،خالد، فیروزدحارث زوي،عایشه ، بلقیس خیایشنه، دسردار زوم نظام، وایګل، هیله، غزال، صفورا او زرمینه ضربه کړل، شهادت دي قبول او روح دي ښاد وي، مګر امام الدین ژوندی او ارام ګرځي. همدا ډول د ۱۳۹۲ کال کی د محمد هاشم میوندوال وژونکي عبدالصمد ازهر هم کابل ته راغلي ؤ چي چا تري پوښتنه ونکړه. افغان ولس تر اوسه البته پدي توان کي ندي، مګر ددوي مخ به تر قیامته تور وي او کورنۍ به يي تر قیامته دا ننګه وړي .

ولسه زار، زار ستا پر حال.

کینې او ښې جنایات کار سره ائتلاف وکړ او دولسي جرګي له لاري قانون پاس کړ، چي ټوله جنګي مجرمین او وطن فروشان له بنده خوشي شي او عدلي تعقیب نشي، که څه هم دا قانون ولسمشر تو شیح نکړ.

په غازي ستدویم کي رباني، استاد سیاف، نورالحق علومي، سید محمد ګلاب زوی د استاد محقق څنګ ته غاړه په غاړه لیدل کیدل. داسي فیصلي د ولس حق دی، نه د څو متهیمینو، چي لاسونه يي په یو ډول او بل ډول د ولس په وینو سره دي. د عضوی قانون د ولسي جرګي لخوا، خو رئیس جمهور کرزي توشیح نکړ.

داسي څرګندیږي، چي دا ټول جهاد او قرباني بیهوده وي. ګلاب زوی ته یو چا وویل، کله چي ته رباني او سیاف ته ورتلی، نو دا دومره وژني د څه دپاره وي، ده وویل، زه او یا موږ نه یو ورغلي، دوی موږ ته راغلل.

کله چي دسردار داؤد خان او دده د ورور سردار محمد نعیم خان جنازه په درندو، شاندارو نظامي مراسمو د ارګ نه پورته کیدل، پدي مراسمو کي ګلاب زوی او نورالحق علومي، چي دولسي جرګي استازی وه هم حاضر وه، پوه نه یم ، چي دده دقاتلانو په زړه کي به څه ورګرځیدل ؟.

دوی دواړه د غوایي دانقلاب فعاله غړي وه.

باچاګل وفادار کوم وخت په مجلس کي په لوړه غاړه اعتراف وکړ، چي د ټولو لاسونه په وینو سره دي، د چا ده، تر خیږي او دچا ده، تر څنګلي پوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مجاهد ولس د ورځپاڼي خبره چي د بريتورو او زيرورو ائتلاف دي ، چې د هيواد په خرابيو کی دواړه ډلي يو تر بل پښيمانه وه. داکتر غني احمدزی زاړه جنايت کاران ، لکه جنرال دوستم ، حنيف اتمر ، علومي ، روفي پر ځان را ټول کړل، چي د پولتياريا په خدمت کي قرار درلود .

دخلقي او پرچمي قوماندانانو د تجربي کله کله بحث کيږي. همدا قوماندانان ؤ، چي د دوی حمايه ګيري روسي قوت بيا هم ونشوای کولای، چی د نجيب رژيم وساتي او د هيواد خپلواکی يي تر پوښتني لاندي راوستل.

دا ناکامه جنرالان بيا رويکار شول، لکه عبدالحق علومي. دا بايد وويل شي، چي داسي جنرالانو کارمل او نجيب ته څه خدمت وکړ، چي شل کاله د خپلو هيوادوالو باندي اعلان نا شوي جنګ اعلان کړي ؤ، چي د غوايي د اوومی کودتا داکتر عبدالصبور سياسنګ پخپل کتاب اواڅکه روز باراني بود، دا تور مخي لکه علومي افشا کړيدي.

عبدالوهاب اصفي د وخت د معدن وزير په يو خصوصي بحث کی د غوايي د اوومی ورځي خپل د سترګو ليدنه د علومی په هکله داسي ويل: چي زه د سګرت څکولو د پاره د ګل خانی د مانی نه د باندی را ووتلم، ه چي په هغه ورځ د کابيني غونډه وه، همدا علومی ؤ چی د کودتا چيانو الوتکو ته لارښوونه کول، ما تري مرسته او جدي دفاع وغوښتل، ده په درغو راته وويل، چي لومړی مرمی به زما پر ټټر مښلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۲۱)

**بې پوښتنې او بې حسابه لګښتونه**

ویسا ورځپاڼې د ۱۳۹۲ کال دلړم د میاشتې په اوه ویشتمه نیټه د اې اس اې د مسلم لیک په طرف دارې د پیپلیز حزب پر خلاف لیکلې چې د پاکستان ستري محکمې د میرزا اسلم بیګ چې د پاکستان داردو پخواني لوي درستیز اسد درانی ، چې د هغه وخت د اې اس اې رئیس ؤ، حکم کړي دي.

په رپوټ کې ویل شویدي ،چی په هر هیواد کې ،چې د اوپراتیفی تر نامه لاندې پیسې لګیږي، هغه چک او کنټرولیږي .

البته د موضوع د محرمیت له مخې د یوه پلاوی له خوا.

لکه چې دامریکا د جمهور رئیس او د انګلستان د صدراعظم دولتي مصرفونه کنټرولیږي، خو زموږ په هیواد کې هغه زیات لګښتونه ، چې داوپراتیفي تر نامه لاندې دکورنیو چاروو‌زارت او دملی دفاع او ملي امنیت له خوا کیږي ، حساب او کتاب یې معلوم نه دي. اودقبایلو وزارت هم داسې بودجه لري.

جناب اتمردکورنیو چارو وزیر پنځه زره ډالر ددیکوریشن او اووه زره ډالر د جندر په نامه دوو تنو ښکلو میرمنو ته حواله کړي.

دغو دوو ادارو ته تر دونیم سوه ملیونو زیاتې پیسې دځانګړو لګښتونو له پاره تخصیص ورکول کیږي چې پایله یې نه احساسیږي.

ملي شورا ته ښایي چې په دغه برخه کې تدبیرونه ونیسي.

داسې لیدل کیږي چې د پاکستان له ټولو ستونزو سره په دغه برخه کې پوښتنې کیږي ، خو زموږ په هیواد کې نه دولت داسې اعتراضونه اوري او چاره یې نه کوي. دي ته وایې شهرنا پرسان.

په ډیرو هیوادونو کې خصوصي لګښتونه ، د خصوصی پلاوي لخوا بررسي کیږي، آن د ولسمشرانو رسمي مصارف هم بررسي کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۲۲)

**دمور په مخ کي د زوی وژل**

دباوري رپوټونو په حواله د ۱۳۹۲ کال دلړم دمیاشتي پّه څوارلسمه نیټه انجنیر جاوید د نور محمد له خوا چي د نذیر محمد زوي او دبدخشان ولایت ښاروال دي وژل کیږي.

کله چي انجنیر جاوید وژل کیږي او خلک له وژني څخه خبریږي ددي له پاره چي خلک دبدخشان د ښاروال دزوي نورمحمد له کړووړو څخه ډیر په تنګ شوي وو، نو دولایت پر خوا لاریون کوي او د ښاروال د زوي نورمحمد دسزا غوښتنه کوي ، چي ددغه لاریون له امله د ولایت د یو شمیر ادارو ته زیان هم رسیږي .

نورمحمد او ورور یي په بل قتل هم متهم دي، د بدخشان ولایت امنیتي چارواکي ددي جوګه نه دي چي هغه ونیسي او محاکمي ته یي راکش کړي. دوی قدرت او ثروت لیونیان کړیدي چي دلیوه غوندي برخورد لری.

دانجنیر جاوید دوژني جریان داسي دي ، چي انجنیر جاوید دخپل ورور دواده د مراسمو له پاره له خپل ورور او کورنۍ سره دخپلي موخي پر خوا روان ؤ، د افغاني په نامه واټ کي، نورمحمد نومي خپل موټر ددوي په مخ کي دروي او انجنیر جاوید له موټره څخه کښته کوي او دچړي په واسطه یي د انجلي دمور او خوندو په مخ کي وژني، داځکه چي له هغه څخه دسمیټو او ریګو غوښتنه کړي وه او هغه نه وه ورکړي.

لنډه داچي د نوموړی دوژني شهادت دخلګو او دانجنیر جاوید دکورنۍ له خوا ورکول کیږي او نوموړی محبس ته لیږل کیږي . په محبس کي هم غوغا جوړوي او دمحبس مسولین هم په وژلو ګواښوي .

کله چي دامنیتي مسوولینو له خوا د قاتل د جرمي سوابقو پلټنه کیږي، معلومیږي چي نوموړی د یوه وسله وال برخورد له امله دوه تنه پولیسان دذکریا او همایون په نومونو دتفنګچي په کارولو سره له پښو غورځوي ، خو د قاتل دپلار چي دبدخشان دښاروال د زورواکی له کبله څوک نه شي کولاي چي هغه ونیسي او سزا ورکړي .

شاهپور دښاروال بل زوي په ۱۹/۸/۱۳۹۲ نیټه دخپل بي نمبر پلیټه موټر په واسطه دوه تنه موټرسایکل چلونکو سره تصادم کوي ، هغه دواړه وژل کیږي او شاهپور تیښته کوي او دوسیه دښاروال دنفوذ او زور له امله په ټپه دریږي.

دبدخشان دمحبس مسولین په دي اقرار کوي چي نوموړی قاتل موږ نه شو ساتلای ځکه دی زورواکی دي او کیداي شي چي دځان او نورو بندیانو له پاره دفرار زمینه برابره کړي.

زور واکان یا زر لري او زور ــ دیو مافیایي کړي او ساختار لري.

دمرکزي چارواکو ګټي په ولایاتو کي ساتي . او برعکس ددوي ګټي په مرکز کي ساتلي دي.

دنذیر قومندان چي ښاروال دي مارشال صاحب فهیم یي پر سر ولاړ ؤ. البته چي دخدای تر امانت دیو فاسد بنده خوشحالی دوي ته ارزښت لري . ممتاز اغا د استاد سیاف لخوا حمایه کیږي، چي په بدماشي کي نوم لري.

دنزیر صاحب لوی امتیاز همدا دي، چي دشمال تلواکي غړیتوب لري.

بدماشي او سرکشي زموږ پدغه یوه طبقه کي ډیر لیدل کیږی.

کله، کله دبسم الله محمدي زوی دجنرال جرآت دزوی سره هم ښکر په ښکر شي. داسي زور ازمایي ډیر لیدل کیږي.

کله ، کله داسي شخړي، زرګری بڼه لري، ملا تره خیل ( لیوني ملا ) هم دحاجي الاګل سره غواړي پنجه نرم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۲۳)

**پروژي او دسيمي امنيتي مسوولين**

بهرني خاصي خپروني د ۱۳۹۲ کال د ليندۍ د مياشتي په يولسمه نيټه په يوه رپوټ کي د کليو دبياجوړونو او پرمختيا وزير له خولي، چي امنيتي ځواکونو د باج اخيستلو له وجي ددغه وزارت پرمختيايي پروژي له ستونزو سره مخامخ کړيدي.

دکليو د پراختيا وزيرښاغلي برمک وويل : په ځينو ولايتو نو کي د امنيتي مسولينو مداخلي چي دبيا رغوني کارونه په ټپه ودريږي . دمخاليفينو له خوا يوازي تښتوني او ګواښل ددي لامل نه دي ، چي پروژي له ستونزو سره مخامخ شي بلکي امنيتي مسولينو، چي دنده يي دپروژو امنيت دي د پروژو د مخنيوي په لار کي لويي ستونزي دي ، چي دغه کار دپروژي په کيفيت باندي ناوړه اغيزه کوي او ځيني شرکتونه اړايستل کيږي چي له هغوي سره جوړ جاړي وکړي .

که څه هم دکورنيو چارو وزارت دغه ادعا نه مني او وايي که چيري موږ ته کره اسناد په دغه برخه کي په لاس راشي له متخلفينو سره جدي برخورد کوو.

دسيمه ايزو خلګو له خوا دکليو بيارغوني او پرمختيا يي چارو دوزير څرګندوني تاييدوي او وايي څنګه کيداي شي چي د پروژو قرارداديان خپل کارونه په ټپه ودروي او د امنيتي مسولينو سره دويري او ډار سره ددوسيي د پرمخ بيولو له پاره دفتر په دفتر وګرزي ،تر څو چي دکورنيو چارو وزارت مقام ته دشهادت اسناد برابر کړي . دا ځومره د افسوس خبره ده.

په ليرو سيمو کي دمخابراتي شرکتو نه بيا دخپلو پايو دساتني د پاره دطالبانو سره دجوړجاړي قرارداد لري.

اونوري پروژي هم زورګويانو او چارواکو ته حق ورکوي، او دولتي چارواکي لکه والي،وکيلان صاحبان او قومندانان غړيتوب . په دي ډول اجراتو لړلي دي.

دا بايد ووايو او بايد ومنو چي زموږ په هيواد کی لمر په دوو ګوتو پټيږي.

استاد عبدالرسول سياف وايی: چي نه يي څوک وژلي او نه يي د چا امر صادر کړيدي. آيا د دشت برچي جنګ څنګه پيل شو او څومره هزاره ځوانان شهيدان شول ؟ د کابل د داخلی جنګونو اصلي او لومړي عامل دی ؤ. نوموړي خپل دروغ هم جدي نه نيسي، وايي چی زما زوی او يا ورور ما ندي مقرر کړيدي. ايا نياز محمد اميري د لوګر والي، حمادالدين د نورستان والي د چا په سپارش مقرر شويدي؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۲۴)

**جمهوررئیس په جنګي جرمونو سترګي پټوي**

د بي بي سي راډيو د ۱۳۹۲ کال د ليندۍ د مياشتي په يوولسمه نيټه په خپلې مابنامي خپروني کي يو رپوټ خپورکړ، چي داسي په کي راغلي دي:

د بشري حقونو د ساتني يوي نړيوالي مو سيسي په جمهور رئيس حامد کرزي تور ولګاوه، چي له هغو جنايتونو سترګي پټوي چي په دولت کي دمهمو چارواکو له خوا رامنځته کيږي.

دبشري حقونو دڅيړني سازمان د لاهي له نړيوالي محکمي څخه غوښتي چي خپلې هڅي په افغانستان کي دجرايمو ددوسيو په څيړنه کي تيزوالي راولي.

جمهور رئيس حامد کرزي ددي له پاره ديو شمير چارواکو، چي په جنګي جرمونو تورن دي ځګه علاقه نلري چي په دولتي اړانه کي شريک دي، په داسي حال کي چي اوس هم دغه ډول جرمونه کيږي.

په کابل کي د بشري حقونو د سازمان يوه مسول محترم هيدر بار، جمهوررئيس حامد کرزي يي تورن کړ، چي د جنګي مجرمينو دتعقيب مخه نيسي او هغه د رپوټ خپرولو مخه ونيوله ،چي د افغانستان دبشري حقونو د کميسيون له خوا برابر شويدي . هغه ددي له پاره چي زياتره زورور کسان اوس هم په دولت کي کارکوي.

خو جمهوری رياست دغه ادعا ردکړه او دغه ډول کړني د يو ډول فشار ارزوي،چي په جمهور رئيس حامد کرزي باندي وارديږي.

داسي اټکل کيږي چي دلاهي د نړيوالي محکمي له خوا اوس په افغانستان کي د بشري حقونو و ضعيت څيړي ،چي له ۲۰۰۷ کال څخه تر اوسه شويدي او په دي باور دي تر څو چي دولت عدالت رامنځته نه کړي، په هيواد کي سوله راتلاي نه شي.

مګر لومړی امنيت راځی او بيا عدالت.

امنيت هغه وخت منځ ته راتلای شی، چی بدماشان له منخه ليري شي. بدماشان هغه وخت له منخه وړل کيدای شي، چي حکومت قاطع شي او د ولسي جرګي لاس د حکومت څخه لنډ شي. هغه ولسي جرګه چي د ۱۵ دوري د نيمروز وکيله ( ملالي جويا ) هغه " طويله " وبلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۲۵)

**خوش ګذران سفیران**

د تلکسي شایعاتو په خبر کي چي ۱۳۹۱ کال دچنګاښ د میاشتي په دریمه خپورشویدي زموږلاس ته راغلي او داسي په کي لیکل شویدي:

په دي ورځو کي ډهلي ته د ناصرضیا راتلل، چي دخلورمي سیاسي مدیرؤ او د نوي سفیر له پاره ددغي نماینده ګي ، یو کور د میاشتي په لس زرو ډالرو ، چي له نورو لګښتونو سره شل زره دالره کیږي د سفارت له پاره په کرایي تر نیولو وروسته بیرته کابل ته ستون شو.

خو د تاسف ځاي دي د بهرنیو چارو وزارت دیوي سیاسي شعبي رئیس د کابل د کنفرانس د جوړیدو په درشل کي وو ، له خپل ګډون څخه په کنفرانس کي تیریږي او په هند کي د نوي سفیر له پاره کورونه لټوي.

دغه ښاغلي دهندوستان راجاګانو په څير کور وموند خو تاسف دادي چي دسفیر استوګن ځاي دهندي له راجاګانوڅخه کم نه دي ، چي له پنځو جریبو زیات شین بڼ او دلویو خونو درلودل، چي دخوب خونه او لویه میلمه پالني خونه او ټول امکانات او بیا هم زموږسفیر تکلیف نه باسي چي هلته ولاړشي تر څو نوموړی قصر کی استوګن شي؟

د هیواد سفیران تر کومه ځایه لاس رسیدي اوځومره ناوړي ګټي یي پورته کړي؟ ناصر ضیأ په برلین کي ۱۳۰ زره یورو ، ماما رحیم شیرزی په لندن کي ۹۰ زره پونډه د سفارت د بودجي نه، اکلیل حکیمي او هارون امین د توکیو سفیران د تعمیر په رانیولو او ترمیم په میلونو دالره جیب ته پورته کړه، چي چا پوښتنه ونکړه. ولي امین د امین ارسلا زوم او حکیمي نازدانه ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۲۶)

**دځمکو د مافیایي کړیو د غصب یوه بیلګه**

په دولتي ورځپاڼو کي مي ولوستل، چي د جمهوري ریاست مقام له خوا په پنځه ځلويښتم ګڼه فرمان کي په مشخصه توګه یو شمیر دندي ددولت او حکومتي اداروته وسپارل شوي ، نودځمکو غصب په اړوند دملي شورا په مجلسونوکي یي هم مبارزه شروع شوه او دغي موضوع په چاپي اوغږیزو رسینوکي زور واخیست:

دانیس ملي ورځپاڼي په خپله 1391 کال د مرغومي د میاشتي په یو ولسمه ګڼه کي دولسي جرګي د لومړي نایب حاجي عبدالظاهر "قدیر" له خوا دځمکي دغصب او یو شمیر پاټکونوپه پوستو جوړولو په اړوند د ننګر هار دسر خرود دولسوالي په خیر آباد کلي کي پرده پورته شوه.

د ورځپاڼي په نوموړي ګڼه کي د مشرانو جرګي د شکایتونو د اوریدلو کمیسیون مشر ښاغلیځلمي زابلي د خولي هم دننګر هار ولایت په سروخ ولسوالي کي د حاجي ظاهر قدیر له خوا د ځمکي دغصب موضوع راپورته شوه. دا په ډاګه ده، چي دمځکو غصب یو عمومي شکل لري او یوه لویه معضله ده.

د هشت صبح ورځپاڼي هم 1391 کال د مرغومي د میاشتي په یوه لسمه ګڼه کي هم د ځمکي دغصب تر سرلیک لاندي د شپږسووزرو جریبونو دځمکوغصب د هیواد په شپږ ولایتونوکي ولیکله چي د ولسي جرګه د څانګري کمیسیون له خوا ، چي د ځمکو د غصب په اړوند ګمارل شوي و اوپه څانګري توګه د نوموړي کمیسیون دغړي ښاغلي سلجوقي د څرګندونو له مخي یوولس غاصبین تثبیت او په ګوته شوي، لکن دي کمیسیون ونشوای کولای چي لست افشاء کړي.

په یو مجلس کي د مشرانو جرګي غړي انارکلي د خپل یو مؤکل د کور چي په جلال اباد کي دی، د غصب شکایت وکړ، یو چا ترې پوښتنه وکړه، چي هندو غصب کړیدي او که مسلمان ؟ انار کلي په خپل زنانه نزاکت وویل، چي مسلمان نیولي دی.

ښاغلی مجید خوګیاني د میدان وردګ والي وویل: چي دابه ارومرو حاجی قدیر وي.

کوم وخت چي دکورنیو چارو وزیر داکتر علي احمد جلالي استعفا کول، هم دقاچاق دلست خبري وي. هغه هم ونشوای کولای چي نومونه افشا کړي. دزورواکو زور په چاکي نسته.

حاجي ظاهرقدیر سره چا محاسبه او مقابله ونکړه . د کابل ښار پایتخت کي دپیکا او ده سکه سره ګرځي ، ګرچه زر او زور نه لري، فقط ښه تینګه سپین سترګي لري، د حکومت پري زور نه رسیږي .

دمځکو د غصب موضوع عمومي ده، نور هم پکي اخته دي.

یوازي باید دا ووایم چي د افغان ولس دي خدای مل شي او ددي ظالمانو د منګلو دي خدای خلاص کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۲۷)

**جنرال محمد کبیر اندرابي**

په دو مره لوړه کچه په هیواد کي ترياک او هيروين توليديږي نو داځه کيږي؟ او څنګه بهر ته قاچاق کيږي. ؟

په داسي حال کي چي لاري او ګودرونو د امنيتي چارواکو کنترول لاندي دي.

ځيني بيا پردي اند دي چي په زياته اندازه ترياک او هيروئين د بهرنيو پوځونو په هليکپترونو او طياروکي وړل کيږي او ځيني وايي چي دغه مخدر توکي د سرحدي او سرحدي ولاياتو د امنيتي مسولينو د جوړ جاړي له کبله، چي ددوي ترمنځ کيږي مخدر توکي بهرته رسيږي د يو رپوټ له مخي چي زموږ لاس ته رسيدلی دي.

د هيواد والو پردغه انګيرني چي ګواکي مخدر توکي د امنيتي مسولينو د جو ړجاړي اوبدوله امله بهرته ليږ دول کيږي ، د تاييد مهر لګوي چي وايي: د کشفي او اوپراتيفي کارونو په لړۍ کي په ډاګه شوه چي د نيمروز امنيه قومندان پاسوال محمد کبير اندرابي او ورسره څوا افسران او سر بازان په دغه سوداګرۍ کي لاس لري ، نوموړي کله چي په کابل کي وواو له دغه موضوع چي کشفي ارګانونه دده له کاروبار څخه خبر شويدي ،نو غواړي چي هرات ته ولاړشي ، په هوايي ډګر کي نيول کيږي او د تلاشي په پايله کي له ده څخه 28000 افغانی دوه قطي بانکي کارتونه او يوه ژيړ رنګه کاغذ چي دري موبايلي شميره په کي ليکل شوي ،آيفون تيلفون اخيستل کيږي.

نوموړي د معينيت مبارزه با مواد مخدر د ۶۵۲ ـــــ ۹۲/۵/۲۰ ليک پواسطه جلب مګر بيا هم نه نيول کيږي، تر څوچي کله له ده څخه پلټني کيږي او د تيلفوني له لاري 81 اړيکي چي او ريدل کيږي ددي ثبوت ورکوي چي نومړي کله چي مخدر توکي نيسي پرته له هغه ، چي هغه ضبط کړي هغه پلوري .

دغه راز په يوه رپوټ کي راغلي دي : د هغو څلويښتو عملياتو په ترڅ کي چي آيساف د ځواکونو او کشفي ارګانونو له خوا شويدي 27 سلنه ترياک او هيروئين له عاملينو سره نيول شويدي.

په رپوټ کي څرګنده شويده چي د نيمروز ولايت يو شمير لوړ پوړي امنيتي مسولينو له قاچاق وړونکو سره اړيکي لري. دجنرال کبير په خلاصون کي... ډيري هلي ځلي کوي.

پاسوال محمد کبير اندرابي چي په ديارلسو مواردو کي تورن او ثبوتونه يي تر لاسه شويدي له قاچاق وړونکو سره اړيکي او د مخدرو توکو د پلورلو له امله ګرم بلل شويدي. دده تکتيک داؤ چي لومړي دقاچاق برانو سره شريک ؤ، او خپل حق به يي اخيست.

او که به کوم نابلده په ګير ورغلي، دپيسو په مقابل کي به يي خوشي کړ او ترياک به يي ترى راګرځول اوهغه ترياک به يي جلاخرڅول. بالاخره په لس کاله بند محکوم شؤ.

د پوليسو افسران ډير په قاچاق کی لاس درلود، مثلاً دل اغا ، د نميروز قوماندان امير سيلاب ، عبدالرازق د ګرشګ قوماندان ، په قاچاق کي د لاس درلودلو په جرم پنځه، پنځه کاله بند محکوم شول، مګر بند يي پوره نکړ او بيرته په وظيفه وګمارل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۲۸)

**غیرمسلکي دیپلومات**

دخراغ ورځپاني 1392 کال دلړم میاشتي په خپله یوویشمته ګڼه کي ولیکل، چي ولسي جرګي په حکومت نیوک وکړه ، چي د امنیتي تړون کمیسیون په سرکي یي داسي یو ځوک ګمار لي دي چي له دغه مسلک څخه لري او په فساد تورن دي.

په ولسي جرګي کي دیو شمیر استازو په وینا ، د امریکا په متحده ایالاتوکي د امریکا سفیر اکلیل احمد حکیمي انجنیري دي او نو موړي په هیواد کي له امنیتي ستونزو څخه هیڅ خبر نه دي ، د ولسي جرګي رئیس ښاغلي عبدالروف ابراهیمي د ولسي جرګي په یوه غونډه کي وویل: چي د نوموړي کمیسیون په راس کي داکلیل احمد حکیمي ګمارنه د افغانستان په مصلحت نه ده.

ښاغلي ابراهیمي زیاته کړه که چیري اړتیا ولیدل شي چي د افغانستان او امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک شي، باید د کمیسیون په سر کي داسي ځوک وي ،چي په امینتي او حقوقي برخوکي تخصص ولري، امنیتي کمیسیون مسوولیت لري چي په نوموړي کمیسیون کي یو امنیتي کار پوه غړیتوب ولري.

دغه شخص داسي څوک نه دي چي په امنیتي چاروکي تخصص ولري او د هیواد لوړي ګټي درک کړاي شي ، دا زموږ د هیواد په مصلحت نه دي.

دغه راز دولسي جرګي یوشمیر غړي وایي، چي اکلیل حکیمي له افغانستان دیپلوماتانو سره د فزیکي برخورد سره د افغانستان له پاره دنه وفا داري کار نامي لري، د نوموړو استازو په وینا د نوموړي د مالي فساد دوسیه د ولسي جرګي له خوا له لاري فساد سره د مبارزي عالي اداري ته استول شویده.

نوموړي انجنیر دي ، چي دده مسلک د دیپلوماتي سره هیڅ اړخ نه لګوي . ممکن په سیخ ګول او سمنټو ښه پوه شي ، مګر ددیپلوماسی سره نابلد دي ، آن سمه انګلیسي یي زده نده او امریکایي تابیعت لري . دده په اړه موضوعات پارلمان کي دبهرنیو اړیکو په کمسیون کي د ښاغلي وکیل صاحب نور اکبري سره پرتي دي.

ولسي جرګي د همدی اعتراضونو سره د مالیی وزارت په تائید باندي لاسونه پورته کړل.

او داسي یو څوک چي په ملي ژبو د پښتو او دري ژبو پوره بلدتیا نه لري، نو آیا کیدلاي شي چي دیپلوماتیک نزاکتونه او ادبیات په انګلیسي ژبه سره ته ورسوي، چي دغه ستونزه د حکیمي په برخه کي پوره صدق کوي. همدا ده چي روابط پر ضوابطو مقدم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۲۹)

**روسيي اوړه**

په 1391 کال کي د روسيي دقونسلي له خوا مرسته شوي اوړه افغان لوري ته وسپارل شول ترڅو محتاجانو ته وويشل شي . زړه بوږه ونکي داستان په دي چې يو دلوړي مرى او بل يي ډوډى د لاسه باسي.

چي له دغواوړو څخه يوازي دوه زره او دوه سوه ټنه يي د هيواد دولسو ولايتونه ، ته هغه هم د څو مياشتو په تيريدو د 1391 کال د ميزان په مياشت کي وليږدول شوه . او وروستنى محموله، چي د دايکندي ولايت ته وليږدول شوه ددي له پاره چي هغه وراسته او له استفادي څخه وتلي وه،نو بيرته مسترد شول. او له هغو څخه پاتي اته سوه ټنه يي د حيرتا نو ددويم پورت په تحويلخانه کي پاتي شول.

په رپوټ کي راغلي چي دحيرتانو اداري دڅو ليکونو په ترڅ کي دمبارزي عمومي رياست ته ليکلي ، چي نوموړ و اوړوکي چنچي او حشري پيدا شوي او خپل پلاوي معرفي کړي .

ددي له پاره چي اوړه وراسته او له استفادي څخه وتلي و، نو يو شميرا دارو د هغو دليږ دولو مخه و نيوله ځکه که وليږ دول شي، د مسولينو په بي توجهي او غفلت خاوري اچول کيږي او پټيږي.

کله چي د جمهوري رياست دويم مرستيال خبريږي پلاوي ليږي او د نوموړي موضوع د پلټني امر ورکوي.

په دغه بهيرکي د حيرتانود بندري خدمتونو رياست د يوه وړانديز په ترڅ کي، چي تاريخ او د ثبت نمره يي نه در لوده ، دبلخ ولايت مقام ته ليکي چي نوموړي اوړه دانسانانو او څارويوله استفادي څخه وتلي دي .

د ولايت مقام دخپل 1392 کال د چنګاښ د مياشتي په يوديرشمه نيټه حکم کي يو مختلط پلاوي ته دنده سپاري، چي دروسته له پلټني څخه، که چيري اوړه له ګټي څخه وتلي وي وروسته له تلل کيدو څخه د هغو په له منځه وړلو اقدام وکړي. بيله دي پوښتني چي اوړه ولي خراب شول.

ليکن دحيرتانو بندري خدمتونو رئيس محمد يعقوب ځاځي ، ددي پر ځاي چي د ولايت حکم تر سره کړي، پرعکس ددويم پورت دعمومي مدير محمد شريف، د تحويلخانو عمومي مدير محمد اصف ، تحويلدار عبدالودود د خپلو شريکانو په ګډون، چي په هغو کي د حيرتانو پوليسو او دملي امنيت موظف کار کونکي په مرسته د شلو باروړ ونکو موټر په واسطه په 1392/5/7 نيټه وروسته له ماښام څخه غوښتل چي له بندر څخه وباسي.

په رپوټ کي زياته شويده ، چي لومړي يوه تن موټروان او وروسته د ثابت خان په نامه دملي امنيت کارمند او وروسته د تحويلخانه مدير محمد اصف د خروجي دروازي مامور شهاب الدين ته تيلفون کوي، چي راشي او موټرونوته دوتلو اجازه ورکړي، خو هغه ورته وړانديز او د ولايت د مقام ښيي او نه قانع کيږي او غواړي ، چي د حيرتانو رئيس ته تيلفون وکړي ، خو هغه د تيلفون ځواب نه وايي .

خو کله چي محمد آصف نومي محمد يعقوب ځاځي ته تيلفون کوي، تيلفون شهاب الدين ته ورکوي ، محمد يعقوب هغه ته امر ورکوي، چي موټرونه دوتلو اجازه ورکړى ، خو شهاب الدين هغه نه منى او بيرته خپل کورته ستنيږى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو ددروازی ساتونکی وایي چي موږ ته خپل قوماندان ویلي چي اجازه ورکړي. وروسته موټر له دروازې څخه وزي اوهغه اوړه چي د وراستو نوم ورکړه شویدي، د مزار شریف په ښارکي پلورل کیږي او دملي امنیت د ریاست له خوانیول کیږي، چي بیا وروسته دکرني ریاست ته وړل کیږي.

او د مظنونینوله دلي څخه یوازي دوه تنه خزانه داران نیسي او وروسته له تحقیق څخه یی محکمي ته سپاري .

محکمه هر یو په دولسو دولسوزرو افغانیو جزا محکومووي او نور مظنونین تر څارني لاندي دي، دا چي له هغو اوله هغه چا سره چی داته سوو ټنو اوړو د خرا بیدو او فاسیدو ګرم بلل کیږي، څه دول چلندوشي دا به وخت ورته ځواب ووایي.

خو کار پوهان دفساد زیاتیدوته په کتوسره په دي باور دي، چي هغوي به نه یوازي سزا و نه ویني بلکي تقدیر به هم شي.

د پام وړ داده :

1. چي لومړي ولي ونه ویشل شول، پداسي حال کي چي په هیواد کي ضرورت ډیر دي ، تر هغه پاته شول چي دوروستو پلمه ورته پلاس ورغله.
2. که وړه وراسته ؤ، نو بیا څنګه منډوي ته د خرڅلاو دپاره یووړل شول. وایي دبندر رئیس جناب ځاځي ورک دي، که ورک هم نه وي څوک دي چي ویی نیسي ؟

نړیَ حق لري چي دفساد لومړي درجه پر موږ ووهی. که وګورو دمرستي غوښتل دردونکی دي. او که په تیره داغوښتنه ددشمن نه وي، نور هم دردونکی ده. پدي قضیه کي تر ټولو دحوادثو دمبارزي لوی رئیس محترم کاکړ دي، چي دحیرتان نه د ډیرو لیکو دهدایت غوښتونو سره بي ځوابه، بی تفاوته پاته شو. دمحکمی وړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۳۰)

**ددوو مرموزو کمپنیو جګړه**

ددولت په اړانوکي دننه ددوه اکمالاتي کمپنیو مرموزه جګړه.

استخبارات د یوه نظام کورنیو او بهرنیو چارو د پرمخ بیولو په لارکي د ستر ګو او غوږو په څیر ډیر زیات ارزښت لري. تجربو ښوولی ده چي د یوه نظام بریالیتوب او په تیره بیا د ملي ګټو په ساتنه کي مسلکي او وړ استخباراتو پوري تړلی او ارزښتمن خدمتونه سرته رسوي . او دولتي نظامونوکي استخباراتي ارګانونه د ملت خدمت بي طرفی او دهیواد له لوړو ملي ګټو څخه ساتنه یی یواځني دنده جوړوي.

خو دریغه چي زموږ استخبارات په تیرو بیلابیلو دوروکي ، د یوه خاص ګروپ ډلي په خدمت کي و، چي دغي تړلتیا له افراطي ډ لوسره ددي لامل شوي دي چي استخبارات تریوی اندازي د استبداد دداوم او د بدبختي لامل وګرزي.

د 2001 کال پیښي وروسته زموږ د خلکو د امیدونو غوټی وغوړیدي او دداسي یو نظام چي په د موکراسي او ازادي بناوي، تاداو یي کیښودل شو ، خلک په دي باور شول چي اوس به دنورو ارګانونو تر څنګ د ملي امنیت ارګان د اساسی قانون په رڼاکي زیا ته پاملرنه وشي .

خو د نوموړي ارګان دسترو بریالیتوبونو او لاسته راوړنو سره سره د هغو د یو شمیر کارمندانو هلي ځلي ددي پر ځاي چي خپله بي طرفي وساتي ، د یو شمیر سیاسي ، قومي او اقتصادي ګټو په خدمت کي ولویدي.

لکه چي لیدل کیږي ددغه ارګان لوړ پوړي غړي ددي پر ځاي چي خپل وقت او ځواک خپلو اړوندو دندو ته وقف کړي چي هغه د تروریستا نو د دسیسو شنډول دي، برعکس خپل یو زیات وخت په تجارت او شخصي توطیوکي په کار وړل کیږي ، چي د بیلګي په توګه یي رسنیو یوه قضیه را سپړ لي ده، رپوټ کي راغلي دي:

زموږ هیواد وال پوهیږي چي له څو کلونو راهیسي د سوپریم کمپنی د بهرنیو ځواکونو د تیلو او غذایي توکو د لیږ دولو تړون ، چي ملیاردونو ډالر وته رسیږي، پر غاړه لري، دغه کمپنی سر بیره پردي چي زیاتي تخلفاتي قضیي لري په دویم لاس تړونونه د سیمه ییزو زورواکو ته ورکوي چي د همدغو دویم لاس تړونونو له برکته یو شمیر دولسي جرګي استازي او له لوړ پورو چارواکو خپلوان په یوه نه ایلیدونکي ځواکونو بدل شوي.

دغه قرار دادونه چي د فساد په رواجولوکي لوي لاس لري، آن داچي په هیواد د نظم او امنیت پرمخ کي هم ستونزي جوړوي.

کله چي د فساد ډنډوري په مطبوعاتو کي خپریږي ، امریکا دیته پام اړوي چي دسوپریم شرکت د یوه سندله مخي د یو ملیارد ډالر و په حدودوکي مکلف ګرزول کیږي ، چي بیرته یي د امریکا حکومت ته ورکړي.

نو کله چي د امریکا حکومت د سوپریم کمپنی په درغلیو پوهیږي ، خپل تړون ورسره پریکوي او د امریکا له یوي بلي کمپنی چي (آنهم) نومیږي تړون کوي ، چي دغه موضوع د دواړو کمپنیوتر منځ د اختلاف لامل ګرزي.

په رپوټ کي راغلي دي، چي دبهرنیو چارو پخواني مرستیال جاوید لودین، او پخواني سفیر په واشنګټن کي ښاغلي طیب جواد او دکانادا سفیر برنا کریمي تر استعفا وروسته له آنهم کمپنی سره یو ځاي کیږي او اوس ددغي کمپنی د مسوول په توګه دنده سرته رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر درو سرو د شعله جاويد گمان کيږي.

ددغو دوو کمپنيو ترمنځ کشمکش ددي لامل شويدي، چی په پښتو سايت کي اجتماعي او مطبوعاتي اخلاقی برخی لري خپروني وشي. افغانستان دبهرنيانو دپاره دګټي او وټي جنت دي.

ددغو دوو کمپنيو ترمنځ اختلافات ددي لامل کيږي ، چي دسوپريم کمپني هلي ځلي وکړي ترڅو دغه تړون بيرته تر لاسه کړي ، نو دغي کمپنۍ ددويوم لاس تړون کوونکو پرمټ غواړي، چي يو شمير چارواکي په حکومت کي درشوت او پيريدلو له لاري دځان په ګټه و کاروي، ترڅو د هغوي دلاسليکونو او مخالفت له وجي له آنهم کمپنۍ سره د تړون مخه ونيسي، چي له همدي تړونو نو له امله له نورو کانالونو سر بيره د يوه مطرح قرار دادي چي د سوپريم شرکت د تيلو ليږدونه پرغاړه درلوده او عبيد الله صدر خيل نوميږي او خپل زيات وخت په دوبي کي تيروي ، چي ددولت له نورو لوړ رتبه چارواکو سره په شرکت کي د سوپريم يونټ قرار داد په لاس کي لري . چي يوه تجارتي نامريي اړيکه له داکتر ياسين ضيا دملي امنيت د اوپراتيفي مرستيال دي جوړوي ، چي د هر ډول اداري د ديپلوماتيکي او حکومت والی موازينو پرته د خپل صلاحيت څخه په کار اخيستني سره ، د کورنيو چارو د موافقي تر نامه لاندي يو ليک ملي امنيت له ارګان څخه راساً د امريکا حکومت ته د سوپريم کمپنۍ په طرفداري استوي.

د ملي امنيت اوپراتيفي مرستيال چي پنځه کاله د مخه ملي امنيت مرستيال په توګه دنده سرته رسوله. خپل پلار د اسلامي حزب غړي بولي او خپل ځان د استاد سياف د تنظيم پوري اړوند بولي . او په هر ځاي او قالب کي ځان اچوی ، چي ددغو ناروا اړيکو له مخي چي له سياسي پارلماني او دولتي چارواکو سره لري ځان داسي ښيي ، چي ګويا د تجارت فرشته دي. او محمد حنيف اتمر هم بي برخي نه پريږدي، تر څو دهغه سياسي حمايه تر لاسه کړي.

کله چي د نوموړی د ملي امنيت د حوزي د مرستيال په توګه دنده سر ته رسوله ، ددي توان يي نه درلود چي د خپل زوي دواده لګښت پوره کړي. او همکارانو يي له خپلو معاشونو څخه ورسره مرسته وکړه او اوس له مليونونو ډالر وخبري کوی او آن داچي کله کله د مالي توان او دولتي ځواک د ښو ولو او هم د بهرنيانو د ملاتړ، چي له ځانه سره لري په مجلسونوکي د بر طرفی په صورت کي د نظام د نړولو او د شمال وقيام خبري کوی.

دنوروځمکو غصب ترڅنګ دغازي امان الله دځمکو غصب چي داماان الله خان لور په يوه کنفراس کي له هغي څخه پرده پورته کړه، هم دده د اجراأتو دليل دي.

هغه د تجارانو ويرولوله لاري د پيسو لاسته راوړل او د مطبوعاتو ويرول ، چي حقايق خپاره نکړي او نور خلاف کارونه چي کوي د هغو يادونه نه کړو.

بايد ووايو دنورو عياشيوسره بيره دا تو جريبو غصب شويو ځمکه ، چي د شکر دري ولسوالی کي يي د دري مليونو ډالرو په مصرف سره يي ودانی د او بو حوض او دسيورو چترونه ددولتي محافظينو سره ځان د شمالي هيولا بدل کړيدي. بهرنيان د خپلو ناوړو ګټو د پاره څنګه زموږ لوړ پوړي په خدمت وګماري ؟

اوس قضاوت لوستونکو ته پريږدو چي زموږ دولتي اداري په کومي خوارواني دي او په څه باندي لګيادي.؟

په عمومي ډول د امنيت ملي لوړپوړي دلوړ امکاناتو نه برخورداره دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۳۱)

**عاطله او باطله وزارت خونه**

د با خبره باوري سرچينو په يوه رپوټ کي ليکل شويدي: چي دابي حيثيته وزارت ټولو ته معلوم دي.

زموږ هيواد وال او په ځانګري ډول هغه هيواد وال ، چي له ديپلوماسيو سره سر او کار لري ورته مالومه ده ، چي د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت ، د بهرني سياست رهبري او له ديپلوماتيکو اصولو سره سم ددغه سياست د عملي کولو له پاره ښايي ، چي د نوموړي وزارت کار کونکي هوښيار، وطنپال او د سياسی چارو پوهه ولري.

خود خواشينی ځای دی چي زموږ بهرنيو چارو وزارت کرار کرار په يوه بيکاره وزارت ، چي زياتره کارکوونکي يي غير مسلکي او دلازمي پوهي نه در لودونکی او آن داچي په سياسي الفبا خبر نه دی.

دغه کار کوونکي چي د حاکمه کړيو خپلوان او ياد زورواکانو د سفارښتنو او د بهرنيو چارو وزارت د لارښووني د پلاوي سره خپلوي او يا درشوت ورکولو او له لاري مقرر شويدي ، ددغو افرادو يواځنی هدف د زياتو تنخواګانو او لوړو امتيازونو تر لاسه کول دي.

چي د هيواد و په سفارتونوکي مقرر يږي.

دغه اشخاص چي د هيواد په ګټه کوم کار پرمخ بيولاي نه شي او آن داچي دوی د زياتي مودي په ترڅ کي هم په دي نه پوهيږي ، چي د وزارت په سر کي ، ناروغه، ناتوانه او استفاده جو اشخاص قرار لري. په هيڅ ډول يي ونه کړاي شول او يا يي ونه غوښتل ، چي په کدرونوکي يوڅه ښه والی راولي.

ښاغلي زلمي رسول چي د ورځي تر يو ولسو بجو پوري نيشه وي او زيات عمر يي د باباي ملت او دو ها بيانو په درملنه کي تير کړي دي.

ښاغلي عبدالحي حيدر اداري معين ، چي د پولند هيواد تابعيت لري تاجر پيشه او يوه ورځ يي هم په افغانستان کي ماموريت نه دي کړي چي له قانون او اداري څخه متاسفانه بي خبره دي او الحمد الله چي ښاغلي جاويد لودين چي کانادايي پاسپورت لري، اوس سياسي معين او مخکي د هيواد، د لوموړي شخص تيلفونچي و اوله کورنيوستونز ووروسته په دوو کاري دوروکي د سفير په حيث هيڅ کارونه شو کړاي.

دبرق او ساختمانی انجنيران ديپلوماتان شويدي.

واسطه تر هرڅه لوی رول لري، بيچاره زلمی رسول دزورواکو په مقابل کي جينګه خوله نيولي او تسليم دي.

اما مطلق اکثريت ديپلوماتان ، چي په سفارت خونوکي مقرريږي بوازي د يوه فاسد دولت نماينده ګي کولاي شي ، نو دغسي ديپلوماتانو څخه څه هيله کيداي شي چي خپله د زياتو معاشونو درلودونکی وي او خلک يی په نس وږي.

زه ددي نظر مخالف يم چي ديپلوماتان دي زيات معاش وانخلي، که وايي نخلي ممکنه ده چي د ميزبان هيواد د استخباراتي شبکو له خوا استخدام شي.

لومړي هغه اشخاص چي دپيسوپه بدل کي خپل هيواد پلوري، بايد دديپلومات په حيث مقررنشي، دويم داچي موږ د اسرارو د پټولو له پاره څه شي نه لرو، ځکه بهرني استخباراتي شبکي او سازمانونه په آسانی سره کولای شي چي د ارګ د لومړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس له کسانو څخه موثق معلومات په لاس راوړي، کله چې یو هیواد اردو او پولیس ونه لري او آن داچې کار کوونکوته یی د بهرنیو مرستو له لاري تنخوا ورکول کیږي، کوم بهرنی سیاست مطرح کیداي شي؟ او دغسي سیاست ته څوک ارزښت قایلیږي.

او په لنډه توګه په بهرنیو چارووزارت کي د قانون نقضولو ته اشاره کوم:

د بهرنیو چارو وزارت کي تر پنځه دیرش سلني زیات کار کونکي يي غیر مسلکی، لکه عسکری صاحب منصبان، انجنیران،داکتران لکه زلمی رسول جوړوي او دزیاترو دیپلومونه يي جعلي ، چي له پیښور، روسي، ایراني او دهیواد د ننه کي جوړ شوي، کار کوي.

- د بهرنیو اشخاصو تابعیت لرونکی اشخاص ، چي د افغانستان د نافذه قوانینو له مخي نشي مقرريد لاي، ان چي ژبي لکه دري او پښتو باندي نه پوهیږي. اصلاً باید یوازي حقوق، اقتصاد، ژورنالیزم تحصیل کرده مقرر شي او په عین زمان کي د نړی د معتبرو ژبو نه یوه ارومره زده وي.
- ددیپلوماتانو د تنخواګانو څخه د مالیي نه وضع کیدل.
- ددیپلوماتانو د بیمي د قراردادونو نشتوالی.
- په سفارتونوکي دپیسو اختلاس او له دارایي څخه ناوړه ګټه اخیسته.

ما چي په لنډه توګه په بهرنیو چارو وزارت کي دبي قانونیو یادونه وکړه، یقین لرم چي د لاربښووني پلاوی یي د قانون ماتوني په برخه کي کړني نه کوي، ځکه چي په خپله ددغو قانون ماتونو عاملین دي ، خو زه دولسي جرګي او مشرانو جرګي له کمیسیونو نو او د فساد پرضد دعالی اداري څخه هیله کوم چي یو ځل ددغه وزارت څخه لیدنه وکړي او پورته ذکر شوي موارد وپلټي او عاملین یی په سزا ور سوي ، تر څود نورو له پاره د عبرت سبب وګرزي، کوم مسلکي معیارونه لکه : یو یا دوي خارجي ژبه زده کړه، پخوا یوازی اقتصاد، حقوق، او ژورنالیزم په وزارت کي منل شوي ؤ، نن دا معیار نشته. اکثره کسان د مسلکي معیارونو سمبول په واسطه ندی مقرر شویدي.

دداکتر عبدالله وخت یو اضطراري حالت ؤ، مګرد زلمي رسول دبي کفایتی په خاطر نور هم خراب او تراب شو او داشخاصو د استخدام د کچی په لوړوالي کي یی هیڅ ګام پورته نکړ. انجنیر او میخانیک ډیر دي چي مقرر شویدی.

زه پوهیږم چي داسي لیکنی ګټه نه رسوي. په مطبوعاتو کي همدا ډول اعتراضونه او وړاندیزونه ډیر دي، مګر تاریخ باید ازاد قضاوت وکړي. زه چي سیل بین او نوم مي هم سیل بین دي، چي په ویلو او لیکلو به خپله غاړه خلاصه کړم، که څوک بښه راته وایي او که بد.

پردي چوکي چي ډاکټر زلمي ډیره وهلي وه، یو وخت محمود طرزي، نور احمد اعتمادي او موسی شفیق ناست وه، نو د زلمي رسول د اجرااتو نه به په قبر کي رنځ وړي.

د کرزي صاحب په ۱۳ کالو کي هیڅ ډول اصلاحات رامنځ ته نشول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۳۲)

**دچارواکو غیر ضروري لګښت**

**خدمتګار: زیات لګښتونه په حکومت ړنګ کړي.**

خدمتګار ورځپاڼي پخپله د ۲۰۱۳ کال دجنوري په شپږمه ګڼه کي ، ددولت دلوړ پوړو چارواکو له خوا زیاتو لګښتونو ته کتنه کړي او لیکلي یي دي، چي پرون دولسي جرګي یو شمیر غړو په دي اعتراض وکړ، چي دولسمشر کرزي مرستیالان هر کال یو ملیون ډالره دحکومت له خزاني څخه دکورنو دکرایي په نوم باسي.

دولسي جرګي مخکښ غړي او ددي جرګي دامنیتي کمیسیون مشري شکریي بارکزی، تیره ورځ دولسي جرګي په عمومي غونډه کي وویل : ( دمارشال فهیم او کریم خلیلي دیوه کور او یوه میلمستون میاشتنی کرایه اوولس زره ډالرو ته رسیږي).

داپه داسي حال کي ده چي ویل کیږي، دوي په کابل ښار کي لوی او مجلل کورونه لري.

میرمن بارکزی همدا راز وویل چي ددي تر څنګ دښاغلی کرزی مرستیالان دمیلمستونونو، دجرګه ګیو ددفترونو او دخپلو ساتونکو دلګښت په نوم هم له دولت څخه ډیري پیسي اخلي . ایا میلمستون باید حتمي وي؟. او ولي ؟

دچارو شنونکي ددولت دکارکوونکو دامتیازونو تر منځ دومره توپیر ته په کتلو سره وایي، چي ددولتي کارکوونکو تر منځ دامتیازاتو توپیر پخپله فساد ته لاره هواروي.

دچارو شنونکي مطیع الله خروټي له خدمتګار سره په خبرو کي وویل ، که حکومتي چارواکي اضافي مصارف راکنترول نه کړي نو حکومت به ړنګ شي.

نوموړي زیاته کړه : امتیازاتو ګډوډي دي ته زمینه مساعده کړي، چي چارواکي په فساد کي ښکیل شي.

دولسي جرګي غړي وایي : چي په ملي بودجه کي دجمهوري ریاست دمرستیالانو دمصارفو په اړه کومه ځانګړي بودجه نه وي چي دوي یي په اړه دمالیي وزارت چارواکي و پوښتي.

دکابل ولایت استازي شیرولي وردګ له خدمتګار سره په خبرو کي وویل، ملي او عادي بودجه په ولسي جرګه کي تصویبیږي، خو یاده بودجه دځانګړو کوډونو لرونکي وي چي یوازي اړوند چارواکي پري پوهیدلاي شي.

نوموړي زیاتوي چي په ملي بودجه او ځانګړي ډول په عادي بودجه کي ددولتي ادارو تر منځ انډول نه مراعتیږي.

اغلي بارکزي په عین حال کي وویل: چي دالا هم دهغو ټولو پیسو لست نه دي چي دا دوه لوړپوړي یي ددولت له بودجي باسي، دوي تر دي زیاتي پیسي په یو او بل نوم اخلي.

دي وویل : ښاغلو خلیلي او فهیم د اعاشي او معاشونو په نومونو هم ډیري پیسي باسي: ( خو ایا د دولت پیسي ددي له پاره دي چي چارواکي یي په دي ډول مصرف کړي؟ ایا هغه خیمي نه وینو چي دسړکونو په غاړه ولاړي دي ؟).

دولسي جرګي دامنیتي کمیسیون مشري دا هم وویل: چي په تیرو شپږ کلونو کي هر کال دولسمشر دچارو اداره دغو جګپوړو چارواکو ته دکورنو دجوړولو لپاره پیسي ورکړي دي خو دوي لاهم له بیت المال څخه دقانون خلاف پیسي اخلي.

دکابل ښاریان وایي چي ځینو چارواکو نه یوازي دښار تر ټولو لوکس کورونه اخیستي بلکي ځینو یي حتي کوڅي په بیه رانیولي دي.

http: //www. Khedmatgar.com/news

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي کله چي هندوستان تازه خپلواک شو، وزيران به پر بايسکل وزارت ته تلل.

افغان چارواکو ته ، هر يوه ته دخپل اخلاص او موقف پر بنا بهرنيانو لخوا لاس ور اوړدکيدي، يوه ته په يوه نامه اوبل ته په بل نامه. همدا پيسي وي چي اړيکي په ټينګي شوي، البته پيسي نو مفتي نه وي، په مقابل کي بايد يوڅه وشي. محمد حنيف اتمر دمياشتي څلويښت زره دالره، دانګريزانو لخوا بيله جواب او حساب ورکول کيدي. يو څه به د دندي په نامه، مګر نوري خپلو خپلوانو ته لکه داکتر فاروق بشر، عبدالواسع اتمر. دکورنيو چارو وزارت کي هم ځينو ښځو ته دجندر په نامه مهرباني کيدل. يوناما هم امريکايي پيسي، بي نامه او نښانه، دپرچم او خلق غړو ته، د مشاورانو په نامه ځيني کسان لکه سليمان لايق، محمديونس فکور، احمد سعيدي لاس نيول کيدي. امريکا هم دست بيګران درلوده، لکه کوم وخت چي دامريکا سفارت په کابل کي اعلان وکړ، چي د ارګ نيم کارمندانو ته زموږ لخوا معاش ورکول کيږي.

کوم چارواکي او بدماشان چي د ځان د امنيت په پلمه يوه لويه ډله لنډغر ساتي، بايد مصارف يي د غصب ، پاټک او نورو ناروا لارو له لاري برابر شي. د الله ګل مجاهد. اقبال صافي، ملا تره خيل ، حاجی محمد محقق، حاجي الماس، عبدالرسول سياف، حاجی قدير او داسي نور مثالونه ډير دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۳۳)

**مشاور وزیر**

ملامحمد دملا احمد زوي، چي د هرات ولايت دکرخ ولسوالي د لرگو د مسجد دکلي دي چي ۱۷/ ۶/ ۱۳۹۲ د تبنتوني او با ندنتيزم په تور، د هرات د امنيتي ارگانونو له خوا نيول کيږي او له هغه سره يو ځاي ۹ميله وسله بيلابيل ډولونه سلا، مهمات او نظامي تجهيزات نيول کيږي نو د هرات ولايت د ښاري کورنني او بهرني امنيت پرضد محکمي د ۱۵۸-۱۳۹۲/۹/۱۲ حکم له مخي هر يو په شل شل کاله بند محکوميږي.

کله چي قضيه محکمي ته راجع کيږي، ملا محمد د تحقيق په بهير کي څرگند وي چي ښاغلي احمد وحيد طاهري، چي مشاور وزير دي او پخوا دولسي جرگي وکيل ؤ، شپږ سوه زره افغاني ورته ورکړي وي چي سلا را ونيسي اوله خپلي سيمي څخه د مخالفينو د مخينوي له پاره ورڅخه گټه واخلي ، خو څرنگه چي احمد وحيد طاهري د غربي زون کي د جمهوري رياست د مقام مشاور وزير دي ، لکه دنورو زورواکو غوندي دچا وس په ونه رسيد.

دخلگو دتهديد ،غضب، او زورگويي دپاره وسلوال ځواک جوړول لومړي گام دي، احمد وحيد طاهري هم په دي کار لاس پوري کړ، مگر څه ناوخته دي.

دهيواد لويه ستونزه په هيواد کي دغير مسؤلو وسلوال قوتونه دي. البته DDR او داياک هم هغه پروگرامونه چي سم تطبيق نشوه، آن په پايتخت کي ددي غير مسؤولو کسانو لکه ممتاز اغا، ملا عزت، طوفان، وکيل حاجی اقبال صافی او داسي نور دي.

وحيد طاهري هم د ورور داکتر اسپنتا د نفوذ نه کار اخيستي. داکتر اسپنتا هم غوښتل چی د محيط سره نور بايد ځان برابر او اعيار کړي، ولي چي هر بدماشه چارواکي لري او چارواکی بدماشان دا يو ډول ناقدسه ائيتلاف دی، چي يو بل ته لازم او ملزوم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۳۴)

**غصب او زورواکۍ**

یو تن چي جهانګیر جوان نومیږي او د بغلان ولایت د ولایتي شورا غړي او وسله وال ساتونکي لري ،غواړي چي په رښتیا هم جهانګیري ته ملاوتړي او د ځمکي پرغصب سر بیره دا شخاصو په تهدید لاس پوري کوي.

قضیه داسي پیلږي چي جهانګیر نومي د خپل وسله والو په زورراوله دندي څخه ناوړه ګته پورته کوي، یوه توټه ځمکه چي د ښوونځي د جوړولو له پاره بیله شوي وه هغه غصب او سربیر پر هغي، د یوي نو مري ځمکي پرسر، چي د ولایت د مقام له خوا مولوي محمد ظاهر عثماني ته ورکړل شویده په خپل سر د قاضي عثماني کورته ننوزي او محمد ظاهر عثماني په وژلو ګواښوي. دا کار یو ځل نه او څو واره یی کوي، له خپل زور څخه په ګټي اخیستني سره د نوموړي دکور د یوال ورانوي ، کله چي د کورنیو چارو وزارت پلاوي له مرکز څخه استول کیږي، شاهدان شهادت ورکوي چي نوموړي نه یوازي د ښوونځي ځمکه غصب کړي ، بلکه د محمد ظاهر نو مي نمره هم د خپلي ښځي ملکیت بولي او سره بیره پردي نوموړي د مذهبي او نژادي تاوتر یخوال هڅوي.

لنډه داچي پلاوي د اړوندو ارګانونو له خوا له قانون سره سم نوموړی د سزا وړبولي او اړوندو ارګانونو څخه ورته د سزا وړاندیز کوي .

داچي بیاوروسته څه وشول ، موږ ترینه خبر نه شوځکه مودغه موضوع ولیکل، چي د اوسنی زماني د تاریخ له حافظي څخه بهر پاتي نه شي.

چی پدي وخت کی دقانون شکنی او بی تفاوتی نمونه ده .

څوک چي دبادیګارد په نامه څو تنه لنډغر پر ځان راټولوي، داخو ټوله مصرف او اعاشه غواړي، نو اړ وي چي ناروا ته ځان جوړکړي اودهغو د ژوند تضمین وکړي.

څوک به تپوس وکړي چي دا مصرف دکومي خوا راځي.؟ دوی مجبوره دي ، چي غصب، قطاع الطریقي او اختطافونه اجراکړي، زه بیچاره دیو سیل بین په حیث دهلکانو دمور په یوه ګوله مړی ته حیران پاته یم. تر هرچا او هره طبقه نه وکیل که دولسي جرګي وي او که د ولایتي شورا، دبدماشي نه کار اخلي. ولي چي دمصؤنیت په څنګ کي معافیت هم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۳۵)

**د شهر نا پرسان یوه قضیه:**

د هیواد په یوه تلویزیوني پرده کي یوه پروګرام د شهر ناپرسان تر نامه لاندي خبریږي او ځیني صحني ښیي چي د خلکو باور وربانديي نه راځي ، خو کله يي چي د محمد عارف د جان محمد زوي قضیه و اوریدله نو په دي پوه شوم چي رښتیا هم شهر نا پرسان دي.

محمد صادق د محمد عارف ورور دي ، پولیسو ته خپله عرض پانه وړاندي کوي او په کي لیکي : چي زما ورور چي پلنګي پطلون او ابرکوت اغوندي د پولیسو له خوا نیول شویدي او په توقیف خونه کي بندي دي .

ددي له پاره چي د خپلي کورني اعاشه ا و اباته پرغاړه لري نو د ضمانت په ورکولو دهغه دخلاصون غوښتنه کوي ، کله چي اړوند ارګان دهغه د توقیف کیدو لامل رپوټ غواړي. په رپوټ کي داسي راغلي دي : نعمت الله چي د پیر محمد زوي دي د امنیه قومنداني د استخباراتو ځانګي ته شکایت کوي چي د یو ځل مصرف توکو د واردولو شرکت لري او د کمپني په سیمه کي موقعیت لري ، کله مي چي غوښتل یو څه توکي د کابل منډوي سیمي ته یوسم د پل شیر دروازه په سیمه کي یوتن چي پلنګي دریشي په ځان کي لري او ځان د ملي امنیت کار کوونکي معرفي کوي له هر موټر څخه زر افغاني اخلي ، چي نومړي موضوع د ۱۱۹ تیلفون له لاري د پولیسو استخاباراتوته رسیږي او د امنیتي قوماندانی پلاوي او نومړي سړي ، چي ځان محمد شفیق معرفي کوي باالفعل نیسي، په دغه سیمه کي عبدالمالک ترافیک هم وایي : چي نومړي ځان محمد شفیق معرفي کوي وایي چي دملي امنیت کارکونکي دي اوله باروړونکو موټرو څخه پیسي اخلي. او دغه راز محمداشرف چي دګذرګاه دسیمی د ګذروکیل دي اظهارات ورکوي.

کله چي دنومړي دنیوني له پاره تصمیم نیول کیږي، نومړي دکابل ښار سیند ته ځان اچوي او تیښته کوي خو دپولیسو دهوایي ټکان له امله دریږي اوتوقیف خوني ته وړل کیږي، چي بیا وروسته په پلټنو کي خپل اصلي نوم محمد عارف معرفي کوي اووایي چي ددریوري دنده لري.

نوتاسي قضاوت وکړي، چي دکابل ښار په زړه کي یوتن په غیر قانوني توګه له موټرو څخه پیسي اخلي او څوک وربانديي خبر نه دي، نو دکابل له ښار څخه بهر به د خلګو او باروړونکو موټرو څه حال وي؟ دجرایم سنګین اوملي امنیت ریاست څه دنده لري ؟

بیچاره ولس دظلم سره عادت نیولي، دهر ظلم زغم کوي.

دي ځاي کي دخلګو دنده هم مهم رول لوبولي شي، مګر چي همکاري نه کوي. وایي چي ( شتره دیدي ویانه ؛؛) فرمول څخه کار اخلي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۳۶)

**کابل بانک**

دایو څرګند حقیقت دي، چي د عدالت په پلي کولو سره په ټولنیز ژوندکي امنیت او ثبات رامنځته کیږي ترڅو چي افغانان له خپل مشروع حق او آزادیو سره چي د اسلام مبارک دین کي ورته ورکړل شویدي تر لاسه کړي او د وسله والو زورواکانو مخه ونه نیول شي هیڅکله به هم موږ پرمختګ و نه شو کړاي.

موږ د زورواکي د یوي بلي بیلګي یادونه کوو، چي سلیم عقل ورته هک پک پاتي کیږي او هغه داچي د کابل بانک د قضیي اداره په خپل یوه لیک کي د قانون د تنفیذ یوه ارګان ته لیکي ، چي د کابل بانک دقضیي اختصاصي محکمی پریکړه کړیده چي د کابل بانک جایدادونه دي له قانون سره سم وپلورل شي، مګر فیروزي او شیرخان حمایه ګر لري.

کله چي د نوموړي جایدادونو چي د کابل بانک په تضمین کي دي ، هغه د شرکت مهرزاد انصاري او د جاویدان شرکت چي په بلخ کي موقعیت لري او دغه راز د زراعتي او مالداري شرکت ، چي په جوزجان کي موقعیت لري څوځله د خرڅلاو له پاره اعلان ته سپارل شوي ، خود زور واکو د اثر او رسوخ له امله څوک نه شي حاضر یدلاي چي هغه رانیسي او د نوموړو شرکتونو حسابونه تصفیه شي او له بله اړخه هغه څوک چي په نوموړو جایدادونو کي او سیږي هغوه دیته نه حاضریږي چي دغه جایدادونه تخلیه کړي. او په دغه برخه کي یي د قانون د تنفیذ ارګانونو څخه د مرستي غوښتنه کړیده. همدا ډول دولتي چوکی هم انحصار دي.

نو تاسي قضاوت وکړي چي زموږ په ملک کي تر څو چي دمحلي وسله وال زورواکانو زور او به نه شي. نه به عدالت پلي شي او نه به هم امنیت تامین شي. هیله ده چي دولت ټرټولو کارونو د مخه دغي ستونزي ته پام واړوي.

دا باید هم وویل شي چي کابل بانک دخلیل فیروزي او شیرخان فرنود دغلا اوناوړو ګټو نژدي یو میلیارد دخلکو سپارل شوي پیسي ضایع کړیدي چي اوس جایداد او ملک په اجباري ډول فروش ته اچول شویدي . دحکومت بي وسی نه بالاخره بي تفاوتي رامنځ ته کړیده.

څوک دوي دواړه دنژدي پیژني. شیرخان دخلګو په پیسو قمار واهه او خلیل فیروزي ، عیاشي او ډیر ودونه کوله . ددوی په هکله محکمه په ډیر بي پروایي،کرار، کرار وخت ضایع کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۳۷)

**په لوګر کې اختلاس**

د یوه باوري خبر ځاي په حواله د هغو لسو لکو دالرو اختلاس موضوع ،چې د ازرې ولسوالي چې د لوګر ولایت پورې اړونده ده راپورته شوه.

وروسته له څیړنې څخه څرګنده شوه، چې په نوموړې سړک جغل نه بلکې خاورې اچول کیږي او 567 کار ګرانو لست چې CADG موسسې ته ورکړشوي وو او یوازې له 250 تنو څخه تر درې سووتنو پکې کار کاوه او هر یوه ته یې دورځې اووه دالره ورکول ،چې د یو سلو شلو ورځو 270 تنو کار ګر، چې کاریې نه کاوه ټول 231000 دالر کیږي د څلورو تنو ترمنځ، چې عبارت دي له عبدالولي رئیس شوراي ولایتي لوګر ، انجنیر عبدالله د عبدالولي ورور، سید اقا د عبدالولي اوښي او حاجي کوچي د لوګر ولایت د ملي امنیت استازي ترمنځ حیف و میل شوي او د نوموړي د حاضر یدو له پاره، چې هر څومره هڅې شوي تر اوسه د موضوع د څیړنې له پاره نه دي حاضر شوي او دغه راز (DAG) موسسې رئیس آقا محمد حسین (حسیني) له خوا هغه 674000 امریکایي ډالره، چې بیرته مسترد شوي ښایي نوموړي رئیس له خوا حیف و میل شوي وي.

نوموړې قضیه چې کشفې ارګانونه یې تر اوسه په حاضر ولو نه دي بریالي شوي لاینحله پاتې ده.

دیته وایي غله چې په لاس کې یې څراغ دي، ددې قضیې دحمایي شاته هم زور واکې او چارواکي ولاړ ؤ، چې دهغې جملې څخه محترم مارشال فهیم ؤ. دې غلو دمارشال صاحب دمهرباني نه ناوړه ګټه پورته کول.

اي سیل بین بیچاره !! چا ته عذر وکړي او چا ته باید وژاړي ، دلته نه یو کس شته، نه څارنوالي او نه دفساد دمبارزې اداره او نه امنیت ملي ، اختلاس کونکي یا غله، پیسې په جیب کې لري، یو څه خو به دوی شریکه وي، او یو څه واسطه او وسیله هم ورسره مل ده .

هر واسطه کونکي دحق او ناحق تپوس نه کاوه، بس ورسره روان شي، دانه وایي چې ولې دي داسي وکړه ؟؟ مارشال صاحب همدا ډول ؤ باید چې خلک خوشحاله وساتي.

احمدزي هم قصاب ته پنچه نه ورکوي، غواړي د همت په سره زور ازمایې وکړي.

دلته هم د سیاسي ارادې څنګ ته توان هم پکار دي.

وایي د ۱۳۹۳ کال د سیګار په راپور کې چې په ورځپانو کی خپور شوی هم دي، ۶ میلیارده افغانی موسسی او کسان د برق د مصرف له خاطره پوروړی دي، چې د پور د اخیستلو او جدی اجراتو د پاره اشرف غني احمدزی د ښاغلي صمدي نه لستونه وغوښتل، چې متاسفانه په سرکې د دوستم نوم لیکل شوی ؤ، چې یو ډیر درست قلم ؤ. احمدزي صاحب ژر ځان تیر کړي او ویی ویل، چې اوس دي وي. دی ته سیاسي اراده وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۳۸)

**د زور واکي يوه بيلګه چي ځوک يي د پوښتني توان نه لري**

د 1392 کال دوري مياشتي په نهمه نيټه نجيب الله رحيمي د نصر الله زوي چي د کاپيسا د ولايتي شورا غړي دی او کوريي د کاپيسا ولايت د تګاب ولسوالي په انار جوي کلي کي دي ، د امنيتي مسوولينو او د آيساف د ځواکونو د ګډو عملياتو په ترڅ کي کور په داسي حال کي پلټل کيږي، چي ګواکي د طالبانو سره تړاو لري.

چي د پلټلو په پايله کي د نوموړي له کور څخه اوه ميله روسی کلاشينکوفونه بدون له جواز څخه ،يوه دانه تفنګچه ، څلور داني پرتلي سره له جبه خاني ، دوه داني کمپيوټرونه ،يو دانه دوربين ،يوه پايه مخابره، مترولا چارجر، دوه داني آيېته، پنځه داني لاسي بمونه او پنځوس زره امريکايي دالره لاسته راغلل ، چي ددغو وسايلو له جملي څخه پنځوس زره دالره يي د آيساف ځواکونو واخيستل. دلته هم ملاحظات زور شول، نوموړي چا بندي نکړ او ازاد ګرځي .

خلک ورته ګوری او دحکومت دا ډول اجراتونه ، په راتلونکی کی به پر نجيب ځوک مټ پر تاوکړي، او نور به هم بی پرواشي.

سيل بين په ښه سترګو ورته ګوری، دی هم لکه نور يوازی دا وايي چي خدايه رحم وکړي.

دمافيا لوړ پوړي غړي، لکه تيمور، حبيب استالفي او رئيس خدايداد سره هم دولتي لوړپوړي سرخوځوي، آن يو دبل باندي يي استعمالوي. دلته يوازي سپيڅلي وجدان او ملي احساس پکار دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۳۹)

**د نکاح په جرم په شهادت رسیدل**

زموږ په هیواد کي ځیني داسي رواجونه دي، چي هغه نه له اسلامي ارشاداتو سره اړخ لګوي او نه هم داوسني زماني له غوښتنو اونه هم له بشري حقونو سره برابردي.

صفي الله مشهور په دادک ؤ اونجلي نعیمه نومیده، کله یي چي وغوښتل دنکاح په موخه له خپلو کورونو څخه چي د بغلان ولایت د احمد زیو دکلي د نوي ویالي له سیمي څخه د یوه کرولا ډوله موټر په واسطه دغوری دسمنتو د بلاکونو پرخواتیښته وکړي ، چي په خواشنیی سره موټریي د ناصر یو په سیمه کي د کنترول څخه وزي او چپه کیږي.

د۱۳۹۲ کال دلندي لسم داتحاد ورځپاني ولیکل:

هغه خلک چي د نوموړي په تعقیب کي ووهغوي نیسي او کلي ته یي راولي په پایله کي علما او سپین ږیري د جرګي په ترڅ کي پریکړه کوي، چي باید دواړه ووژل شي، چي له بده مرغه په 1392/9/3 نیټه د سهار په لسو بجو په ډیر بي رحمانه دواده دجرم په ګناه اعدامیږي.

په داسي حال کي چي د جزا او قانون 425 مادي له حکم سره سم ددغه ځوان هلک او نجلي وژل جرم بلل کیږي، نو هغه څوک چي په دغه وژنه کي لاس لري دقانون سره سم د سزاوړبلل کیږي، خو په هیوادکي عدالت دنشتوالي او زورواکیوته په کتوسره به هیڅکله هم مجرمین یي په سزاونه رسیږي.

دا دظلم یوه نمونه ده ، چي دا دوه تنکي درواج دنه پوره کولو له کبله خپل سرنوشت پخپل لاس کي ونیوله، غوښتل چي په خپله خوښه ایجاب او قبول په چوکات کي نکاح وکړي، مګر په شهادت ورسیدل، روح دي شاد وي او جنت دي ځای شي. دردونکي او دشرم ډکه پیښه ده ، دا لومړي پیښه نده . ولس داسلام تر نامه لاندي ډیر نامسلماني یوړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۴۰)

**اریانا افغان هوایي شرکت**

داساسي قانون ۷۸ یمه ماده حکم کوي ،کله چي د کابیني برحال وزیر د بشر په خلاف جرمونو ، ملي خیانت او نورو جرمونو متهم کیږي، نو د ځانګړي محکمي له خوا جرمي پیښي تر عدلي تعقیب لاندي نیول کیږي، نو له همدي امله عنایت الله قاسمي چي بر حال وزیر دي د نوموړی ددرغلي قضیه په خپل حال باقي پاتي ده . وکتل شي چي په راتلونکي په دغه برخه کي څه کیږي دابه وخت اوزمان ځواب ورکړي.

د منابعو په حواله کله چي عنایت الله قاسمي د ترانسپورت وزیر او نادر اتش د اریانا افغان هوایي شرکت رئیس و پریکړه کوي، چي دوه با له چارتر طیاري لمبر ۷۳۷ بوینګ طیاري رانیسي. موضوع د وزیرانو عالي شورا ته وړاندي کیږي او د وزیرانږ عالي شورا هم په خپله ۲۶ ګڼه مصوبه ، چي ۱۳۸۴ کال د تلي د میاشتي په څوارلسمه د تایید وړ ګرځي.

په پایله کي نادر اتش او عنایت الله قاسمي له بو ینګ شرکت سره دتړون له مخي ۷۳۷ بوینګ طیاري له پاره ۲۷۹۰۰۰۰ دالره چي د میاشتي ددو بالو طیارو سره جمله ۲۷۹۰۰۰۰ دالره کیږي نوموړی شرکت ته ورکوي.

څرنګه چي د اریانا الوتنه بهر ته په تور لست کي راځي. نوموړی پرته له دي چي دغه موضوع په پام کي ونیيسي د تخنیکي دوه باله چارتر طیاري تسلیم او له امریکا څخه لندن ته لیږدول کیږي او دتخنیکي حمایي له پاره استرس شرکت ته ۱۳۲۸۱۸۲ دالره ورکوي ، خو بیا هم له تور لست څخه نه ایستل کیږي ، نو بیا نادر اتش ایکل اویشن فرانسوي کمپنی ته ۱۵۴۳۰۳۵ یورو او ۱۸۳۲۱۰۶ دالره ورکوي ، خو له نوموړو طیارو څخه ګټه نه اخیستل کیږي.

پرته له دي چي د نوموړو طیارو تخنیکي او توناژ او همدارنګه تخنیکي راجستریشن تایدي په پام کي ونیول شي، پورتني پیسي شرکتونو ته ورکړیدي اوالوتکي راونه رسیدي.

نو له دي امله ټولي ۸۶۵۰۷۸۰ دالرو او ۱۵۴۳۰۳۵ یورو یي ددولت بودجي ته زیان رسولي او د موضوع په اړوند ګرم بلل کیږي او په دغه برخه کي مسولیت یقني دي.

هیڅ ډول احساس او مسؤلیت نشته ، پیسي دود شوي، نه نادر اتش ته چاڅه وویل او نه عنایت الله کش شوو. پیسي هم ولاړي او الوتکي هم را ونه رسیدي.

پردي سربیره عنایت الله قاسمي دځلورو المانیانو سره د اریانا شرکت دپښو درولو په خاطر قرارداد درلود، چي پر هیڅ انصاف او منطق برابر ندي. هیواد په همدي ډول چور او خراب شو.

ددي المانیانو سره دورځی دوه زره ډالره معاش قرارداد شوی ؤ، چي په اریانا شرکت کي بازسازي وکړي.

ایا څوک دي دامریکا د ( اوباما ) معاش پوښتنه وکړي، چي د ورځي څومره معاش لري؟

ای افغان ولسه ! خدای (ج) دي چاره او رحم درباندي وکړي. دلته هرڅه د ( ازکیسه خلیفه ) ورکول کیږي.

استاد برهان الدین هم یوه الوتکه پر ایران خرڅه کړه. کله چي په یوه مجلس کي تري پوښتنه وشوه، جواب یي داؤ ، چي ( یادم نه مانده ).

کمونستي لومړی وزیر کشتمند هم د ( کندهار ) الوتکه پر ایران خرڅه کړه. دهیواد په بربادي کي د یوي ډلي او بلي ډلي تر منځ چندان توپیر نه لیدل کیږي. بیچاره سیل بین په سرو سترګو ورته غټ، غټ ګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داریانا افغان هوایي شرکت بیارغاوني

رپوټ داسي پیلېږي چي دجمهوري ریاست دمقام له خوا د ۲۷ ـــ ۵/۳/۱۳۸۳ ګڼه فرمان له مخي یو پلاوی، هر یو بسم الله بسمل، دترانسپورت پخواني وزیر عنایت الله قاسمي، دجمهوري ریاست دمقام مشاور نورالله دلاوري، دافغانستان بانک رئیس او نادر اتش دوخت داریانا رئیس په ترکیب ګماري ترڅو دنوموړي شرکت په بیارغاونه کي کړني تر سره کړي.

خو پلای فرمان دامانت او دولت دګټو پر خلاف دلفتانزا شرکت سره یو تړون لاسلیک کوي چي ددقت وړ او ډیر بي زړه سوی شویدي.

1. دهر یوه بهرني مشاور له له پاره دورځي ۱۶۵۰ ډالره له نورو امتیازاتو سره ۶ تنه استخدام شول.
2. هغه تجارتي پلان چي جوړشوي ؤ عملي نه شو.
3. د سبر سیستم وصل کیدل چي غیر ضروري او زیات لګښت سره
4. د ۳۰ تنو کارمندانو جذب درقابت له لاري، چي کورسونه ورته اماده نه شول.
5. دټکټونو دفروش نماینده ګي په زیات لګښت سره.
6. داریانا شرکت له تور لست څخه ونه ووت.
7. ۳۱۱۲۳۰۷ ډالره دهیڅ د پاره دولت ته زیان را واوښت، چا بازخواست هم ونکړ.

بي پروایي، چي انصافي هم تر سرحد تیره شویده، یو څوک دي ووایي چي څوک خپل کور پخپله خرابوي. ایا په نړۍ کي داسي مامور یا مستخدم شته چي د ورځي ۱۶۵۰ دالره معاش ولري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۴۱)

**د حاجیانو انتقال**

د افغانستان د اسلامي جمهوریت همیشه بې دریغه هڅه او هاند کوي ، تر څو د بیت الله شریف د حاجیانو له پاره مساعد شرایط برابر کړي او دغه موضوع ته یې د خپلو کړنو په سر کې ځای ورکړیدی.

خو د خواشینۍ ځاي دي، چې ددولتي مقاماتو دغه هیله همیشه د ترانسپورت او دحج او اوقافو وزارتونو د مسؤلینو له خوا له ستونزو سره مخامخ کیږي.

د باخبري سرچینو په حواله په ۱۳۸۷ کال کې د ترانسپورت وزارت، چې وزیر یې حمید الله قادري و او د وزیرانو شورا له خوا د هر حاجي له پاره د لیږلو ټول لګښتونه محاسبه او پریکړه یې وکړه، چې په ټولنیزه توګه دي هر حاجي ۵/۱۳۶۸ دالره ثبت او هغه ۶/۱۳۱ دالره ، چې مخکې د ترانسپورت وزارت له هر حاجي څخه زیاتي اخیستي وي بیرته ورکړي.

د حاجیانو د لیږدولو له پاره د وزیرانو شورا له دیرشمي مصوبې سره سم، ددیرش زرو حاجیانو لیږدول د ګلوبل خدماتي او تجارتي شرکت سره تړون وکړ. او پریکړه یې وکړه، چې دغه پیسې به په درو مرحلو کې ورکوي.

خو د ترانسپرت وزیر پرته له دي ، چې د وزیرانو د عالي شورا مصوبه په پام کې ونیسي، سربیره پردي چې د حاجیانو پیسي یې ورنکړي نوموړی تړون تعدیل کړ.

حمیدالله قادري سربیره پر هغه وړاندیز چې اړوندو مامورینو د حاجیانو د انتقال د پروسي له پاره د ترانسپورت وزیر ته کړي وو، نه مانه او وروته ویلي یې و، چې زه په خپله دغه چاري پرمخ وړم.

خو څرنګه چې نوموړی شرکت دپرواز اجازه له سعودي عربستان څخه پر وخت وانه خیستل شوه نو د حاجیانو د لیږد په بهیر کې ستونزي رامنځته شوي .

حمیدالله قادري په خپل دغه کار سره د افغانستان ملي او بین المللي حیثیت ته په معنوي زیان اړولو سره ۹۴۵۰۰۰ دالره مالي زیان دولت ته واړاوه او دغه کار ددي سبب شو، چې حاجیان په مظاهرو لاس پوري کړي.

وزیرصاحب قادري دمالیزیا هیواد دګلوبل او ناس کمپنۍ سره، د حاجیانو دانتقال قرارداد بیله دتضمین لس ملیونه دري سوه شپږپنځوس دالره پیشکي حواله کړي، چې دا شرکت اصلاً دترانسپورت سابقه او تجربه نه درلوده او داشرکتو پرزه فروشي کوله ، ددي هیواد څه کم یوولس ملیونه دالره په اوبو کې لاهو شوي.

حمیدالله قادري بې خاره خپل ژوند ته دوام ورکوي. او په ۱۳۹۳ کال ریاست جمهوري ته هم په سرو سترګو کاندید هم ؤ، خدای فضل وکړ چې دټاکنو دکمیسیون لخوا وایستل شو.

ریښتیا خبره ده چې دلته دخاین او خادم توپیر لږ کیږي. دي دسختي سزا وړ دي اما،اما ........

حمیدالله قادري یوازي نه دي . دحج او اوقافو وزارت او ترانسپورت وزارت ښه شګوم نلري.

پخوانی وزیرداکتر عبدالرحمن هم په قتل ورسید ، میرویس داسمعیل زوي هم ووژل شو، صدیق چکري په اختلاس لاس پوري کړ وتښتید، نعمت الله شهراني هم په یوه ورځ پنځه سوه زره دالره حواله ورکړه، تر اتهام لاندي شو.

چاورته څه ونه ویل، عنایت الله قاسمي دترانسپورت وزیر د بوینګ الوتکو په رانیولو کې ملت او دولت ته په ملیونونو تاوان ورساوه چې تفصیل به یې په بل ځاي کې راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۴۲)

**کاستر او که پلانکوچ ؟**

دشیر خان بندر ریاست خپل وړاندیز دسوداګرۍ وزارت ته وړاندي کوي، چي یوه کاستر موتر ته ضرورت لري اودسوداګري وزات دمقام له خوا منظوریږي، په همدي حال بیا وړاندیز کوي چي د کاستر پر ځاي پلانکوچ وپیرودل شي، بالاخره یوه عراده کاستر موټر په ۱۵۹۵۰۰۰ افغانۍ پیري، چي موټر باید نوي وي ، مګر برعکس موټر دزوړوالی له امله دشیرخان بندر مامورین شکایت کوي، چي دپیریدني په کار کي درغلي شویده، موضوع پلټني ته ځي، په پلټنه کي څرګندیږي چي ۵/۵/۱۳۹۰ کال دپیریدني دپلاوي له خوا پیردل شوی او تر ۱۶/۷/۱۳۹۰ د ګټي اخیستني وړنه ؤ او وروسته له دغه نیټي څخه په ډول ډول تخنیکي عوارضو سره ۲۵ ځله مخ کیږي چي په یو زیات شمیر پیسو ترمیم کیږي.

خو کله چي پوهیږي چي داختلاس دغه قضیه افشا کیږي ، نو موټر بیرته مالک ته سپارل کیږي خوبیا هم څلور تنه په نوموړي قضیه کي مسؤول بلل کیږي، داچي له مسؤلینو سره څه وشول موږ ورڅخه رپوټ نه لرو. کوم عراده موټر چي د ۱۰۴۴ نمبر تاریخ ۸۸/۷/۱ پواسطه دوزارت لخوا منظور ورکړه شویدي ، که څه هم یوه عراده موټرؤ ، مګر بیا هم په څرګند ډول پکي خیانت وشو، چي یو مثال ؤ.

کوم هدف او احتیاج چي ؤ هغه رفع نه شو، خیانت او ناوړي ګټي په نظام کي تر دي اندازي دود شویدي.پورتنیموټر آن پر لاري بندر ته لا نه وه رسیدلي چي خراب شو.عزیز الله دهیات غړی، چي کوم اعتراض لري، مګر دبندر رئیس هغه نه مني او اختلافات رامنځ ته کیږي. دا دود دي، چي دخریداري هیات لږ او ډیر خپله برخه پکي لاس ته باید راوړي. داچي وروسته څه کیږي، هغه نو پر خدای توکل دی. که کوم څوک داسي خریداري او یا قرارداد پیداکړي، چي درغلي او یا بډي پکي ندي اخیستل شوی، جایزه باید ورکړه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۴۳)

**د پوهني وزيراو د وکيلانو امر**

هشت صبح ورځپاني په خپله ۱۳۹۲ کال د لندي د مياشتي په شلمه نيټه د پوهني د وزير له خولي وليکل، چي ددولتي چارواکو د مداخلي له امله څه نشي کولاي .

د پوهني وزير فاروق وردګ ،چي د مشرانوجرګي په عمومي غونډه کي وويل: چي دده د شکايت سره يو والي له دندي ګوښه نه شو او د زورواکی له امله په خپل ځاي پاتي شو، که څه هم هغه د والي نوم و انخيست خو ويي ويل: چي د ځينو واليانواو چارواکو په مقابل کي عاجز دي.

د پوهني وزير د معارف د رئيسانو د تبديلي په برخه کي وويل: تر څو چي دي په وزارت کي دی، نو هغه رئيسان چي له مخالفينو سره لاس لري مقرريدلاي نه شي .

وردګ د ځيني هغو معلمانو چي په مدرسو او ښوونځيو کي دندي سرته رسوي او ادعا کوي چي په پاکستان او ايران کي يي زده کړي کړيدي، خو اسناد نه لري د مشرانو جرګي دغړو د واسطي له امله مقرريږي او نشي کولاي د هغو ديني عالمانو د کاميابي او مقرري رد کړي چي د ملي شورا د غړو له خوا معرفي شويدي .

هغه دا هم وويل: چي ځيني سناتوران د پوهني د رئيسانو د تبديلي په اړوند مداخله کوي، چي تصميم يي له ستونزو سره مخامخ کوي.

د پوهني وزير له سناتورانو وغوښتل، چي له ده سره د ستونزو په حل کي مرسته وکړي.

وکيلان او سناتوران نه يوازي د پوهني وزارت کي مداخله کوي ، بلکي دمؤکل تر عنوان لاندي په هروزارت او اداره کي په ډيره بي باکي او جسارت مداخله کوي.

په هيواد کي د ګډوډۍ او فساد لوي عامل همدا دوي دي او کميشن کاري ورته مباح کار بلل کيږي .

د ۱۵ دوري وکيلانو چي قرضه او وسله اخيستي وه، او بيا بلي دوري کي ناکام شول ، نه يي وسله تحويل کړه او نه يي خپل پور ادا کړ. که ريښتيا خبري ورته وکړي ځان توهين شوي بولي او ادعا کوي چي ملت توهين شؤ.

په ډاګه بايد وويل شي، چيرته چي فساد دي، وکيل په کي لاس لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۴۴)

**قاچاقبران او قاضیان**

دکشفي ارګانونو د هلو ځلو او خبرتیا له امله، هر یو حاجي لعل جان د نظر محمد زوی ، چي د هلمند ولایت اوسیدونکي، د مخدرو توکو لوي قاچاقچیان بلل کیږي د عملیاتو په بهیر کي نیول کیږي، د هغو دخالت په قاچاق کي په اثبات رسوي.

د پلټني په پایله کي ثابتیږي چي ۱۴۳ کیلو ګرامو هیروئینو او د ۷۰۰ کیلو ګرامو تریاکو،تور پوري شوي.

دغه راز ۲۴۸ کیلو ګرامو هیروئینو او له ۶۰۰ کیلو ګرامو ځخه زیات تریاک، چي ۱۳۹۱/۹/۱۴ کال کي ونیول، چي تور یي په جان محمد پوري شوي چي په حاجي لعل جان حاجي امان الله او احسان الله پوري تړاو در لود، نو د اثباتیه اسنادو په درلودلو سره د مخدرو توکو سره د مبارزي د استیناف محکمي او ابتدائیه محکمي له خوا په ۲۰-۲۰ کاله تنفیذي بند محکوم شول ، مګر د ستري محکمي د عامه امنیت ددیوان په ۴۵۵ -۲۲-۳-۴ قضایي غونډه کي هر یو لعل جان ، امان الله او احسان الله پنځلس ، پنځلس کاله بند تخیف راځي، مګر پلان ورته جوړیږي.

ستره محکمه نرمش او تفاهم نیسي ، زور او زر دلته هم کار کوي. په بي نتیجي تجدید نظر اقدام کیږي. بالاخره په مشروطه خوشي کولو ئي هم لاس پوري کیږي. او لعل جان دکابل نه کندهار ته تبدیل شو.

دلته پوښتنه رامنځته کیږی چي نور به پدي هیواد کي پرچا اعتماد وشي ؟ د ښاغلي عبدالسلام عظیمي د ستري محکمي رئیس لاس پر پروت ؤ. پدي هکله ډیري ناروا خبري اوریدل کیږي، ممکن واقعیت ولري،البته په خصوصي محفلو کي اکثراً خبري ریښتیا او بي غرضه وي .

۲۰ کلن محبوس په یوه بدنامه قضیه کي، قاضي القضات دهغه امر ورکړ چي خوشي شي، پیسو دلته هم خپل نقش بازي کړي ؤ. دکابل د ۴ مي حوزي قاضي یي امر ونه مانه ، برطرفه شو ، مګر دکندهار دابتدائیه قاضي تر تاثیر لاندي راغی. شل کلن بند د بند نه خوشي او فرار وکړ. لعل جان دنړۍ دهغو۵ تنو نامتوقاچاق بر ؤ، لکه یو روسي او بل د جنوبي امریکا نه ؤ.

پداسي پیښو کي نه عدالت مد نظر ؤ او نه اخلاق ، همدا ستره محکمه وه چي نامتو وژونکي اسدالله سروري د نور محمد تره کي د وخت د اکسا رئیس ، چي زموږ د هیواد په زور ځه ، آن په لکو بي ګناه کسان ځیني د الوتکو راواچول او ځیني یي ژوندي ښخ کړل. د ابتدائیه محکمي حکم چي په اعدام محکوم شوی ؤ ، نقص کړ. د ستره محکمي دا د نقص فیصله د جنرال عبدالخالق قاضي لخوا ، چي تینګه کمونستي سابقه لري ، پدي واسطه پدي ډول ادا کړ،صادره شوه، البته چي د قاضی القضات تفاهم شرط دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۴۵)

**د قضا استقلالیت**

روح الله خروټي چي د سپین ګل زوي او د ۱۹ کیلو ګرامو هیروئینو په تور په ۱۹/۲/۱۳۸۵ نیول کیږي او د مخدرو توکو سره د مبارزي د محکمي له خوا د ( ۱۵۷ ) - ۸/۹/۱۳۸۵ فیصلي له مخي بري الزمه پیژندل شوي، مګر قضیه د استیناف د محکمي له خوا څیړل کیږي د ۲۳ ــ ۱۴/۲/۱۳۸۸ فیصلي له مخي نوموړی غیا بآ په ۱۶ کلونو بند او ۱۵۰۰۰۰ افغانیو نغدي جریمي محکوم کیږي ، او په پاي کي د جمهوري ریاست د مقام د بیلا بیلو فرمانونو په ترڅ کي ټول دولس کاله او څلور میاشتي د بند تخفیف اخلي او عملاً دري کاله او اته میاشتي یي په بند کي تیري کړیدي .

روح الله خروټي چي په ۱۶ کاله بند محکوم ؤ ، په ازادانه ډول ګرځي. د ۱۶ مي دوري ولسي جرګي ته کاندید او کمپاین یي هم کاوه ، مګر چاونه نیوي، ابتدائیه محکمي چي دبرائت حکم ورکړي او استیناف او تمیز ۱۶ کاله، مګر ستري محکمي د تفتیش دقانون او منطق پر بنا دابتدائیه محکمي نه ددي پریکړي په هکله پوښتنه ونکړه ، ولي چي دقضا ازادي به خدشه داره شي.

دقانون نه فرار یوازي دروح الله خروټي هلي ځلي نه وي ،بلکه لوړپوړو چارواکو حمایه یي په څنګ کي وه، دی دخپلو پیسو په زور به یو ولایت نه بل مساعد او مناسب ولایت ته تش په نامه زندان ته په اسانی تبدیلي دي . سپارښت او واسطي په څنګ پیسو هم پوره رول درلود، مارشال صاحب فهیم هم ورسره خواخوږي درلوده .

دلته اعتراض دا ندي چي خروټي صاحب د ۱۶ کالو بند پر ځاي یوازي دري کاله بند تیر کړ، بلکه قاضیانو ته هم سوال راجع نشو، دحکم تفاوت ډیر لوړ دي، یا باید دابتدائیه قاضي ګرم او محکوم شي چي عدالت یي ندي تامین کړي . داستیناف قاضي یو ددي دو محاکمو نه بلید وپوښتل شي.

دلته طالع ورسره ملګري ونکړه، که چیري بریالی وکیل شوی وای لکه نور، بیا به دحکومت زور نه په رسیدای. په ګیر راغلي، مګر بیا هم ټول حکم په پوره ډول پر تطبیق نشو، دلته به هم ثروت کار کړیوي او یا د متنفذ قدرت.

عدالت چي پر اخلاقو ولاړ دی، زموږ هیواد کي بیله هغه کمرنګه دي. بازخواست نشته ، زور حق دي او حق زور ندي.

د ۱۳۹۳ کال په ورستیو کي بهرني مطبوعاتو د استاد عطا نور د قاچاق ، بدماشي، تروررونو او غصب په هکله ډیر څه لیکلي ؤ. اوس باید ومنل شي ، چي د اشرف رمضان قتل او خپل د امنیتي قوماندان خاکریزوال ته توطیه دده لخوا ثابته ده، چی هغه یي د قاچاق پطور بندي کړ. د ۱۳۹۳ کال د ریاست جمهوري په ټاکنو کي د ډاکټر عبدالله په پلوي ، جمعه خان همدرد ته لار ونیول، اقدام په وژنو سو، همدرد بچ او څلور تنه محافظین یي ور ووژل ، څوک دي چی بازخواست وکړي؟

دا یوازي استاد عطا ندي، بلکي زموږ هیواد د بدماشانو ډک دي. بل مثال ، دین محمد جرئت هم داکتر عبدالرحمن د ټولو په مخ کي په سپینه ورځ ووژي. د باباجان او وکیل رحماني په بګرام کي د ټاکنو پر محال هم خپل حریف د عصمت ورور مړ کړ، چي هیڅ رسنی خبور نکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۴۶)

**د ناموس ساتونکی او که دناموس غل ؟**

د یوي باوري سرچیني په رپوټ کي ویل شوي، چي طارق حکیمي دعبدالوکیل حکیمي زوي د پولیسو افسر له خپلي میرمني سره د۱۳۸۸ کال د مرغومي د میاشتي په شپاړسمه نیټه د یوه پولیس افسر چي نوم یي میر احمد شاه دي، د میلمه په ډول ورځي اوتر سبا خپله میرمن مرضیه هلته پریږدي، سبا شپه بیا هم له دوو تنو ساتونکو سره نوموړی کور ته ورځي او له ډوډۍ خوړلو وروسته خپله میرمن د کور دهلیز ته رابولي او ورته وایي، چي سبا ته له خپل ورور سره جلال اباد ته ولاړه شه او زه امریکا ته ځم ، د طارق میرمن ورته وایي چي ته دروغ وایي بل کوم پلان لري ، په دي توګه ددواړو تر منځ ستونزه پیداکیږي، چي له همدي امله میر احمد شاه او میرمن یي فوزیه نومي او سمینه دهلیز ته راځي، ښځه او میړه له جګړي څخه خلاصوي ، په همدي وخت کي طارق احمد شاه ته وایي، چي راضیه لور دي راکړه، وروسته له جنجال څخه د طارق دوه ساتونکي او په خپله میراحمد شاه په زور یوي کوټي ته ننباسي او راضیي ته وایي چي له ما سره ولاړه شه که نه ټوله کورني دي وژنم .

هماغه وو چي راضیه نومي طارق په زوره بیایي او د شپي له نهو بجو څخه ۱۳۸۸ د مرغومي د میاشتي په اوه لسمه تر نهو بجو د ښاره ورکیږي ، چي وروسته طارق نومي نیسي او لور یي په لسمه امنیتي حوزه کي پیداکیږي.

میر احمد شاه هم د تحقیق په وخت دغه موضوع تائیدوي او راضیه هم په خپلو اظهاراتو کي چي په پورتني تاریخ دشپي اته بجي یي زه په زوره بوتلم او راته ویل یي، که ولاړه نه شي نو توله کورني دي وژنم ، او زه یي پنجشیر ته بوتلم او د شپي دري بجي یي بیرته کابل ته راوستم په دغه موده کي سربیره پردي چي جنسي تیري یي راباندي وکړاو لسګونه نور زشت عملونه ، نوموړی وایي له دغي پیښي دري ورځي دمخه زما پلار د طارق په کور کي مبلمه وو او زما غوښتنه یي ورڅخه کړي وه او پلار مي ورته ویلي و چي درمي کړه. حکیمي ددي دپاره چي تجاوز اسانه شي راضیه ته چرس هم ورکوي او دمرګ په تهدید سره پري تجاوز کوي.

راضیه وایي: چي طارق زما فرج په خوله وځبیښي.

لنده داچي موضوع محکمي ته ځي او د کابل ولایت ددویمي حوزي ابتدائیه محکمه په خپله ۳۷ ـــ ۲۹/۸/۱۳۸۹ فیصله کي طارق حکیمي په پنځلس کاله بند محکوموي، خو د بهرنیو او کورنیو جرمونو پرخلاف د مبارزي استیناف محکمه هغه رد په خپله ۱۰۴ـــ ۲/۵/۱۳۸۹ فیصله کي طارق حکیمي په شپږو کلو نو دبند سزا محکوموي، وروسته د جزا د استیناف محکمه په ۱۳۴۱ـــ ۱/۸/۱۳۹۰ فیصله کي نوموړی په یوه کال او نهه میاشتي او دیارلس ورځي محکوموي، او په دي ډول د زورواکي او اختطاف قضیه پاي ته رسیږي. او قضا پدي ډول ظالم ته نجات ورکوي.

دسید احمد شاه کورني چي ظلم ورسره وشو، عزت او عفت یي پایمال شو، وطن ترک واهه ، چایي بازخواست ونکړ، دخپلي کورنۍ سره ژوندي ورک شول.

وګوري دا تفاوت، دلته به هم زور او یا زر پوره نقش لوبولي وي.

دلته طالباني شرعیت په کارؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۴۷)

**د ۲۵۳۵۶۸۲۵ افغانیو اختلاس**

" فساد ددي سبب کيږي چي يو غوره او ښه اداره او يا سازمان په يوه ناوړه سياسي اداره بدله کړي".

د همدي مقولي پر بنياد په ځينو ادارو کي فساد تر دي کچي رسيدلي دي، چي په خلاص لاس او پرته له دي چي د پوښتني په اړوند کومه ويره ورسره وي لاس پوري کوي. همدا ده چي اوښ د باره سره په بډه وهل کيږي.

د سرچيني په حواله د ماليي په وزارت کي د ۲۵۳۵۶۸۲۵ افغانيو د اختلاس قضيه د اسي رامنځته کيږي :

د ماليي وزارت د خزاينو د رياست او د محلي ارګانونو د خپلواکي اداري کارکوونکي، چي نومونه يي احمد سهيل، محمد طاهر ، محمد منير، احمد صميم ، محمد معصوم، ذبيح الله ،ضيأ الرحمن، اقامحمد، حميدالله راحل، محمد سليم لطيف، بشير احمد ، او محمد ابراهيم يو بل ته لاس ورکوي او په اختلاس لاس پوري کوي.

خو کله چي د کال په پاي کي د قطعيي فورمي د کنترول او تفتيش داداري له خوا څيړل کيږي، په حساب کي تفاوت تر سترګو کيږي.

کله چي فورم په ۲۷ او ۳۳۵ ــ ۲۸/۲/۱۳۸۹ ګڼه چي ۳۵۶۶۹۷۲ افغاني په ۵۹۰۰۰۲ کود، د افغانستان دثبات پروګرام د فرخار ولسوالی له پاره د محلي ارګانونو داداري په ادرس تخصيص صادريږي، وروسته دغه فورمه د خزاينو د رياست د انکشافي مسولينو له خوا سکن کيږي او نوم او تفصيل ته يي د نورو ولسواليو په نامه تغير ورکوي او شميره يي هم تغير ورکوي او په نتجه کي يي ۲۵۳۵۶۸۲۵ افغانۍ دبانک نه وزي او حيف و ميل کيږي.

وروسته له څيړنو څخه داداري فساد پر خلاف د مبارزي د ابتدائيه محکمي د ۱۲۸ــ ۳۰/۱۰/۱۳۹۲ فيصلي په اساس هر يو احمد سهيل ثابت د عبدالصبور زوي د خزاينو د رياست کارمند او محمد طاهر رشتيا د عبدالرسول زوي چي د ثبات د تحکيم داداري مالي مسؤل دي ددغه تزوير او اختلاس په اړوند په پنځو پنځو کلونو او د اختلاس شويو پيسو او د هغه معادل حکم کوي او محمد منير د محمد انور زوي ، صميم د محمد قاسم زوي د خزاينو د رياست کارکوونکي په شپږو شپږو کلونو او د اختلاس شويو پيسو او دهغي په اندازه د جريمي د ورکړي په سزا او محمد معصوم فرهاد د عبدالحکيم زوي دثبات داداري پخواني رئيس او کنترولر ذبيح الله د محمد شفيع زوي ، د ثبات د تحکيم د اداري د مالي بخش کارمند ضيأ الرحمن د حبيب الرحمن زوي د نوموړی قضيي د اختلاس په تور په دري دري کاله تنفيذي حبس سزا محکوم او باقي کسانو برائت تر لاسه کړ. دايوه استثنايي پيښه وه، چي مجازات پکي راغلل. او قريشي ددي قضيي اصلی عامل د فرار په حال کي ژوند کوي. فکر نه کوم چي قريشي به ونيول شي، څه وخت وروسته نه څوک علاقه لري او نه دلچسپي ، کرار کرار به هير شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۴۸)

**د حاجیانو خرڅول**

د یوي باوري سرچیني په ریوټ کي ،چي د حج واو قافو د پخواني وزیر محمد صدیق چکري، سلګونو زرو ډالرو داختلاس د قضیي په اړوند لیکل شویدي په کي راغلي دي : نوموړی ریوټ چي ډیر اوږد دي نو موږ یي لنډیز را اخلو .

د هیواد امنیتي مسولین خبر تر لاسه کوي، چي دري سوه ۶۲ زره امریکایي ډالر او ۴۴ زره سعودي ریال چي په سعودي عربستان کي، د افغانستان د حاجیانو د اوسیدني د ځاي او د هر حاجي پر سر دوه سوه سعودي ریاله تر لاسه شویدي ، د حج و او قافو د وزارت خزانه دار محمد نور او د نوموړی وزارت د جنوب غرب د حوزي د مدیر فضل الله له خوا لیږدول کیږي .

کله چي نوموړی له طیاري څخه کښته کیږي او تلاشي کیږي، له هغوي څخه دري سوه او دوه شپیته زره دالره او څلور څلویښت زره ریاله تر لاسه کیږي.

لنډه داچي کله له نوموړی څخه تحقیقات کیږي، نو څرګندیږي چي د نوموړی وزارت په وړاندیز او د جمهوري ریاست د مقام په منظوري هر یو ډاکتر شفیق صمیم معین ، بریالي شریفي اداري رئیس، کرامت الله صدیق، حامد مرتضي، شاه اغا مرادي دبهرنیو چارو وزارت استازي ، عبدالصمد د مالیي وزارت استازي، فضل الله قاضي زاده د نوموړی وزارت د جنوب غرب زون مدیر، دملي امنیت د ریاست استازي او نجیب الله امین د چارو داداري استازي ګمارل کیږي، تر څو د حاجیانو د انتقال ترون په سعودي عربستان کي وکړي.

مخکي له دي چي نوموړی پلاوي سعودي عربستان ته ولاړ شي، محمد صدیق چکري او ددغه وزارت خزانه دار محمد نور ، قاضي مختار ، شریف رباطي او معصومي عربستان ته روانیږي .

چکري په خپل استوګن ځاي کي دداو طلبو شرکتونو له استازو سره ګوري ، خو عبدالرحمن لبني د افواج توبه شرکت رییس او یو تن د نوموړی شرکت استازي له چکري سره لیدنه کي پردي توافق کوي، چي د رشوت په مقابل کي به نوموړی شرکت ترون ګټي او د هر حاجي پر سر د ۱۵۰ ریالو ورکړي سره پایلي ته رسیږي او له یاد شرکت څخه یو سل پنځوس زره ډالره پیشکي اخلي او محمد نور خزانه دار ته یي سپاري.

چکري محمد نور خزانه دار ته داهم وایي چي نوموړی شرکت پنځه لکه دالر نور هم ور ته سپاري.

او سپارښتنه ور ته کوي، چي هغه به افغانستان ته راوړي ، وروسته یونس نومي د پنځو لکو دالرو تحفه وزیر ته په یو بکس کي ، چي د هوایي ډګر له تالاشي څخه تیرشوي دي محمد نور خزانه دار ته سپاري، چي په کابل کي چکري ته وسپاري ، چکري بیا هم محمد نور خزانه دار ته تلیفون کوي، چي کتابونه یونس نومي تاته وسپارل ، هدف له کتابو نو څخه پیسي دي ، چي په پایله کي ۳۶۲۰۰۰ دالره د محمد نور اطاق ته ور وړي او هغه ته یي سپاري ، هغه هم ددي له پاره چي تر څو چکري ته دغه پیسي ور نکړي هغه نوموړی شرکت ته دورکړي حواله نه امضاء کوي.

چکري کله چي د استاد رباني په واکداري کي د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر وو ، په بد اخلاقي شهرت درلود، په اطلاعاتو او فرهنګ کي میرمنو چي اوږده نوکان درلوده ، ده به ورته ویل چي استنجابه څنګه وهي ؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد نور نومي خزاندار په ۱۵ کاله بند محکوم شو . چکري لندن ته فرار وکړ، انګريزان پر ټينګ شول ،ولي چي انګريزي تابيعت يي درلود ، بناغلي رباني دده دپاره دکرزي سره دملاقات زمينه مساعده کړه . چکري دجمعيت اسلامي دګوند دژبه ورو کسانو نه ؤ چي ډير انتقادونه يي کول ، دولسي جرګي نه يي داعتماد رايي يو نه وړه ، مګر سرپرست پاته شوو. استاد سياف کوم ځاي کيسه کړيوه چي رئيس جمهور ته يي مشوره ورکړي وه ، ددي دپاره چي دچکري انتقاد خوله پټه شي وزارت دي ورکړي ، له همدي کبله چکري تغير جبهه وکړ. وايي دا دپيسو موضوع هم دجميعتانو لخوا دامرالله صالح پواسطه ورته جوړه شوه ،که څه هم واقعيت درلود .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۴۹)

**په پښتني بانک کي د اختلاس د يوي بلي قضيي بيلګه**

ضيا احمد د صفي احمد زوي چي د پښتني بانک د مليو نو ډالرو په تور بندي دي، د خپل خلاصون او بي ګناهی په اړوند خپله عرض پاڼه امنيتي ارګانونو ته وړاندي کوي.

کله چي د هغه په اړوند څيړنه کيږي په پاي کي معلوميږي چي نوموړی د پښتني بانک د تجزيي او تحليل مدير وو او د نوموړی بانک د مليو نونو ډالرو د اختلاس شريک دي، نيول شوي او تر توقيف لاندي دي.

په پښتني بانک کي د اختلاس قضيه لکه چي زموږ ټولو هيواد والوته معلومه ده، چي د پښتني بانک د ځينو مسوولينو او د يو شمير شرکتونو او انجينرانو ددرغلی په پايله کي مليونونه ډالر اختلاس اوکوم جايدادونه چي د قرض په عوض بانک ته په تضمين ورکړل شوي ، نه جايداد وجود لري او نه هم کومه اداره د هغي مسووليت پر غاړه اخلي .

د نورو تورنو په ډله کي ضيا احمد نومي هم د ۱۵/۱۰/۱۳۹۲ کال د يوه قرار له مخي، د کورنيو چارو وزارت ددرنو جرايمو سره د مبارزي د پوليسو له خوا نيول کيږي .

نوموړی د طرز العمل پر خلاف د ميوند ميرکي شرکت رئيس ميوند د عصمت الله ميرکی زوی ته ددري سوو زرو امريکايي دالرو، چي د ۱۴۵ ـــ ۱۲/۱۱/۱۳۸۹ داداري فساد پر ضد د مبارزي دابتدائيه محکمي د قرار له مخي، چي په کي ويل شوي : هغه اشخاص چي په لاسليک يي پيسي اختلاس شوي وي، د عدلي تعقيب وړ دي ، نو ضيا احمد هم په هغه ډله کي دي، چي د نوموړی شرکت له پاره يي د قضيي د ورکړي وړانديز کړيدي .

دا يوازي ددغسي درغليو يوه بيلګه ده ،چي موږ يي ليکو، حيات الله دياني ددي بانک رئيس دنور ډيرو فساد په څنګ کي، د ميرکي داختلاس په قضيه کي هم تر تور لاندي دي .

تش په نامه دميوند ميرکي شرکت هيڅ وجود فزيکي نه درلود، دخلقي قوماندان زوي، قباله غلطه، شاهدان غلط، ضامنان غلط. دپښتني بانک دمسؤلو مامورينو په مرسته دري سوه زره دالره وايستل شول. دپورتني قرار له مخي ميوند ۶ کاله حبس او پلار يي ۳ کاله بند محکوم شو . عصمت الله په زندان کي مړ شو، مګر پيسي په لاس نه راغلي.

دا جوته ده، څوک چی نفوذ لري، هر څه کولای شي. د نفوذ د لاس ته راوړلو د پاره ثروت دي قدرت.

څوک چي پخپله په ګيډه موړ نه وي، ددي نه به څه جوړ شي، نه د قو م په درد خوري او نه د ګوند.

که ثروت وی قدرت يعنی قدرتمندان به هم استخدام کړي. او يا برعکس که قدرت وي ثروت هم په لاس راځي، چي دا دوه لاملونه يو دبل لازم او ملزوم دي. ميوند برکي به هم يو ددي لاملونو نه درلود او يا به جوړ جاړی نه کار اخيستي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۵۰)

**د يو ترافيک بدي**

د يوي باوري خبر په حواله احمد جان د محمد جان زوي دي او د ۱۹۹۶۵ نمبر کاستر موټر دريور دي، د قانون د تنفيذ يوه ارگان ته خپله عرض پاڼه وړاندي کوي او وايي، چي د تيمور شاهي په سيمه کي ترافيک بدي اخلي او د موټر وانانو د ازارولو او اذيت سبب گرزي .

هغه ادعا کوي چي زما د موټر د جواز سير کتابچه اته ورځي کيږي چي اخيستي ده، نه يي راکوي . کله چي د اړوندو ارگانونو مختلط پلاوي گمارل کيږي . ساتنمن عبدالسميع د بورا گل زوي چي د ترافيکو د پوليسو د پنځمي حوزي اړوند دي د ۱۰۰۰ افغانيو دبډو اخيستلو په تور نيول کيږي او اړوندي محکمي ته سپارل کيږي .

دا خو د يو تن هيواد وال شهکاري وه ، چي موضوع يي د قانون د تنفيذو ارگانونو غوږ ته رسولي وه، خو داچي له هغو دريورانو هره ورځ څومره پيسي اخلي ؟ هغوي خواران ددي له پاره چي خپلي غريبي څخه پاتي نشي خپله خوله پټوي اوکوم ارگان ته شکايت نه کوي .

دا د بډو د لسهاوو زرو بډو يوه بيلگه ده، چي موږ ورڅخه خبر شوي يو . څوک حوصله نلري ، يا زغم يي اوس عادت شوي او دبازخواست څخه بي هيلي شويدي ، نه پسي گرځي. دسرک ترافيک، د پوستو مامورين ، دناحيو مامورين په ښکاره ډول دسرک په غاړه په راټولو لگيا دي . دگمرگ مامورين د بانک مامورين، سرحدي کارکونکي ، حق العبور خاوندان هم خپل کار کوي .

يايي دندي په اجاره ورکول کيږي ، يا به درنه واسطه ولري . په ولاياتو کي دهر سناتور او وکيل برخه معلومه ده . که چيري کوم مامور لار نه نيسي او دقانون رعايت کوي يا به ژر غير فعال ادارو ته تبديليږي او يا به په بله بلا اخته کيږي. دولتي چارواکي دابرو او حيثيت چندان خيال نه ساتي ، البته دا ډول اعتراضونه ډير دي ، عملي گام نه دي پورته شوي . ډير کميسيونونه ، اوهياتونه جوړ شول مگر نتيجه يي لږوه. البته دفساد په مخنيوي کي ، دولس همکاري يو مهم او اړين کار دي، چي شکايت و مرجع ته ورسوي، تسليم نشي او شراکت ورسره ونه کړي.

دا د مشت نمونه خروار.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۵۱)

**ملي مشارکت**

د تاند په نامه خبري سرچيني دروان کال د غبرګولي د مياشتي په ديرشمه ددو شنبي په ورځ وليکل: چي خلک داسي ادعا کوي چي د کورنيو چارو وزير بسم الله محمدي ددي وزارت د چارو له تر لاسه کولو سره سم د افغانستان د نورو سيمو او سيدونکي بر طرفه او پر ځاي يي د جميعت په تيره بيا د پنجشير اوسيدونکو ګمارني ته زور ورکړيدي .

د نړيوالي ټولني د مليارډونو ډالرو مرستي سربيره په افغانستان کي، ددولت د اساساتو نه رامنځته کيدو يو اصلي علت دا بلل شوي چي دواک خاوندان د ملي او يا لږ تر لږه د خپل حکومت د ګټو پرځاي لا هم د خپل ګوند ، سمت او قوم ته وفا دار دي ، چي دا دکرزی د حکومت د ناکامی يوه بيلګه ده.

حقيقت دادي چي زموږ په هيواد کي ځيني لوړ پوړي چارواکي ، کله چي په يوه مقام کي وي او جيبونه يي له پيسو ډک وي نو بيا په دولت کي نه عدالت شته او نه حق وحقدار ته سپارل کيږي ، خو کله چي له دندي ګوښه کيږي او يا تبديليږي نو سمدلاسه " پوزيسون " په " اپوزسيون " بدليږي او ډنډوري خپروي او د رسنيو په ګردي ميزونو کي اوتي بوتي وايي، چي عدالت نشته ، ملي يوالي، په دندو کي ملي ترکيب ، ملي مشارکت او .... نشته . په هيواد کي اداري فساد دي ، له بهرنيو مرستو په سمه توګه ګټه نه اخيستل کيږي او داسي نوري په لسهاوو نيوکي کوي.

د تاند خبري سرچيني خپور کړي او په کي د ۶۷ تنو چارواکو نومونه ليکل شوي، چي بسم الله محمدي د کورنيو چارو وزير و مقرر کړي او مطلق اکثريت يي د جمعيت اسلامي د ګوند غړي او يو ي سيمي ( پنجشير) اوسيدونکي دي خبروو تر څو چي زموږ هيوادوال د ملي يوالي ، ملي مشارکت ، عدالت او په دندو کي دقومي ترکيب په مانا پوه شي ؟!! دا لاندي لست دملي مشارکت نمونه ده :

قسميکه ملاحظات ميشود وزارت اموداخله درانحصار پنجشير وجمعيت قرار ګرفت

| شماره | اسم | رتبه | وظيفه | سکونت | موقت سياسي | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | بسم الله خان | سترجنرال | وزيرداخله | پنجشير | جميعت اسلامي | |
| ۲ | عبدالرحمن | دګرجنرال | معين امنيتي | کابل | جميعت اسلامي | |
| ۳ | بازمحمد | دګرجنرال | معين موادمخدر | بدخشان | جميعت اسلامي | |
| ۴ | مسعود راغب | تورنجنرال | رئيس تفتيش | پروان | جميعت اسلامي | |
| ۵ | عبدالرحيم شجاع | تورنجنرال | رئيس حقوق | پنجشير | جميعت اسلامي | |
| ۶ | همايون عيني | جنرال | رئيس ع حقوق | پنجشير | جميعت اسلامي | |
| ۷ | عبدالقدوس اميد | جنرال | ق زون نمبر ۱ | پنجشير | جميعت اسلامي | |
| ۸ | ملاصبور | تورنجنرال | ق بدخشان | پنجشير | جميعت اسلامي | |
| ۹ | معروف | جنرال | ق قرارګاه وزارت | پنجشير | جميعت اسلامي | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | شاعلم | جنرال | معاون ریاست ع استخبارات | پنجشیر | جمیعت اسلامي | |
| ۱۱ | اکرام | جنرال | ق قطعه محافظت قضات | پنجشیر | جمیعت اسلامي | |
| ۱۲ | نجیب الله قانوني | جنرال | معاون ریاست ع دفتر | پنجشیر | جمیعت اسلامي | |
| ۱۳ | دادالله | جنرال | معاون ریاست پولیس | پنجشیر | جمیعت اسلامي | |
| ۱۴ | محمد اصف | جنرال | مدیرع ارتباط خارجه | پنجشیر | جمیعت اسلامي | |
| ۱۵ | سیف الدین وفا | جنرال | مدیرع حقوق کابل | پنجشیر | جمیعت اسلامي | |
| ۱۶ | مبین قره بیگ | جنرال | معاون ریاست تعمیرات | پنجشیر | جمیعت اسلامي | |
| ۱۷ | عظیم قره بیگ | جنرال | معاون ریاست ترافیک | پنجشیر | جمیعت اسلامي | |
| ۱۸ | خلیل دستیار | جنرال | رئیس تحقیقات زون ۲۰۲ | پنجشیر | جمیعت اسلامي | |
| ۱۹ | حبیب الرحمن | جنرال | ربیس تحقیقات زون ۲۰۳ | پنجشیر | جمیعت اسلامي | |
| ۲۰ | عبداالروف تاج | جنرال | امرامنیت بلخ | پنجشیر | جمیعت اسلامي | |
| ۲۱ | عبدالحمید | جنرال | سرپرست ریاست تعمیرات | پنجشیر | جمیعت اسلامي | |
| ۲۲ | محمدناصرحیدري | سمونوال | مدیر ع تحلیل وارزیابي | پنجشیر | جمیعت اسلامي | |
| ۲۳ | صبرالدین | سمونوال | مدیرع استخبارات وزارت | پنجشیر | جمیعت اسلامي | |
| ۲۴ | محمد اکبر | سمونوال | مدیر تعقیب وزارت داخله | پنجشیر | جمیعت اسلامي | |
| ۲۵ | عبدالحکیم خیرخوا | سمونوال | مدیر کنترول زون نمبر ۳ کابل | پنجشیر | جمیعت اسلامي | |
| ۲۶ | غلام غوث | سمونوال | مدیر ع پالسي معینیت پالسي | پنجشیر | جمیعت اسلامي | |
| ۲۷ | عبدالستار | سمونوال | مدیرتعقیب وجستجو کابل | پنجشیر | جمیعت اسلامي | |
| ۲۸ | صابر | سمونوال | ق کندک کمربند کابل | پنجشیر | جمیعت اسلامي | |
| ۲۹ | ویس تاج | سارمن | امرحوزه دهم کابل | پنجشیر | جمیعت اسلامي | |
| ۳۰ | خالد تاج | سمونوال | مدیراستخبارات پنجشیر | پنجشیر | جمیعت اسلامي | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳۱ | عبدالرحيم | سمونوال | مدير تروريزم هرات | پنجشير | جميعت اسلامي | |
| ۳۲ | لطف الهادي | سمونوال | مدير استخبارات هرات | پنجشير | جميعت اسلامي | |
| ۳۳ | قدم شاه | سمونوال | ق كندک ۲ لواي ۱ نظم عامه | پنجشير | | |
| ۳۴ | غلام دستگير | لمري سارن | مدير جنايي حوزه ۲ كابل | پنجشير | جميعت اسلامي | |
| ۳۵ | عبدالرحيم | سمونمل | امر كنترول حوزه ۱ كابل | پنجشير | جميعت اسلامي | |
| ۳۶ | ذين العاب الدين | سمونوال | ق كندک ۵ لواي ۳ نظم عامه | پنجشير | جميعت اسلامي | |
| ۳۷ | فاروق | سمونوال | ق كندک ۲ لواي ۳ نظم عامه | پنجشير | جميعت اسلامي | |
| ۳۸ | اغاشرين | سمونوال | معاون اداري حوزه چهارم كابل | پنجشير | جميعت اسلامي | |
| ۳۹ | عارف امين زاده | سمونوال | معاون اداري حوزه دهم كابل | پنجشير | | |
| ۴۰ | عزيز غيرت | جنرال | ق امنيه جوزجان | پنجشير | | |
| ۴۱ | الياس | لمري سارن | امركشف حوزه اول كابل | پنجشير | جميعت اسلامي | |
| ۴۲ | محمد وزير | لمري سارن | امركشف حوزه يازدهم كابل | پنجشير | جميعت اسلامي | |
| ۴۳ | عبيدالله | سارمن | امركشف حوزه شانزدهم كابل | پنجشير | جميعت اسلامي | |
| ۴۴ | سيف الدين | سمونيار | امرجنايي ميربچه كوت | پنجشير | جميعت اسلامي | |
| ۴۵ | محمدايوب سالنگي | دگرجنرال | قومندان زون ۱۰۱ كابل | پروان | جميعت اسلامي | |
| ۴۶ | فضل الدين عيار | دگرجنرال | قومندان زون ۲۰۲ شمشاد | پروان | جمعيت اسلامي | |
| ۴۷ | زمري | جنرال | رئيس ع نظم عامه | پروان | جميعت اسلامي | |
| ۴۸ | شيراحمد ملداني | جنرال | قومندان امنيه پروان | هرات | جميعت اسلامي | |
| ۴۹ | خليل اندرابي | جنرال | قومندان امنيه سمنگان | بغلان | جميعت اسلامي | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۵۰ | سید محمد | جنرال | قومندان امنیه فراه | بغلان | جمیعت اسلامي | |
| ۵۱ | داکتروکیل | تورنجنرال | رئیس ع پیژنتون | شمالي | جمیعت اسلامي | |
| ۵۲ | جمعه عدیل | جنرال | ق میدان هوایي کابل | هرات | جمیعت اسلامي | |
| ۵۳ | سید امان سادات | تورنجنرال | معاون اداري قواي سرحدي | پروان | جمیعت اسلامي | |
| ۵۴ | سمیع الله قطره | تورنجنرال | قومندان امنیه کندز | بدخشان | جمیعت اسلامي | |
| ۵۵ | فاروق حساس | جنرال | امرحوزه چهارم کابل | کاپیسا | جمیعت اسلامي | |
| ۵۶ | محمدایاز | جنرال | امرحوزه هفدهم کابل | شمالي | جمیعت اسلامي | |
| ۵۷ | مشتاق | جنرال | امرحوزه پنجم کابل | پغمان | جمیعت اسلامي | |
| ۵۸ | غلام محي الدين | سمونوال | قومندان لواي ۲ نظم عامه | پروان | جمیعت اسلامي | |
| ۵۹ | فیض الرحمن سیدخیل | سمونوال | امر امنیت ولایت پروان | پروان | جمیعت اسلامي | |
| ۶۰ | حاجي محمد | سمونوال | مدیرجنایي ولایت پروان | پروان | جمیعت اسلامي | |
| ۶۱ | حفیظ الله | سمونوال | معاون اداري حوزه نهم کابل | پروان | جمیعت اسلامي | |
| ۶۲ | سیدخیل | جنرال | قومندان قواي سرحدي شمال | پروان | جمیعت اسلامي | |
| ۶۳ | مجده | سمونوال | مدیرجنایي حوزه پنج کابیل | پروان | جمیعت اسلامي | |
| ۶۴ | عبدالستار | سمونوال | مدیرجنایي حوزه پانزدهم کابل | پروان | جمیعت اسلامي | |
| ۶۵ | امان الله | سمونوال | امر حوزه یازدهم کابل | بدخشان | جمیعت اسلامي | |
| ۶۶ | عبدالعزیز | لمري سارن | امرکشف حوزه پانزدهم | پنچشیر | جمیعت اسلامي | |
| ۶۷ | وحید شریفي | جنرال | معاون نظم عامه | پنجسیر | جمیعت اسلامي | |

دلته سیاسي ملاحظات مطرح ندي، یوازي جرمي برخه په نطر کی نیول شوی ده، ولي چي تبعیض هم فساد او جرم دي. که دا ټوله امتیاز یو قوم او یوي سیمي ته تکیه وکړي، عدالت به نه وي. دا باید په ډاګه وویل شي ، چي زموږ د پنچشیر هیوادوال په دي برخه کي د ډیر افراط نه کار اخلي، د نور ولس په فکر کي چندان ندي. ددي قوم نه پخوا د شینګري او قرسک نه نور څه نه لیدل کیدل، مګر نن دا هڅه ده چي د اکثریت قوم پدي وسیله یا مړه ، یا مهاجر او یا زندانونو کي د طالب په نوم او په تیرو رژیمو کي د خلقي په نامه ټکول او واچوي. مثلاً د امنیت ملي ریاست تل د پنچشیرمیراث ؤ، مارشال، سرور او بیا امرالله صالح پکي ناست وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۵۲)

**د ګلبهار تاور قضیه:**

له هغه راهیسي چي بهرني پوځونه افغانستان ته راننوتي، نو ورسره یو ځاي فساد هم په ډیره لوړه کچه رواج وموند او په دغه لړۍ کي د هر چاچي لاس رسیدلي په یو ډول نه یو ډول یي د شتو پیداکولو له پاره په فساد او بډو لاس پوري کړ، او هغه چاچي شته درلودل په هیواد کي دګډوډیو نه ګټه واخیسته او کوښښ یي وکړ چي خپل شته او پیسي لا زیاتي کړي .

ددغه لړي په قضیو کي یوه هم د ګلبهار ددرغلي موضوع ده چي دجمهوري ریاست دلوړي مرستیال دلاسلیک په جعل کولو سره یي ۱۹ بلاکونو جوړولو ته ملا وتړله او قضیه داسي پیل کیږي .

دګلبهار حبیبي له خوا په ۱۳۸۸ کال کي د لوړي ناحیي د پل محمود خان په سیمه کي په ۱۹ بلاکونو جوړولو لاس پوري کوي ، او ددي له پاره چي دغه سیمه په ماستر پلان کي یوه کلتوري سیمه ده ، ناحیه دبلاکونو دجوړولو مخه نیسي .

لنډه داچي یو ځل د جمهوري ریاست دلوړي مرستیال حکم اخلي خو دغه حکم دشاروالي له خوا ددي له پاره چي حکم قانوني اړخ نه درلود هغه نه مني او وروسته حاجي وکیل پنجشیري هڅه کوي چي د نوموړی ماستر پلان تعدیل له مارشال فهیم څخه حکم واخلي خو بریالي کیږي نه . وروسته حاجي ګلبهار دخپل دفتر امر عطاالحق ته دنده سپاري، ترڅو دسیمي دتعدیل حکم تر لاسه کړي .

عطاالحق موضوع د ملي امنیت د ریاست ۱۴۲ ریاست کارمند عبدالقادر نومي سره شریکوي او عبدالقادر دغه موضوع رئیس محمد نومي ته وایي ، هغه ورته وایي چي په دي شرط دغه حکم اخلي چي یو سلو پنځوس زره دالره راکړي .

نو حاجي ګلبهار دغه شرط مني . لنډه داچي په تزویري ډول د مارشال فهیم حکم جوړیږي .

او بالاخره موضوع افشا کیږي او له امله یي رئیس محمد او عبدالقادر په ۲۲/۹/۱۳۹۰ نیټه نیول کیږي او د نیولو په وخت کي یي په موټر کي دوه جعلي مهرونه او یو شمیر جعلي اسنادونه تر لاسه کیږي ، او دغه راز له کور څخه یي ۱۹۰ زره دالره او ۴۸ مهرونه او یو صندوق جعلي اسناد هم په لاس راځي او په ۲۶/۹/۹۰ عطاالحق هم ګرفتار او په خپلو جرمونو اعتراف کوي .

دمحکمي لخوا په لمبر ۲۱۲ ـــــ ۲۷/۱۲/۱۳۹۰ فیصله کي رئیس محمد ،ګلبهار حبیبي، عطاء الحق صابر او عبدالقادر په شپږو شپږو کلو بند او علي سویه د نوموړو پیسو په ورکړي سزا ورکړل شي، دغه راز په نوموړی حکم کي داکتر عبید او حاجي یاسین د ساختمانونو د کنترول رئیس او د شپاړسمي ناحیي مسولین او د شپاړسمي امنیتي حوزي مسوولین او عبدالنسیم او انعام الله تر عدلي تعقیب لاندي ونیول شي .

مجاني خیرخواهان او خیر اندیشان، کله کرایي او کله بي کرایي ، هیواد کي راتولیږي، او په دي قضیه کي هم ،هم سلا شول .

د ننګرهار ولایت یو شمیر سوداګر د عرض پاني په تر څ کي د جمهوري ریاست مقام ته عرض کوي، چي ګلبهار حبیبي ملي او یو وطن دوست سوداګر دي او دهغي نا علاجه ناروغي له امله چي لري باید له بند څخه خوشي شي او په پاي کي نوموړی د جمهوري ریاست له حکم سره سم له بند څخه خوشي کیږي . داوه ددغي قضیي لنډیز .

کومه اصطلاح چي نن کارول کیږي، د ملي سوداګر اشتباه ده. یو لا هم ملي سوداګر نه بلکي شخصي سوداګر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپلو ګټو مين دي، دمالي نه فرار،درغلي، او هر ډول غبن نه کار اخلي. البته يو شمير سم کسان به هم پيدا شي. ددوي ډير کسان دمامورينو دانحراف سبب ګرځي.

ګلبهار پيسو کار وکړ، قانون تطبيق نشو.

رئيس محمد نورو کسانوته هم جعلي اسناد او لاس ليکونه تهيه کړيدي، چي د ځينو نومونه دادي: چي برسي نشول.

1. جدول منسوبين امنيت ملي

| شماره | شهرت منسوبين امنيت ملي | | | سکونت | محل وظيفه | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | اسم | ولد | ولديت | | | |
| 1 | شمس الرحمن | نورالله | | | | |
| 2 | عبدالربي | عبداللطيف | | | | |
| 3 | عبدالمالک | عبدالرازق | | | | |
| 4 | جاويد | محمد داود | | | | |

2 .جدول منسوبين وزارت امور داخله

| شماره | شهرت منسوبين امنيت ملي | | | سکونت | محل وظيفه | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | اسم | ولد | ولديت | | | |
| 1 | شاه ولي | شهاب الدين | | | وزارت داخله | |
| 2 | صفي ولله | امان الله | | | // | |
| 3 | مختار | غلام دستګير | | | // | |
| 4 | محمد ابراهيم | علي اکبر | | | // | |
| 5 | يوهما | امام الدين | | | // | |

3. جدول منسوبين ملکي

| | شهرت منسوبين امنيت ملي | سکونت | محل وظيفه | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|

(c) ketabton.com: The Digital Library

| شماره | اسم | ولد | ولديت | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | محمد هشم | سعدالين | | ولايت پنجشير | كارمند وزارت خارجه | فعلاً درخارج |
| 2 | لطف الرحمن | | | // | // | // |
| 3 | صديق | | | | سابق دستيار امرصحب | |
| 4 | عنايت الله | بسم الله محمدي | | | | |
| 5 | عبدالرحمن | | | | معامون ولايت ّنجشير | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۵۳)

## دلوړپوړو چارواکو جعلي اسناد

پخوا هرڅه سم،نظم او دفترداري داصولو سره سم روان ؤ، لکه دا په لاس راغلي ليک او سند څرګندوي چي دي کسانو په جعلي او تزويري توګه تحصيلي اسناد جوړکړيدي اولوړي،لوړي رتبي يي اشغال کړيدي. داباید ووایم که ( کفر از کعبه خيست ، کجا ماند مسلماني) .

دنورو جرمونو سره، غصب و جعل او تزوير هم لوړي کچي ته ورسيد. د لاندي کسانو اسناد هم جعلي دي، ممکن داهم رئيس محمد چي ماهر خطاط دي جوړ کړيوي.

فقط دکمونستي کودتا سره هرڅه ګډوډ شول او ليدل کيږي، چي دلته د پنجشير او يا شمالي ټلوالي تر نوروکسانوڅه مخکي دي.

دا ياداشت د محترم مارشال محمد قسيم فهيم لخوا زما ملګري ته سپارل شوي ؤ. په ياداشت کي ليکل شوي ؤ، چي : ( نو ماه قبل حاجي رشيد (دره ) براي رئيس محمد زنګ زده بدست پسرم عبدالقادر يک ورق اسناد حکم داده شده را، که يک کمي تغير ميخورد از تغير حکم مبلغ ده هزار دالر امريکايي برايت ميدهيم ).

له دي کبله چي لوړپوړي چارواکي دي، چا ونشواي کولاي چي تري پوښتنه وکړي، چي پرمخ دي څوګله دي. د هغو جملو نه فضل احمد معنوي د ليسانس ديپلوم هم جعلي او د مارشال فهيم لخوا ورکړه شويدي.

ايا مارشال داحق لري چي ديپلوم ورکړي، ديپلوم يوازي دعلمي موسساتو کار دي.

دالاندي کسانو په جعلي ډول اسناد جوړ کړيدي: چي يوه نمونه ده.

| جدول شهرت افراد و اشخاصيکه براي شان از طريق رئيس محمد اسناد جعلي توزيع ترتيب ګرديده است | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شماره | شهرت | | نوع ديپلوم | ملاحظات |
| | اسم | ولد | | |
| 1 | نضير احمد ضيايي | | حقوق | |
| 2 | انجنير علي | | ديپلوم پل تخنيک | |
| 3 | انجنير جان آغا | | ديپلوم پل تخنيک | |
| 4 | امر الله صالح | | فراغت صنف دوازدهم (12) | |
| 5 | انجنير عارف "سروري" | | ديپلوم پل تخنيک | |
| 6 | مولانا عبدالرحمن معاون ولايت پنجشير | | ديپلوم پل تخنيک | |
| 7 | انجنير ضرار احمد مقبل | | ديپلوم دارالمعلمين | از طريق استاد بارش |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 8 | جنرال دوستم | | فراغت صنف دوازدهم | |
| 9 | حشم | سعد الدين | ديپلوم | |
| 10 | لطف الرحمن "ازدره" | | ديپلوم | |
| 11 | صديق | | ديپلوم | دستيار امر صاحب |
| 12 | انجنير روح الله | | ديپلوم دارالمعلمين | |
| 13 | جنرال فرديدون | | (10) قطعه ديپلوم وزارت داخله | از دوره قانوني صاحب |
| 14 | حفيظ منصور | | | |
| 15 | احمد ضيا مسعود | | | |

په ۲۲,۹,۹۱ نیټه کي رئیس محمد ونیول شو، او کوریي تلاشي شو، دکور نه يي جعلي اسناد ،مهرونه او ټاپي او (۱۹۰۰۰) دالره په لاس راغله. عبدالقادر د ۱۲۴ رياست ( رياست امنيت ملي) هم ګډون درلود، دوي په ۱۶ کاله حبس محکموم شول، مګر حبس يي پاي ته ونه رساوه اوپه پای کي د ۱۸ ــ نیټه ۹۲. ۱۰ . ۲۲ فرمان له مخي عفوه شول.

ګرچه ستر جنرال عبدالرشيد دوستم کوم مجلس کي وويل « چي خلک وايي چي ما پنځم ټولګی لوستي ده، بد کوي ، ما شپږم ټولګی لوستي ده».

که ددي جملي کسانو نه پوښتنه وشي چي کوم ريشته او کوم پوهنځي دي لوستي ، بي ځوابه دي .

همدا ډول ښاغلي محمد همايون (همايون ) دخوست استازي چي په اتحاد جماهير شوروي کي درس لوستي دي او پخواني تخلص يي ( خلقي) ؤ ، داسدالله خالد د رای ګيری په غونډه کي چي عمومي رياست ته کانديد ؤ، داعتماد رايي په غونډه کي چي اسدالله خالد هم په شوروي کی دتحصيل ادعا درلوده ، وپوښتل چي درس لاځه يوازي داستاد نوم دي واخله . موږ قناعت پرکوو هغه لاجوابه پاته شو، مګر بيا يي هم رايي يوړي او په لوړ انداز دولسي جرګي نه بريالي راووت، چي وايي : هستي کند مستي و غريبي کند سستي .

دلته هم ډير جعل کار شمالي ټالوال دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۵۴)

**شرین اقا قاتل او دده رواني تکلیف**

قضیه داسي ده چي ۸/۷ / ۲/۱۳۹۲ نیټه د شپي اته بجي د څلورمي حوزي اړوند د ماهیانو په سیمه کي غلام عباس د شرین اقا له خوا ټپي کیږي او ورپسي یي مجتبي نومي د پنځمي حوزي د سپین کلي په سیمه کي د وسلي په ډزو د شیرین اقا له خوا وژل کیږي .

نوموړی له سیمي څخه تیښته کوي ، مګر د شپي په ۱۲ بجو د خیر خاني دکوتل دسر د امنیتي مسوولینو له خوا له یوه میل کلاشینکوف سره نیول کیږي ،هغوي بهانه کوي چي موږ پنجشیر ته ددعا کولو له پاره ځو . دوه تنه مظنونین مصطفي او عبدالبشیر بي خبري ښیي.

لنډه داچي له تحقیق او څیړني وروسته دري تنه مظنونین محکمي ته سپارل کیږي او دپنځمي ناحیي ابتدائیه محکمه د ۱۹۷ ــ ۱۴/۷/۱۳۹۲ فیصلي سره سم عبدالبشیر او مصطفي ته برأت او د شرین اقا په برخه کي حکم کوي چي هغه دي رواني روغتون ته واستول شي، چي دا دمحکمي لخوا یوه پوره پلمه ده .

او قضیه د استیناف مرحلي ته راجع کیږي ، او شرین اغا پرته له دي چي توقیف شي ازاد ګرزي .

اړونده محکمه دهغه ضامن ، چي سید رفیع د عبدالغفار زوي دي حاضر وي او په نظارت کي اچول کیږي . وروسته هغه هم په دي تعهد ، چي شرین اقا به پیداکوي له نظارت خاني څخه خوشي کیږي . خو دریغه چي وژونکي شیرین اقا تر اوسه حاضر شوي نه دي .

مګر شرین اغا روغ رمټ دي او ولسي جرګي ته یي ځان کاندید کړي ؤ. محکمه اوقضا نه دخدایه ترس لري او نه دقانونه ، ولي دقضا مصؤنیت او استقلالیت په اساسي قانون کي تضمین شویدي .

شرین اقا چي دده په ادعا دیوي فامیلي حیثیت له کبله دوه تنه وژني ، نو حتماً رواني تکلیف نلري ، فقط پیسي لري او دپنجشیر اوسیدونکي دي، محکمه به اورمرو خپله لار ورسره نیسي .

دري شیان دهیواد دبدخبتۍ لامل دي:

1. پارلماني مصؤنیت
2. دقضا استقلالیت
3. دمطبوعاتو ازادي ( چي بندو باره او بي سرحده ده ).

ددي قضیي هیرو هم پنچشیري دي.

جنرال عبدالبصیر سالنګي یو وخت کیسه کول، کوم وخت چي نوموړي د کابل د امنیتي قوماندان ؤ ، ولسمشر کرزي تري تپوس کړیوؤ، چي په کابل کي اختطافونه او غلاوي څوک کوي؟ دي داسي وایي چي ماته ورته وویل چي د خوست او یا کندهار نه د لته خو څوک نه راځي، همدا د کوتل هغه خوا کسان دي چي دا کار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۵۵)

**دننګرهار په ګمرک کي دلرګيو چور**

درپوټونو په حواله د ۲۳۷۸ داني چارتراش لرګيو چور، چي دطالبانو د واکمنۍ په وخت کي ددي له پاره چي په قاچاقي ډول بهر ته وړل کيدل ، ضبط اود جلال اباد په ګمرک کي ساتل شوي و.

کله چي دطالبانو واکمني له منځه ځي، نو د سيمي چارواکو ته زمينه برابريږي تر څو هغه چارتراش لرګي تر لاسه کړي .
موضوع د يوه پلاوي له خوا څيړل کيږي په ډاګه کيږي، چي دګمرک درئيس مولاجان دزمينه سازي په پايله کي چي ګويا دا دمجاهدينو مال دي او بيه يي ۱۵۸۰۲۵۰۰ افغاني کيږي يو شمير فرصت طلبو اشخاصو ته چي وايي په حاجي قدير پوري اړوندو، دده دحکم پر اساس په کال ۱۳۸۱ کي ويشل کيږي او هغه هم په دي ډول: ډګروال ملنګ ۵۸۶ داني چارتراشي چي بيه يي ۶۱۵۳۰۰۰ افغانی، شامحمود ۴۸۴ داني چارتراشي چي بيه يي ۵۰۸۲۰۰۰ افغاني ، غنچه ګل ۷۲ چارتراشي او پنځوس داني دبازو لرګي چي بيه يي ۱۲۵۸۰۰ افغاني ، وطن خان ۲۰۰ داني چارتراش او سل داني بازوګان چي بيه يي ۵۵۴۰۰۰ افغاني ، مهدي خان ۴۰ داني تليپر چي بيه يي ۵۶۰۰۰ افغاني ، لطف الله ۱۵۸ راګه ګزي لرګي چي بيه يي ۲۳۷۰۰ افغاني ، محمد علي ۲۱۶ داني چارتراش چي بيه يي ۲۲۶۸۰۰ افغاني ، باګت نام ۱۲۰ داني چارتراش چي بيه يي ۱۲۶۰۰۰ افغاني تر لاسه کړيدي او په دي ډول دملي بودجي د حيف و ميل زمينه برابره شويده .

او په کي مولا جان جهادوال چي دګمرک رئيس و ګرم بلل کيږي، خو څرنګه چي نوموړی په پاکستان کي ژوند کوي نو قضيه تر اوسه لا ينحله پاتي ده .

پدي هکله د جمهوري رياست د مقام لخوا ۱۳۸۶/ ۸۵/۷/۷ ګڼه ليک هم صادر شويدي .

حال داچي دحاجي قدير په ابتکار چور شول. پوښتنه بيله دي هلته نشته .

داخو لا لرګي وه ، مجاهدينو او زورواکانو الوتکي او ټانګونه پرزه او تر خط ورواړول .

داسي چور په نورو ولاياتو کي هم وليدل شو. د هرات مجاهدين هم تر دي څه کمي نه درلودل، د بلخ ولايت د حيرتانو د بندر مالونه ، د ګمرک مالونه، د مځکو غصب، شخصي او دولتي شتمني يوازي د استاد عطا، حاجي محقق او حاجي دوستم تر منځ وويشل شول. څوک به وي چي پوښتنه وکړي ؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۵۶)

**د عامي روغيتا په وزارت کي يوه درغلی**

وايي چي اوبه دسره راخړي دي ، چي زياتره درغلی شويدي دلوړ پوړو چاراواکو د شناخت او يا زمينه سازي له وجي نه رامنځته شويدي او تر څو چي د لوړ پوړو چاراواکو مخه ونه نيول شي ددرغليو مخنيوي نا ممکن بريښي.

دکشفي ارګانونو د څيړني په پايله کي څرګنده شويده، چي د عامي روغتيا په وزارت کي يو شمير مامورين چي په رسمي بستونو کي مقرر، خو د انکشافي بودجي له لاري يي لوړ معاشونه تر لاسه کړيدي .

قضيه داسي شروع کيږي :

ددولتي چاراواکو له خوا پنځه مليونه دالر په غزني کي ديوه روغتون له پاره د عامي روغتيا وزارت ته تخصيص ورکړل شوي، تر څو د روږدو کسانو دتداوي له پاره بندوبست وشي .

ددي پرځاي چي د روږدو کسانو درملنه په نوموړو پيسو وشي داسي څرګنديږي، چي داوو تنو مامورينو معاشونه له دغو پيسو څخه اجراکيږي ، په داسي حال کي، چي نوموړی اشخاص د معتادينو په پروګرام کي نه وو شامل.

۱ د حضرعلي د محمد حسن دزوي له پاره هره مياشت ۱۱۷۵۰ افغاني

۲ د عبدالعزيز د عبدالاحد زوي له پاره هره مياشت ۴۵۰۰۰ افغاني

۳ دمحمد فهيم له پاره هره مياشت ۴۰۰۰۰ افغاني

۴ دوحيدالله وافي له پاره هره مياشت ۸۱۶۶۶ افغاني

۵ د محمد صبور له پاره هره مياشت ۱۱۷۵۰ افغاني

۶ د ميرويس سجاد له پاره هره مياشت ۱۴۵۵۲۵ افغاني

۷ د هما شيرزي له پاره هره مياشت ۴۰۰۰۰ افغاني .

سربيره پردي چي څيړنه پاي ته نه ده رسيدلي خو دومره په ډاګه شوي چي احسان الله شهير د غلام حسن زوي په داسي حال کي، چي د بشري منابعو د رياست سرپرست وو او په عين وخت کي چي په يوه بست کي مقرر و خو د مياشتي ۱۵۰۰۰۰ افغانی د قرارداد په توګه ورته ورکړل شويدي .

او هر يو عبدالعزيز چي د انکشافي بودجي مدير ، حاجي فهيم دانکشافي بودجي غړي ، وحيد الله وافي د معلوماتي تکنالوژي په په بست کي مقرر و، خو دلار جوړوني له کبله په غير قانوني توګه له ۱۳۸۷ کال څخه تر ۱۳۹۰ کال پوري په غير قانوني توګه معاشونه، هغه هم د معتادينو له بودجي څخه تر لاسه کړيدي . وليدل شي چي ددي درغلی پايله څه کيږي .

داپول خدای ورکړي او باد راوړي بودجه ځيني کسانو ته ارزاني شوي ۇ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۵۷)

**دحکم نه تنفیذ**

یو پوه چي ابن خلدون نومیري د فساد اصلي لامل دحاکمو طبقو زيات تمايل، تجملي ژوند، په ګوته کوي، دنوموړی په باور حاکمه طبقه د تجملي ژوند له پاره زيات لګښت ته اړباسي چي په اداري فساد لاس پوري کړي.

دابن خلدون له وينا سره سم په هيواد کي يو شمير چارواکي دذاتي ګټو ،عيش او نوش له پاره هڅي او هاند کوي ، تر څو له هري لاري چي کيږي پيسي لاسته راوړي او دځان او کورنۍ له پاره لوړپوړيزي ودانۍ جوړي کړي او ... پخوا به اوړی د پغمان او ژمی دجلال اباد هوس ؤ، اوس دوبی او دوشنبه ده.

دباوري رپوټونو او مډيا په حواله همدا اوس تر پنځو زرو تنو، چي دبيلا بيلو جرمونو په تور تورن دي دقانون د تنفيذ ارګانونه په دي نه دي برياليي شوي، چي هغوي دپوليسو له لاري جلب او اړوندو ادارو ته دحکم دتنفيذ دپاره ونيسي.

داپه داسي حال کي چي دهيواد د کشف اوتحقيق دقانون ۱۷ او ۱۸ مه ماده صراحت لري، چي مجرمين دکشفي او امنيتي ارګانونو له خوا جلب او بايد ونيول شي .

چي دا ډيره د افسوس خبره ده چي دغه کار تر اوسه دعمل جامه نده اغوستي . بي مسؤليتي او بي بازخواستي يي مهم رکن دي.

دامنو چي امنيتي ارګانونه مشکلات لري، پوليس عملاً په جګړه کي ولاړ دي ، ادرس يي پوره معلوم ندي، کوڅي نومونه نلري، کورونه بيله لمبر دي .

اما بياهم پوليس دتورنانو په نيولو کي دمجازاتو دتنفيذ په هکله بي علاقي دي . دلته دپيسو ورکړه اوشخصي سپاربښتونه بي روله ندي .

ددرندو او خطرناکو مجرمينو دپاره بيله کنتروله سرحدونه سمه زمينه برابره کړيده . همدا سبب دي چي کمزوری امنيت ،دفساد زمينه برابره کړيده او دمجرمينو فرارته لار هواره شويده .

دحوزي او يا مربوطه پوليس په نيولو کي ګټه نشته، هغه هفته واره او يا مياشتني حق تري اخلي او خپله لار نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۵۸)

**دیو ي ښځي دسنګسار**

په هیواد کي دبشري حقونو په وړاندي یوه ستونزمنه مسله چي لا تر اوسه دافغاني سنتي ټولنه چي د پرمختګ او داقتصادي پرمختیا وو کي دښځو په وړاندي لوي خنډ جوړوي هغه دښځو په وړاندي تاوتریخوالي دي چي له امله یي ښځي وژل کیږي ،وهل کیږي ،ټپي کیږي او ان داچي په بدو کي ورکول کیږي او خرڅیږي ان سنګساریږي.

دښځو په وړاندي دسنګسار سزا چي موږ یي یوه بیلګه دګرانو لوستونکو له پاره خپروو :

دهشت صبح ورځپاڼي په ۱۳۹۲/ ۲۰/۹ ګڼه کي یو ریوټ د " یوه ښځه دسنګسار له سزا څخه خلاصون وموند" تر سرلیک لاندي خپور کړیدي چي په کي ویل شویدي .

وروسته له هغه چي پولیسانو دطالبانو له منګولو څخه حلیمه نومي خلاصون وموند هغه دپولیسو قوماندانی وروسته یي خپلي کورني ته وسپارل شوه .

په کندز کي امنیتي مقاماتو بي بي سي ته وویل : چي اوس حلیمه دپولیسو تر نظر لاندي مصؤنه ژوند لري دکندز ولایت دپولیسو دقوماندانی ویاند سید سرور حسیني وویل : چي دغه ښځه دري ورځي دطالبانو په ولکه او پټنځاي کي وه چي د کندز ولایت په دشت ارچي ولسوالي کي شتون لري .

نوموړی داهم وویل چي طالبان دکندز په ولایت کي پټنځایونه لري .

دځیني په وینا حلیمه پنځه تنه اولادونه لري او دمیړه له خوا یي چي طالب دي په دي ګومان چي له بل سړي سره ناروا اړیکي لري طلاق ورکړل شوي وو ، او کله چي دهغي له طلاق څخه طالبان خبرشول نو دهغي دسزا له پاره یي په کړونو لاس پوري کړ .

اوس طالبان او دهغي میړه دسیمي څخه تښتیدلي دي .

البته کوم طالبان دچادخوا هڅول کیږي، او قاضي او فیصله یي په کومو شرعي او قانوني معیارو ولاړدي،خپلي فیصلي صادروي .

دایو افت دي ، تر هفه وخت پوري به خداي .ج. پرموږ رحم ونکړي چي افغان پر افغان رحم ونکړي.

دالظهر پوهنتون مشرښاغلي فتاوي وویل چي افغاني طالبان داسي مسلمانان دي چي بل ځاي نمونه نه لیدل کیږي. طالبان اوس پوهیږي چي تناو دبل چا په لاس کي دي، لار تري ورکه ده، پدي پوه دی چي دبل کټ تر نیمو شپو دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۵۹)

**دهرات ښاروال**

دیوه باوري رپوټ له مخي دهرات ښاروال محمد رفیق مجددي، چي دهرات په ولایت کي یي داوو ساختماني تړونو نه، پرته له دي چي مرکز خبروي دقانون او مقرراتو پرخلاف له بهرنیو او کورنیو شرکتونو سره لاسلیک کوي ، دناوړي ګټي په تور تورن شو.

دنوموړي موضوع څیړل او دوسیه کابل ته غوښتل کیږي او د کابل د استیناف محکمه نوموړی د خپلي ۷۷۱ ـــ ۱۶/۱۲/۱۳۸۵ فیصلي له مخي نوموړی په شپږو میاشتو تعلیقي حبس او نوي زرو ډالرو په ورکړي محکوموي.

مګر د ستري محکمي ته راجع او په خپل ۴۸۴ ـــ ۲۸/۳/۱۳۸۸ قضایي قرار کي نوموړی په پنځه کاله او یوه میاشت تنفیذ حبس او دنوي زرو ډالرو، چي دوه سلنه مالیه او یو سلنه صکوک یي له قرار دادیانو څخه نه دي اخیستي او حیف ومیل شوي ، په ورکړي محکوموي ،مګر سزا تنفیذ نشوه، او څو موضوع د تجدید نظر کمیسون ته وړاندي کیږي، په پایله کی پورتني حکم لغو او موضوع دعامه امنیت محکمي ته راجع کوي چي په پاي کي برائت اخلي .

دادي داداري فساد ددوسیي پایله چي په کي روابط او زور واکي حاکم او نږدي دي، چي یوه درغلي کونکي ته د سزا پرځاي تقدیر نامه هم ورکړل شي .

ولي روښانه خبره ده چي کفایت کوي ، چي دنامه پسوند یي (مجددي ) دي .

دزورور اوبه مخ په لوړه ځي ، که نه ؛ ۵ کاله بند او برآئت تر منځ لوي توپیر موجود دي . څرګنده ده چي افغانستان ولس صابر قوم دي او زغم لري .

ګزارش داسي دی:

- دهرات ابتدائیه محکمه برائت.
- دکابل د استناف محکمه ۶ میاشتي حبس.
- د تمیز دیوان پنځه کاله او یوه میاشت حبس.
- د تجدید نظر محکمه برائت.

څلور محکمي څلور مختلف حکمونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۶۰)

**دبلخ مستوفیت**

دسیل بین د را رسیدلي رپوټ په حواله په غیر قانوني توګه د ۳۲۸۵۰۰۰۰۰ افغانیو دتخصیص صادرول د خزاینو دریاست ، دبلخ دمحلي ارګانونو په ګډون، چي تور یي په سید محبوب الله شریفي د سید احمد شاه زوي او سهیل تابش دعبدالصبور زوي لګول شوي .

نوموړی رپوټ چي ډیر اوږد او په دي لیکنه کي یي د ځاییدو امکان نشته ،نو په لنډه توګه یي یادونه کوو .

لکه چي مخکي مو وویل د خزاینو دریاست ددوو تنو چي نومونه یي ذکر شول او دبلخ ولایت د سیمه ییزو ارګانو نو تر منځ دیوه جوړ جاړي ، په ترڅ کي په غیر قانوني توګه ۳۲۸۵۰۰۰۰۰ افغانیو تخصیص صادریږي او دیوه ساعت په ترڅ کي ۳۲ قطعي چکونه چي ټول یي ۶۱۲۱۷۷۸۷ افغانی کیږي، له بانک څخه ایستل کیږي او داسي ویل کیږي چي نوموړی چکونه مخکي تر دي چي تخصیص ورسیږي جوړشوي او پیسي یي تر لاسه شوي دي .

دبلخ ولایت مستوفي محمد اسحق په دي پوهیږي، چي دومره زیاتي پیسي څنګه لګیږي او تخصیص راځي او ددولت ددارایي په برخه کي مسولانه اجرات نه ترسره کیږي، نو مسوول ګڼل کیږي ، او دغه راز هریو سید محبوب الله شریفي او سهیل تابش، چي له دندي څخه دناوړي ګټي په اخیستلو پرته له دي، چي دبلخ ولایت سیمه ییزارګان دومره زیات تخصیص ولري تخصیص لیږي .

خو دقضیي د پیسو زیاتوالي ته په کتو سره تر څو چي دموضوع تر شا صلاحیت لرونکي چاراواکي شتون ونه لري ، نو دغه کار له امکان نه لري بریښي .

البته دنه بازخواست په ډاډ مامورین دا اجرآت او کړني کوي، داجوته خبره ده چي داسي ناوړو او غیرقانوني اجرآت دخداي او رسول په خاطر ندي ، بلکه دپردي شاته به حتمي څه وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۶۱)

**د مهاجرینو دراستنولو پخواني وزیر**

د باوري رپوټو نو په حواله دچین ولسي جمهوریت، دمهاجرینو له پاره دمرستي او اعاشي له پاره دوه سوه زره ډالره مرسته وکړه او نوموړی مرسته د مهاجرینو دراستنولو دوزارت دبو دجي ضمیمه وګرځول شوه.

له نوموړو پیسو څخه ۱۶۵۵۵۰۰ افغانۍ د ځانګړي حوالي په اساس بصیر احمد معتمد ته ورکړل کیږي. په دغه پیسو کي داختلاس او درغلي پیسي دپلټني په پایله کي تثبیت او محکمي ته راجع شوي دي ، ددغو پیسو له جملي څخه ۴۲۵۲۹۹۷ افغانۍ دنوموړی وزارت بهرنیو نمایندګیو ته او ۱۵۷۵۰۰۰ افغانۍ د کندهار مهاجرینو له پاره د شیر محمد اعتباري، له خوا او داستاد اکبر اکبر د سپارښتنو له مخي، عرض کوونکو ته پرته له دي چي کومه لایحه موجوده وي ورکړل شویدي .

پاتي نوري پیسي دمهاجرینو دراستنولو دچارو وزارت مرکزي معین عبدالقادر احدي او د نوموړی وزارت اطرافي معین فضل احمد عظیمي ، مالي او اداري رئیس ډاکتر محمد عثمان ظفر له خوا توزیع شویدي .

داپه داسي حال کي هغه مهاجرین، چي سختو دیخنی او ګرمی ورځو کي له ګاونډیو ملکونو څخه ایستل کیږي هیڅ مرسته نه ده شوي .

دغه پیسي چي دتعامل او معیار پرخلاف توزیع شوي او د اسي اشخاصو ته، چي دمهاجرت تصدیق نه لري توزیع شوي ، نو له دي امله استاد اکبر اکبر او شیر محمد اعتباري دمهاجرینو دراستنولو پخواني وزیران تورن او مسوول ګڼل شوي دي .

فضل احمد عظیمي ته څوک څه نشي ویلاي ولي داحمد ضیا لومړي مرستیال په قول دملي قهرمان ددوستانو څخه دي .

جرمونه په هر ټولنه کي شته ، مګر هلته بازخواست شته ، دافغانستان په اداره کي بازخواست کمزوري دي.

ولي چي مسؤل چارواکو لخوا په یوه بهانه او بله بهانه مخنیوي کیږي. ډیر لږکیږي چي دوزیر پخپل رئیس زور ورسیږي او د رئیس په مدیر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۶۲)

**زوريا زر**

د سردار محمد داود او سردار محمد نعيم وارث ، دسردار محمد نادر نعيم د ۲۲۰ جريبه ځمکي چي شرعي اسناد په لاس کي لري.

نوموړی ځمکه د کابل ولايت دشکر دري ولسوالی د کوچکين په کلی کي موقيعت لري او دشکر دري د ولسوالی له خوا يي د کابل محکمي د ۸۰ ـــ۲۳/۳/۱۳۸۸ قضايي قرار له مخي يي ملکيت ثابت شويدي، دحاجي هميشه گل له خوا په غير قانوني توگه غصب شويده .

دغه راز د څيړونو په ترڅ کي معلوميږي، چي هميشه گل غاصب او دمحکمي له پريکړي څخه متمرد او درغل ګڼل شويدي.

د اوو موردو په اساس چي ياد ملکيت دسردار محمد نادر نعيم ګڼل شوي، خو بيا هم هغه له غصب څخه نه اوړي او نه هم محکمي ته حاضريږي ، يو کانتينر دځمکي پر سر ږدي تر څو خپل ذوليد ثابت کړي . دشکر دري دپوليسو له خوا ولسوالی ته ليږدول کيږي او بيا هم دغاصبينو له خوا دوه کانتينره په مخفي ډول په نوموړی ځمکه ځاي کي پرځاي کيږي، ددي د پاره ذواليدي ثابت کړي.

دمحکمو او دپوليسو له خوا په داسي حال کي چي دغاصبينو مخه نيسي دستايني وړ دي او داخبره چي غاصبين تر اوسه ولي په سزا نه دي رسيدلي، دا دپوښتني وړ ده ، هيله ده چي قانون سره سمه سزا ورکړل شي .

دپام وړ خبره داده چي هميشه گل دميراحمد دقضيي اصلي خوا، لخوا وکيل ټاکل شويدي، په مختلفو ډولونو سره اصلي مدعي ميراحمد نومي د دعوا نه تير، مگر وکيل يي نه تيريږي، چي وايي ( مدعي سست و گواه چست ) .

دسردار محمد نادر نعيم دکمزوري نقطي نه چي حيا لري ګټه پورته کوي .

داباید ووايو چي دزور او زر په څنګ کي بي حيايي هم لوي رول لري .

عدالت او غوڅ اجراات نشته.

حاجی هميشه گل دميراحمد د وکيل په توگه دعوا مخ ته وړي، چي اصلي مدعي ميراحمد ددعوا نه انحراف کړيدی، مگر په چا يي مني؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۶۳)

**دمالیي په وزارت کي داختلاس او درغلي قضیه**

دیوي باخبري سرچیني په رپوټ کي ویل شویدي چي دپنجشیر د آب دري دشرکت رئیس محمد رسا د ملا زوي چي له کورنیو چارو وزارت سره د غوښي تړون لري ، کله چي خپل تړون تکمیل او د ۹۱۷۵۱۲۲ افغاني حواله اخلي او وروسته دپیسو چک له وزرات مالیي څخه اخلي .

دوه ورځي وروسته محمد رسا نومي دخزانو د ریاست دتادیاتو مدیریت له کارمندانو په مرسته د نموړو پیسو دویمه حواله په جعلي اسنادو جوړوي او دشرکت په نوموړی حساب انتقالیږي .

وروسته له دوو ورځو د نوموړي ریاست یو کارکونکي د بسم الله په نامه متوجه کیږي چي پیسي دوه ځله د پنجشیر د آب دري د شرکت په حساب انتقال شوي نو موضوع د نوموړی ریاست مرستیال محمد اقا خبروي . هغوي موضوع د افغانستان بانک ته خبر ورکوي چي ددریم چک پیسي دشرکت په حساب انتقال نه کړي هغو د رد د ځواب ورکوي چي پیسي انتقال شوي .

کله چي محمد رسا نومي پوهیږي چي موضوع افشا شوي نو پیسي ببیرته د مالیي وزارت په حساب تحویلوي او قضیه دکشفي ارګانونو ته خبر ورکول کیږي چي وروسته له تحقیق څخه د مالیي د وزارت ۱۲ تنه کارکونکي او د مالیي پخواني معین وحیدالله شهراني د جرمي شریکانو په توګه په کوته کوي . بالاخره د شهراني په اړوند دلایل قانع کوونکي ارزول کیږي او دنورو څوارلسو کسانو جرمي عوامل ثابت دي په دي برخه کي کوم تجویز نه نیول کیږي .

داسي فکر کیږي چي دنوموړی قضیي تر شا زور واکان شتون درلود چي قضیه هیڅ دوران ونه موند او قانوني تعمیم ییپه اړوند ونه نیول شو . استدلال داؤ چي محترم حاجي رسا دمقاومت په وخت کي د امر صاحب سره ډیره مالي مرسته کړیوه. ربنتیا او دروغ به یي څوک سپین کړي؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۶۴)

**دډیزل جنراتورونو ترون**

دهیواد جمهور رئیس حامد کرزي په کندهار کي، دبریښنا د ستونزي دلیري کولو له پاره په خپل ۵۱۹ ـــ ۲۹/۱/۱۳۸۷ حکم کي سپارښتنه وکړه، چي دهمدي حکم پر بنیاد A.G.N دعبدالغفار نعیمي له کمپنی سره تړون وشو، چي یوازي اووه ډیزل جنراتورونه 500KW هر یو له دووپایو ترانسفارمر 500KVA ستیکرد نایزیشن پینلونو سره راوړل شول .

هغه یو تخنیکي عوارض پیدا او کرینک شافت یي مات شو او پاتي شپږو پایو له 2MW څخه زیات تولید نه کړاي شو .

چي مسولین یي شپږ میاشتي لادرکه او د نوموړی پروژي کار په داسي حال کي ، چي ۵۹۴۶۴۸ دالر AGN کمپنی ته او ۱۸۳۸۰۷۶ افغانی یي داوارولو او د احاطي له پاره د ساختماني ته به ورکړل شي په تپه ودرید .

جالبه خبره داده چي د هیواد ټولي اداري د نوموړی تړون څخه ځان بي خبره ښیي، دکندهار اداره وایي چي دبریښنا انرژی وزارت له خوا یي تړون شوي خو دبریښنا وزارت خپله بي خبري څرگندوي . سربیره پرهغي د کمپنی ادرس او پیژندنه چي نوموړی جنراتورونه یي قرارداد کړي معلومه نه ده او پروژه همداسي بي ځښتنه پاتي ده .

ځیني بیا وایي چي کله اسدالله خالد د کندهار والي و، هغه ښایي چي مالومات ولري .

خو دبریښنا د زیاتي اړتیا له مخي یو پلاوي د مالیي د وزارت د استازي، د کندهار ولایت د استازي ، دبریښنا موسسي مرستیال انجینر همایون کوهستاني ، ددفتر رئیس الحاج نور الحق فقیر یار ، دبریښنا وزارت په اداري چارو کي مرستیال انجینر محمد اکبر بارکزي ، تر ریاست لاندي وگمارل شول تر څو د جنراتورونو د پیرودني موضوع چټکه کړي او د متحده عربي اماراتو ته سفر وکړي .

AGN کمپنی د نوموړو جنراتورونو بیه ۶۷۰۰۰۰ دالره ټاکلي وه ، نوموړی پلاوي د یادو جنراتورونو د تړون څخه بي خبري په گوته کوي او وایي چي نوموړی پلاوي یوازي د نوموړی کمپنی د امکاناتو د مطالعي له پاره متحده عربي اماراتو ته تللي و او بس.

لنډه داچي د لګښت سره سره دغه پروژه عملي نه شوه او نه هم کومه اداره دهغي مسوولیت پر غاړه اخلي . دادي داداري فساد یوه نوي ډول بیلگه ده . مګر پیسي ورکي ، چي اخیر کي نه جنراتور په لاس راغي او نه پیسي ، مگر پیسي راټولي شوي . دداسي کمپنی سره قرار داد شویدي چي چا ته یي ادرس معلوم ندي او یا ادرس نلري. دکندهار ولایت داداري ریاست ۱۲۳۳/ ۸۸/۶/۱۰ لیک دشکایت ارگانهاي محل عمومي ریاست په عنوان هم اغیزه ونکړه.

زموږ په هیواد کي داسي معاملي او اجرات کیږي، چي څوک یي اصلاً د کلا وي سر نشي موندلای. بله بیلگه:

دپنجشیر د ولایت سړک، چي پنجشیر ولایت اصلاً یو سړک لري، چي چهاراهي پکي نشته.

دحیرانتیا خبره داده ؛ چي سړک جوړشویدي، مگر جوړونکی او دپیسو ډونر یي یي معلوم ندي.

یوازي ولسي کسان شکایت لري چي څوک غوږ هم نه پر نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۶۵)

**د بهرينو هيوادونو د ځواکونو له خوا د افغانانو د وژني يوه بيلګه**

د يوي باوري سرچيني په حواله ويل کيږي چي د يوه استراليايي تبعه ويلم رابرتس له خوا ديوه لفظي شخړي په پاي کي فضل الربي مشهور په کريم الله په ۱۴/۳/۱۳۸۸ په ميدان ښار کي په داسي حال کي وژل کيږي چي شپيته تنه پرسونل هم موجود وو. رابرتس د کتار مشر دي.

نوموړی چند راسنګ ته چي د شکور د سرتيم دي امر کوي چي کتارته حرکت ورکړي ، چند راسنګ د کريم الله په موټر کي سپريږي او د غزني پر لور حرکت کوي . غزني ته نږدي کتار دروي او يو څو هوايي فيرونه کوي . او دشاهدانو له شهادت سره سم رابرتس ديوه لاسي بم په وسيله د نوموړی موټر ته اور اچوي او هغه سوځي ، کتار د پکتيکا خواته روانيږي خو چند راسنګ د پيښي جريان د FHI موسسي ته خبر ورکوي . رابرتس له غزني څخه بيرته د کابل پر لور راځي او له موسسي څخه پاسپورت او لس زره ډالره له ځان سره اخلي او غواړي چي د هوايي ډګر له لاري دوبي ته ځان ورسوي خو دملي پوليسو له خوا بندي او وروسته له څيړونو ابتدائيه محکمه په خپله ۱۱۲ ــ ۵/۸/۱۳۸۸ فيصله کي نوموړی په اعدام محکموي ، کله چي دوسيه د حق العبدي له پاره ستري محکمي ته راجع کيږي نو په سل زره ډالره د خصومت د قطعه کولو له پاره حکم کوي چي بيا وروسته د ستري محکمي له خوا په ۲۸۳۵ ــ ۲۱/۸/۱۳۸۹ فيصله کي د حق الله په برخه کي په شل کاله بند محکوميږي . دادي د بهرنيو ځواکونو له خوا د افغانانو د وژني يوه بيلګه او بي پروايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۶۶)

**روابط مهم دي که ضوابط ؟**

یوه باوري خبري سرچینه رپوټ ورکوي چي د ۱۳۹۲ کال د چنګاښ د میاشتي په اته ویشتمه ، د هجران هجرت شرکت رئیس حاجي میرزا د محمد رحیم زوی، د هیواد د جمهوري ریاست مقام ته شکایت کوي ، چي په غیر قانوني ډول یي د ملي امنیت د موظفینو له خوا یي شرکت پلټل شویدي ، چي له دغه امله د افغانستان د اسلامي جمهوریت دمقام له خوا په ۲۷۶۵ ـــ ۲/۵/۱۳۹۲ حکم کي سپارښتنه کوي تر څو د نوموړی شکایت د یوه مسلکي ټیم له خوا و څیړل شي او دملي امنیت ریاست دي دڅیړني پلاوي ته لازم شرایط برابر کړي .

د څیړني په بهیر کي حاجي میرزا ادعا کوي چي دخپلو کارکونکو د وهلو ډبولو سربیره ۴۲ عرادو زرهي وسایطو، چي د ایتا لیا د ځواکونو پوري تړاو لري او دغه راز دیو شمیر جواز سیر او پلیټونو د ګرزیدني کارتونه او کمپیوټرونه له ځان سره وړي دي .

او زیاتوي چي دغه دسیسه د عبدالقیوم کټوازي له خوا ، چي مخکي د پکتیکا ولایت والي وو او اوس د ملي امنیت د عمومي ریاست مرستیال دي جوړه شویده ، کله چي نوموړی والي وو نو ورسره پیژندل او له ما څخه یي څو ځله د پیسو غوښتنه کړي وه ، چي ددوستانه اړیکو له امله یي غوښتنه پوره شویده .

خو کله چي موضوع د پولیسو له خوا څیړل کیږي او لیکي چي یو شمیر زرهي وسایط له جعلي پلیټونو سره، چي دولسي جرګي او مشرانو جرګي او ملي امنیت له نوم څخه په دوو سرایونوکي ، چي یو دبګرامیو دولسوالی او د کابل په شش درک کي وه ، او یو شمیر مجهول الیهویه خلګو ورڅخه ګټه اخیسته . او نوموړی اشخاصو په پام کي لرل چي پر یو شمیر دولتي ادارو تروریستي حملي وکړي ، چي د نوموړو پیښو د مخنیوي له پاره یي دغه کار کړیدي .

د ګمارل شوي پلاوي له خوا نوموړی شرکت پلټل کیږي ، په پایله کي یي ۱۳۶ مشکوک جواز سیرونه ، چي په درغلي جوړ شوي و، ۷ قطعي د ګرزیدني کارتونه د کورنیو چارو وزارت د تروریزم سره د مبارزي د مرستیال په لاسلیک ، ۵۹ جوړي نمبر پلیټونه او ۸ قطعي د ګرزیدني کارتونه د مشرانو جرګي د امنیتي مسوول په لاسلیک او یو کارت د ملي دفاع وزارت د پوهنتون د قوماندان په لاسلیک ، دوه داني کمپیوټرونه، دوه میله کلاشینکو فونه او یوه میل تفنګچه په لاس راوړل کیږي او ۴۳ عرادي زرهي واسطي چي د خاوندانو هویت یي معلوم نه دي په ورکشاف کي موجود و.

کله چي جوازسیرونو د ترافیکو ریاست ته راجع کیږي ، څرګندیږي چي ۲۲ جلده جواز سیرونه جعلي دي .

میرزا کټوازي نه چا بازخواست ونکړ.

په ډیر زحمت بندي شو ، چي وروسته ژر خوشي شو ، ولي چي دمشرانو جرګي مشر مسلمیار یي شاته ولاړ ؤ.

په پایتخت کي په جعل کاري لاس پوري او دوام ورکوي، مګر بیا هم څرنګه چي رابط لري دبند نه خوشي شو.

پیسه او بډي کار کوي، مګر واسطه هرځای کار کوي او په موږ کي ډیر دود ده.

په موږ کي واسطه بده نه ښکاري، که حق وي او یا ناحقه. میرزاخان کټوازی، فکر نه کوم چي مجازات شي، ځکه هم زور لری او هم زر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۶۷)

**د ملي دفاع وزارت او اختلاس**

له بده مرغه زموږ په هیواد کي یو شمیر کړي پرته له دي چي خپلو دیني او عقیدتي مقدساتو او ارشاداتو ته پاملرنه وکړي، په دغه کرغیړني پدیدي لاس پوري کوي ترڅو، چي نا جایزه او ناروا ګټي تر لاسه کړي چي موږ یي یوه قضیه د بیلګي په توګه خپروو.

داسي مثالونه ډیر دي، دلته هغه لیکم چي زما سیل بین ته په لاس راغلي دي، داسي لیکل شویدي.

د ملي دفاع وزارت دلوژستیک دریاست له خوا د ۲۱ قلمو روغنیاتو او مبلایلود کال ۱۳۹۳ د اړتیا دوسیه جوړه او دنوموړی وزارت دخریداری څانګی ته یي لیږلي ده چي بیه یي ۲۰۵۴۳۴۱۲۳۰ افغاني کیږي.

په لومړي ګام کی د نرخ اخیستلو اداره په جعلي استعلا مونو سره ، چي معلوم نه دي له کوم شرکت ،کوم دوکان ، کومي مغازي او په کوم ځاي کي یي نرخ اخیستي دي.

په دویم ګام کي چي موضوع اعلان ته وسپارل شوه د خریداري د اداري دپرسونل له خوا چاته افر توزیع نه شو.

لنډه داچي د افر د خلاصوني غونډه جوړه، چي په ټیټه بیه افرونه شپږ سوه پنځوس ملیونه ، بل افر ۹۸۰ ملیونه ، بل ۱۱۰۰ ملیونه ، بل ۱۵۰۰ ملیونه او وروستني افر ۱۹۹۹ ملیونه په ډاګه شول.

هغه قرارداد چي دوه ملیارده افغاني نرخ ورکړي او هغه کسان چي په فساد کي لاس لري هغه قرارداد کونګي ته ۱۹۹۵ میلونو افغانی، چي لوړه بیه یي درلوده او له اخرین قیمت څخه پنځه ویشت ملیونه دالره تفاوت لري یو ښکاره فساد دي، نرخ ورکړ. مثلاً دیوی ډوډی بیه لس افغانی ده، په هر ځای کی چي وی بیه یي هماغه ده او یو لیتر مبلایل چي بیه یي ۱۲۰ څخه تر ۱۵۰ افغانیو ده ، او هغه نرخ چي د پیرودني هیات اخیستي ده ، بیه دیوه لیتر له ۵۰۰ څخه تر ۶۰۰ سوو افغانیو ده . وګوري څومره تفاوت دي. دایو مثال ؤ، چی عرض شو.

هیواد کي عمده فساد دهیواد په خریداري قرار دادونو او د ګمرک په محصول او قاچاق کي دي . یعني په خریداري او قرار دادونو کي قیمت لوړوي، شکایت یي نه پورته کیږي، ددواړو ګټي پکي تضمین شوي وي . او ګمرک برعکس قیمت ښته لیکي چي بیا ددواړو خوا ګټي تضمین کیږي، او قاچاق او یا دمخدره مواد معامله څه بل ډول ده، مامورین حق اخلي او دمراقبت نه سترګي پټوي . قضیه پټه پاته کیږي، غوږ تر غوږ نه خبریږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۶۸)

**مسخه شوي قاضيان**

سيل بين چي سيل کوي او تر تولو ځان بي وسه ګڼي او يوازي غم خوري.

اوريدلي مي وه چي ددولت کوم چارواکی دکومي پيښي په اړوند، د هيواد په بوه محبس کي بندي وو .

کوم بنديان چي له نوموړی سره په يوه کوټه کي بنديان وو، ورڅخه پوښتلي ؤ، چي ښاغليه تا به په خپله دچارواکی په موده کي څومره بډي اخيستي وي او عيش نوش به دي کړي وي ؟

نوموړی چارواکي ورته ويلي وو : هغه وخت چي ما ددولت په اډانه کي يوه څوکی درلوده لږ او ډيري بډي وي خو اوس چي چور او تالان دي زه بندي يم .

دغه کيسه کټ مټ د پښتني بانک دپنځه ديرشو مليونو ډالرو داختلاس دقضيي په برخه کي او دغي ته ورته په نورو قضيو کي صدق کوي، چي سړی په دي باوري کوي چي رښتيا هم چور او تالا دي.

دهغه راپور له مخي چي د کابل د ولايت دامنيت د استيناف ددیوان د ۲۵۵ ـــ ۲۷/۱۱/۱۳۹۲ قضايي قرار له رويه چي ډير اوږ دي او موږ يي لنډيز رااخلو،په کي راغلي دي چي د پښتني بانک رئيس ښاغلی و حيات الله دياني ،او نور مسؤل امران .

تش په نامه ديو شمير شرکتونو دمامورينود مرستي او همکاري په پايله کي دغه اختلاس په داسي ډول رامنځته کيږي :او شرکتونه ددرغلي په توګه ديوه او بل نومونو په نامه، چي نه شرکت وجود لري او نه هم دتضمين کورونه او جايدادونه شته، چي له امله يي په هوايي ډول پنځه ديرش مليونه ډالره دقرض په توګه اجراشويدي.

ددياني صاحب دفساد قضيه نه پوهيږم چي څه نوم ورکړم، رشوت ووايم او که غلا او که کسه بري. دخپل نور مامورينو په ګډون يو عادي جرم ندي ، بلکي ملي خيانت دي ، چي ملت متضرر او دولت بدنامه دي . دومره ډير مبلغ په تنهايي نه خوړل کيږي، حق بايد ورکړي. کټ مټ د ميوند برکي غوندي کيسه ده.

مجددي صاحب د خپل مهربانه زړه او نفوذ نه کار اخلي، په خپل تضمين ، قاضي القضات عظيمي دشلو کلونو محکوم دخوشي کيدو امر اخلي.

وايي چي دکابل بانک قضيه تردي لا ويرنه ږکه ده.

داکيسه دسيل بين دپاره يوه نمونه ده، دکابل بانک موضوع تر دي تراجيدي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۶۹)

**چارواکي هم په میخ وهي او هم په نال ؟!**

په هیواد کي دچاپیریال دککړتیا په اړوند ، چي څه ډول یي مخنیوي وشي په لوړه کچه غونډي جوړیږي او پریکړي کوي، چي د نورو عواملو ترڅنګ مهم لامل یي د بي کیفیته او ټیټ کیفیت تیلو واردول دي، چي مخه یي نه نیول کیږي او ددي پر ځاي چي زموږ لوړ پوړي چارواکي یي واردونکو ته سزا ورکړي پر عکس هغو ته دخرڅلاو زمینه برابر وي.

دیوي باوري سرچیني په حواله دنوید ایل شرکت دیوه لیک پر ترڅ کي د جمهوري ریا ست مقام ته په یوه لیک کي لیکلي، چي دنوید ایل شرکت سره تړون لاسلیک کړیدي چي د هغه له لاري هیواد ته تیل واردکړي ، کله چي دنوموړو تیلو اووه ټانکره تیل د مسولو ادارو له خوا نیول کیږي او ګوري چي تیل بي کیفیته دي نو دهغوي د خرڅلاو مخه نیسي او په لیک کي یي داسي ویل کیږي، چي له نوموړو تیلو څخه دخښتو پخولو په بټیو کي کار اخیستلاي شي. نو له همدي امله ددي پرځاي چي زموږ لوړپوړو چارواکي ددغسي تیلو مخه ونیسي او واردکونکو ته یي سزا ورکړي ، پرعکس دافغانستان داسلامي جمهوریت دجمهور رئیس مرستیال مارشال محمد قسیم فهیم دشرکت دچل ول سره مل کیږي او په خپل ۱۰۷۲ ګڼه حکم ورکوي، که چیري له نوموړو تیلو څخه په ځینو مواردو کي ګټه اخیستلاي شي، دګټي اخیستلو موارد دي تثبیت او داړوندو ارګانو نو دپلاوي تر نظر لاندي دخرڅلا و په برخه کي قانوني کړني وشي.

نو په دغسي حالاتو کي چي په خپله زموږ د هیواد لوړ پوړي چارواکي د شرکتو نو چل او ول مني او په دي نه پوهیږي چي موټرو لوګي دهیواد فضا او د بټیو لوګی کومي بلي فضا ته پورته کیږي ؟

او پدي ډول دګټي اخیستلو زمینه برابریږي . او پدي بهانه بي ارزښته تیل دنورو تیلو سره ګډ او بیا په لوړ قیمت بازار ته عرضه کیږي، داسي عمل یواري نه بلکه په دوام داره ډول تکراریږي ، چي کله یوه بهانه او کله په بله پلمه دوام مومي ، او ساده پلمو ته لبیک ویل کیږي او ضرر یي عام وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۷۰)

**د محصل تبادله**

دباوري سرچينو په حواله عبدالروف د عبدالغفور زوی او عبدالغني دعبدالباري زوی، چي دغزني ولايت اوسيدونکي دي د ۱۳۸۴ کال د زمری دمياشتي په اووه لسمه نيټه، چي دډاکټر هاشم تښتوني په تور او له دښمنانو سره دمرستي په تور نيول شوي و او عبدالروف چي د ۱۳۸۶ کال دسلواغي دمياشتي په شپږمه ګڼه قرار له مخي دستري محکمي دعامه امنيت ديوان له حکم سره سم په شل کاله بند محکوم شويدي .

او دغه راز عبدالغني، چي د ۱۳۹۲ کال دتلي دمياشتي په ۲۴ نيټه د ۲۲۶۷ ګڼه قرار له مخي په پنځه کاله اويوه مياشت بند محکوم شوي و او دسناتور بخت بي بي دزوی ميرويس او زوم يي د حکمت الله په نامه ، چي دپوليسو افراد ؤ، دمخالفينو له خوا نيول شوي و، چي وروسته حکمت الله په قتل رسول شوي او زوی يي چي په هند کي ددويم صنف محصل و، دهغه په بدل کي دخلاصون غوښتنه کړي وه، چي نوموړی دوه تنه جنايت کاران د تبادلي په ډول خوشي شول .

نو داپه هيواد کي دجرايمو يوه بل ډول بيلګه ده، چي له بده مرغه زموږ په هيواد کي يي رواج موندلي دي.

داسي تبادله په ډيره ظالمانه دوسلوالو مخالفينو لخوا څو ځلي تکرار او دمجبوريت له مخي عملي شويده.

ګرګان ګيري او اختطاف ناوړه پديده د پاکستان نه افغانانو دځان سره راوړيده ، چي دا پخوا افغان هيواد نه پيژنده .

داسي د تبادلي معاملي څو ځله منځ ته راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۷۱)

**د اختلاس يوه قضيه**

ديوه تور په ترڅ کي چي دخوست ولايت دملي امنيت د ۸۲ اداري په پخواني مدير فاروق جان باندي پوري شويدي په کي ويل شويدي : کله چي نوموړی د وزيرانو شورا د ۱۳۹۰ کال دغوايي دمياشتي ددياړلسمي نيټي د څلورم نمبر مصوبې له مخي د هغه پلاوي په ترکيب کي، چي دگمرک ،امنيه قوماندانی او دترافيک د مديرت استازي په کي گډون درلود دنده ترسره کوله، چي ترڅو دښي لاس اشترنگ موټرونه او دنورو موټرونو دبيي په ټاکلو کي گمارل شوي و، نو په غير قانوني ډول يي پليټونه توزيع او دموټرو په بيه کي کموالي راوستي، چي له امله يي ۲۳۸۶۵۰۰۰ افغانيو زيان ددولت بودجي ته اړولي دي، چي په دغو پيسو کي دفاروق جان دخساري سهم ۳۹۷۷۵۰۰ افغاني کيږي وروسته له تحقيق څخه کله چي موضوع محکمي ته راجع کيږي، دخوست د امنيت عامه ديوان له خوا د ۱۳۹۱ کال د مرغومی دمياشتي داوولسمي نيټي د ۱۷۸ فيصلي له مخي په دولس زرو افغانيو جريمي متهم پيژندل شوي او بيا دستري محکمي د تدقيقي نظر له رويه موضوع داستيناف محکمي ته راجع شوي .

دادبېو او اختلاس يوه قضيه چي دپريکړو دڅرنګوالي په اړوند يي قضاوت لوستونکو ته پريږدو .

دلته ستاسي پام دخوست دامنيت عامي محکمي فيصله ته راګرځوم ، چي دلته انصاف مدنظر ندي نيول شوي ، د ۲۳۸۶۵۰۰۰ افغانيو په مقابل کي په ( ۱۲۰۰۰ ) افغانيو مجازات شويدي ، په رښتيا چي انصاف نشته .

په محکمو کي داسي غير عادلانه د افراط او تفريط په چوکاټ کي ډيري کيسي اوريدل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۷۲)

**دګلاب الدین شیرزایي پور**

ګلاب الدین شیرزایي ۲۵ ملیارده پخوانۍ شني ( جنبشي) پیسي، ددولت نه پور وړیدي او دده دبانک شتمني ګنګل ګیږي ، مګر دبي مسؤلیتي او بي تفاوتي له کبله داشتمني ۲۵ میلونه افغاني دګنګل سره دمزارشریف دپښتني بانک دمدیر ښاغلي محمد یاسین لخوا د دادمحمد بانک ته لیږدول کیږي . او پدي وسیله دولت ته یوه لویه خساره رسیږي .

ګرچي محمد یاسین تر ډیره وخت نه ورک ؤ .

کله چي په خپل تقاعد پسي راغلي تصادفي ګیرشو . دده په بند به هیڅ ونشي ، خو د دولت خساره به جبران نشي . داهم دفساد نه ډیرو نه یوه نمونه ده .

ښاغلي محمد یاسین او داد محمد به جرم دخداي په خطر نه ؤ مرتکب شوي ، ممکن دنورو سره یي هم سرښورولي وي .

ولي پوه دي، هر سړي پوه دي چي بازخواست او تپوس نشته .

که څه هم هر څوک دفساد ناري وهي ، مګر دمسؤولو کسانو لخوا اقدام دایمان په برکت کیږي او ملي ارزښت ورته ارزش نلري په بي ننګي کي ډوب دي .

ګرچه ګلاب الدین شیرزایي مړ شو ،ځیني وایي په مرموز ډول ووژل شو .

دتمیز دیوان د نوموړي دوسیه تر اوسه فیصله نکړه .

شیرزایي هم نه بي واسطي او نه بي پیسو دی، چي تر اوسه محاکمه نشو.

ګلاب الدین شیرزایي څنګه ووژل شو ؟

دیوي باوري سرچیني له رپوټ سره سم ګلاب الدین شیرزایي چي درامش نومي په کرولا موټر کي دهغه له معامله دارانو څخه وو د ۱۳۹۰ کال دلړم دمیاشتي په اووه لسمه نیټه د قلمي تفنګچي په واسطه د څلورمي ناحیي په سیمه کي وژل کیږي . پولیس د قاتل په لټه کي کیږي او په پایله کي رامش نیسي ، لنډه داچي دنوموړی قضیه ددویمي حوزي ابتدائیه محکمه په خپله ۲۶۸ ـــ ۱۱/۱۱/۱۳۹۰ فیصلي کي رامش نومي ته برآت ورکول کیږي .

او دکابل استیناف محکمه په خپله ۵۳۰ ـ ۱۸//۴/۱۳۹۱ فیصله کي دابتدائیه محکمي پریکړه تائیدوي،

بالاخره نوموړی فیصله دستري محکمي ددیوان له خوا ردیږي . داچي بیا وروسته څه وشول معلومه نه ده خو دخواشیني ځاي دادي چي ولي دنوموړی وژونکي په سزا ونه رسید ؟

داهغه پوښتنه ده چي کارپوهان یي داداري فساد زوراورو ته منسوبه وي . مګر دابتدائیه او استناف قاضیانو نه چا ونه پوښتل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۷۳)

## دتیمورشاه اعدام

هغه وخت چي د ۱۳۸۶ کال د لړم د میاشتي په پنځلسمه نیټه ، د جمهوري د ریاست د مقام له خوا د ۱۸ مجرمینو داعدام حکم صادریږي ، نو اړوندو ادارو ته دنوموړی حکم سپارښتنه کیږي او د محبس قوماندانی ګمارل کیږي چي نوموړی شپاړس تنه له نورو محبوسینو څخه جلا تر څو داعدام حکم وربانډي عملي شي.

نوموړی چي باید د لومړي نمبر قول اردو په پولیګون کي اعدام شي، نو دیوه استعلام په ترڅ کي دملي دفاع وزارت ته لیکي ، خو له دري تنو پهره دارانو کوم صلاحیت لرونکي شخص چي استعلام اړونده ادارو ته راجع کړي، د ملي دفاع وزارت کي شتون نه درلود .

وروسته د محبوسینو دعمومي رئیس د تلیفون له لاري، چي ګواکي موضوع یي له لوی درستیز سره شریکه کړی او هغه لومړی نمبر قول اردو ته امر صادر کړي دي.

نو شپاړس تنه محکومین دهغوي دمسوول ټیم سره چي ټول ۵۲ تنه کیږي دپولیګون په خوا روانیږي، د لومړی نمبر قول اردو منسوبین، کله چي نوموړی ډله هلته رسیږي ، هغوي مزاحمت ایجادوي او ان داچي هغوي تحقیر او توهین کیږي .

دهمدي مزاحمت له مخي دوه ساعته ناوخته کیږي او دشپي تیاره خوریږي . دیادوني وړده کله چي محکومین د سمونیار ضیاء الدین له خوا تالاشي او په دویمه دروازه کي دجان ګل له خوا چک کیږي او د سمونوال عبدالکریم له خوا یي ورسره توکي اخیستل کیږي او دنوموړی له خوا ولچک کیږي ،ټول معدوهین دشاله خوا ولچک کیږي ، خو تیمور شاه د مخي له خوا . نورو معدوهینو پر سر مخصوصي خولۍ اچول کیږي، خو دتیمور شاه پر سر دسمال اچول کیږي .

لنډه داچي محکومین دشپي په اتو بجو نوموړی د اعدام ځاي ته درسیدو سره معدوهین له موټرو څخه کښته کیږي او شا یي دیوال او مخ یي دغرب پلو ته په کتار درول کیږي . یوه موضوع د یادوني وړ ده چي سره له دومره تلاشیو تیمورشاه سره یو مبایل شته، چي سیمکارت یي دده له خوا ژوېل شوي وو.

خو داچي قصداً لازم تدبیر ورته نیول شوي نه وو او تیمور شاه په داسي ځاي کي درول شوي وو، چي دیوال کنډو درلود ، کله چي حکم وربانډي تطبیق کیږي وروسته لیدل کیږي ، چي د تیمورشاه جسد دهغوي په منځ کي نشته او تښتیدلي دي ، په ډیر مهارت ګام په ګام ورسره مرسته کیږي .

دتیمورشاه دتښتیدلو په پېښه کي یوه توطیه په کار وړل شوي وه، چي مخکي جوړه شوي وه، چي واړه مامورین لکه سیدخان د محمد یاسین زوي ، دوست محمد دمراد خان زوي او عبدالکریم د فضل قادر زوي وپیژندل شول دایو ډول دزورواکي او دبډو یوه بیلګه وه، چي یوخطرناکه جنایت کار یي په پایله کي له اعدام څخه خلاص شو .

تیمور یوبل ځل هم نیولي شوي ؤ، چي د لس زرو دالرو په مقابل کي په سالنګ کي وتوانیدي چي فرار وکړي او مخ کي هم یوه بهرني ښځه ګروګان نیولي ؤ، چي دفرانسي تبعه کلیمنتس کانتوني نومیده.

اوددویم ځل دپاره هم په تیښتي موفق کیږي .

دمحبس مامورینو دده دتښتي دپاره ګام په ګام پدي ډول زمینه برابره کړه:

1. اعدام باید د پلچرخي محبس په دننه کي وای، نه دپولیګون په میدان کي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. کیدای شوای چي اعدام نه په ډلیزه ډول، بلکي په څو ځلي د څو تنو دپاره ، چي سم کنترول او اجرا شوي وای.
3. اعدام باید په رڼا کي شویوای ، نه دشپي په تیاره کي دعقرب میاشت اته بجي پوره تیاره وه.
4. دنورو پر سر توري خولی وي، د تیمور پر سر دسمال ؤ.
5. نور دشا دخوا ولچک ؤ، دی دمخ دخوا.
6. دی په داسي ځای کي ودریدي، چي دکتارپه اخیر کي ؤ او شاته دیوال کنډو ؤ.

نوموړي دهغه وروسته بیا هم دخلیل ځدران زوی دپیسو په مقابل کي اختطاف او ووژی.

مسؤل مامورین مجازات نشول، دمحکمي او څارنوالي تر منځ یي دوسیه په تګ او راتګ کي وه، محکمه کله اعتراض کوي، یا کله حبس معطل حکم کوی او کله تیرشوي حبس باندي بسنه کوي.

تیمور دهغه خطرناکو جانیانو د ډلي دی، لکه حبیب استالفي او یا رئیس خدایداد غوندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۷۴)

## دالبيروني پوهنتون رئيس

دالبيروني دپوهنتون دمحصلانو اتحاديي ديوه ليک په ترڅ کي مسوولو مقاماتو ته خبر ورکوي ، چي دالبيروني پوهنتون رئيس ، محب الله بارش دمحمد ايوب زوي چي ۵۲۰۰۰ ډالره درشوت په ډول له ثبات شرکت څخه ، چي دالبيروني پوهنتون بيا رغاونه پرغاړه لري، اخلي او دغه راز محمد ايوب نومي په دري زرو ډالرو اختلاس او ګل مير نومي هم په دري زرو ډالرو تورن کړيدي .څرګنده فساد دي ، بيارغونه درئيس کار ندي ، بلکه دوزارت صلاحيت دي . دا ټولي کلاه برداري ده.

موضوع له تحقيق وروسته محکمي ته ځي او د کاپيسا ولايت ابتدائيه محکمه په خپل ۶۴ ـــ ۹۰/۴/۵ ګڼه حکم کوي او محب الله بارش په دري کاله حبس او داختلاس شويو پيسو په معادلو ورکړي په سزا محکموي . خو بالاخره چي موضوع داستيناف محکمي او اداري فساد په وړاندي اختصاصي محکمي ته ځي ، نو نوموړی ته برائت ورکول کيږي.

ښاغلي بارش سو استفاده تر دي اندازي بي شرمانه ؤ ،چي يو محصل نه يي ولندن ته د ليږلو په پلمه زر دالر رشوت واخيست . پداسي حال کي چي د محصلينو ليږل د وزارت کار دي.

نوموړي پدي لوړ مقام بيا هم پر خپل محصل زړه سوی ونکړ.

بارش په څو نورو قضيو کي ښکيل دي. موږ د محکمي په پريکړه کوم اعتراض او مخالفت نه لرو. يوازي دومره يادونه کوو چي رسنۍ هميشه دقانون پر تنفيذ ارګانونو تور لګوي، چي څوک په اداري فساد او اختلاس متهم کيږي نو دچارواکو د ملا تړ له امله ورته سزا نه ورکول کيږي .

هيله مو دا وه چي په دغه برخه کي هم دنيوکه کونکو رسنيو دنيوکو کومه چاره په کي نه وي .مګر اقاي بارش ددي روښانه فريب کاري او سو استفاده نه مجازات ونه ليد .

داچي ديو علمي او اکادميک په محوطه کي دومره ښکاره ناوړي ګټي دي ، نور دي خدای (ج) رحم وکړي. پدي اخلاقو نوموړی اوس هم استاد دي. او دمحمد يونس قانوني نه يي ۵ زره دالره اخيستي ؤ.

حيرانونکي داده چي داسي حمايه ګري او بي تفاوتي يو دبل حمايه کيږي . ښاغلي بارش باندي دمحکمي حکم صادر شوي ؤ ، مګر دکابل پوهنتون کي په تدرئيس اخته ، پوليسو ده ته موقع ورکړه ، او دمحکمي حکم يي تنفيذ نه کړ .

خو بالاخره دستري محکمي ۴۸۸ ـــ ۸۹/۵/۲ فيصلې په اګر او مګر دوسيه داعتراض تر نامه لاندي دفرار زمينه برابره کړه. استاد يي دا ډول ککړ وي، نوردي خدای رحم وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۷۵)

**عصمت الله دولت زی**

ماسیل بین داسي یو رپوټ تر لاسه کړي و، چي پکښي ویل شوي و چي د کابل امنیه قوماندان عصمت الله دولت زی ۱۷۵ تنه ، په بیلابیلو جرمونزوو تورن کسان پرته له دي، چي قانوني کړني تر سره کړل شي په خپل امر یوازي د ۱۳۸۶ کال په شپږو وروستیو میاشتو کي، له نظارت خاني څخه خوشي کړیدي .

کله چي موضوع څیړل کیږي علیشاه پکتیاوال، چي د کابل د امنیه قومانداني جنایي امر و ، وایي چي په عسکري کي د حکم تطبیق حتمي کار دي، نو کله چي قوماندان امر کاوه موږ هغه عملي کاوه.

سمونوال جلات خان چي د کابل ا منیي قومانداني د سرقت مدیر دي وایي: چي عصمت الله دولت زی ټول کارونه په خپل انحصارکي اخیستي وه او نوموړي هم کوزه هم کوزه ګر او هم ګل کوزه وو.

لنډه دا چي د نوموړو ۱۷۵ تنو د خلاصون څیړنه کیږي ، داسي څرګندیږي چي عصمت الله دولت زی د قانون پر خلاف او له خپل صلاحیت څخه لوړ امرونه صادر کړي او تورن کسان یي د نظارت خاني څخه خوشي کړیدي.

خو دولت زی دا ادعا نه مني او وایي:

چي کله ما د قانون خلاف امر ورکاوه نو باید داړوندو ادارو له خوا د پشنهاد په ډول رد کړي واي. خو داسي هیڅکله نه ده سوي. خو د څیړني پلاوي په دي باور دي ، چي دولت زی قصدا د قانون څخه سرغړونه کړي او هغه د مجازاتو وړ بلل شویدي.

نوموړي دابتدائیه نظامي محکمي دجدي دمیاشتي ۱۳۸۸ کال جلسه کي په بند محکوم شو.

نموړی ددویم مرستیال محترم عبدالکریم خلیلي حمایي له کبله بیرته مقرر او حبس چا پر تنفیذ ونشواي کولاي ولي، چي دداکتراشرف غني په قول دولت یو سهامي شرکت دي ، ددي دپاره چي جزا نموړی ته پند شي او نورو ته عبرت ، مګر هیڅ ونشوه .

چي د نظامي ابتدائیه محکمي د ۱۳۸۷ کال د لړم د میاشتي د لومړي نیټي ۷۳ فیصلي له مخي، نوموړی په څلور کاله بند محکوم شو، مګر بلي محکمي د ۱۷۳ ګڼي د حکم له مخي نقض کیږي. دمجرم په ګټه دقاضیانو د پاره ساده لار په یوه بهانه او پلمه دحکم نقض او یا اعتراض اسانه لار ده، چي دعدالت نه فرار وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۷۶)

## د ۹۲۱ لاريو داوسپني قاچاق

په رپوټ کي راغلي دي په ۱۳۸۵ کال کي د (دوراني کاروان شرکت) د اسياي ميانه څخه ۶۵۹۵ ټنه زړي اوسپني د تور غونډي دلاري راوړي.

په دي ترڅ کي ۹۲۱ لارۍ موټر چي اوسپني پکښي بار وي په جعلي اسنادو سره، پرته له دي چي محصول شي د سپين بولدک له لاري پاکستان ته اړول کيږي، چي د محصول پيسي يي ۵۳۴۳۳۵۲۶- افغاني اټکل شويدي.

دهغه جملي نه د صلاحيت لرونکو مقاماتو له خوا ۴۵۰ ټنو نه، چي ۲۷۰۰۰ ټنه اوسپنه کيږي د تورغنډۍ په بندر کي ساتل کيږي، موضوع د ماليي وزارت ته وړاندي کيږي نو امر ورکول کيږي، هغه تاجران چي حاضر دي چي محصول ورکړي، ۱۱ سلنه دي تري واخيستل سي او هغه تاجران چي تښتيدلي دي شپيته سلنه جريمه دي هم تري واخيستل شي.

د هندکش بارچالاني شرکت د۷۵۷ لار يو په بدل کي، چي تښتول شوي دي ۱۱۰ لاري د اصلي مالکانو له خوا، چي فضل رحيم او طالب نومونه يي دي په تضمين کي پريږدي.

د فيفون بارچالاني شرکت د۱۸ لاريو په عوض کي ۳ لاري په تضمين پريږدي او وروسته تر پلټني د هرات ولايت د ابتدايي محکمي په ۱۳۱ فيصله کي ۱۵/۸/۱۳۸۵ تورن کس به مجازاتو محکوموي او فيصله کوي . چي پلورونکي، اخيستونکي او هم د ګمرک د رييس صديقي څخه تحقيق وکړي.

لنډه دا چي د يوه اوږده تحقيق د بهير څخه د تورنو کسانو او په قضيه يي پنځه تنه څارنوالان، چي په کتمان د جرم کي سهيم وه دولت ته د ۷۷۹۰۷۱۵۸- ميليونه عوايدو د زيان په اړوند چي خپلي دندي صحيح سر ته رسولي نه دي او دڅارنوالي مرستيال ښاغلي فضل احمد فقيريار ، محب الله د حيات الله زوي ،څارنوال عبدالمتين حمدي ، او څارنوال محمدعارف هم پدي قضيه کي دناوړو اجراتو له کبله ګرم بلل کيږي. کله چي محکمه ونه غواړي ، چي فيصله صادره کړي، نو د اعتراض په پلمه دوسيه مسترد کړي.

او محکمي لکه دېخوا په شان پر عدالت سترګي پټي کړي، مسؤل کسان تر اوسه ازاد ګرځي.

او په نيولو کي يي يو کس هم چندان علاقه څرګنده نکړه. دلته هم خاينانو يو بل ته لاس ورکړ.

نه ملزمان محاکمه شول، نه هغه هيآت چي فيصله يي بررسي کړيوه او نه د ګمرک ماموران. دا دفساد څرګنده نمونه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۷۷)

## بيدل شركت

د يوي باوري سرچيني په حواله د بيدل شركت د زورواكو د زورزياتي له امله شكايت كوي او د خپلو حقوقو غوښتنه كوي، چي له ۱۳۷۲ كال څخه تر ۱۳۷۷ كاله پوري يي وارداتي تيل ، د حيرتانو له بندر څخه ايستل شويدي.

د حيرتانو ذخيره چي د نفتي موادو پوري اړونده ده، وارداتي تيل په هغي كي ذخيره او د محصول په وركړي سره هر شركت خپل تيل وباسي.

د بيدل شركت چي په ۱۳۷۲ كال كي ۶۸۵۲۰۱۱ كيلو پطرول وارد اوله هغي څخه ۱۴۸۱۳۸۵ ترلاسه او ۳۷۲۵۳۳ باقي پاتي دي. د وخت د استاد رباني تر مشر تابه لاندي د مجاهدينو حكومت دي.

له كال ۱۳۷۳ تر ۱۳۷۷ كاله پوري ۱۳۲۹۸۲۱۷ كيلو ډيزل او له دي جملي څخه ۱۲۷۷۷۸۵۰ ترلاسه او ۵۲۰۳۶۷ كيلو باقي پاتي دي.

په همدي ډول په ۱۳۷۶ كال كي پطرول ۱۵۴۵۲۲۲ كيلو او له هغي څخه ۱۳۲۹۳۳۴ او ۴۱۵۸۸۸ باقي پاتي دي .

خو د پاتي تيلو بيه يي نوموړي شركت ته ندي وركړي ،نو خپل عرض پاڼه د افغانستان اسلامي جمهوريت مقام ته وړاندي كوي او په دي برخه كي حكم كيږي، چي خپل حق دي وركړي شي.

خو له هغه راهيسي تر اوسه د نوموړي شركت خپل حق تر لاسه كړي ندي، ولي چي د چور په وخت پوري اړه لري.

دا د بيروكراسي او فساد يوه بل ډول بيلګه ده ،چي مونږ تري يادونه وكړه.

تجربه ښيي چي دمامورينو بي تفاوتي او بي كفايتي، دفساد پر څنګ افغان قوم ته لويه بدبختي راوړيده.

او بازخواست نشته چي پوښتنه وشي چي ولي ؟

پدي حصه كي درياست جمهوري دمقام ( ۱۲۵۰ــ ۵،۳،۸۵ ) حكم هم تاثير ونكړ.

مقصد دهغه وخت حكومت او دشمالي ټلوالو له خوا جوړ شويدي .

زموږ په هيواد كي په عمومي ډول پوښتنه نشته .

دبيدل شركت نه پخواني دولت حق نه وركوى او نه موجوده دولت.

درياست جمهوري مقام احكامونه په لاس لري، مګر عملي جنبه يي نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۷۸)

## په بهرنيو چارو وزارت کي د ۱۵۰۰۰۰ دالرو د اختلاس

قضيه داسي شروع کيږي چي د بهرنيو چارو وزارت، د وارداتو مديريت په خپل ۱۹/۱۲/۱۳۸۴-۱۴۰۰۸ گڼه ليک ، د ډاکتر عبدالله په لاسليک د هرات نماينده گي ته ليکي چي ۲۵۰۰۰۰ ډالرو له جملي څخه چي په نوموړي نمايندگي کي شته ۱۵۰۰۰۰ زره يي نغده توگه مرکز ته راوړي ، تر څو د فرعي حساب له مخي ددولت حساب ته شاملي شي.

وروسته کله چي دتفتيش دمديرت له خوا د نوموړی نماينده گی کارونه پلټل کيږي، دي پايلي ته رسيږي چي نوموړی پيسي ددولت حساب ته نه دي شاملي شوي .

نو په پايله کي د قانون د تنقيذ د ارگانونو له خوا څيړل کيږي او په پايله کي  محمدالله افضلي د هرات د نماينده گي رئيس، محمد اسحق مومند د محاسبي مدير او د هرات د نماينده گی اداري مدير عبدالغفار جمشيدي د نوموړو پيسو د اختلاس په تور تورن پيژندل کيږي.

څرگنديږي چي محمد اسحق مومند چي د قضيي اصلي عامل دي، ورکيږي او ماموريت پريږدي ، خو د انتر پول پوليسو له لاري يي د نيولو هڅي شوي دي، چي آن انترپول يي هم په موندلو کي تر اوسه بريالي شوي ندي.

دلته دا دود شويده ، چا ته چي پيسي په لاس ورغلي، بيا په هيڅ صورت ورکولو ته حاضر ندی.

يا مثلاً د پوليسو يو مامور چي مجروح نوميدي ، د ۵۰ زرو کلدارو د بدو زمينه برابره شوه، يو ملگري يي اخطار ورکړ ، چي امر درباندي خبريږي. دده استدلال داؤ ، « چي پنځوس زره کلداري پدي ارزي ، چي پر طرد سم ».

هغه ډول هم وسول، دوه کاله طرد ؤ. وروسته بيرته واسطي او يا پيسو کار وکړ.

دهرات دپيسو بايد هغه وخت پوښتنه شوی وای او د احتياط نه کار اخيستل شوی وای، چي بايد ورکي شوی نه وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (79)

## شرکت ( I.S.S )

د فساد یوه بله بیلګه چي د اړوندو مسولینو له خوا په څومره بي تفاوتي ورسره عمل شویدي، چي رپوټ یي په لاندي توګه خپریږي.

د I.S.S کمپنی چي یوه خصوصي کمپنی او د لوژستیکي توکو د تهیه کولو دنده یي درلوده په 1384 کال کي 1384/2/16 1-10705 نیټي جواز له مخي د بصیراحمد د خیر محمد زوي په نامه جوړشوي، چي اصلي واکداران یي دوه تنه خارجي اتباع دي.

نوموړي شرکت له 1384 څخه تر 1388 کال پوري ټولي 197484625 افغانی د مالیي له اړخه پوروړي چي نوموړي شرکت ورباندي قناعت نه کوي او یوه عرض پاڼه د جمهوري ریاست د لومړي مرستیال په عنوان وړاندي کوي چي په اړوند یي د جمهوري ریاست لومړي مرستیال مارشال محمد قسیم فهیم داسي حکم ورکوي 297- 1391/3/22 وکتل شو" د عارض د عرض پاڼي د غوښتني له مخي د نوموړي مالیه دي بیا وڅیړل شي او ضمناً تر څو چي بررسي پایلي ته رسیږي وروسته د تضمین له اخیستلو مالیه دي په لسو کلونو قسط په اړوند حساب تحویل شي " کله چي موضوع څیړل کیږي نوموړي شرکت سربیره پردي چي مالیه یي نه ده ورکړي، خپل نظامي وسله او تجهیزات چي د کورنیو چارو وزارت له پروتوکول سره سمه باید امنیتي ارګانونو ته وسپارل شي هم نه سپاري.

دغه دوه تنه افریقایي اتباع د نوموړي شرکت د انحلال څخه وروسته ټولي وسلي او مهمات له ځانه سره وړي او معلومه نده چي چیرته به وي، د قسطونو سره وتښتید، ولي چي ضامن یي نه درلود .

رپوټ ورکونکي په پاي کي د نوموړو زیاتو پیسو د مالیي ورکړه او د نوموړو سلاګانو د ورکیدو لامل دادي، چي د جمهوري ریاست د لوموړي مرستیال له خوا یي د ځنډ زمینه برابریږي .

فساد اداري یوه ساري پدیده ده، که یو څه ونه ویل شول نور یي هم زده کوي ، چي په همدي ډول زموږ په هیواد کي یي سراسري جنبه موندلې ، ان بهرنیانو هم زده کړل .

په دي موضوع کي هم دمالي وزارت په خپل وخت او زمان پسي ونه ګرځیدل، تر څو شرکت فرار وکړ، دکورنیو چارو وزارت هم دوسلو موضوع جدي ونه نیوله .

عامه دارایي او ملي ګټي څوک پروا نه کوي او د داکسانو نه هم څوک نه تپوس کوي او نه عدلي تعقیب.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۸۰)

## لیست قسمتی از املاک غصب شده وزارت دفاع را مشاهده کنید

ریاست املاک و موسسات وزارت دفاع ملی باید بداند که اگر از ملکیت و جایداد این وزارت دفاع نتواند، مسلم است که خاک، حریم و تمامیت ارضی کشور هرگز دفاع نمی تواند.

این مطلب را با طرح سوالی اغاز می کنیم و سوال هم طور ذیل است؟

آیا جز و تامهای مربوط وزارت دفاع با هزاران تن فلتن (لشکر) و صدها تن باجه خانه (باند موزیک) وسایط و تجهیزات حربی راکت های سکارد و لونا -- دستگاه های اوره گان، راکتهای دافع هوا (فدافند) بی ام چهل، وسایط زرهدار و وسایل و اکمالات مربوط شان در هوا زنده گی می نمودند و یا بالای زمین ؟ اگر بالای زمین بوده اند، ان همه زمین چه شد. جواب این سوال را حتماً ریاست املاک و موسسات وزارت دفاع بدهد.

مشت نمونه ی خروار از جایداد های وزارت دفاع که توسط غاصبین از دست ریاست املاک و موسسات این وزارت کشیده شده و کنون به جایداد شخصی تبدیل گردیده، به ان اشاره می نماییم:

زمین ملکیت غند توپچی گارد ملی و قطعه ی سکارد (فعلاً شهرک حاجی نبی) که قرار بود استادیوم بزرگ ورزشی برای منسوبین اردو اعمارو تمرینات قطعات کوماندو دران اجرا شود.

زمین قلعه ی تاریخی شیرپور (فعلاً شیرچور) قرار بود در این محل موزیم وسیع اردوی ملی جهت زنده نگه داشتن حماسه ی وزیر محمد اکبر خان با مکناتن، اعمار و تفنگچه ی او که از طرف یکی از مجاهدین غلام منش به اجنبی ها تحفه داده و یا فروخته شده بود منجمله در این موزیم با توپهای ساخت فابریکه ی حربی زمان امیر شیر علی خان نگه داری شود.

زمین ملکیت مرکز تعلیمی گلزار چهار اسیاب و چهار اطراف ان (فعلاً از طرف چند حاجی غاصب ،غصب و شهرک بالای ان اعمار شده) .

زمین ملکیت غند 24 فرقه ی 10 مربوط گارد ملی ( بند قرغه و حومه های ان ) فعلاً شهرک ملا عزت .

زمین ملکیت غند 23 فرقه ی 10 گارد ملی واقع قلعه رحمت خان (فعلاً غصب نصرت مینه ی اتحاد اسلامی) .

زمین ملکیت غند 22 فرقه 10 گارد ملی و فرقه ی 7 واقع گلباغ ریشخور و باغ شاه محمود خان که منحیث شهرک بفروش رسیده است.

زمین قرار گاه فرقه 10 باغ سردارد داود که درخت های سیب و ناک ان قطع بشمول فامیلی های ان غصب شده . قسمتی از زمین فرقه هشت واقع قلعه ی جواد که غصب شده ، در زمان غصب زمین های فرقه ی 7 و 8 محترم جنرال باز محمد احمدی قوماندان فرقه بود .(فعلاً معین مواد مخدر(

حدود بیست جریب زمین حربی ښونځی مربوط وزارت دفاع ملی واقع مهتاب قلعه که گویا بر ان فاطمیه ی اعمار می شود، ولی صرف بالای نیم جریب ان فاطمیه اعمار شد.

قرار گاه غند نمبر یک ( زمین لیله ی لیسه خوشحال خان مقابل لیسه ی عالی حبیبیه).

زمین مربوط دیپو های سابقه وزارت دفاع (تپه مرنجان) که فعلاً در یک قسمت ان مین پاکی (اومر) جاگرفته است.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمین غند تانک فرقه ی 10 گارد ملی واقع کمپنی که از طرف اتحادیه ها بفروش رسید.

زمین ملکیت قطعه ی 315 واقع خیر خانه.

زمین ملکیت لوای 3 گارد ملی واقع باغ شریف و فارم پیله وری کرم ابریشم واقع ده دانا.

ملکیت زمین حربی پوهنتون واقع پلچرخی و ( زمین های امواج کوتاه یک ه توت و متوسط نزدیک محبس)

خلاصه یک قسمتی از زمین های فرقه های 17 – 11-14 و فرقه ی دهدادی – قوای 4 زرهدار هرات و سایر جزوتامهای مربوط اردو .

ماخذ: اداره ی جیودیزی و کادستر افغانستان .

عبدالرووف لیوال.

**په ننګرهار کي دځمکو غصب:**

غصب که د ځمکي وي او يا د نورو توکو، د اسلام د مبارک دين دارشاداتو له مخي حرام او عاملين يي د سزا وړ بلل کيږي.

سر بيره پرهغي د غصب شوي ځمکي پر سر عبادت د لوي خداي ج په وړاندي نه قبليږي ،نو د ځمکو دغه غاصبان چي رپوټ يي لاندي خپږي او ځانونه د چا خبره دو اتشه مسلمانان بولي څنګه د ځمکي غصب ته ملاتړي، که دا ځمکه د بيت المال وي او يا د اشخاصو؟

د ځمکو د غصب په اړوند، چي د زورواکو له خوا يي لړۍ د هيواد په بيلابيلو ولايتونو کي شروع شوه، نو دغه کار د هيواد د خلکو له خوا د نيوکي اوکرکي لامل وګرزيد ، هماغه وو چي د جمهوري رياست د مقام له خوايي د ۲۱/۱۲/۱۳۹۰-۸۱۸۵ حکم له مخی د ځيرني سپارښتنه وشوه، کله چي د ځمکو د غصب په اړوند يو پلاوي د ننګرهار ولايت ته ځي، خپل رپوټ په لاندي شرح وړاندي کوي.

هيات کله چي د ننګرهار ولايت د سرخرود په ولسوالی کي د غصب شويو ځمکو اسناد ځيري نو داسي ارزونه کيږي، چي په ربښتيا دغلته پنځه ويشتزره جريبه دولتي ځمکه غصب شويده او په هغي کي د زورواکو له خوا ښارګوټي جوړشويدي.

1. داستاد سياف په نامه شهرک ،چي د شيخ مصري سفلي په سيمه کي ۱۳۸۲ کال د ننګرهار اتحاد اسلامي د شورا لخوا ،چي نمره بندي او ويشل شوي ده، چي ټوله ۳۵۰۰ جريبه ځمکه کيږي، اتحاد اسلامي محضي يو نوم دي ، يوازي محترم عبدالرسول سياف تري ګټه اخلي.
2. د پيرسيد اسحق ګيلاني په نامه ښارګوټي، د شيخ مصري په دښته کي په ۱۳۸۲ کال کي شروع او ويشل شويدي، چي ۱۵۰۰۰ جريبه ځمکي احتوا کوي.
3. قومي ښارګوټي (ولس ښارګوټي) چي د بهاولي کشکک په کلي کي په ۱۳۸۸ کال کي، د انجينر غلام حيدرتر رياست لاندي جوړ او ويشل شويدي، ۲۵۰۰ جريبه ځمکه په برکي نيسي.
4. د شهيد عبدالقدير ښارګوټي ، په نامه چي د خير آباد بهاولي او فتح آباد په کلي کي په ۱۳۸۸ کال کي، چي د حاجي غلجي او حاجي دوست محمد له خوا نمره بندي اوويشل شويده او ۱۵۰۰ جريبه ځمکه احتوا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

5. دچمتلي ښارګوټي چي په سرخرود کي د مهاجرينو له پاره په ۱۳۸۸ کال کي جوړ شوي او نمري يي توزيع شوي، چي ۴۵۰۰ جريبه ځمکه احتوا کوي .

استاد سياف صاحب داسلام او اتحاد په نامه غصب ، روا او ناروا مځکي او شتمنی راټوله کړي چي مالکانه تصرف يوازي په شخص پوري اړه لري.

6. د بالفروش حاجي اميرجان د شرعي وکيل له خوا د پيژندني، احمد ګيلاني له خوا د ۴۰۰ جريبه ځمکي غصب چي د سلو جريبونو سند يي پلاوی ته وړاندي کړيدي،په نوموړو ښارګوټو سربيره د ۵۷۹ تنو له خوا ۲۵۵۲۳ جريبه ځمکه غصب چي د ننګرهار د کانال او د ولايت د مقام له خوايي نوم لړ پلاوي ته وړاندي شوي دي.

د يادوني وړده چي د املاکو له خوا د جناب اشرف سيد علي افندي ۴۷۳ جريبه ځمکي سند وړاندي کړي ،حال دا چي د ۵۰۰۰ جريبه ځمکي ذ وليدي دعو او ۱۵۰۰۰ جريبه ځمکي يي غصب کړيده.

داسي څرګنديږي، چي پورتني کسان په جهاد کي مطرح کسان ؤ، چي جهاد دخدای او وطن دپاره نه ؤ، چي نن په غصب تبديل شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۸۱)

## مصؤنيت که معافيت ؟

لکه چي هشت صبح ورځپاڼي د وږي پر ۱۶ مه کال ۱۳۹۲ په يوه اوږده مقاله کي، دښاغلي نعمت الله بشروال په قلم د" پارلماني مصؤنيت تر سيوري لاندي څه تيريږي " دا ليکنه خپره شوي چي موږ يي لنډيزرا اخلو: څرګنده ده چي دحکومت او پارلمان د اخلاقو او علميت ترمنځ توپير ډير دی .

په لومړي سرکي ددولت دري ګونو ځواکونو يو له بل سره همکاري او همغږي درلوده او د تل له پاره په مسايلو کي يي ملي دريځ درلود.

د قانون جوړوني بهير چټک و او دعامه افکارو ارزونه مثبته وه، لنډه دا چي د ملي شورا په پنځلسمه دوره کي د لاسته راوړنو په نسبت نيمګرتياوي او کمبودييو پله درنه وه، خو اوس د ملي شورا شپاړسمه دوره څرنګه کولاي شي، د خپل د نه مشروعيت تور له ځان څخه پاک کړي ؟

د ۱۳۸۹ کال د ټاکنو نامطلوبي پايلي او د ټاکنو کميسيون د ناقص مديريت، نامني او د بهرنيو زياته مداخله او په پايله کي د زر او زور خاوندانو هڅي دولسي جرګي ته درسيدلو په لارکي. دولسي جرګي غړو له اولا تر اوسه د قانون جوړوني په برخه او پر حکومت د نظارت په برخه کي زياتي نيمګرتياوي درلودي او استازو له دولتي مقاماتو څخه د امتياز اخيستلو او شخصي ګټو باندي ولاړي دي.

پدي ورستيو کي زياتي افشاګرئ وشوي او خبره دي ځاي ته ورسيده ، چي دولسي جرګي غړي په ډله ييزه توګه په درنو جرمونو تورن شي، لکه تفرقه اندازي، د مخدرو توکو قاچاق، کميشن کاري ، وژني،تښتوني، دزورزياتي کارول او له دولتي دريځ څخه ناوره ګټه او ......... لکه چي په رسنيو کي خپاره شوي دولسي جرګي شپږ تنه هر يو ۱. سليمان خيل ۲. لالي حميدزي ۳. تميم ۴. محسني ۵. حاجي ظاهر قدير ۶. همايون د ماليي وزيرحضرت عمر زاخيلوال له خوا تورن شول او ۷۲ تنه د کورنيو چارو پخواني وزير لخوا تورن شول، او دغه راز دولسي جرګي يو غړي انور سادات د يوه ځانګړي قوم ته د سپکاوی په تور د لويي څارنوالي تر تعقيب لاندي راغلي ، چي په رسنيو کي د زياتو بحثونو لامل شول او د افغانستان خلکو ته يي ټکان ورکړ او داسي نور....

خو په خواشينی سره چي ځيني قانوني مواد د ملي شورا له خوا نقض کيږي.

متهيم وکيلان تحقيق ته حاضر نشول.

په يوه وروستي کال کي وليدل شول، چي د ملي شورا دد واړو مجلسونو ددي ممانعت وکړ، چي د پارلمان له غړو څخه تحقيق وشي.

د اساسي قانون د ۱۰۲ ماده تر پښو لاندي شويده.

دوکيلانو عمده استقامت، مقرري، قرار دادونه ، قاچاق ، غصب او دوزيرانو استيضاح کي خلاصه کيدي، آن چي پخپله دولسي جرګي په دننه کي دالرونه سره تبادله او ويشل کيږي، دهيڅ ډول اخلاقو پابندي نلري ، پارلمان پريږدي ټولي ورځي په کميشن کاري پسي ګرځي او دچورلمان لقب يي وګټي.

هغه وکيلان چي په درنو جرمونو تورن وو پرته له ځنډه به يي عدلي او قانوني ارګانونه ته پيژندلي واي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم دا چي ځیني استازي چي واقعاً پوه او صادق شخصیتونه دي، خپله پاکي خلکو ته څرګنده کړي تر څو له نا پاکانو څخه جلا شي او په مقابل کي یي باید ژر تر ژره پر هغو اشخاصو، چي تورلګول کیږي عدلي او قضایي ارګانونو ته وروپیژني تر څو اسناد او مدارک وړاندي او په پایله کي لازم حکم صادر شي.

په دغه صورت کي ولسي جرګه خپل ملي او اسلامي حقیقت یو ځل بیا په لاس راوړي او باور تر لاسه کړیواي.

اوس دملي شورا غړي نه یوازي مصؤنیت لر ي ، بلکي معافیت هم لري ، مګر تر ټولو لویه ستونزه چي دقانونیت ، عدالت لوي خنډ دي هغه دملي شورا غړي دي ، چي دهر قانون ماتوونکي ، زورګري ، قاچاق بر او قاتل شاته ولاړدي او په ګټه کي ورسره شریک دي ، چي دا پخپله وکیل هم پري قانع دي ، داهغه وکیلان دي، چي ۶۲ تنه یي غیر قانوني په شورا کي ناست دي او د محکمي دحکم خلاف راغلي دي.

قیس حسن هم د مځکو دغصب تر اتهام او دوزارت ترانسپورت شکایت لاندي دي ، مګر حقیقت ونه لیدل شو ، ځکه وکیل خو یو دبل ګټي ساتي .

داساسي قانون د ۱۰۱ او ۱۰۲ مادو څخه غلط تعبیر او غلطه ګټه پورته کیږي.

اوس باید بالاخره ددي سرطان دداني چاره پدي وکړي، چي د پارلمان دانحلال لار هم وسنجول شي.

کله چي ددوي جیبونه خالي شي داستیضاح دپاره پلمي جوړوي.

په کال کي دري میاشتي رخصتي ، که اخترونه او جمعي تري وباسو فقط په کال کي ۱۰۲ ورځي کارکوي. بیا هم غیر حاضري کوي .

کله یو وخت وزیر سلب اعتماده شویدي، په لنډ وخت کي بیا په ډیر لوړه شمیره اعتماد تر لاسه کړیدي ، لکه دسرحداتو وزارت کي اسدالله خالد ناکامه ، مګر دملی امنیت عمومي ریاست کي په ډیرو لوړو رایو کامیابه شو.

همدا ډول بسم الله خان محمدي د کورنیو چارو دوزارت نه سلب اعتماد، خو وزارت دفاع ته په لوړو رایو بریالي راووت، داخبري ټولي په جوړجاړي پوري اړه لري، چي دملت د تش په نامه داستازو نه لیدل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۸۲)

## جنرال عبدالرشید دوستم

ددوستم په اړوند ډیري تبصري او څرګندوني کورني او بهرني خپرونو کي نشر شویدي، مګر جناب ددي پروا نلري ، داخلاقو تر سره خط تیر شوي دي . دوعدي او خولي خیال نه ساتي .کله ،کي، جي، بي ، کله دداکتر نجیب ملګري ، کله دهغه مخالف ، ګلبدین حکمتیار په غیږ کي ونیسي ، او کله به حضرت صبغت الله مجددي دخالد بن ولید مقام ته ورپورته کړي ، کله داستاد رباني بچه خوانده شي .

ازبک قوم پر راټول او څوک سر نشي تري پورته کولاي ، بهرني شهرت لري ، کله ترکیه یا ازبکستان یي په لاس کي ونیسي ، او کله هندوان ورسره سرخوځوي .

مارشال فهیم ( پوه چک ) بولي ، دمجاهدینو نه د پاکیدو دپاره مځکه متر په اجاره اخیستل داکتر عبدالقیوم کوچي په خپل ( ) ( ) مخ کي مضمون پر لیکلي .

داکتر اشرف غني احمدزي لاس ورواچاوه او خپل لومړي مرستیال په توګه یي وټاکه . ولي چي اشرف غني غواړي رئیس جمهور شي ، که نه ده هم خپله مقالي پر لیکي دي . داچي وايي سیاست دوست او دښمن نلري ، اصلاً باید دا ووایو چي سیاست مداره اخلاقو درعایت پابندنه دي .

دکرزي په وخت کي دجنرال دوستم پیښي دجوزجان پر والیانو لکه جمعه خان همدرد او ښاغلي ساعي حملي وکړي ، داکبر باي په کور ورننوتل او داسي نور .

ویل کیږي چي دده کوم نژدي کسان که سر تري پورته کړي ځوان مجرد هلکان ور خوشي کړي ..... چي په داد یي ورسیږي . کله چي دولسي جرګي وکیل ( فیض الله ذکي ) یاغي شو ، وایي چي غیر اخلاقي برخورد یي ورسره وکړ ، چي باالاخره هغه ددرمل دپاره ازبکستان ته لاړ. جنرال صاحب معتاد دي. چي ان درملنه هم ورته ګټه ونه رسوله .

دلیلي ددښت ، دطالبانو جنګي څو زره اسیرانو سره ،چي هغه پخپله تسلیم شوي وه ، دجینوا دکنوانسیون خلاف ټوله په فجیح ډول ووژله.

او دچینایانو سره دسرپل دنفت او ګازو دامو دریا پروژي هم ممانعت وکړ. او ددي ملي پروژي مخالفت وکړ، او چینایان یي تهدید کړل، چي دهغو انجنیران وتښتیدل.

سر خوشه ګرځي، قانون ورته عاجز دي، مقررات نه مني.

عبدالرحمن خان د قدرت دساتلو د پاره د ډیورنډ خط امضا کړ، مګر ډاکټر غني احمدزي د قدرت د لاس ته راوړلو د پاره د اخلاقو تر سره خط تیر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۸۳)

## د صدر مارکیت

اداري فساد چي یوه کرغیړنه پدیده ده ، له بده مرغه دغي پدیدي چي د یوه نظام ستني لکه دلرګي چــنجي خوري او که چیري مخه یي ونه نیول شي د یوه نظام د چپه کیدولامل ګرزي.

که چیري له فساد سره پریکړونی مبارزه ونه شي، د ټولني ګیډي ته لاره پیداکوي نو له دي امله ښايي چي د فساد پرضد د ټولني په بیلابیلو برخوکي لکه اداري فساد، اخلاقي او فرهنګي فساد ، تروریزم ، مخدر توکي اونور مهمو برخوکي مبارزه هم اغیزه ونلري.

د اداري فساد په لړۍ کي چي لاهم یي پای نه دي موندلي دکابل په باغ عمومي کي پروت د صدر مارکیټ څلویښت فیصده عواید ، چي تر اوسه اړوندي اداري په دي بریالي شوي نه دي چي هغه تراوسه د دولت حساب ته یي ولیږدوي.

دجمهوري ریاست لمبر ۴۱۱ او نیټه ۹۲/ ۱۱/ ۲۱ فرمان هم ځای ونه نیوي.

د صدر مارکیټ مساحت چي 25 بسوي دي او پکي دري سوه بابه هټۍ جوړي شویدي او په اوسط ډول امتیازیي (5000) دالر وڅخه تر (25000) زرو دالرو یو شمیر دکاندارانو ته ورکړل شوي او تر اوسه پرته له دي چي 40 سلنه عواید یي د دولت حساب ته شامل کړي هلته سوداګري دوام لري .

دغه مارکیټ چي اصلاً د قومونو او قبایلو چارو په وزارت پوري اړه لري او د هغي ملکیت دي، خو صدر مارکیټ د کابل ښاروالۍ له خوايي د عبدالواسع د محمد غوث زوی سره د شلو کلونو د پاره قرار داد شویدي، مګر دیو جوړ جاړي پر بنا د ښاروالي فیصدي نه اخیستل کیږي.

لنډه دا چي د قومونو او قبایلو چارو وزارت هم په دغه برخه کي مهمه ونډه نده اداء کړي . د ۱۳۸۲ کال را پدي خوا دامارکیت دعبدالواسیع په لاس کي دي ، په قرارداد کي راغلی دي ، چي ۴۰ فیصده پیسي به تحویله وي. قضیه دیوي محکمي نه بلي ته بي فیصلي لیږل کیږي، بالاخره د مرکزي محکمي د استناف دیوان ۱۶ـــ ۸۶/۳/۱ قضايي قرار بي نتیجي صادر کړ .

د ریپوټ له مخي داسي اټکل کیږي چي د نوموړي مارکیټ څلویښت فیصده عواید 96124423 افغانۍ کیږي تر اوسه د دولت خزاني ته نه دي لیږدول شوي، خو داچي وروسته تر دي برخه کي کومه کړنه تر سره کیږي دابه وخت ځواب ووايي.

دا دود شویدی، چي ددولت مال خوړل مباح ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال ( ۸۴)

## تورنجنرال اندرابي صاحب

تورن جنرال دوست محمد اندرابي د غوث الدين زوی او د ملي دفاغ وزارت د پاليسي او ستراتيژي معاونيت ته اړوند دي، په تحصيلي جعلي اسنادو ځان يي د تورن جنرالي رتبي ته رسولي دي او ددي متل پر مصدوق چي( کوږ بار تر منزله نه رسيږي) نو بالاخره يي د جعلي تحصيلي اسناد بر بنډ او سر بيره پرهغي د جمهوري رياست د مقام 742 حکم ، نيټه 1381/2/4 د يو شمير ليکونو په جعل ددوسيي د 18 پاڼو په اتلاف ، د ملي دفاع وزارت ددوو اورګانونو څخه د موادو تر لاسه کولو او په خپل سر ددندي پر پريښودلو تورن ګڼل شوي دي .

نه چا جلب کړای شوای او نه محاکمه شو. دجعلي اسنادو پر بنا دبغلان د ښار کور تر اوسه په لاس کي لري.

بلاخره د اداري فساد پرضد ابتداييه محکمی په خپل 138- 1392/11/14 حکم کي فيصله وکړه چي نو موړی شپږ کاله او شپږو مياشتو تنفيذي بند محکوم شو،مګر بيا پري تنفيذ نشواو برحاله جنرال دي.

داچي ده غوندي نوروبه څومره تحصيلي اسناد جوړکړي وي ښايي چي شمير يي ډير زيات وي.

مګر اندرابي صاحب په ډير جرآت خپل ژوند او ماموريت ته دوام ورکوي، حکم پر تطبيق نشو .

ځګه درندي او چالاکي په څنګ اړيکي هم بي نقشه ندي. دمامورينو بي مسوليتي او بي تفاوتي تر ټولو لوی رول لري.

انسان حريص او يو عاصي مخلوق دي، په نورو هيوادو کي هم جرم او خيانت شته، مګر هلته بازخواست او تپوس هم شته، لکن زموږ هيواد کي نه .

نوموړي جنرال صاحب د فساد اداري ابتدائيه محکمي د ۱۳۸ ـــ ۹۲/۱۱/۱۴ حکم پر بنا پنځه او شپږ مياشتي حبس محکوم شو، مګر د مامورينو د بي تفاوتی په خاطر ازاد ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۸۵)

## دايي قباله په چا يي مني ؟

اداري فساد چي د انحطاط لامل او د هیواد چارواکي د ملي ګټو پر ضد دروي،' او د خلکو باور په دولتي او غیر دولتي دستګاه راکمومي. او دغه راز د ټولنی اعتقادي او اخلاقي ارزښتونه له نابودۍ او آن داچي په هیواد کي د اقتصادي پرمختیا بهیر کمه وي او تر پوښتني لاندي یي راولي. فساد دومره عمومي او عام شوي دی چي هیڅوک تري پاک نه دی که لوړ دی او که کښته .

دیو شکایت له مخي چي د ستري محکمي د قطعي او نهایي احکامو پرتطبیق باندي راغلي دي: چي حاجي راز محمد د پاینده محمد زوي ، رحیم الله د عبد الله زوي چي د صادقه، زینب، مریم، شریفه اودلاورشاه چي د عبدالمجید اولادونو دي شرعی وکیل دي، د هغوي په وړاندي د عوا مخي ته بيايي.

نو د کابل د څلورمي ناحیي ۲۴ لمبر کور اړوند د کلوله پشتي په سیمه کي د یوي حویلي د خلاصولو په اړوند چي د ثلاثه محکمو د فیصلو په اساس حاجي راز محمد ته ورکړل شي.

د نومورو فیصلو د حکم د تطبیق پلاوی په 1387/5/29 نیټه لیکلي دي، چي موږ پلاوي حویلي ته ورغلو په هغي حویلي کي یو شمیر محصلین سکونت لري، چي له هغي ډلي څخه یو تن د عبدالقهار په نامه چي ځان د هغوي مشر او استازي ځان معرفي کوي وايي: چي موږ دغه حویلي نه پریږدو ځکه چي موږ د استاد ربانی په اجازه دلته ژوند کوو او زیاته یي کړه چي موږ استاد ربانی ته تیلفون وکړي هغه راته وویل چي کوم څوک مه پریږدي دغه کور او حویلي زماده، او دزور او وسلي نه کار اخلي .

پلاوي څوځله ورغلي خوڅوک حویلی ته نه پریږدي او اوړوندو ادارو ته مو خپل محضر په 1392/3/24 کي ولیکه.
مرحوم ددي حویلی سره خاصه مینه درلوده ، د درو محکمو سربیره یي بیا تجدید نظر وغوښت، مګر بیا هم حکم دده په ګټه تمام نشو، مګر دغصب نه يي لاس وا نه خیست او حق ته تسلیم نه شو، پدي کار پسي دده سکرتر جمشید اقبال ګرځیدي، استاد داحال نفوذ کاوه او هر چا ته به يي تلیفون ورکاوه او په خپله بد خشي لهجه به يي استدلال کاوه.
داستاد دشهادت سره هم دا سریال ختم نشو.
او اوس محترم صلاح الدین ربانی هم علاقه پیداکړیده او دستري محکمي ۸۵۲ ـــ نیټه ۹۲/۱۰/۱۷ لیک د کورنیو چارو په وزارت باندي بي تاثیر پاته شو. دکور غصب دوام لري.
آن د پلاوي مخه یي ونیوله او د یوه تن پولیس ښځي سره لاس و اچاوه او دهغه ګریوان یي وشکوله او د جنایي یوتن پولیس ته شکنځل وکړه او ورته ويي ویل: چي هیڅ اسناد نلرم خو زور لرم هیڅوک ددي توان نلري چي دغه حویلی خالي کړي.
پلاوي چي هر څه وکړل، نوموړي حویلی یي خالي نشواي کړاي.
دا په داسي حال کي چي د اساسی قانون 129 مادي له مخي د محاکمو فیصلي واجب التعمیل دي د کورنیو چارو وزارت ته ولیکل ، خو داچي ایا دغه حویلي خالي شوه او که نه موږ تري خبر نه یو، خویوشي ویلاي شو، څرنګه چي نوموړي اشخاص د استاد ربانی په امر هلته ژوند کوي. پدي حالت کي ګمان نه کیږي چي د زور او زرپه وړاندي د کور د څښتنانو هیله پر ځاي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دحویلۍ په هکله داستاد دعوا دثلاثه محکمو برسیره تجدید نظر محکمه هم رد کړه . مګر استاد ددي حویلۍ سره خاصه مینه لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۸۶)

## د نوي ښار پروژه

دنوي ښار پروژه چي د هيواد د زيربنايي پروژو په کتار کي راځي اوله زيات ارز ښته څخه برخمنه ده، چي په جوړولو سره به يي افغانستان په يوه سوداګريز مرکز بدليږي او د نفوسو ډير والي چي اوس يي د کابل په ښارکي د چاپيرياِل له اړخه او ځينونو نورو ستونزوله امله لکه ،کانالزاسيون او د څښاک د پاکو اوبو دنه شتون له اړخه رامنځته کړيدي او دپروژو مصرف دچاپان دولت پر غاړه اخيستي دي.

ددغي ملي پروژي چي لومړني کارونه يي دوزيرانو شورا د لومړي نمبر مصوبي اوپه 1388/1/3 نيټي شروع شوي له بده مرغه دځيني وسله والو زورواکو د ذاتي ګټوله مخي چي په نوموړي سيمه کي د يو شمير خلکو څخه په غير قانوني توګه په لاس راوړي، تراوسه يي پرمختګ په ټپه دريدلي دي.

ټاکل شوي وه ، چي نوموړي پروژه 1392/2/16 نيټه د هيواد د لوړ پورو چارواکو په ګډون پرانيستل شي خو دريغه چي په 1392/2/5 نيټه کله چي د نوموړي سيمي زورواکي خبريږي دورځي په نهو بجودځښتو د بټيو کار ګران، چي زياتره يي پاکستانيان دي او د ننګرهار يو شمير اوسيدونکي او د ده سبز ولسوالي يو شمير اوسيدونکي چي د زورله لاري او د الله ګل مجاهد په قومنده اوپه پاي کي مظاهره په خشونت اوړي او دولتي ضد شعارونه ورکوي، چي په پايله کي يو تهجيراو د نوي ښار اداري سوځوي او دولتي بيرغونه تخريبوي او درئيس جمهور عکسونه سوځي.

او هغه خلک چي نوموړي مظاهره يي رهبري کوله دغه کسان وه.

۱- الله ګل مجاهد د شير ګل زوي دولسي جرګي وکيل

۲- حاجي جنت ګل د نوموړي وکيل ورور.

۳- قوماندان نورګل

۴- ملک ګل محمد د نوموړي اشخاصو قوماندان

۵- حاجي مير افضل دده سبز د شورا رييس.

۶- صبغت الله د پلچرخي اوسيدونکي

۷- ملک اسمعيل

۸- ملک يعقوب د الله ګل له اړوندانو څخه دي

۹- حاجي عبدالعزيز د عبدالطيف زوي

۱۰- ميرزا محمد د عبدالکريم زوي د درخت يکه ده سبز اوسيدونکي

۱۱- زيارت ګل د اغا جان زوي.

۱۲- عبدالنصير

۱۳- مولوي صديق الله د پلچرخي د تنګي غارو اوسيدونکي.

نوموړي اشخاص چي سربيره پردي په نورو جنايي قضيو وسله والي حملي، د موترو سوځوني، د کورونو ورانول ،مجروحيت. د غير قانوني وسلو په استعمال، غير قانوني پيسي اخيستني او د ځمکو پر غصب متهم دي. او د حاجي الله ګل

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ملاتړ لاندي دي په نوموړي سيمه کي وسله وال ګرزي، لنډه داچي بل ځل هم کله چي جاپاني هيآت له نوموړي سيمي څخه ليدنه کوي د الله ګل مجاهد د ورور له خوا چي د تيلوتانک لري دهغه ځايه پرهغوي ډزي کوي.

پداسي ډيرو مهمو ملي پروژو د تطبيق مخنيوی دزورواکو له خوا نيول کيږي او دمفسيدانو پواسطه پروژي د ناکامی سره مخامخ کيږي.

چي ددغو زورواکو له خوا د کابل د نوي ښار د پرمختک مخه نيول شوي او عاملينو ته يي چا سزا نه ده ورکړي او نه يي مخه نيولي ده، داچي دغه پروژه به کله د ځمکو د غاصبانو او زورواکو څخه خلاصون مو مي دابه وخت دي پو ښتني ته ځواب ووايي.

په پايتخت کي څوک دزورواکو مخ نشي نيولاي او دملي پروژو د خنډ سبب ګرځي ، نو ولاياتو کي به اورمرو تر دي بدحال وي . داسوال رامنځ ته کيږي، چي ايا افغانستان دولت دي او که نه ؟

موږ بايد اول دولت شو ، بيا قانون تطبيق شي .

دا لويه ملي پروژه د الله ګل دخښتو د بټيو تر ګټي قرباني شوله.

پدي هکله دشوراي امنيت ملي ۲۷۳۷ برج د جوزا په ۲۳ د کورنيو چارو وزارت هدايت او امر هم په عمل کي پلي نشو. داسي ډيري ملي پروژي شته ، چي د زورواکانو تر ګټو قربان شوي، آن ممکن بهرني ميرڅمن هم دخپلو ګوداګيانو پواسطه پکي لاس ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۸۷)

## ظاهرشاهي سراي

اداري فساد ، تروريزم او مخدر توکي بهرنی پديدي دي، چي هيواد ته له بهرنيو پوځونو سره راننوتي او د افغانانو ټول معنوي او تاريخي وياړني يي له ګواښ سره مخامخ او د هيواد اعتبار ته يي په ملي او نړيواله کچه زيان ورساوه.

هيواد ته د بهرنيو ځواکونو راننوتل د نورو نا خوا لو ترڅنګ يوه هم د ځمکو او جايدادونو د غصب مساله ده، چي له بده مرغه د زورواکو کړيو له خوا او د هيواد په دولتي او په ځانګړي ډول عدلي او قضايي ارګانونو کي د فساد له امله د جايدادونو په تزويري ډول شرعي اسناد جوړ شوي، چي ځيني يي افشاا وځيني يي لاهم په خپل حال پاتي دي.

د شرعي او تزويري اسنادو د جوړلو په لړي کي يوه هم د ظاهر شاهي سراي، چي په کي ۱۷۵ با به دو کانونه هم په کي شتون لري، يوه اوږده پروسه ده، چي له نيکه مرغه د دولت په پايله کي دابتدائی محکمي فيصله له بطلان سره مواجه شوه.

دغه تزويري هڅه چي داستان يي ډيراوږدي موږ يي دلنډيز يا دونه کوو.

يوتن غلام سخي نومي او د غلام بها والدين زوي دي د 033— 1387/4/13 وکالت له مخي چي د افغان سفارت له خوا په کانادا کي جوړ شوي او د وثايقو د محکمي دريم زون 477-1306 /1387/4/29 شرعي خط له مخي ، سراي چي د ظاهرشاهي سراي په نامه يي شهرت درلود او د ملکيت ادعا چي ګواکي نوموړي ملکيت د دولت تر تامين لاندي راغلي دي هڅه پيل کوي چي بالاخره توانيږي چي دا سرای واخلي، مګر کابل ولايت د مرافعه محکمي د لومړي زون 38/30—1387/8/8 قضايي قرار له مخي يي د 15—1359/11/26 قرار لغوه او نږدي وه چي دغه تزويري ملکيت، چي د لومړي ناحيي اړوند د املاکو عمومي مديريت د درغلي ، چال او فريب ليکني په پايله کي غير حق بل ته وسپارل شي.

ظاهرشاهي سراي دکابل په لومړي ناحيه کي موقيعت لري

او په دي ډول د تزويري شرعي قباله، چي د مزاري نومي په نامه جوړه شوي وه مخه نيول کيږي.

داسراي چي دموقعيت پر بنا په ميلونونو دالرو قيمت لري ، ددريم زون دمحکمي قاضاياتو جعلي اسنادو ته ارزش ورکړي او هغه يي د مزاري نومی ميرمني ملکيت بللي دي ، مګر ددي محکمي قاضاياتو ته چا څه ونه ويل شوای، قاضي صاحبان اوبښ دباره سره په ښه وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۸۸)

## شیطان باید ورته ګوته په غاښ ونیسي

یوه کیسه مي اوریدلي ده چي د هیواد په یوه سیمه کي چي ګردنه نومیده په رڼا ورځ به غله هلته ناست و او دخلکو پیسي اوشته به یي تري اخیستل.

اوس چي سړي د دیپلوماتانو کړو وړوته ګوري کړني یي کټ مټ د ګردني غلوته پاتي کیږي ، خو فرق یي دادي چي دګردني غلو د هیواد په دننه کي نوم او شهرت درلود ، خود دیپلوماتانو په نړیواله کچه او له افغانستان څخه بهر د افغانانو پزي پري او هویت ته یي زیان واړاوه.

د باوري ریپوټونو په حواله دهیواد جنرال قونسل په کانادا کي ښاغلي وحیدالله منور د امین الله زوي و، ددي له پاره چي د افغانستان قونسلګري میاشتني کرایه ستونزه د کانادا د تورنتو په ښار کي له مخه لیري سي نو یواپارتمان رانیسي چي ددایم دپاره به دافغانستان ملکیت وي ، دا کاروشو، دده په باور چي د ړندو او کڼو حکومت دي نونوموړي اپارتمان ددي پرځاي چي د افغانستان د اسلامي جمهوریت په نامه یي وپیري، برعکس اپارتمان په خپل نوم قباله کړ.

کله چي وحید الله منور پر ځاي حبیب الله قادري د جنرال قونسل په توګه د کانادا په تورنتو کي مقرریږي متوجه کیږي ، چي اپارتمان د وحید الله منور په نامه دي نوموضوع د بهرنیو چارو وزارت ته لیکي.

وزارت خارجه پام کیږي چي منور صاحب دده کور او اپارتمان په تضمین سره، له د بانلو کمپنۍ څخه 410000 دالره پورهم اخیستي، او کور یي په ګروي ورکړیدی، څرنګه چي وحید الله منور د نوموړي د پیسو سود بانک ته نه ورکوي نو کمپني د اپارتمان دتشولو پریکړه کوي تر څو لیلام شي او خپلي پیسي تر لاسه کړي. لنډه داچی دبهرنیو چارو وزارت یو پلاوی لیږي او ثابتیږی چي په ربښتیا اپارتمان د وحیدالله منور په نامه دی، خو وحیدالله منور ژمنه کوی چي د بانلو دکمپنۍ پیسي ورکوي او کله چی پیسي خلاصی شي نو بیا اپارتمان دافغانستان دسلامی جمهوریت په نامه کوي.

بهرنیو چارو وزارت باید دا کور دوه ځلي رانیسي .

داپه داسي حال کي چي وحید الله منور د امریکا او کانادا ستیزن شیف دي، تر اوسه نوموړي حاضر شویدي نه دي . نو په دي ډول د 553063.25 دالرو د اختلاسو مساله په یخ ولیکل شوه او لمر ته کیښودل شوه.

دفرار تروریستي مکان میرام شاه دي، او اقتصادي تروریستان ، لکه فطرت، نادر اتش او وحیدالله منور په واشنګټن کي دي.

ګل احمد شیرزاد دبهرنیو چارو وزارت اداري رئیس، چي هغه وخت پدي برخه کي هم مسؤله دي چي بیا وروسته په هسپانیه کي مستثار ؤ، پسله ختم وظیفي هم لا درکه شو.

دبهرنیو چارو وزارت هم د تدبیر او احتیاط کارندي اخیستي او نه یي د کور د پیریدلو اجرات تعقیب کړیدي، چي دا زیان راورسید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۸۹)

## په بهرنيو استخباراتو پوري تړلي رسني

د ملي آرمان ورځپاني د 1391 کال دغبرګولي د مياشتي په نهمه نيټه په يوه تحقيقي مقاله، چي د مهرالدين مشيد له خوا ليکل شوي خپره کړي، چي موږ يي د يو ي برخي لنډيز را نقلوو.

په 2001 کال کي د طالبانو تر سقوط وروسته او په ځانګړي توګه در سنيو د آزادي تر اعلان وروسته 2002 کال په جنوري مياشت کي در سنيو د شاتو مياشت شروع شوه او تر اوسه چي لس کاله تيريږي لا هم دوام لري.

درسنيو د غه جوش او خروش د اروپايي ، امريکايي، ايراني او پاکستاني هيوادونو، په مالي مرسته يي په خپرونو د بيان د آزادي تر نامه لاندي شروع کړيده، زموږ په هيواد کي ځانګړي استخباراتي او سياسي موخي لري او فرهنګي استعمار ته يي لار هواره کړيده.

د ايران او پاکستان استخباراتو له غربي هيوادونو څخه زيات، ددغه جشن ملاتړکوي او له هغو څخه د خپلو ستراتيژ يکو ګټو د لاسته واوړلوله پاره شروع کړيده.

ددغو دوو دوزخي استخباراتو، چي دري لسيزي د ځينو کړيو په رګونو او ريښوکي اوپه ځانګري توګه په اسلامي کړيو کي، د جولا د جال په څيرلا څه چي فولادي جال يي جوړ کړيدي اوددغو کړيو مشران او لوړپوړي چارواکي چي له استثنا پرته ځانونه دهغو مزدوران جوړکړي ، وخت يي غنيمت ګڼلي او اوس يي په دووبرخوکي يعني د رسنيو او دوسله والو په تو ګه په مانورونو شروع وکړه.

او د وسلي او باروتو پرځاي يي د استخباراتي پيسو سيلا و يي خپلو مزدورانو ته را روان کړ، تر څو په دي او هغه نامه دخپرنيز تاداو کيږدي.

په همدي ډول يي يوه برخه پيسي طالبانو ته ځانګړي کړي، ايران او پاکستان په دغو ډلو ټپلو قناعت ونه کړ او د اشخاصو په رانيولويي شروع وکړه، البته د هغو اشخاصو په وجود کي چي د شخصيت له ضعف څخه رنځ ګالي او په دي ډول د بهرنيانو په جال کي ولويدل، د دواړو هيواد ونو استخباراتو درک کړي وه، چي له دري لسيزو جګړو او ځمکي سوزوني څخه وروسته هنوز لري ده، چي د جهاد واقعي وارثان سر راپورته او د هغوي آرمانونو په خپرو لو او ټينګښت لاس پوري کړي.

له دي امله يي د هيلي ستر ګي د خپلو پخوانيو مزدورانو خواته واړولي ، ځکه ددواړو هيوادونو استخباراتي ساز مانونو درک کړي وه، چي څوک کولاي شي چي د هغو له پاره په افغانستان کي ستراتيژيکي فعالليتونه وکړي، او په دغه ډول دوي پوهيدلي وه، چي لاهم د هغوي مزدوران له لازمو سياسي او نظامي ظرفيتونو څخه برخورداره دي، ترڅو واقعي مجاهدين شاته ووهي او د جهادي ټيکه د ارانو په توګه رامنځته شي او دمقدس جهاد تر نامه لاندي له افغانستان سره په جفا کاري لاس پوري کړي او د هغوي شتمني چور اوپه باد راوړو پيسو لادسترسي پيدا او سياسي نفوذ نور هم تر لاسه کړي.

او له بله اړخه له د غو امکاناتو څخه په نا مشروع ګټي اخيستني سره، د مجاهد ينو په سر کوبولو او د افغانستان په ربښتينو آزادي غوښتونکو ګوزارونه وکړي، دغه ابزار او امکانات د افغانستان ملي ګټو پر ضد وکاروي او هر کله چي تر پوښتني

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندي راځي، نو د جهاد له نقاب څخه ګټه واخلي او د هغه ددیني ضد ابزارو په توګه وکاروي او هر کله چي ګټي تر خطر لاندي راځي او یا د خلکو تر قهر لاندي راځي نو د جهاد او سپنیز دیوالونه له ځان څخه راچا پیر کړي.
له دي امله د پاکستان او ایران استخباراتو پیدا کړیده، چي له دغه مومیایي خلکو څخه هر شي جوړولاي شي، چي د پریمانه پیسو په را استولو سره د هغوي ملاتړ کوي، د ځینو له پاره سیاسي حزبونه د ځینو له پاره مذهبي او قومي حزبونه او دځینو له پاره فرهنګي ټولني، د ځینو له پاره رسنیز مرګزونه، دځینو له پاره د قدرت شورا او وځینو له پاره ..... جوړوي او ټول په پاکستان او ایران کي د رسمي سازمانونو پرمحورونو لکه د امام کمیټه او دا سي نورورا څرخوي.
ښکاره ده چي په لس ها وو رسني د آزادو رسنیو تر نامه لاندي فعالیت کوي، چي په ټولیزه توګه د بهرنیا نوله خوا جوړي شویدي، چي زیاتره یي قومي او سیاسي دي چي دموکراسي ضد او بیان ضد قومي او ژبني اختلافونو ته لمن وهي.
دا رسني پدي اندازه بي بندوباره او بي مسؤلیته دمطبوعاتو او دبیان دازادي تر عنوان لاندي په قانون او اخلاقي معیارونه او ملي ارزښتونه تیري کوي . که دي لاس ورواچاوه، په یو سلا سازمان یافته مافیاغوندي په اعتراضونو لاس پوري کوي ، اود نظام دکمزوري سبب ګرځي او یا په بل عبارت دنظام دکمزوري نه ګټه پورته کوي او په خطاهرو لاس پوري کوي.
دپارلماني مصؤنیت بي شرمانه مصؤنیت اودمطبوعاتو بي شرمه ازادي، دقوم دبدبختي سبب ګرځیدلي دي او دپردو دکلتور دراوړلو دپاره په چوپړ کي ولاړ دي او خپل ملي حیثیت نه بي خبره دي. نستو نادري د نور تلویزون د ( سرزمین من ) په پروګرام کي په ډیر بي پروایي د هیڅ چا دعزت پروا نلري او دپروګرام دروزي یو دام دي، ده پخپله کمزوری اخلاق درلود، آن دافشاګري تر عنوان دمعدن وزیر وحیدالله شهراني نه ۴۰ زره دالره حق سکوت واخیست او داسي نور.
از اقا مامون هم پدي برخه کي چي څنګ دقلم پواسطه دخلګو پر ناموس او مال حمله وکړي، تر څو دیو باناموسه افغان لخوا ، دخپل ناموس ددفاع په خاطر پر مخ تیزاب ور وپاشل شول. دنوري رسوایي له مخنیوی په خاطر هندوستان ته وتښتیدی. یوازي اسلامي او افغاني اخلاق معیار بلل کیدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۹۰)

## میر عبدالاحد صاحبي

د یوي باوري سر چیني په رپوټ کي ویل شویدي، چي میر عبدالاحد صاحبي دکابل ښاروال په یو شمیر قضیو کي تورن بلل شویدي، چي دده پر بي کفایتی ښه دلالت کوي .

۱- د هغو شپږ و ملیونو دالر و بلا عوض مرستي، چي د نړیوال بانک له خوا د کڅافاتو دلیږدلو له پاره شوي وه او یوازي شل زره دالره مصرف شوي او پاتي یي په ښاروالي کي د ظرفیت دنه شتون له امله پاتي او ترون یي فسخ شویدي.

۲- د قواي مرکز دشني سیمي تعدیل، چي د کنترول او تفتیش اداري له خوا یي موضوع مطرح شوي او ددعوا طلبي په ډول یو شمیر مالکانو او نورو اشخاصوته توزیع کړیده.

۳- دده بوري د پارک د اجاري قضیه، چي د داوطلبي له لاري محمد اصغر عطایي ته په اجاره ورکړل شوي وه ولي د ښاروالي له خوایي کار په ټپه دریدلي دي.

۴- د جمهوري ریاست د مقام د 4748 – 138/8/2 حکم دنه تعمل قضیه، چي پرزه خرڅوونکي دبګر امیو مارکیټ ته نقل مکان شي.

۵- دپدولي په دښته کي د جمهوري ریاست (4819) 1385/2/5 حکم چي باید افسرانو ته ددو وکلونو د معاش په بدل کي ورکړل شي عملي نه شول.

۶- د کابل سرینا هوټل په ترون کي تقلب، چي د ماس دیزاین شرکت چي په صاحبي پوري اړوند ؤ او دتجارتي دیوان د (17) 1388/5/16 دتجارتي قضایي قرار له مخي نوموړي د عدلي تعقیب وړبلل شویدي، چي محترم صاحبي صاحب پنځه کاله بند محکوم شو، چا بندي نکړ، ولي ( څوک چي مربي لري هغه مربا خوري ) او بل میرمن یي انګریزه وه، دا دکریدت دپاره یو ضریب ؤ، دکمونستانو په وخت کي هم روسي ښځي او میرمني په درلودلو سره په دولت کي دلوړ اعتبار سمبول ؤ. کمونستانو وخت کي هم کریدت څلور طبقي درلودي: لومړي KGB ، دویم روسي ښځه ، دریم روسي تحصیل، څلورم دحزب غړیتوب."صاحبي بیچاره دکوم نفر څخه پوښتنه وکړه، چي ته مي یو ځاي لیدلي یي ، هغه ورته وویل چي زه خو ستا سکرتر یم " حافظه یي کمزوري وه، او یا یي لږ کار تري اخیستي . اکثره وخت به ګنګس ؤ، دلته البته هم روابط پر ضوابطو ترجیح پیداکړه.

تر ابادي یي خرابي ډیري وي. داونی اخري ورځي به یي په دوبی کي تیره ولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۹۱ )

## یو شمیر چارواکي د مخدرو توکو په قاچاق کي مرسته کوي

د پیام مجاهد اوو نیزي په خپله 1390 کال د چنگاښ د میاشتي په 11 مه ګنه کي، د جمهور رییس ددویم مرستیال ښاغلي عبدالکریم خلیلي له قوله ولیکل، که چیري په دولتي چارواکوکي له یو شمیر له قاچاق وړونکو سره مرسته ونه کړي ، په دو مره لویه پیمانه د مخدر و توکو قاچاق امکان نلري.

ښاغلي عبدالکریم خلیلي د چنگاښ د میاشتي په پنځمه، د مخدرو توکو سره د مبارزي د نړیوالي ورځي د لمانځلو په غونډه کي وویل: که چیري د سیمي هیوادونو کي د ننه یو شمیر کړۍ له مافیایي ګرو پونو سره مرسته او همکاري ونه کړي، هیڅ امکان نلري چي په دي لویه پیمانه مخدر توکي قاچاق شي.

هغه وویل: چي دغه عناصر باید وپیژندل شي او د قانون منګلوته دي وسپارل شي.

ښاغلي خلیلي له قضایي او عدلي ارګانونو څخه وغوښتل چي قاچاقبران په جدي توګه په سزا ور شول شي.

په داسي حال کي چي ددولت ډیر لوړ چارواکي هم پدي خبردي او هغه هم شکایت وکړي، دنوموړي خبرچي یو الهام دي . مګر بیا هم غوړ تر غوړه شور نخوري ، اجرات نکیږي، وایي چي وطن په عمل او اقدام جوړیږي نه په خبرو، خداي .ج. دي پر غریبانو ورحمیږي .

کله چي جمهور رئیس او یا مرستیال یي شکایت لري، زموږد غریبانو به څه حال وي ؟

دولتي چارواکي پکي لاس لري او دهر جنایت شاته قوي لاسونه کار کوي. ددولت لوړپوړي چارواکي نه پوهیږي چي د چا نه د اجرااتو هیله لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۹۲)

## وادي ګرګان

وایي چې نه شرم لري او نه دخدایه ترس.

ملي آرمان ورځپاڼي په 1392/5/1 ګڼه کي یو خبر خپور کړي چې :

ولسي جرګي د کورنیو چارو وزیر مجتبي پتنګ څخه د باور رایه واخیسته.

ولسي جرګي له نوموړي څخه یو شمیر پوښتني وکړي، وروسته له هغه مجتبي پتنګ د وکیلانو د پوښتنو په ځواب کي وویل: ما فکر کاوه چي تاسي به له ماڅخه ستراتیژیکي پوښتني وکړي، خو تاسي عادي پوښتني مطرح کړي. نوموړي د یوه وکیل ددي پوښتني په ځواب کي چي یو موچي جنرال شویدي؟

وویل: که چیري یو موچي تحصیل وکړي او زیاروباسي کیدلاي شي چي جنرال شي.

او ممکنه ده چي موچي په کابینه کي وزیر شوي هم وي.

پتنګ د یوه وکیل ددي پوښتني په ځواب کي چي افغانستان د (وادي ګرګ ها) د سریال سره شباهت لري وویل: لیوان په هیوادکي شته نو ښایي چي ددغو لیوانو او مافیایي کړیو پرضد ګډه مبارزه وکړو او باید یو بل تخریب نه کړو.

هغه له خپل یوه مرستیال څخه هم شکایت وکړ،چي زما پر ضد کمپاین کوي، چي دغه خبره د بلخ ولایت د یوه وکیل له عکس العمل سره مخامخ شوه وي ویل: چي ښاغلي وزیر د ولس استازي توهین کړل.

د کورنیو چارو وزیر د هغو وکیلانو نوم وانه خیست، چي له نوموړي څخه یي غیر قانوني غوښتني درلودي . دا باید ووایو چي داسي وکیلان ډیر دي.

نو ثابته ده چي دولسي جرګي دا دوره تر موجودیت یي نه موجودیت دولس په ګټه دي ، پتنګ صاحب حق درلود او ریښتیا ویل ، تر پارلماني مصؤنیت لاندي ډیر نارواوي وشوي ، هر کله چي به اقتصادي اړتیا ورته پیداشوله ، نو پر وزیرانو باندي مخ راواړوي ، کله دا وزیر او کله هغه وزیر ته داستیضاح وختونه کینودل ، دښاغلي رمضان بشردوست خبري چي ویل به یي چي مخ ته مي کمیشن کار ناست او شاته هیروییني . وکیل صاحبان په هر بدبختي لړلي ؤ،غصب، کمیشن کاري، درغلي، رشوت خوري، قانون شکني، بدماشي او جاسوسي ددوي پیشه وه، وکیل نیک محمد دکابل د قره باغ ددولسمه مي دوري وکیل، چي دنجیب ګاو دخور میره ؤ، ده به ادعا کوله، چي ګوندي نه دي، مګر پرچمیانو ته نژدي ؤ، ویل چي ببرک شینواري د محمد هاشم میوندوال، توطیه لومړي دکي جي بي په هدایت عملي کړ او د وکیل سیف الرحمن شینواري په کور کي دیو دیوال په درز کي یو خط چي مخکي جوړشوي او دکودتا په نامه دځینو نامتو دولتي لوړپوړي چارواکو نمونه پکي لیکل شوی ؤ، چي دپاکستان او امریکا په هدایت د سردار داؤد خان په مقابل کي کودتا کوي او زموږ د ډیرو بیګناه وطندارانو د زجر او قتل سبب شو، دا توطیه ؤ، مګر دپرچمیانو لخوا لکه صمد اظهر او حسن شرق په خپلو کتابونو که دا توطیه لا اوس هم تائیده وي. ببرک هم په پارلمان کي ناست دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددي راپور پر بنا : مرستيال خان، ماما زرغون شاه، عارف شينواري، مولوی سيف الرحمن، ډګروال کواټ خان او يو لوی شمير قومي او نظامي مشران لکه ، عبدالرزاق خان قوماندان هوايي، حاجي منان تجار او نور په مختلفو معيارو په حبس محکوم شول.

دداسي عدم علاقه او غيرحاضري ټولو په تلويزون کي ليدلي ، کومه ادعا چي دملت داستازي په حيث دوي کول ريښتيا نه ؤ ، دوي ملت نه و انتخاب کړي ، ۶۲ تنه ددرغلی له لاري د ښاغلي فضل احمد معنوي انتخاب ؤ. ولي چي بي قانوني دقانون ګذارانو نه رامنځ ته شوه .

پر وکيلانو هر ډول تور لګيدي، اما يوه هم ځان ته نه راجع کاوه. د ۸ صبح ورځپاني د سرطان ۲۲ کال ۹۳ دوي ته کميشن کارانو اودلالانو خطاب کوي او دمدنيت ورځپانه ۲۲،۴،۹۳ په نيټه د مصؤنيت دقانون په هکله ورته وايي : ( از خدا بترسيد و ازخلق بشرميد ) داسي څرګنديږي چي نه ډار لري او نه شرم. ولسي جرګي د راتلونکي ژوند د ټولو امتيازاتو دپاره د تصويب تضمين کړ. داسي ډير شويدي، چي يوه ورځ داستحضاح دپاره يو وزير راغواړي، بله د راکړي او ورکړي پر بنا دهغه تقدير کوي او رايي ورکوي، مثلاً اسدالله خالد او يا بسم الله محمدي نه سلب اعتماد وکړ، محمد يي دکورنيو چارو نه ليري او سلب اعتماد شو، بله ورځ يي ددفاع وزارت ته بشپړ رايه واخيستل. اسدالله خالد هم دامنيت ملي عمومي رياست اوچته رايي يوړي.

دا مثالونه ډير دي. دهيڅ وکيل نظر که تائيد وي او که ردوي، ملي او يا اسلامي بنسټ نلري، ارومرو به دغرض او دبي عادلانه انګيزي نه وي، دهيڅ افشاګري او انتقاد جدي نه نيسي او نه په شرميږي.

کله چي منتخب نوي جمهور رئيس داکتر صاحب اشرف غني احمدزي دوی ، ددوي کړونو ته متوجه کړي، دهغه پدي سبا شعبه شعبه ګرځيدل.

هغه کسسان هم پارلمان ته راغلي وي، چي ملي خيانت يي ښکاره ؤ. د ديکتاتوري پولي تاريا د پاره دهيواد استقلال تر سوال لاندي کړ، لکه ببرک شينواري ، سيد محمد ګلاب زوی، نورالحق علومي او څو نور.

د نور مافيا په څنګ کي د ملک طوطي زوی ببرک شينواري هم ناست، چي د تره کي نورمحمد د ځوانانو د سازمان مشرتوب يي کاوه او دبداخلاقي شهرت درلود.

دځوانانو د سازمان او خلقي جلسو تر عنوان لاندي د ځوان انجينو او هلکانو د پاره د بد اخلاقي زمينه برابرول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۹۳)

## په ولسي جر ګه کي څه تيريږي؟

چراغ ورځپاڼي په خپله 1391 کال د غبر ګولي د مياشتي په نهمه نيټه، يو مضمون" د ر مجلس نماينده ګان از خانه ملت تا مركز پولشويي شماري از نماينده ګان" ترسرليک لاندي خپور کړي چي موږ يي ځينو برخوته د لوستونكو پامه را اړوو.
ابو مسلم شيرزاد ليکي :

د ولسي جرګي شپاړسمه دوره بالاخره له يو زيات شمير غوغاووسره، چي تقلب او د هغي په اړه د ځانګري محكمي رامنځته كولو سره تړاو در لود د 1389 كال د مرغومي د مياشتي په شپږمه پرانيستل شوه.

له پرانيستني څخه يي اوولس مياشتي تيريږي، لاهم يو شمير د ملت استازي په خپلو نيمګړ تيا وولـه املـه پر حكومت پړه اچوي، خود د مجلس ساختاري ضعفونه ، خراب مديريت او معامله ګري په دننه د مجلس كي تريخ واقعيت دي چي بايد ومنل شي، چي ډير وخت يي نصاب نه پوره كيږي.

دوخت په تيريدوسره داسي ګونګو سي تر غوږو شوي، چي د ولسي جرګي يوشيمر غړي په جاسوسي، پولشويي ، معامله ګرى، كميشن كارى، او د غير قانوني ساتونكي هغه څه دي چي د ولسي جرګي كمزورتياوي په ګوته كوي او لا په نورو بدبختي ككړ دي، هر يويي وايي چي زه نه يم.

د ماليي او كورنيو چارو وزيرانو نه استيضاح، چي پر وكيلانو د پيسو اخيستلو تورونه ولګيدل او ځانته يي قومي بوي او رنګ خپل كړ. او دغه راز د پيسو معامله ګري خپل رول اداكړ.

جاسوسي او له بهرنيو هيوادونو څخه د پيسو تر لاسه كول:

د كابل او واشنګتن ترمنځ ستراتيژيک تړون د تصويب په اړوند دپيسو، دويش ګونګوسي راپورته شوي او پر يو شمير وكيلانو د جاسوسى ټاپي وليګدي او دغه چاره ددي سبب شوه چي د ولسي جرګي ريس خپل نړيوال كميسيون ته دنده وسپارله، تر څو ددغي موضوع په اړوند تحقيق وكړي، اما نتيجه اعلان نه شوله ، مالومه ده چي دحكومت اخلاقي او علمي سويه تر تش په نامه دملت تر استازو ډيره لوړه وه.

په ډيري بي پروايي دروازه په دروازه ګرځيدل او كميشن كاري داير وي .

څه چي يي مصرف كړيدي، هغه بايد را وګټى او دراتلونكي دوري خيال هم ورسره دي.

دملت د استازو دا كار عادلانه دي، چي پيسي وركوي او بيا پيسي اخلي. يو وكيل صاحبي وويل، ( ما هم مفت نيا مده ايم ).

ملا ترخيل دكابل دكوچيانو استازي، دانجنير پښتون نه دباور وركولو په مقابل كي مبلغ وغوښت. هغه چي ورنكړ ناكامه شوو.

يوه مياشت د مخه د فساد پروړاندي د مبارزي د عالي اداري رئيس، د پيسو اخيستلو موضوع د مجلس د اداري هيات د ټاكنو او د نامزد وزيرانو په اړوند راپورته كړه ، چي دغي موضوع د مجلس په حيثيت ناوړه اغيزه وكړه ، ولي مجلس ونه توانيد چي عزيز الله لودين ځواب وركولوته را وغواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زنانه تشنابونو کي به دنوو دالرونو کښهار په لار کي هم اوريدل کيده، داحقيقت بايد وويل شي ښځي وکيلاني په لږ څه هم قناعت کاوه ، مگر نارينه وکيلان دريانوشه ؤ، ياني ډېلي مقرري غوښتي اويا قراردادونه .
که به کوم وکيل جلب او يا اعتراض وشو ټولو به دي مني ، چي سبا زما هم داحال دي ، لکه غومبسي په دفاع به يي لاس پوري کړ، که به څه هم خپل منځ کي په بوټلانو او کوري بلند بوټانو سره يوبل ويشتل . ښځي هم تر نوروڅه کمي نه درلود ، وکيله صاحبه نظيفه ذکي هم پر حميده احمدزي دکامري ومخ ته خپل گزارونو ته دوام ورکړ .
داسي معلوميدل چي ځينو وکيلانو ددي کور لياقت نه درلود ، نه يي داخله مقرراتو پروا درلوده .
دڅراغ ورځپانه په همدي نيټه دولس استازي په جاسوسي، کميشن کاري، معامله گيري، پول شويي، دمځکو غصب، غيرقانوني، توپک والا ساتل، متهم کړيدي. په هرصورت دولس استازي دداسي اتيهاماتو پروانکوي او په خپل کار اخته دي. يو تدبير ددوي مخنيوي کولای شي، چي جدي او قانوني برخورد ورسره وشي. دولسي جرگي ځيني ښځيني ميرمني خپل عزت چندان خيال نه ساتي، تبصري ورباندي سته، مثلاً دهغه جملي نه فوزيه گيلاني دهرات د ۱۵ دوري وکيله په يو خصوصي مجلس کي دزنا تعقيب عدلي چندان لازم نه بولي. فوزيه کوفي، مريم کوفي، فاطمه عزيز باندي هم اعتراضونه ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۹۴)

## په سفارتونو کي چور

۱- دغه راز د یوه بل رپوټ له مخي، هغه د اختلاس قضیه چي په توکیو کي د افغاني سفارت له خوا د یوي ودانی پیرودني موضوع ده، چي توریي په هارون امین په توکیو کي د افغان پخواني سفیر پوري شویدي، چي تر اوسه یي پایلي معلومي نه دي. کیسه داډول ؤ ، دتعمیر دترمیم مصرف دتعمیر ترخرید لوړراووت .

نو دا قضیه د ښاغلي هدایت امین ارسلا په مداخله چي دده زوم دی، تعقیب نه شوه.

۲- د 62732 پوند استرلنگ د باقیداري قضیه ده، چي توریي په لندن کي د افغان سفیر عبدالرحیم شیرزوي پوري شویدي چي دسفارت پیسي یي په گټه پورته کړیوي.

۳- په برلین کي د افغانستان د پخواني سفیر ناصر ضیا د باقیداري قضیه، چي ۱۳۰ زره یورو ته رسیدلي ؤ، په قیمار وهلي مگر چاڅه ورته ونه ویل ، دادي بیرته مقرر شو.

۴- د محراب الدین مستان د اختلاس قضیه:

د آریانا افغان هوایي شرکت د طلباتو مدیریت په خپل 5103- 1381/3/8 لیک کي بهرنیو چارو وزارت ته لیکلي، چي محراب الدین مستان د معراج الدین زوی، کله چي په پاریس کي د آریانا شرکت استازي وونو ټوله اته سوه زره ډالر اختلاس کړي، چي بیاوروسته په پاریس کي د افغانستان د سفارت د غړیتوب په توگه ټاکل شویدي. تر اوسه د انتر پول پولیسو له خوا د اختلاس د پیسو دور کړي له پاره حاضر کړاي شوي نه دي.

دکاناډا او امریکا تر منځ ماهي غوندي اوبو کي شنا کوي ، نه چاگیر کړ او نه یي پیسي تحویل کړي.

همدا ډول په امریکا کي افغاني سفیر شهریار، دري کورونه چي دعبدالله ملکیار په وخت کي دافغاني مامورینو دپاره په میریلند ایالت کي رانیول شوي ؤ ، پرخپل سرخرڅ، چي دسفارت مامورین اوس خانه به دوش گرځي ، حتی دهغه وخت دپیسو دتحویل درک هم پوره معلوم ندي .

هرچا په خپل وس او خپل نوبت حمله وکړه، کارکونکي اکثره دبهرنیو چارو دزارت پر بنا په منل شوو معیارو برابر ندي.

او داصلاح په هکله هم تر اوسه کوم اجرات ونشول ، کوم اصول چي دداکتر سپنتا په وخت کي ایښودل شوي ؤ، داکتر زلمي رسول بیرته خراب او تراب کړل.

وحید منور په تورنتو ( کانادا ) کي د بهرنیو چارو په خپل نامه کړ او بیا یي په گروي ورکړ، چي لا تراوسه ورک دي. دافغان بیچاره شال او مال لیلام دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۹۵)

## د لاجوردو په کان برید

د هیواد په ملي شتمینو دخیتي اچولو او د وسله والو زور واکانو او مفت خورو له خوا، د هیواد د کانونو غیر قانوني کیندنو د بهیر په لړ کي، دلاجوردو په کان دغیر مسوولو وسله والو له خوا یواځني برید نه دي، بلکي د هیواد په بیلابیلو سیموکي د سیمه ییزو زورواکانو له خوا چي ملاتړ یي د دولت په لوړ پوړیوکي نا ست چاروکو له خوا کیږي ، لا هم په غیر قانوني توګه کیندني کیږي او له بده مرغه یي مخه نه ده نیول شوي.

د باوري رپوټو نو په حواله د سلوتنو په شاو خواکي، غیر مسوولو وسله والو د 1392 کال د مرغومي د میاشتي په 28 مه د نهوبجو پرمهال دبدخشان دکران ومنجان دلاجوردو د معدن په قرارګاه حمله کوي . او له لنډي جګړي څخه وروسته د کان ساتونکي تیت او پرک کیږي، د کان ټول تاسیسات له یوي اندازي تجهیزاتو او اووه میله سلاچي دوه میله یي غیر فعال وه، د حمله کوونکو لاسته ورغله.

کله چي د افغانستان د اسلامي جمهوریت مقام له پیښي خبریږي نو د 1392 کال د مرغومي د میاشتي په 29 مه، د 6834 حکم له مخي یو پلاوي ګمارل کیږي تر څو د پیښي څرنګوالي وڅیړي، کله چي پلاوي د غیر مسوولو اشخاصو څخه پوښتنه کوي، هغوي د نومړي پیښي لامل د خلکو بي وزلي او بیکاري په ګوته کوي.

د پلاوي له خوا د پیښي د عاملینو په توګه څوارلس تنه په ګوته شول، چي نومونه یي په لاندي ډول لیکل ګیږي.

۱- رجب د محمد ولي زوي د جرم له ولسوالي څخه.

۲- قاري اصیل د شریف زوي دیمګان له ولسوالي څخه.

۳- حاجي محمد حنیف د حاجي شریف زوي // //

۴- نظر بیګ باي د حاجي شاقل زوي // //

۵- محبوب الله د ارباب فیض محمد زوي // //

۶- حاجي رمضاني د محمد نعیم زوي // //

۷- فطور باي // // //

۸- داکتر غیور د باز محمد رضا بیګ زوي د جرم له ولسوالي څخه .

۹- نواب / / //

۱۰- پیر صاحب // // د بهارک له ولسوالي څخه.

۱۱- بابه ارداري // //

۱۲- محمد ا لله د حاجي محمد یعقوب زوي دکران منجان له ولسوالي څخه.

۱۳- محمد هاشم د محمد یاسین زوي // // //

۱۴- حاجي محمد داد د آدینه زوي // // //

پلاوي په خپل رپوټ کي لیکلي دي چي د لاجورد او نورو قیمتي ډبرو ارزښت، په یوه ساده او نه نظارت بیه ټاکل شوي ده، چي لس فیصده یي دولت ته تحویلږي او په 1392 کال کي یو دیرش میلونه عایدیي دولت ته تحویل شوي، چي په دي حساب

(c) ketabton.com: The Digital Library

310 میلونه افغاني يي د را ايستني بيه شويده، د نوموړي کان له پاره پرسونل په تشکيل کي نشته او د ولسواليو د قوماندانيو ترمنځ هم همکاري او همغږي نشته.

دغه پيبنه په داسي حال کي رامنځته شوي چي د کان قوماندان موجود نه و او معاون يي هم شتون نه درلود، ددولت او دحکومت دکمزوري له کبله داسي پيښي ډيري دي ، دايي يوه نمونه وه.

اما په هرصورت حکومت يوشمير کورنی او بهرنی ستونزي لري ، ملت هم بايد خپله ملي سرمايه وبولي.

مگر چور، فساد، غصب په لوړه پيمانه ليدل کيږي ، دابايد ووايو چي داسي ناروا او چورنه دکمونستانو په وخت کي ؤ، او نه دطالبانو په وخت کي ، چي دي دوه وختونه هم سر اومال او ناموس په امان کي ؤ، مثالونه يي ډير دي . په هره پيښه کي دزورواکانو او بدماشانو لاس او گټه متصور وي.

ويل کيږي ، چي په دا پيښو کي د بدخشان د وکيلانو او زورواکو تر منځ د فساد زور ازمايي ده، ولي چي حکومت کمزوردي. پدي پيښه کي خلک د ولسي جرگي وکيل زلمی مجددي نوم اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۹۶)

## کانونه او زورواکان

د کانونو لويي پروژې چې د هيواد د اقتصاد په پر مختګ کي ټاکونکي او دیادوني وړ ارزښت لري، له بده مرغه د نا امنۍ او دسيمه ييزو زورواکانو له خوايي مخه نيول کيږي.

په همدې اړوند د را ايستني چاري هم د فرصت طلبو عناصرو، د ذاتي ګټو په موخه په ټپه دريدلي دي.

د چينايي د CNPCIW شرکت رئيس ښاغلي هايلانګ د 2012 کال د مي مياشتي په 27 مه نيټه، د کانونو وزارت ته په يوه ليک کي ليکلي، چي د کان د کار له پاره ستا سوله مرستي څخه مننه کوم.

څرنګه چي پوهيږي د نوموړي کان کار په تعويق کي لويدلي او له دي فرصت څخه ګټي اخيستني غواړم د تعليق ټول جزيات تاسو سره شريک کړم او دامو دريا پروژه دامنيتي ستونزو سره مخامخ شوه.

۱. د امنيتي پلان پر بنياد APPF دري سوه ساتونکي بايد دروان کال د مي دمياشتي تر لو مړي نيتي زموږ په اختيار کي راکړي وای خو تر اوسه د هغو ساتونکو په انتظار کي يو.

۲. په سر پل کي د زياتو سيلابونو دراوتلو له امله پنځلس ورځي زموږ کار په تاخير کي ولويده.

۳..دسيمه ييزو زورواکانو کړني د پلان په تطبيق باندي ناوړي اغيزي پر يباسي، موږ آن داچي د شبرغان څخه د کار کوونکو د ليږد مساله فسخ کړه تر څو زر نفتي سيموته ولاړشو.

دغه کړ نه مو د نامساعدو امنيي او په ځانګړي ډول د سيمي د زورواکانو د تهديد ونو له امله مووکړه.

د نوموړو دلايلو له امله زموږ د وسايلو دراوړل د تعليق حالت کي قرار لري او متخصصين چي بايد اوس په نفتي برخوکي شتون درلود لاي تر اوسه په چين کي دي، د امنيتي اوضاع له نظره معطل دي.

دغه راز د کانونو چا رو وزارت هم يو ليک د عينکود مسودکان په اړوند د ملي امنيت شورا ته هم استولي، چي نا امنيو او د مخاليفينو له خوا يي د بريدونو په اړوند يکي يادونه شويده.

پورتني شرکت چي دجنرال عبدالرشيد دوستم لخوا دخپلو غوښتنو په خاطر تهديد شوی ؤ، چينايي انجنيران تښتي ته اړشول.

داسي ډيري پروژې دي، چي دتوپکسالارانو لخوا دستونزو سره مخامخ دي ، چي بايد حق ورکړه شي.

او دلته هم د امو دريا د نفتو پروژه د خنډ او ځنډ سره مخامخ کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۹۷)

## دکابل بانک فاجعه

دکابل بانک د درغلۍ او اختلاس قضیه په هیواد کي یوه لویه فاجعه ده، چي په ملي او نړیواله کچه یي دهیواد حیثت او اعتبارته زیان واړاوه او د نړیوالو زیاتره مرسته یي د خصوصي با نکونو او ادارو سره را کمي کړي. دلومړي سره دا بانک نه ؤ، بلکي یو دام تزویر ؤ.

دغه قضیه چي د افغانستان د اسلامي جمهوریت د 1391 کال دوري د میاشتي د شپاړسمي نیټي د 281 ګڼه او 1390 کال د چنګاښ د میاشتي د اوومي نیټي د جمهوري ریاست د 2698 لمبر حکمونو، له مخي یي څیړنه پیل شوه لاندیني یو ویشت تنه یي تورن وبلل شول.

۱- د کابل بانک د پخواني مدیره هیات رییس شیر خان فرنود د محمد مراد زوي.

۲- د کابل بانک د پخواني عامل هیات سر پرست خیلل الله فیروزي د فقیر محمد زوي.

۳- د کابل بانک د تفتیش امر راچا ګوپال کرشنن د ګوپال کرشنن زوي.

۴- د کابل بانک د قروضو پخواني امر رام چندران د ګورنادن زوي.

۵- د کابل بانک د نظارت غړی انجنیر محمد افضل د فضل حبیب زوي.

۶- د کابل بانک د آي ټي امر محمد طارق میران د غلام فاروق زوي.

۷- د کابل بانک سرتاسري شبکي مسوول کمال ناصر کرور د حبیب الله کرور زوي.

۸- د کابل بانک د قانون څخه د ملاتړ پخواني کار کوونکي محبوب شاه فروتن د مبارک شاه زوي.

۹- د کابل بانک ددولتي اړیکو مسوول امین الله خیر اندیش د خلیل الله زوي.

۱۰- د کابل بانک د عملیاتو پخواني امر عبدالبصیر فروغ د عبدالجلیل زوي.

۱۱- د پامیر هوایي شرکت رئیس او مدیره هیات غړي امان الله حمید د عبید الله زوي.

۱۲- د افغانستان بانک پخواني رئیس عبدالقدیر فطرت، داستاد برهان الدین بچه خوانده ځان مشهوره کړیوو.

۱۳- د افغانستان بانک لومړي مرستیال محب الله صافي.

۱۴- د افغانستان د مالي معاملاتواو را پورونو د تحلیل امر مصطفي مسعودي د عبدالرحیم زوي.

۱۵- د نوي کابل بانک رئیس مسعود خان موسي غازي د حاجي عبدالرحمن زوي.

۱۶- د افغانستان بانک د نظارت ټیم سر ګروپ شیر آقا د ذین العابدین زوي.

۱۷- د افغانستان بانک نظارتي ټیم سر ګروپ ظفر الله فقیري د عیسي خان زوي.

۱۸- د مالي نظارت عمومي امر محمد قسیم رحیمي د عبدالحمید زوي.

۱۹- د افغانستان بانک او نظارت غړي بسم الله د عبدالمحمد زوي.

۲۰- د افغانستان بانک نظارت غړي محمد عارف سالک د محمد اصف زوي.

۲۱- د کابل بانک پخواني کار کونکي عصمت الله بیک .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل بانک چي په 2004 کال کي د فعالیت جواز تر لاسه کړ، په هغه کي شپاړس تنه برخه لري چي د بانکداري د 34 مادي پرخلاف په مستقيم ډول او غیر مستقیم ډول یي په تجارتي غیر مجاز ډول یي سرمایه گذاري کړیده.

دغه بانک چي د تخلفاتو راپوریي عامل هیات او د برخه والو عمومي مجمع ته ورکاوه او د بانکداري د 41 مادي پر خلاف یي، د تطهیر پول او مجهول الهویه اشخاصوته یي غیر نورمال پورونه ورکړیدي ، چي بانک یي د ټکټاني له ستونزي سره مخامخ کړي او د خلکو د امانتونو، چي کابل بانک ته یي سپارلي دي څه کم یو میلیارد دالره حیف ومیل شول.

کابل بانک پخوانی هیات مدیره چي باید یو ښه سابقه او تجربه اوپه امانت داري یي شهرت درلود ، مګر برعکس داکسان په خیانت،درغلي، قیمار، اوبد شهرت درلود . او یوشمیر لوړوپوړو سره یي هم کریدت کاري، سوغات او نور داد وگرفت درلود. دکابل بانک قضیه له یوی خوا دخلګو پیسي وخوړي او دبلي خوا په ملي او بین المللي ډګر کي دافغان دولت ډیر بی اعتباره کړ ، په هر صورت جرم جنایت په هر هیواد کي شته ، مګر هلته بازخواست موجود دي ، مګر زموږ هیواد کي بازخواست نشته. شرم لاهم داده چي محکمي اختلاس ونه باله او هغه یی یوه حقوقي مساله توصیف کړه، شیرخان اوفیروزي یوازي په ډیر بي شرمانه ډول په ۱۰ کاله حبس محکوم کړل .

دافغانستان بانک پخواني رئیس ښاغلي فطرت، چي په دوه کاله حبس محکوم شویدي ، او په امریکا کي دفرار په ډول ژوند کوي ، دومره ماهره شیطان ؤ، کله چي به دمالیي وزارت لخوا تر تفتیش لاندي شو، یوځلي به یي اوازه واچول، چي دهمدي تفتیش لخوا افغانی کم ارزښته شوي او بازار د دالرو په لیلام کي به یي د ځینو صرافانو سره لاس یو ؤ،ډیره دارایي یي وموندل. په قضیه کي تر ټولو ذید خل دي . په هرو دوو میاشتو کي باید بیلانس او تفتیش او د پورو نه لمبرونه ورکول ، او حکومت او خلک یي اغفالول ، اصلي عامل دي ، ددي ټولو وحشي جنایاتو سره امریکا پخپل غیږ کي نیولي دي. په فساد کي د شیرخان او فیروزي مل ؤ او ځان یي د استاد رباني بچه خوانده باله.

که چیري دلته که یو نفر دسیستم پر بنا دي خیانت ته پام کړیواي، دا فاجعه به نه وای رامنځ ته شوي ، مګر دلته په خیانت ډول یو بل ته لاس ورکړي ؤ .

کابل بانک دشیر خان لخوا په منظور نه ؤ جوړشوي، بلکي یو دام تزویر او فریب کاري په منظور د بانک تر عنوان لاندي خلګو باور پري وکړ او خپله نقده دارایي یي هلته سره جمع کړه.

دسوغات او پراخه لاس له کبله لوړچارواکو حمایه ورسره ؤ، مډرن او عصري فریب کار ؤ. دا دبازار ازاد برکت ؤ، چي ددولت بیله کنتروله بانکونه رامنځ ته شوه. ددولت دنده ده ، چي د ولس د تاوان په مقابل کي احتیاطي تدابیر نیولي وای. البته دولت یوه عامه کلمه ده، چي اداره یي دهغو په لاس ؤ، چي په دولت کي لوړپوړي چارواکي ؤ.

د افغانستان بانک چي کابل بانک یي کنټرول کړیوای، هغه پخپله پدي فساد کي ورسره لړلی ؤ، قدیر فطرت به په خپل قلم درجه ور لوړه کړه چي فعالیت ته دوام ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۹۸)

## د ولسي جرگې ۶۲ غړو درغلي

فساد چې په يوه ټولنه کې د ناسور ټپ او سرطاني غدې حيثيت لري، چې د ټولني په ټولو برخوکې ريښې ځغلوي.

له بده مرغه دغه فساد د 1389 کال د ولسي جرگې ټاکنې هم په خپله ولکه کې راوستې، چې په لنډيز سره يې په لاندې ډول يادونه کوو.

د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون د 1389 کال ټاکنې په درغلي لړلې وبللې، چې دولسي جرگې د سپاړسمي دورې په ټولټاکنو کې په 593 مرکزونو کې تقلب کړې او تقلب يې د ټاکنيز و شکايتونو کميسيون ته ثابت دې .

نو څرنگه چې قضيې جزايي اړخ لري نوموضوع دټاکنو د قانون 64 مادې د دريمې فقرې سره سم په دغه برخه کې کړنې ترسره کړې.

په دغه ليک کې همداراز ويل شوې چې دغه کميسيون دې پايلې ته رسيدلې دې، چې د ټاکنيزو برخو دکارکوونکو له مرستې څخه پرته دغه تقلبونه ناممکن بريښې، شکايتونه ترغور لاندې ونيول شول .

چې څيرنه يې دابتدايه محکمې له خوا څيړل کيږي، نو د قضيې په اړوند د ټاکنو د خپلواک کميسيون اوشکايتونو د کميسيون څوار لس تنه د37 مواردو تخلف له امله تورن وبلل شول، چې نومونه يې په لاندې ډول دي.

۱- فضل احمد معنوي د ټاکنو د کميسيون رئيس.

۲- عبدالله احمدزي د ټاکنو د کميسيون او دارالانشا رئيس

۳- عبدالخالق د ټاکنو کميسيون غړی.

۴- سيد مراد شريفي د شکاياتو کميسيون رئيس.

۵- شاه سلطان عاکفي د شکاياتو د کميسيون غړی.

۶- ضيا رفعت د شکاياتو د کميسيون غړی.

۷- جنرال ايوب اصيل د ټاکنو د کميسيون غړی.

۸- شفيق احمد کوهستاني د ټاکنو د کميسيون د آی ټي رئيس.

۹- امان الله تجلي د شکايتو نو د کميسيون حقوقي مرستيال.

۱۰- نور محمد نور د ټاکنو د کميسيون وياند.

۱۱- گرزيواني د ټاکنو د کميسيون غړی.

۱۲- قاضي سليمان حامد د ټاکنو د کميسيون غړی.

۱۳- مستوره ستانکزي د ټاکنوکميسيون غړي

۱۴- مومنه ياري د ټاکنو دکميسيون غړی.

په دغه بهير کې 235 عريضې د کانديدانو له خوا د شکايتو نو کميسيون ته وړاندې شوې، چې تفصيل يې په دې ليکنه کې نا ممکن بريښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنده دا چي موضوع د کابل ښار د ابتدایه محکمي له خوا وڅېړل شوه او پرېکړه یي وکړه، چي اړوند و ادارو ته ښایي چي جزايي او حقوقي قضیي، چي په دغه اړوند موجودي دي جلا او ځانګړي محکمي ته دي وسپارل شي.

په همدي ډول عبدالله احمد زي د ټاکنو د کمیسیون او دارالانشا رئیس او قاضي سلیمان حامد چي د محکمي له قرار څخه یي سر غړونه کوله دندي یي په تعلیق کي ولویدي.

چي وروسته له یو لړ څېړنو د ستري محکمي عالي شورا د 1389 کال د لندي  د میاشتي په دیر شمه د 944 ګڼه مصوبي له مخي پرېکړه وشوه، چي د موضوع جزايي او حقوقي برخي جلا او ځانګړي محکمي ته د شرعي انفصال له پاره واستول شي.

چي په پایله کي د ۱۳۹۰ کال دزمري دمیاشتي په دولسمه نیټه د ۳- ۱۵- ۲۶- ۱۴- ۴- ۱۸- ۲۷- ۲۳- ۲۵- ۲۴- ۱۰- ۲۰- ۱۶- ۸- ۷- ۶- ۲۱- ۱۱- ۱۲- ۱- ۲۲- او ۹  قضا یي قرارونو له مخي د ولسي جرګي 62 تنه لاندي کسان حذف او پرځاي دوه شپيته تنه نور بريالي وبلل شول، چي لړلیک یي په لاندي ډول خبرېږي.

| لست وکلاي جديد و حذف شده توسط محکمه خاص شکايت هاي انتخاباتي | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| شماره | لست وکلاي جديد که توسط محکمه خاص معرفي شده اند | | | لست وکلاي  که توسط محکمه خاص حذف شده اند | | |
| | اسم | ولايت | ذريعه قرار قضائي که معرفي شده اند | اسم | ولايت | ذريعه قرار قضائي که حذف شده اند |
| 1 | محترم جميل کرزي | کابل | 139/5/12 (3) | شريف الله کامه وال | کابل | 139/5/12 (3) |
| 2 | محترم احسان صاحب زاده | کابل | 139/5/12 (3) | عرفان الله عرفان | کابل | 139/5/12 (3) |
| 3 | محترم بيدار حاجي | کابل | 139/5/12 (3) | داکتر عبيد الله کليمزي وردک | کابل | 139/5/12 (3) |
| 4 | محترم قادر حاجي وطندوست | کابل | 139/5/12 (3) | عبدالحفيظ منصور | کابل | 139/5/12 (3) |
| 5 | محترم روبينا جلالي | کابل | 139/5/12 (3) | فوزيه ناصر يار گلدره اي | کابل | 139/5/12 (3) |
| 6 | محترم نثار احمد فيضي غورباني | هرات | 1390/5/12(15) | احمد فرهاد مجيدي | هرات | 1390/5/12(15) |
| 7 | محترم رحيمه جامي | هرات | 1390/5/12(15) | سيمين بارکزي | هرات | 1390/5/12(15) |
| 8 | محترم ناصر اعطائي | هرات | 1390/5/12(15) | حاجي خليل احمد شيخ زاده | هرات | 1390/5/12(15) |
| 9 | محترم احمد وحيد طاهري | هرات | 1390/5/12(15) | الجاج انجنير منور شاه بهادري | هرات | 1390/5/12(15) |
| 10 | محترم حاجي زرين | هرات | 1390/5/12(15) | الحاج محمد رفيق شهير | هرات | 1390/5/12(15) |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 11 | محترم معروف فضلي | سمنگان | 1390/5/12(15) | جاجي محمد عارف طيب | سمنگان | 1390/5/12(15) |
| 12 | محترم احمد خان سمنگاني | سمنگان | 1390/5/12 (26) | الحاجمخدوم محب الله فرقاني | سمنگان | 1390/5/12 (26) |
| 13 | محترم رئيس خير الله | سمنگان | 1390/5/12 (26) | محمد طاهر زهير | سمنگان | 1390/5/12 (26) |
| 14 | محترم محبوبه | سمنگان | 1390/5/12 (26) | داکتر معصومه خاوري | سمنگان | 1390/5/12 (26) |
| 15 | محترم نور الدين بيک | کندز | 1390/5/12 (14) | شايسته باز ناصري | کندز | 1390/5/12 (14) |
| 16 | محترم قضل کريم ايماق | کندز | 1390/5/12 (14) | سيد داود نادري | کندز | 1390/5/12 (14) |
| 17 | محترم رئيسه حسين خيل | کندز | 1390/5/12 (14) | داکتر فاطمه عزيز | کندز | 1390/5/12 (14) |
| 18 | محترم گل محمد پهلوان | فارياب | 1390/5/12 (4) | انجنير محمد هاشم ارتاق | فارياب | 1390/5/12 (4) |
| 19 | محترم نجيب الله سليمي | فارياب | 1390/5/12 (4) | محمد شاکر کار گر | فارياب | 1390/5/12 (4) |
| 20 | محترم سلطنت کوهي | فارياب | 1390/5/12 (4) | آصفه شاداب | فارياب | 1390/5/12 (4) |
| 21 | محترم حاجي پاينده | سرپل | 1390/5/12 (18) | سيد انور سادات | سرپل | 1390/5/12 (18) |
| 22 | محترم معلم مير ولي | هلمند | 1390/5/12 (19) | مسعود خان نورزي | هلمند | 1390/5/12 (19) |
| 23 | محترم حاجي ايوب | قندهار | 1390/5/12 (27) | محمد نعيم لالي حميد زي | قندهار | 1390/5/12 (27) |
| 24 | محترم حاجي محمود نور | قندهار | 1390/5/12 (27) | حاجي محمد عمر ننگيالي | قندهار | 1390/5/12 (27) |
| 25 | محترم نياز محمد امير لالي | قندهار | 1390/5/12 (27) | داکتر محمود خان | قندهار | 1390/5/12 (27) |
| 26 | محترم عبدالکريم اچکزي | قندهار | 1390/5/12 (27) | عطا الله حبيب | قندهار | 1390/5/12 (27) |
| 27 | محترم داود سلطان زوي | غزني | 1390/5/12 (23) | محمد علي علي زاده | غزني | 1390/5/12 (23) |
| 28 | محترم عبدالکريم دليلي | غزني | 1390/5/12 (23) | استاد محمد عارف رحماني | غزني | 1390/5/12 (23) |
| 29 | محترم مامور شلگري | غزني | 1390/5/12 (23) | الحاج خداد عرفاني | غزني | 1390/5/12 (23) |
| 30 | محترم نيازمحمد اميري | غزني | 1390/5/12 (23) | چمن شاه اعتمادي | غزني | 1390/5/12 (23) |
| 31 | محترم عاشق الله وفا | بغلان | 1390/5/12 (2) | دلاور ايماق | بغلان | 1390/5/12 (2) |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 32 | محترم محمد نسیم مدبر | بغلان | 1390/5/12 (2) | محمد ظاهرغني زاده | بغلان | 1390/5/12 (2) |
| 33 | محمد اسد الله فلا | لوگر | 1390/5/12 (5) | انجنیر صاحب خان | لوگر | 1390/5/12 (5) |
| 34 | محترم وحید الله کلیم زوي | میدان وردک | 1390/5/12 (24) | حاجي عبدالمجید وردک | میدان وردک | 1390/5/12 (24) |
| 35 | محترم روز محمد نور | جوزجان | 1390/5/12 (10) | حاجي محمد اسماعیل | جوزجان | 1390/5/12 (10) |
| 36 | محترم محمود خان سلیمان خیل | پکتیکا | 1390/5/12 (20) | سید اسحاق گیلاني | پکتیکا | 1390/5/12 (20) |
| 37 | محترمه خدیجه | پکتیکا | 1390/5/12 (20) | ناجیه | پکتیکا | 1390/5/12 (20) |
| 38 | محترم دلاور طوطاخیل | پکتیکا | 1390/5/12 (10) | محمد ابراهیم غشتلي | پکتیکا | 1390/5/12 (10) |
| 39 | محترم حیات الله وزیري | خوست | 1390/5/12 (16) | الحاج داکتر میربت خان منگل | خوست | 1390/5/12 (16) |
| 40 | محترم ولي خان هیله من | خوست | 1390/5/12 (16) | لیاقت الله بابکر خیل | خوست | 1390/5/12 (16) |
| 41 | محترم نور الله معمار | نورستان | 1390/5/12 (8) | مولوي احمد الله موحد | نورستان | 1390/5/12 (8) |
| 42 | محترم حمید الله توخي | زابل | 1390/5/12 (7) | عبدالقادر قلاتوال | زابل | 1390/5/12 (7) |
| 43 | محترم اسماعیل زابلي | زابل | 1390/5/12 (7) | عبد الحبیب اندیوال | زابل | 1390/5/12 (7) |
| 44 | محترمه تورپیکي | زابل | 1390/5/12 (7) | زاهرا توخي زابلي | زابل | 1390/5/12 (7) |
| 45 | محترم رئیس محمد عمر | بادغیس | 1390/5/12 (3) | سید محمد موسي جناب | بادغیس | 1390/5/12 (3) |
| 46 | محترم حبیب الله | بادغیس | 1390/5/12 (3) | حاجي غلام سرور فایض | بادغیس | 1390/5/12 (3) |
| 47 | محترم عبدالطیف | بادغیس | 1390/5/12 (3) | الحاج قاضي عبدالرحیم | بادغیس | 1390/5/12 (3) |
| 48 | محترمه آزیتا رفعت | بادغیس | 1390/5/12 (3) | صفیه ایماق | بادغیس | 1390/5/12 (3) |
| 49 | محترم مولوي دین محمد عظیمي | غور | 1390/5/12 (6) | حاجي قربان کوهستاني | غور | 1390/5/12 (6) |
| 50 | محترم فضل احمد | غور | 1390/5/12 (21) | اقاي بحر | غور | 1390/5/12 (6) |
| 51 | محترم غضنفر | بلخ | 1390/5/12 (11) | فرهاد عظیمي | بلخ | 1390/5/12 (21) |
| 52 | قاري محمد هاشم هیکل زاده | تخار | 1390/5/12 (12) | سید اکرام الدین معصومي | تخار | 1390/5/12 (11) |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 53 | محترم حارنوال عبدالروف | بدخشان | 1390/5/12 (12) | الحاجي صفي الله مسلم | بدخشان | 1390/5/12 (12) |
| 54 | عبدالشکور واقف حکیمي | بدخشان | 1390/5/12 (1) | عبدالولي نیازي | بدخشان | 1390/5/12 (12) |
| 55 | محترمه قاضي منیره | بدخشان | 1390/5/12 (1) | حاجي مامور موسي | فراه | 1390/5/12 (12) |
| 56 | محترم مسعود بختور | فراه | 1390/5/12 (22) | الحاج محمد سرور عثماني فراهي | فراه | 1390/5/12 (1) |
| 57 | نامعلوم | فراه | 1390/5/12 (22) | الحاج برید جنرال نقیب الله | لغماني | 1390/5/12 (1) |
| 58 | محترم عبدالهادي واحدي | لغمان | 1390/5/12 (10) | الحاج زیفونون صافي | لغمان | 1390/5/12 (22) |
| 59 | محترم گل مري | لغمان | 1390/5/12 (10) | حاجي پیر بخش گردیوال | ننگر هار | 1390/5/12 (22) |
| 60 | محترم الحاج ملک نذیر | ننگرهار | 1390/5/12 (9) | انجنیر سید اکرام | ننگرهار | 1390/5/12 (10) |
| 61 | محترم شنواري | ننگرهار | 1390/5/12 (9) | حاجي حیدر خان نعیم زوي | کوچي ها | 1390/5/12 (10) |
| 62 | الحاج قادر کوچي | کوچي ها | 1390/5/12 (10) | | | |

چي له بده مرغه د محکمي نوموړي پریکړه چي واجب التنفیذ وه په عمل کي پلي نه شوه او دمحکمي دحکم خلاف هغه ۶۲ کسان په خړو ستورګو په غیر قانوني ،غیر عادلانه او غیراخلاقي ډول په شورا ورننوتل، او دحاجي ظاهر قدیر چي په باد او باران خوشحاله دي، ددي دپاره چي مرستیال وټاکل شي راټول شو، چي ۱۶ دوره له همدي کبله تر ټولو بدنامه دوره ؤ، او په همدي ډول خیانت یي لاس پوري کړ، چي دابتدائیه محکمي دا فیصله داستناف لخوا هم تائید شول ، مګر ځاي یي ونه نیوي .
حقیقت دادي ،ددي ۶۲ تنو رایه باطلي او دمعاش اخیستل یي حرام دي . او کوم قوانین چي تصویب شویدي هغه ټوله غیرقانوني دي ، چي باید لغوه شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۹۹)

## د ولسمشر پرځاي ، خوناوخته څرګندوني

ويسا ورځپاڼي په خپله ۱۳۹۱ کال د چنګاښ د مياشتي په دريمه ګڼه کي ، د فدامحمد فايض له خوا ليکل شوي يو تحليلي مضمون د " د ولسمشر پر ځاي ؛ خوناوخته څرګندوني " تر سرليک لاندي خپور کړي، چي مورږ يي لنديز راا خلو : د ۱۳۹۱ کال د چنګاښ د مياشتي لومړي نيټه ولسمشر ښاغلي کرزي ،د هيواد دري ګونو قواوو ته يوه منظمه او هر اړخيزه وينا وکړه .

هغه له ډيرو خبرو پرده پورته کړه او په پرخپلو او ددولت پر کمزوريو يي اعترافونه وکړل او دراتلونکي له پاره يي ولس ته هيلي ورکړي .

ولسمشر د فساد په شتون اعترافونه وکړل ، کورني او بهرني کړي يي دواړه په فساد کي ښکيلي وبللي.

دايي ومنله چي په دولتي دستګاه کي سمت پالنه ، قوم پالنه او ګوند پالنه وجود لري ،غصب موجود دي، د خلګو حقوق تري وړل شويدي او دي ته ورته، نوري ناخوالي او نيمګړتيا وي هم شته.

ولس مشر اکثره وخت اعتراف کړيدي چي دحکومت ستونزه پخپله دحکومتي چارواکو سره ده ، ولي چي دقومي مشارکت او ترکيب تر عنوان لاندي يو سها مي شرکت غوندي ؤ.

حقيقت دادي چي ولسمشر په ماضي کي هم ډير ځله دغسي اعترافونه کړيدي ، خو مشکل دادي چي عملي ګام نه دی اخيستل شوي .

ملاحظات په نظر کي ديو ملي وحدت پر بنا نيول کيدل ، ولي دنور خطر احتمال کيدي ، دملي ګټو ساتل ، دقانون رعايت نه يوازي دولسمشر مکلفيت ؤ، هيواد دټولودی، بايد هر وګړي دقانون او عدالت رعايت وکړي ، نه داچي ( به ما چی) ؟!.

هغه چاچي د مزار په جنګي کلا کي د لسګونو کسانو ويني تويي کړي ،په ليلي دښته کي يي د زرګونو انسانانو ويني يي تويي کړي . انتقالي عدالت تطبيق نشو.

د کارته نو او ميوند جادي اوس هم دهغه د افرادو وحشتونو کيسي کوي، د هيواد يو زيات شمير الوتکي يي چي ددي هيواد ملي پانګه وه ، څه يي ازبکستان ته بوتلي او څه يي له منځه يوړي ، دشير پور مځکي چور شوي ، د پرديو په لمسه يي د هيواد د تجزيي په تو طيو کي لاس درلود، او په ډيره ښه موقع سره د قومي حسادتونو اوحساسيتونو د پاروني له لاريي ځان هدف ته رسوي. کابينه قومي ده ، ملي شورا قومي ده ، وزارتونه قومي دي او نوري اداري قومي دي .

خو تر اوسه هيچا يي پوښتنه ونه کړه . د جنګسالارانو په موجوديت کي د قانون حاکميت ته زمينه مساعده نه ده ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۰۰)

## دتښتوني یوه قضیه

دپاکستان درا ستنیدو سره د تښتوني پیښي او مخدره توکي هم زموږ په هیواد کي زور موندلي، دا په داسي حال کي چي مخ کي تر دي تښتونو په هیواد کي سابقه نه درلوده ، له بده مرغه دغه کرغیرنه پدیده ددي سبب شویده، چي پانگوال په هیواد کي پانگوني ته زړه ښه نه کړي او خپلي پانگي او شته بهرنیو هیوادونو ته وباسي .

دیوي باخبري سرچیني په رپوټ کي لیکل شویدي : کله چي ۱۳۹۰ / ۱۰/ ۳۰ نیټه ډاکټر شعور نیازي د کابل له تایمنیو څخه تښتول کیږي، پولیس دهغه د پیداکولو له پاره په کار پیل کوي.

بالاخره په ۳/۴/۱۱/۱۳۹۰ نیټه داکتر شعور نیازي له تښتوونکو څخه په تیښته بریالي کیږي او سمدستي پولیسو ته خبر ورکوي .

پولیس زر تر زره هغه کورو چي داکتر نیازي په کي ساتل کیده هر یو عبدالصمد د عبدالمنان زوی، دکور خاوند خان اغا د عبدالغفار زوی، حمید درحمان زوی، عثمان د محمد زمان زوی او یو میل سلا سره نیول کیږي او د تحقیق په جریان کي په خپل جرم اعتراف کوي ، او سربیره پر هغي په نورو جرمونو هم معترف کیږي .

۱ . د مهاجرینو دراستنولو د وزیر زوی عبدالله انوري، د قضیي په اړوند هر یو نعمت الله او منیرگل دننگیالي زامن ونیول شول او په شل کاله بند محکوم شول .

۲ . حاجي گلاب الدین چي په ۳/۱/۱۳۹۰ نیټه تښتول شوي و، چي وروسته تر غوږ پریکیدو او څلور سوه پنځه زره دالره اخیستني څخه خوشي کړاي شوي و .

۳ . د شعور نیازي د تښتوني په اړوند گروپ کي ،چي یو څو تنه نور منیر گل او نعمت الله چي تیر کال نیول شوي او یو شمیر یي په تیښته بریالي شویدي ، د تښتوني په څو قضیو او ټپي کیدونو او وسله والو غلاوو په قضیو اعتراف کړیدي .

کله چي عبدالصمد او گډونوال یي نیول کیږي ، د سهار له شپږو بجو څخه تر اوو بجو د همغي ورځي فوزیه څمکنۍ دمشرانو جرگي غړي عبدالصمد ته تیلیفون کوي.

په داسي حال کي چي تلیفون یي له پولیسو سره و، او نوموړي له خپل نفوذ څخه گټه اخلي تر څو هغه خوشي کړي. فوزیه تر اوسه د پارلماني مصؤنیت له برکته محاکمه نشوه.

داکتر شعور نیازي په خپلو څرگندونو کي وایي : کله چي زه د هغوي په اسارت کي وم تښتوونکو ته د فوزیي څمکنۍ له خوا تیلیفون راغي او له موضوع څخه یي ځان باخبر کړ .

ابتدائیه محکمي عبدالصمد ته برائت ورکړ ، استیناف ۲۰ کاله زندان.

دقضا داستقلالیت پر بنا دابتدائیه قضا ته څه ویل کیداي نشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۰۱)

## د یو شمیر والیانو په اړوند رپوټ

1. کله چي په ۱۳۸۶ کال کي د کنترول او تفتیش د عالي اداري له خواو د غزني ولایت حسابي چاري تفتیش نه وروسته دي پایلي ته رسیږي، چي ۲۴۰۰۰۰ افغانی په داسي حال کي چي د مصرف په اړوند یي معلومات نشته، د مقرراتو پر خلاف د والي د معراج الدین پټان سکرتر په وجه کي حواله او وروسته بیا دغه پیسي ۰۲۴۰۰۰۰ افغانیو تصیح شویدي .
2. د کنترول او تفتیش د عالي اداري له رپوټ له مخي ۱۸۹۳۶۰۰۰ افغانی د سردستي له وجي د غزني والیانو لکه ډاکتر محمد عثمان ، شیر محمد خوستي، بیله اصولي اسنادو مصرف کړیدي.
3. د کنترول او تفتیش داداري د ۱۳۸۷ کال رپوټ کي راغلي دي، چي ۲۱۸۰۹۰۸ افغانی د اوپراتیفي د تیلو په نامه ،د والي غلام غوث ابوبکر له خوا حواله، چي هیڅ مصرفي اسناد وجود نه لري. دهمدي والي د ناوړو اجراتو په هکله د نیویارک ورځپاڼي هم یو لوی مضمون خپور کړیدي.
4. دافغانستان د اسلامي جمهوریت د مقام ۱۵/۱۱/۱۳۸۵ حکم له مخي، یو پلاوی ګمارل شوي تر څو د هغو نومرو دتوزیع څرنګوالي وڅیړي، چي د ماستر پلان پرخلاف په بلخ ولایت کي ویشل شویدي.

په پایله کي څرګندیږي کله چي عبدالرشید دوستم په شمال کي دنظامي زون مشر و، له خپل صلاحیت څخه ګټه اخیستي او ۱۰۶ نومري ځمکي د شني ساحي په سیمه کي ویشلي ، پرته له دي چي د جمهوري ریاست له مقام څخه یي حکم تر لاسه کړي وي .

5. د محمد بهادر مدافع د وژني قضیه ، چي تور یي پر بازمحمد احمدي د بدخشان په والي پوري شوي، دمحمد بهادرد ورور عریضه چي دچارو داداري د ۱۲۸۷—۱۳/۲/۱۳۸۸ لیک په ملتیا اړوندو ادارو ته لیږل شوي، خو زورواکی له امله نوموړي تر اوسه د تحقیق له پاره حاضر شوي نه دي .
6. د محمد حنیف اتمر له خوا د قذف ادعا د بلخ د والي عطامحمد نورپهنامه، چي دکورنیو چارو وزارت د ۹۰۱۸ ---- ۲/۸/۱۳۸۸ لیک په ملتیا د قانون د تنفیذ دارګانونو په نامه لیږل شوي دي.
7. د حیرتانو دبندر د نفتي موادو د اختلاس قضیه ، چي تور یي پر عطامحمد نور ،ښاغلي دوستم او حاجي محقق لګول شویدي.

8. د ناوړي ګټي اخیستني قضیه ، چي د مزارشریف سینما په سیمه کي د عطامحمد نور له خوا وړباندي لوړ پوړي ودانی جوړي شویدي .
9. حاجي دین محمد دننګرهار والي ، ګل اغا شیرزي دکندهار والي او تورن محمد اسمعیل خان په هرات کي چي څه یي په وس ؤ، صرفه یي ونکړه .

دهیڅ چا پوښتنه ونشول، نه تفتیش شول او نه کنټرول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۰۲)

## په ګمرکونو کي ددرغلۍ يوه بيلګه

ګمرکونه يواځنۍ اداري دي چي د وارداتي توکو د محصول له امله، د ملي عوايدو زياتره برخه جوړوي. نو له همدي وجي څخه په ګمرکونو کي ددرغليو پيښي زياتي او عامه افکار تل د توکو په محصول کي جوړ جاړي کوي او کارکوونکي يي شخصي ګټي په ملي ګټو لوړي بولي.

نو داسي ګونګوسي تر غوږو کيږي کله چي يو کارمند يو څه موده په ګمرکونو کي کارکوي. نو په شخصي ژوند او شتمني کي يي ډير ژر بدلون راځي، موږ دلته يوه ددرغلۍ قضيه چي په ګمرګ کي رامنځته شوي د بيلګي په توګه وړاندي کوو.

دموز لمتد شرکت ۸۴۴۲ کارتنه د بنجارګي توکي واردوي او د ګمرګ په اووم هنګر کي تخليه کيږي، خو بيا وروسته پرته له دي چي محصول ځيني واخيستل شي، له ګمرک څخه ايستل کيږي.

کله چي موضوع تر څيړني لاندي نيول کيږي داسي ادعا کيږي، چي نوموړي توکي د ماليي دمعين غلام جيلاني پوپل په امر له ګمرک څخه ،له محصول پرته ايستل کيږي او تور يي پرعبدالقيوم د محمد عمرزوی، چي دګمرک پخواني سرپرست رئيس و، دګمرک داووم هنګر امر عبدالکريم دعبدالحکيم زوی، ددروازي امر سيد احمد د حاجي محمد زوی ،د وارداتو د مديرت مرستيال سيد مزمل د سيد سکندر زوی پوري کيږي.

د اداري فساد پرضد د مبارزي ابتدائيه محکمي په خپله ۳۰ ــ ۵/۲/۱۳۹۰ فيصله کي هر يو عبدالقيوم ، عبدالکريم او سيد احمد نومي، په پنځه کاله او يوه مياشت حبس او د ۵۸۱۸۴۹۵ افغانۍ په ورکړي علي سويه غياباً محکوم او دغه راز سيد مزمل په دوو کلونو تنفيذي حبس محکو ميږي .

مګر د ايستناف محکمي په خپله ۱۳۰ ــ ۱۹/۹/۱۳۹۰ پريکړه کي هر يو عبدالقيوم ، عبدالکريم او سيداحمد سربيره پر دي چي ۸۴۷۳۱۲ افغانيو ورکړي علي سويه په يوه يوه کال حبس محکوم او سيد مزمل په لسو زور نغدي جريمي او د مزمل شرکت رئيس د ۸۴۴۲ کارتنو د مصادري حکم کيږي . او غلام جيلاني پوپل چي انکار کوي دهغه د تعقيب پانۍ په حفظ نظر ورکول کيږي .

بالاخره د ستري محکمي عالي ديوان په خپله ۸/۱۲/۱۳۹۰ نيتي قضايي غونډه کي عبدالکريم ، عبدالقيوم او سيد احمد په شپږ ،شپږ مياشتو بند او د ۸۴۷۳۱۳ افغانۍ په ورکړي او غلام جيلاني پوپل د عدلي تعقيب وړ بللي دي . زموږ هيواد کي دقانون تطبيق تل پر کم زور او غريبانو تطبيق کيږي ، جيلاني پوپل ته چا څه ونه ويل .

کښته مامورينو بايد ليکلی امر تر لاسه کړي واي او يا يي داغير قانوني امر نه واي پرځاي کړي.

جيلاني پوپل ځان ته لارپيداکړه .

ګمرک هغه اداره ده چي کنترول يي ناممکن دي ، په ګټه کي مامورين او سوداګران شريک دي، ديو لک افغانيو مال په پنځوس زره محصول شي، چي هم دسوداګر ګټه ده او هم دمامور ، او پدي ډول غوږ تر غوږه نه خبريږي، ولي چي تفاهم موجود دي.

اوريدلي مي دي چي فرانسوي بوټان په پنسل قلم محصول شويدي . قيمت او جنس ته په اساني تغير ورکوي، چي پرمحصول يي ډير اغيز کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوازي يوازي جدي کنترول او يا قوي وجدان يي مخنيوي کولاي شي. ځيني بيا دپيسو په مقابل کي مقرريږي .
کله چي په گمرک کي دکميشن کارانو رول کلک شو، درغلي او بدي هم اوچت شوي. کميشن کاران لکه، ارباب او قريدار
دمامورينو داعتماد وړ دي. تجربه لري ، داد او گرفت يي ورځنی کار دی.
دمامورينو دپاره ، آن هغه احتمالي خطر راکمه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۰۳)

## دحاجي اکبر دتښتوني قضيه

د يوي باوري خبرځاي په حواله، د اداري فساد سره دمبارزي دکابل داستيناف عامه امنيت محکمي د ۱۵ ـــ ۲۵/۲/۱۳۹۱ نظارتي قرار په دي ډول صادر شو،چي عبدالظاهر کوچي د بهادر خان زوی، دملي امنيت د ۹۰ اداري رئيس لخوا ، حاجي اکبر اختطاف او بالاخره د خوشي کيدو په مقابل کي تري (۵۰۰۰۰) دالر واخيستل.

حاجي اکبر چي کوچی او دده ساتونکو پيژندلي ؤ ، عرض وکړي . نو له دي امله په ډير صراحت سره دده ساتونکو پر خپل امر شهادت ورکړ، کوچی وتښتيد، چي څو کاله وروسته دامرالله صالح رئيس په ليرکيدو بيرته راغی ، مګر زنداني، محکمه شو.

جرم غلط وصف شو ، دايو اختطاف و ، نه سوي استفاده د وظيفو صلاحيت څخه، کوم چي محکمي په لمبر ۱۵ او نيټه ۹۱/ ۲/ ۲۵ کي پري حکم وکړ.

دده په امر د نوموړي دساتونکو او موټروان دڅرګندونو له امله تور ورباندي لګيدلي، چي دحاجي اکبر په تښتونه کي لاس لري او بډي يي اخيستي دي.

نوموړي بهر ته تښتي او کله چي راځي نيول کيږي او دپوښتني لاندي نيول کيږي او په پايله يي دنوموړي په اړوند يي مخکني پريکړه ، چي پکي ۷ مياشتي بند او اخيستل شوي پيسو په ورکړه حکم شوي، داستيناف د محکمي له خوا تاييد شوه.

ايا په هغه هيواد کي چي پخپله دامنيت دمامورينو نه امنيت خرابيږي، نوربه نو څه حال وي؟.

دا ګمان کيږي، چي په ځينو جناياتو کي پخپله چارواکي لاس لري، لکه اختطافونه، قاچاق او کله کله په لوړو غلاوکي هم او يا دحمايي لاس پروت وي، لکه جنرال عبدالحکيم شجاعي د ارزګان ولايت د پښتنو په ډيرو قصدي وژنو تورن دي، مګر د مرستيال محمد کريم خليلي په زور چا ونشواى کولاى چي د قانون منګلو ته يي وسپاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۰۴)

## ايراني جاسوسان

دارمان ملي ورځپاني په خپله ۱۳۹۱ کال دغوايي دمياشتي په ۱۶ گڼه کي يو مضمون د ( دايران له خوا ولسي جرگي ۴۴ تنو ته مالي مرسته کيږي) تر سرليک لاندي دډاکټر مراديان له قوله ليکلي دي چي موږ يي لنډيز رااخلو :

يو سياسي کارپوه دامنيتي سرچيونو له قوله په ډاگه کړه چي دولسي جرگي ۴۴ تنه دايران له خوا مرسته تر لاسه کوي.

د پوهنتون استاد ډاکټر مراديان په يوه مرکه کي چي دتيري چهارشنبي په شپه خپره شوه ، امنيتي سرچيونو په ډاگه ويلي دي چي دولسي جرگي ۴۴ تنه په منظمه توگه له ايران څخه مرسته تر لاسه کوي ،دغه راز په همدي اړه فهيم کوهدامني ويلي دي په داسي حال کي ، چي دايران له خوا په ولسي جرگه کي ۴۴ تنه جاسوسان دي نو حتمي ده چي نور هيوادونه به هم جاسوسان ولري نو کيداي شي چي دغه تړون ردشي.

په همدي ډول يو بل سياسي کارپوه احمد سعيدي په دغه اړه وويل: که چيري دپاکستان او ايران جاسوسان ستراتژيک تړون سره مخالفت وکړي، دهغوي هويت به معلو م شي او دجاسوسي مهر ورباندي ولگيږي .

له همدي امله ښايي چي هغوي مخالفت ونکړي . نو له دي امله نوموړي تړون دولسي جرگي له خوا تائيد شو.

پداسي حال کي چي نماينده تا د پردو دگټو دپاره خرڅوي ، دبلي خوا داهم ويلي شو چي دولسي جرگي ۶۲ تنه يي ملت ندي ټاکلي ، بلکي د کميسيون مشر ښاغلي فضل احمد معنوي ټاکلي دي، غير شرعي او غير قانوني ، په ډيره بي شرمی يي سترگي سپيني نيولي دي او پر څوکۍ ناست دي .

مطلب ريښتيا دی، ولي چي دايران سفير و مسليميار ته چي دمشرانو دجرگي مشر دي هم ورغلی ؤ. او په ډيره سپين سترگي يي تري غوښتي وه، چی دامريکا سره ستراتژيک قرارداد بايد لاس ليک نه شي.

پدي شورا کي ملي احساس په ځرگند ډول کمزوری دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۰۵)

## دمخدرو توکو قاچاق او جان محمد

دباوري سرچینو په حواله یو عراده سراچه موټر ، چي پلیټ یي ۵۵۸ فراه دي، دژیړي د ولسوالۍ د امنیتي موظفینو له خوا تر څارني لاندي نیول کیږي او تلاشي کیږي ، له هغه څخه ۲۱ کیلو گرامه تریاک تر لاسه او تورن یي جان محمد د الله نظر زوی نیول کیږي .

وروسته له څیړونو او تحقیقاتو نوموړي، د مخدرو توکو سره دمبارزي دابتدائیه محکمي له خوا د ۲۱۷ ــ ۲۶/۸/۱۳۹۰ فیصلي له مخي په اتلس کاله بند او دري زره افغانۍ جریمه او دغه راز د موټر دمصادري په سزا محکو میږي .

کله چي نوموړي دوسیه د استیناف محکمي ته ځي نو موړی د ۲۹۸ ــ ۵/۹/۱۳۹۰ فیصلي په اساس د ابتدائیه محکمي حکم تائیدوي .

او دغه راز د ستري محکمي له خوا هم نوموړي فیصله تائیدیږي .

دقاچاقبران تکتیک دادي، چي اصلی مالک پخپله انتقال کي برخه نه اخلي ، بلکي نفر او دریور استخداموي او ډبله اجوره ورکوي او تعهد ورکوي چي دده کورنۍ ته به خرڅ ورکوي او په خلاصون کي به یي هلي ځلي کوي .

پدي ډول دریور او انتقال کونکي قرباني او انجام شوی عمل سره مخامخ شي .

نه یم پوه چي دي معامله کي به جان محمد څه رول لري ؟

قاچاق دیو مافیا په شکل او سازمان یافته خپل اجراات کوي.

هغه کسان نیول کیږی چي دمسؤلو مامورینو سره یي اړیکي نه وي ټینګي کړي او یا اصل کس نه نیول کیږي، بلکي استخدام شوي او اجیر دپیښي قرباني کیږي.

اصلي قاچاقبران له دي کبله چي پوره عاید لري، نو ډیري پیسي ښندي. کوم څوک هم ونیول شي په زندان کي ښه ژوند او سم شرایط ورته تهیه کوي. درخصتي نه ګټه پورته کولای شي، یوځای او بل ځای ته، یو ولایت او بل ولایت ته په اساني تبدیلیږي.

دهغي ډلي نه روح الله خروټی به دمحبس مدیر سره، دکابل نه بغلان او دبغلان نه سمنګان ته تبدیل شو. د ۱۶ کالو نه یي یوازي دري کاله تیر کړل، دکندهار حاجي لعل جان دشلو کلونه فقط یو نیم کال تیر کړ، دګرشک دولسوالی قومندان عبدالرازق هم همدا ډول دراخله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۰۶)

## وزیر صاحبان

دباوري رپوټونو په حواله دا شمیر وزیران تورن بلل کیږي، چي لنډیز یي د لوستونکو له پاره وړاندي کیږي.

وزیران او والیان یا کافي بي کفایته اویا لړلي ؤ، یا دواړه.

ریښتیا چي اوبه دسره خړي دي. مثالونه :

1. دحج او اوقافو د پخواني وزیر نعمت الله شهراني:

په ۱۳۸۶ کال ګي دحاجیانو دلیږد قضیه ، چي د کاسکو له شرکت سره یي تړون کړي و او له فساد سره د عالي اداري د ۱۳۸۶ کال دکب د میاشتي د پنځه ویشتمي نیټي د ۱۷۸۹ لیک له مخي ، د پنځه سوو زرو ډالرو دزیان په اړوند ، چي دولت ته یي اړولي دي ، پنځه سوه زره دالرو شرکت حواله او وحیدالله شهراني چي دمالیي معین ؤ په هغه ورځ اجرا شوه ،مګر حاجیان چا ونه لیږل .

2. دترانسپورټ پخواني وزیر حمیدالله قادري:

دترانسپورت پخواني وزیر، چي په ۱۳۸۷ کال کي د حاجیانو دلیږدولو په اړوند چي دګلوبل او ناس شرکت سره تړون لاسلیک شوي و او یوولس ملیونه دالره پیش پرداخت شوي، ګلوبل او ناس شرکت اصلاً یو ترانسپورتي هوایي شرکت نه ؤ. پیسي ولاړي او حاجیان ونه لیږدول شول ، مګر وزیریوازي برطرف او ممنوع الخروج شو.

3. جلیل شمس:

داوبو اوبریښنا وزارت د ۲۵ پایو ډیزل جنراتورونو قضیه ، چي په ۱۳۸۳ کال کي دایراني کالاي ناب شرکت څخه په ټولیزه توګه په ۴۸۸۸۸۰۰ امریکایي ډالرو پیرودل شوي و او نوموړي شرکت یي په رسولو ونه توانید .

پکار وه چي دتړون د ځنډ له امله ۱۴۳۸۷۹ دالره جریمه ورکړي ، خو جلیل شمس چي په هغه وخت کي داوبو او بریښنا وزارت مرستیال و، پرته له موجه دلایلو او دواک پرخلاف د ۵۰۰۰۰ دالرو د ورکړي امر یي دجریمي له سرجمع څخه یي نوموړي شرکت ته بښلي وي او دفساد سره دمبارزي د ۳۷۱ ــ ۲۹/۲/۱۳۸۶ لیک له مخي تورن ګڼل شوي او د ځانګړي محکمي دپریکړي انتظار باسي .

4. دترانسپورت پخواني وزیران عنایت الله قاسمي، بسم الله بسمل او غړي نور الله دلاوري ، چي دالمان هیواد داوو تنو اتباعو استخدام دورځي په دوه دوه زره ډالرو چي داداري فساد او بډو پرضد دمبارزي د ۶۴۱ ــ ۱۰/۷/۱۳۸۵ له مخي مظنون معرفي شویدي .

دغه راز نادر اتش داریانا افغان هوایي شرکت رئیس چي تړون یي یوه میاشت او دولس ورځي تمدید کړي و چي له امله یي ۴۸۳۰۰۰ یورو یي عامه شتمنی ته زیان اړولي و. او بسم الله بسمل چي دافغانستان سفیر په حیث په اندونیزیا کي دنده سرته رسوي تحقیق ته حاضر نه شو.

5. عنایت الله قاسمي : چي دافغانستان اسلامي دولت د ۱۸۱۶ ــ ۱۵/۵/۱۳۸۴ حکم پرخلاف د څلورو بالوبوینک او دوو بالوچارتر طیارو دپیرودني له امله مظنون ګڼل شویدي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

6. سید حسین انوري : په دارالامان کي دسلو جریبو دفارم او ځنګل داجاري دتړون په اړوند، چي دافغان دیولوپمنت له کمپنۍ سره یي دپنځلسو کلونو له پاره لاسلیک کړي او ځمکي والي د قانون ۶۹ مادي او دمدني قانون ۱۳۲۰ مادي له مخي ، چي ددري کلونو څخه زیات جواز نه ورکوي ، مګر انوري داقرار داد وکړ .

7. دکرني دچارو پخواني وزیران عبیدالله رامین او سید حسین انوري، دکرني دوزارت معین محمد شریف او دننګرهار د پخواني والي حاجي دین محمد او نور....چي د ننګرهار دکانال ۱۷۵ جریبه ځمکي تړون ، چي د کمو پیسو د یو جریب ۱۳۴۰ او ۱۶۰۰ افغانۍ یي پنځلسو کلونو له پاره د قانون پرخلاف لاسلیک کړي مظنون ګڼل شویدي .

8. مسعوده جلال :

دسینما زینب دبیارغاوني تړون د ښځو دچارو وزارت محترمه مسعوده جلال او IOM له موسیسي سره لاسلیک شوي، دایراني فرش دري ځله رانیول په زیاتو پیسو د ښځو چارو وزارت ددهلیزونو دفرش له پاره ، دځلور غیرضروري کتابونو چاپ دښځو وزارت له بودجي څخه ، د قانون پرخلاف د ۱۰۵۰۰ دالرو مرستي مصرف ، چي د هالند سفارت له خوا دولایتونو د ښځو پریوځاي کولو له پاره مرسته شوي وه .

9. محمد امین فرهنګ :

دسوداګري وزارت دتفتیش ریاست درپوټ له مخي ، چي د پارلماني چارو وزارت له لاري د ۲۲ تړونونو د تیلو د پیرودني په اړوند مظنون ګڼل شوي، چي د همدي تړونونو له امله یي ۱۹۴۷۴۵۵۶ امریکایي دالره دولت ته زیان اړولي دي.

10. د مهاجرینو دراستنولو پخواني وزیران استاد اکبر اکبر او شیر محمد اعتباري :

چي دچین دهیواد دوه سوو زرو دالرو مرسته شوي پیسي، چي یوازي د مهاجرینو له پاره وي او دیو شمیریي په بهر کي د نوموړي وزارت د نماینده ګیو او په هیواد کي دننه دافرادو او اشخاصو له خوا لګول شویدي .

11. سید مصطفي کاظمي د سوداګرۍ پخواني وزیر :

نوموړي دپنځلسو شرکتونو ته ، چي ادرسونه یي معلوم نه دي، د خپلي دندي په وخت کي ۲۱۰۳۱۵۰۳۹ ملیونه افغانۍ پرته د تضمین له اخیستلو څخه د سوداګري دخونو له بودجي څخه ویشلي، چي تر اوسه شپږ شرکتونه پیږندل شوي او له دوو شرکتونو څخه اته سوه زره افغانۍ تحصیل شي مظنون بلل شوي دي ، قرضونه او کریدت د بانکونو دنده ده ، نه د اتاق تجارت، څرنګه چي همدا ډول د قانون خلاف کړنه وشوه ، همدا ډول هغه پیسي تر ننه ورکي او بیا لاس ته رانغلي . یو وزیر محکمه نه شو او نه یي سزا ولیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۰۷)

## دارزګان والي

له واليانو څخه دشكايتونو په لړ ي كي دارزګان ولايت لسو شركتونو استازو، ولسي جرګي ته خپلي عرض پاڼي وړاندي كړي او دوالي امير محمد اخنداده څخه دبډو اخيستلو له امله شكايت كړي.

دولسي جرګي دشكايتونو دكميسيون ۱۳۹۲ كال دمرغومي د مياشتي دنهه ويشتمي نيټي د ۶۰۲ ګڼه ليک په ملتيا، لكه دقانون دتنفيذ اداره امور، دكورنيو چارو وزارت ته ليكي:

1. دارزګان والي له حاجي محمد دحاجي تاج محمد څخه ديوي ودانۍ دجوړولو له امله ۵۰۰۰ دالر بډي اخيستي او دغه راز دشاروال سكرتر عبدالواسع ديوه ګلدان دجوړولو له امله له نوموړي څخه ۳۵۰۰۰۰ افغانۍ بډي اخيستي دي.
2. دارزګان والي دارزګان ولايت مراباد په سرک دجغل اچولو كي له شريف الله دعزيز الله له زوى څخه ۵۰۰۰۰ امريكايي ډالر د بډي په توګه اخيستي دي .
3. ديخ جوړوني دفابريكي په اړوند والي او شاروال دارزګان له حاجي عبدالحليم دمحمد يونس زوى څخه غوښتي چي ۱۰۰۰۰ ډالره بډي وركړي .
4. دارزګان والي ديوي وداني له ټيكه دار حاجي ملا نعيم دابراهيم جان له زوى څخه ۲۰۰۰۰ دالره اخيستي او دنوموړي ټيكه دار د ۱۹ لكو افغانيو حواله يي بنده كړيده .
5. دارزګان والي ديوي بلي ودانۍ له ټيكه دار شريف الله دحاجي عزيز اغا له زوى څخه ۵۰۰۰۰ دالر اخيستي او نور ۵۰۰۰۰ دالر هم ورڅخه غواړي.
6. درحيم رحمت او اكمل شركتونو استازي احمدالله د محمد قاسم زوى شكايت كړي، چي دوالي له خوا ګواښل كيږي او له نوموړي ۲۸۱۰۰۰ دالر او ۶۳۰۷۲۰۰ افغانۍ د بډو په توګه غواړي .
7. خان محمد دحاجي پاينده محمد زوى شكايت كوي ، چي په ۱۳۸۴ كال كي كله چي ديراود ولسوالي اړوند د شنغله او ځنګل كليو ته سيلاو زيان واړاوه او دكرني وزارت له خوا هغوي ته دسرپنا جوړولو له پاره ۳۰۰ كورنيو ته ځمكي وويشل شوي او اسناد هم په لاس كي لري . اوس دارزګان دوالي له خوا غصب شوي او زورواكانو ته يي ويشلي دي .
8. عبدالقادر دامان الله زوى شكايت كوي ، چي ما يو شركت دشهيد اساس په نامه په ارزګان كي درلود، چي ددوو ټرونونو په لاسته راوړلو دديراود او چوري ولسوالى كي بريالي شوي وم ،خو والي له ما څخه پنځلس لكه افغانۍ په ناحقه او په زور اخيستي دي.
9. نياز محمد دحاجي سلطان محمد زوى شكايت كړي، چي ورزشي ستديوم يي ديوي مياشتي له پاره په غير قانوني توګه تړلي ، چي وروسته د ۳۰۰۰۰ دالرو بډو په بدل كي خلاص او دغه راز ۳۰۰۰ متر مكعبه ځمكه د سنګ كاري له پاره مي كندلي ده او خاوره مي ليږدولي ده ، چي دغه ټولي پيسي پر والي پاتي دي او نه يي راكوي .
10. حاجي عبدالله دحاجي عبدالوهاب زوى دمحمدي شركت استازي شكايت كوي ،چي تل دوالي تر فشار لاندي دي او په دي وروستيو وختو كي له ماڅخه شپږ لكه افغانۍ بډي اخيستي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورتنی خلک دپوښتني دتوان نه عاجز راووتل، ولي چي يو ورور يي ملا شير محمد اخوند سناتور او بل يي ملا عبدالحي اخوند دولسي جرگي کي استازي دي . ملي شورا هم مرسته ورسره ونکړه.

يوچا کيسه کول، چي ملا شير محمد اخوند نه يي گيله وکړه چي " تا به په مړو او ژوندو باندي صوفه جوړه کړه" ده ورته وويل چي" يا دا زه نه وم، هغه بابک ؤ ". ملا امير اخوند تر ارزگان ښه ولايت نيمروز ته تبديل شو.

بابک دده پلار يو جهادي قومندان باندي شهرت درلود ، اه خدايه ته رحم وکړي.

زورواکي واليان هم لکه استاد عطامحمد نور،تورن اسمعيل خان، گلاب منگل، او گل اغا شيرزوی اونور هم لرو، چي دجهاد له برکته دهر جرم ، بي عدالتي او بي انصافي مرتکب دي. احتياط پکار دي که بل شکايت وشي ، ښايي وزير شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۰۸)

## دکابل دهوايي ډګر اختلاس

کله چي په هيواد کي دطالبانو حکومت ړنګ شو او بهرنيانو مرستي شروع شوي، نو هري اداري د خپل توان په اندازه د جيب ډکولو له پاره هلي ځلي شروع کړي، چي ددغو هلوځلو په لړ کي دترانسپورت وزارت هم متي راونغاړلي چي رپوټ يي وړاندي کيږي.

دترانسپورت وزارت دخپل ۳۴۲۴ ـــ ۵/ ۶/ ۱۳۸۵ ګڼه وړانديز په ترڅ کي، دجمهوري رياست مقام ته ليکي چي دکابل هوايي ډګر په نامناسب حالت کي قرار لري او دصفا شرکت چي يو پرمختيايي انجمن دي، دتوانيدو دډيرو زياتو هلوځلو له امله دوه مليونه او شپيته زره دالره دوزارت مالي په مرسته داروپاله اتحاديي څخه په لاس راوړي .

دجمهوري رياست محترم مقام هم دبين المللي ستندرد سره دهوايي ډګر حکم ورکوي. او سپارښتنه کوي چي داقتصاد، ماليي او ترانسپورت وزارتونه دي دکارڅارنه او وخت پر وخت خپل رپوټ وړاندي کړي.

او ددويم ځل له پاره په خپل ۶۲۷۵ ـ ۲۲/۱۰/۱۳۸۵ ګڼه وړانديز کي دجمهوري رياست مقام ته ليکي چي دهوايي ډګرپيسي داروپايي اتحاد څخه په لاس راغلي نو په کارده چي له بودجي څخه نوموړي کار شروع شي ، بالاخره د صفا شرکت دهوايي ډګر جوړونه په ۱۹۹۸۵۰۰ دالرو قرارداد کوي .

څرنګه چي نوموړي قرار داد دکار لومړني حجم معلوم نه دي په کار شروع کيږي او وروسته تر څيړنو داسي څرګنديږي، چي په نوموړي قرار داد کي پيسي حيف وميل شوي .

چي دابتدائيه محکمي د ۳۱ ـ ۱۴/ ۷/ ۱۳۹۲ دقضايي قرار له مخي ښکاري چي صفا شرکت يو تجارتي انجمن دي او نه يو ساختماني شرکت . دعوا طلبي او افرګشايي هم نده شوي، له همدي کبله دولت ته زيان ورسيد . ارومرو به دلوړو چارواکو لاس پکي وي .

داچي دعوا طلبي نه کيږي او افرګشايي معلومه نه ده، چارواکي دمسؤليت نه پروا نکوي، نو به ارومره ( تر کاسي نيم کاسه هم وي).

نه پوهيږم چي دهغه وخت دماليي ، ترانسپورت او اقتصاد وزيران څوک وه، چي ددوي دعدم مراقبت او بي تفاوتي له مخي دا زيان ورسيد. يوازي څو تنه واړه رتبه مامورين مسؤل وبلل شول، چي دا زموږ هيواد کي معلول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۰۹)

## زاخيل وال تسليم شو

دملي ارمان ورځپاني د ۱۳۹۱ کال دغبرګولی دمياشتي په سلمه نيټه يو خبر خپور کړي ،چي موږ يي لنډيز رااخلو : دا بايد ومنو چي دشورا له موجوديت نه ، نه موجوديت دملت په ګټه دي ،تر ګټه يي بد مرغي ډيره ده ، په هر صورت . شف شف نه شفتالو، وکيلان معاش لوړيدل غواړي، دبوديجي موضوع يوه فرعي کيسه ده.

دماليي وزارت وايي: چي دروان کال په بودجه کي دملي شورا دهر غړي په تنخوا کي پنځوس زره زياتي افغانۍ تر لاسه کوي.

دولسي جرګي دغړو هڅه په دغه برخه کي هغه وخت پايله ومونده، چي ولسي جرګي دتير کال دکب دمياشتي د ۱۳۹۱ کال مالي بودجه څو ځله رد کړه ، اما په پای کي دغبرګولي دمياشتی په دويمه نيټه تصويب کړه. وکيل صاحبان تر ملت خپل غم ته لومړيتوب ورکوي.

دولسي جرګي غړو په دي ټينګار درلود، چي بودجه په متوازنه توګه نه ده جوړه شوي او ځيني ولايتونه دظرفيت دلوړولو له پاره بودجي ته اړتيا نه لري ، خو دماليي وزارت دغه ادعا نه منله او ويل يي چي دولسي جرګي غړي دخپلو غوښتنو دپوره کولو له پاره بودجه رد وي ، ترڅو وزير ماليه حضرت عمرزاخيلوال تسليم شوو.

دماليي وزارت مرستيال مصطفي مستور وويل: چي دولسي جرګي له هغوي غوښتي دي چي دهغو په امتيازونو او تنخواګاني دمياشتي يو سلو نوي زرو افغانيو ته لوړي شي او هم دماليي له ورکړي څخه معافيت پيداکړي، خو په هر صورت وکيل صاحبان بس نلري ، دماليي وزير ماتي وخوړله .

په پاي کي ولسي جرګي برى تر لاسه کړ او دمياشتي پنځوس زره افغانی يي په تنخواګانو کي زياتوالى راغي .

په اوس وخت کي دپارلمان هر غړی ته دمياشتي پنځه ويشت زره افغانی دکور کرايه ،لس زره افغانی دموټر دتيلو له پاره ، لس زره د دسترخوان په نامه او پنځه زره دموبايل دکريدت په نامه اخلي.

که څه هم د حاضري پابندي نلري . دزړه سوي وړ پدي دي ، چي سهار او ماښام دادارو په دهليزو کي سرګردانه منډي او رامنډي وهي . که ريښتيا ورته ووبل شي او يا داجمله واوري نو به په دي پلمه چي دملت استازي توهين شول ، استيضاح به راوړاندي کړي . کميشن کاران په خپل منځ کي هم چندان تفاهم نلري ، بوتل بازي او بوټ بازي نه هم کله کله کار اخلي . که حقيقت ته وکتل شي يو لوي شمير يي په رايو ندي راغلي ، بلکي دمعنوي پواسطه راغلي ، څرنګه چي دافتتاح په ورځ خالد پښتون دتشکر په ډول معنوي صاحب ته وويل: که ته نه واي زه نشواى راتلاى . نو ضرورت دي چي لګښت راپيداکړي او بلي دوري ته ځان پنډ او چمتو کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال ( ۱۱۰ )

## که زما ځان غواړي تر تا به یي قربان کړم

دثریا بها په نامه یوي ښځي د فیسبوک له لاري یوه مقاله د " دا دعبدالکبیر رنجبر له خوا لومړني جنسي تیري نه دي" ترسر لیک لاندي دجمعي ورځ په ۹ تیر ۱۳۹۱ نیټه له یو تصویر سره خپره کړي چي موږ یي لنډیز رااخلو :

زه دیوي فیمنستي په توګه دیوي له بدبختي ځخه خبري کوم :

کبیر رنجبر په ۱۳۴۷ او ۱۳۴۸ کلونو کي، چي د سیاسي علومو په پوهنځي کي داسیستانت په توګه دنده تر سره کوله ، نو په دغه کلونو کي استاد میر اکبر خیبر دحزب پرچم دتفتیش کمیسیون له خوا یوه اعلامیه خپره کړه، چي اکادیمسن کبیر رنجبر دیوه جنسي تیري کوونکي او یوه ناروغه شهوتران په عنوان دپرچم دحزب ځخه ایستل شوي، نو ټولو حوزو او دمیرمنو د سازمان ټولنو ته ابلاغیږي تر څو دحزب نجوني دده په دام کي ونه لویږي داسي زیاتوي .

دفخریي په نامه دیوي بینوا نجلۍ باندي دعبدالکبیر له خوا جنسي تیری، یوه غم انګیزه کیسه ده چي پلار او مور یي په وړکتوب کي له لاسه ورکړي وو او دخور په کور کي ژوند کاوه، چي دخور میړه اذر مشهور خیاط وو، فخریي هغه وخت دخپل ژوند کیسه وکړه کله چي د سپوږمۍ نه خبره شوه . سپوږمۍ دده د شهوت داقناع قرباني وه.

فخریه چي دجمیلي پلوشي او نفیسي شیردل سازماني ملګري وه ، دامتحان په وخت کي له کبیر رنجبر ځخه مرسته غواړي او کبیر رنجبر ورته وایي : فخریي که زما ځان هم وغواړي تر تا یي جاروم ته زما سازماني ملګري یي .

فخریه چي کلونه کلونه دمور او پلار له محبت نه بي برخي او مظلومه نجلۍ وه دکبیر رنجبر په خبرو باور کوي او دهغه کور ته، چي په شش درک کي وو ورځي .

کبیر رنجبر چي کور کي یوازي و او کورني یي لغمان ته تللي وه ، لومړی ځل یي په اتشین عشق سره غواړي له فخریي ځخه ناوړه ګټه واخلي که زما ځان غواړي تر تا به یي قربان کړم، خو فخریه مقاومت کوي او ورته وایي چي زما خواستګاري وکړه، خو کبیر رنجبر دشهوت امواج وخت نه ورکوي او په بي شرمانه ډول په هغي جنسي تیری کوي ، فخریه ژاړي چي ژوند یي برباد شو او کبیر رنجبر ورته وایي، چي له تا سره به واده کوم .

فخریه یي چي یوه اونۍ په کور کي ساتلي وه پریږدي او کله، چي څو ورځي تیریږي کبیررنجبر ځان پټوي او هغي سره دواده نه ځان ژغوري او ورته وایي، چي ته په خپله زما کورته راغلي وي، زه دشوروي دپولیس کاندید یم او واده کوونکي هم نه یم .

فخریه چي اوښکي تویوي او شکایت کوي او خپل دسر ویښته شکوي اناهیتا ته ورځي، خوهغه دکبیر رنجبر جنایت دتفتیش کمیسیون ته سپاري او دمیر اکبر خیبر په امر رنجبر له ګوند ځخه ایستل کیږي .

رنجبر له څو ورځو وروسته شوري ته ځي او هلته د کي جي بي غړیتوب تر لاسه کوي او ورسته له هغه دهغه ورور بصیر رنجبر هم اوکراین ته ځي او کا جي بي ددستګاه جاسوس کیږي. او دواسیلي متروخین داسنادو پر بنا ( صمدازهر) چي دمیوندوال وژونکي دي هم دظاهر شاه په حکومت کي د کي جي بي اجنټ او اشعه دشبکي د فتح مستعار په نامه مسوول وه. له یوولسم دسپتمبر وروسته رنجبر دیوه پلان له مخي، روسیي نه کابل ته راځي او د پارلمان غړیتوب تر لاسه کوي او په وروستي پړاو له سلطان زوی سره مظاهري په لار اچوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو څو میاشتي دمخه په یوه تلویزوني پروګرام کي وایي، چي زما ښځه دقفقاز له مسلمانانو څخه ده او وروسته دیوي نجلۍ داختطاف دافتضاح پیښي څخه ما دبي بي سي په سایت کي وویل، چي دحامد کرزی څخه حیثیت داعادي غوښتنه کووم . او د ( دي .ان. اي) له علم څخه مننه کوو، چي دغه جنایت کار یي اړیوست چي دهغه دیوه اولاد، چي دجنسي تیری ثمره یي وه انکار ونه شو کړای.

دملي باور ورځپاڼه ۱۳۹۲ کال او دوړي په میاشت کي د سپوږمۍ، عرض او داسي لیکلي دي چي دزوی عکس هم ورسره دي لیکي : چي سپوږمی هم دده دشهوت ښکار شویده.

اکادمیسن د هغه پخواني عادت او تکنیک پر بنا دهود خیلو سپوږمۍ نومي نجلۍ د ماهر لور اول اختطاف بیا ( خانه امن ) او بیا په میکرویان کي، د ډیوي امیل کره ساتلي او جنسي تجاوز پر وکړ او ددي تجاوز نه خدای ج یوګل موره ګک زوی هم ورکړ، چي نوم یي عبدالکریم پري ایښي دي.

اکادمیسن اول زنا بیا دده په ادعا نکاح سویده نوموړي وایي، چي داد سپوږمۍ تقاضا وه چي زما نه یو زوی ولري ، مګر تر اوسه ازاد ګرځي ، په محکمو کي برائت واخیست، چي دابه یوه بل داغ او ټکي دافغان پر قضا باندي وي . مګر دا حق او عدالت ګوند داوکړه چي دي یي دګوند نه وباسي ، کوم چي خیبر کړی ؤ.

ددغو رسوایي سره په مدور میز کي ناست وي. د سیاست او دټولني رهبري کوي، د سیاست مداره تر ټولو لوړی اخلاق غوښتل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۱۱۱)

## پلنګ در لباس ملنګ

په هیواد کې تښتوني ددې لامل شویدي، چې زیاتره سوداګر خپلې شتمنۍ بهرنیو هیوادونو ته لیږدوي.

تښتوني لکه ترور او اداري فساد ددې لامل شویدي، چې په هیواد کې پرمختیایي پروګرامونه له ننګونو سره مخ او یا په ټپه ودریږي. دا پدیده دپاکستان نه راوړل شول، چې هلته ډاکو ورته وایي.

موږ دلته دبیلګې په توګه د IWPRU رپوټ خپروو .

نیازي حکایت کوي وروسته له هغه چې تښتوونکو زه موټر ته دننه کړم، نو تور نقاب یې زما پر سر کړ او په یوه ودانۍ کې یې بندي کړم ، هره ورځ یې وهلم او ټکولم، تښتوونکو دري ملیونه دالره یې زما له کورنۍ څخه غوښتل، چې داعمل پر همایون اصفي هم راغلې ؤ.

نیازي وویل کله چې تښتوونکو په دې پوه شول چې پیسې تر لاسه کولای نه شي، نو غواړي ما ووژني ، نو ما دکوټې چت سوري کړ او وتښتیدم او پولیس مې خبر کړل .

پولیسانو هغوي ونیول .

دافغانستان دصنایعو او سوداګرۍ خونه وایي، چې ۱۳۹۰ کال په ۱۱ میاشتو کې ۸۵ تنه غړي تښتول شوي په داسې حال کې چې تیر کال دغه شمیره ۶۰ تنه وه.

دکابل د صنایعو او سوداګرۍ خونې مرستیال احمدشاه حکیمي وایي، چې دتیر کال دجولاي دمیاشتې زه اوزما ملګري چې دري ملیونه دالر راسره و، دتښتوونکو تر حملې لاندې راغلو، چې پولیسانو په هغې کې برخه لرله. استاد عبدالکریم خلیلي دمخدره موادو په کارو بار کې ددولتي چارواکو همکار ته په ډاګه اشاره کوي.

تښتوونکو هڅه وکړه ترڅو حکیمي او ورور یې وتښتوي، نو دوه تنه ساتونکي یې ووژل شوه ، خو تښتوونکي خپلې موخې ته ونه رسیدل او ویې کولای شول چې یوازې پیسې وتښتوي.

هغه پوښتنه کوي که چیرې دولتي مسوولین له تښتوونکو ډلو څخه ملاتړ ونه کړي ،څرنګه کولای شي دامنیتي پوستې تر څنګ زما دوه تنه ساتونکي ووژني او زما پیسې وتښتوي .

دتجارت او صنایعو دخونې مرستیال خان جان الکوزي وایي، چې دهیواد لوړپوړي مسوولان او دهغوي خپلوان په تښتونو کې لاس لري، چې یو پوره شمیر یې د پارلماني مسؤلیت لري چې محکه او اسمان یې پیژني ، چې هره ناروا راپورته کیږي ، دملت تش په نامه استاز به پکې لړلی وي، نو له همدې کبله دامنیت په برخه کې لږ پرمختګ شویدي ، اوس دې حالت کې راغلي یو چې غل هم وایي خدایه !، او کارواني هم وایي خدایه ! دفواید عامې د وزارت معین وحید الله خپل اختطاف چیان پیژني، مګر د ډاره یې معرفي کولای نشي.

هغه ادعا وکړه دغه کسان په دولت کې لوړې څوکې لري او له تښتونکو څخه ملاتړ کوي.

الکوزي وایي: کله چې تښتونکي نیول کیږي دفاسدو چارواکو له خوا سمدستي خوشې کیږي .

هغه داهم وویل چې داسې اسناد اوشواهد په لاس کې لري، چې یو شمیر تښتوونکي دهیواد دقضایي او قانوني چارواکو له خوا ازاد شویدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الکوزي داهم وويل چي دلوګر،پکتيا او دلوي ننګرهار په ولايتونو کي چي د تښتوونکو دنيولو هڅي له ستونزو سره مخامخ شويدي .

او همدا دليل دي،چي په هيواد کي سرمايه ګذاري تر ۳۰ سلنو راټيټه شويده .

الکوزي زياته کړه همدا اوس پوليس تر فشار لاندي دي تر څو هغه افراد، چي تيره مياشت په تښتوونوکي د لاس لرلو په تور بندي شويدي خلاص کړي، هغه وويل دغه فشار د تورن دخور چي دسناومجلس غړي وه وارديږي. چي مطلب يي فوزيه سادات او صمد تښتوونکي خور ده .

جنرال ظاهر چي دجينايي تحقيقاتو رئيس دي دغه فشارونه تائيدوي.

له همدي کبله د استيناف محکمي صمد نومي ته برآت ورکړ. او د سناتوري پدي قضيه کي لاس درلودل ثابت دي، مګر مشرانو جرګي په غير کي ټينګه کړي. تحقيق ته حاضر نشول. محکمي هم پلمه راوړل، چي مصؤنيت يي بايد پورته شي، د محاکمي نه يي ډډه وکړه. پارلمان يي مصؤنيت نه پورته کوي.

پدي قضيه کي د پارلمان مصؤنيت او دقضا استقلاليت لاس سره ورکړ. داپيښي هم سته چي متعدد کسان خپل دوښمن پيژني، مګر آن اواز ايستلي نشي، چي دهغهي جملي نه ډاکتر چراغ علي دي، چي زوم يي اختطاف او بيا ووژل شو. پر جنرال عليشا پکتياوال د کابل جينايي امر او عبدالجبار ثابت لوی څارنوال ګمان وړي.

پر حاجي عبدالظاهر قدير هم د اختطافونو تور لګيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۱۲)

## پردی لاربنود

دهشت صبح ورځپاڼي د ۱۳۹۱ کال دغبرګولي دمیاشتي په پنځلسمه نیټه، دضیا زیرک له خوا لیکل شوي یو مطلب .
" دیوه سیاسي او نا مناسب مذهبي لاربنود لمانځني " تر سرلیک لاندي خپور شوی مضمون ، چي دیو څو برخو ژباړه يي دګرانو لوستونکو له پاره خپروو .

دایران د حکومت پخواني لاربنود ایت الله خمیني د مړیني لما نځنه دهغو له پاره ، چي دافغانستان دتاریخ او سیاست سره بلدیت لري یو واضع پیغام درلود .

دایران سفیر ښاغلي ظهره وند وروسته له څو میاشتو نیوکو، چي درسنیو او دپارلمان دغړو له خوا دغیر معقولو څرګندونو له امله ورباندي کیدلي، دهغه د ناوړو څرګندونو سربیره، دایران حکومت د افغاني طرف دارانو له خوا هم په جوماتونو کي دایران درژیم تاداو ایښودونکي لمانځنه وکړه، ترڅو وښیي چي ایران په څومره سرسختانه اوزړورتیا سره په افغانستان کي دخپل سیاسي او فرهنګي نفوذ شتون ته پراختیا ورکوي.

دافغانستان په وړاندي دپاکستان او ایران د جګړي دوام زموږد یو شمیر هیواد والو له خوا، چي دهغوي دچوپړ اسباب ګرزي دتاءسف ځاي دي .

زړه پوړنوونکي کړني او راګښونکي شعارونه :

یو جهادي رهبر او اوس دپارلمان غړي، دایت الله خمیني په لمانځن غونډي کي وایي چي هغه یوازي په ایران پوري اړوند نه و، دټولو مسلمانانو له پاره کیدلاي شي چي یو لاربنودوي.

دغسي څرګندوني زموږ له پاره نوي نه دي، ځکه کله چي دهغوي ملاتړي رسنۍ او أن داچي ملي متحده جبهي ته نږدي رسنۍ دافغاني مهاجرو د را ایستني په اړوند او دهغوي دتوکم پالني کړني دافغانانو په وړاندي جګړه دګاونډیانو په ملاتړ دوام لري .

که چیري دغه ښاغلي دغسي ونه وایي ، که چیري دتلویزیون یک دایران دسفیر دپرو پاګند له پاره زمینه برابره نه کړي، نو هغوی ملاتړ له لاسه ورکوي .

دکابل په غرب کي ، چي زیاتره يي هزارګان او ایت الله خمیني ورته مذهبي لاربنود دي.

له هیڅ اړخه خمیني دافغانانو له پاره رهبر کیدلاي نه شي. یو بل وخت افغاني کمونستانو هم تر احمد خان او محمود ، نه د لینن او ستالین پرستش کاوه ، بالاخره پښیمانه شول.

یو ملي شاعر وایي:

لمر دي راخیژي پر لویو غرونو  بیټ نیکه وایي زما زامنو
سري چي مري خوږ يي پخوا وي  ولس چي مري نښه يي داوي
پر بل مین شي ځان ځیني هیرشي  خواري او ذلت يي ځکه پخوا شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام خميني په افغانستان كي دافغاني شيعه ګانو لخوا د تقليد مرجع په توګه نيولي كيږي، دامذهبي نه بلكي يو سياسي پروګرام دي. په ايران كي هم اوس پوښتنه كوي ، وايي سني يي كه مسلمان ؟

جالبه داده چي دغه مراسم دداسي چاله خوا تنظيم كيږي، چي په ايران كي هزاره ګان له ياده باسي .

افغاني شيعه ګان دصدام دجګړي په وخت كي هم دتوپ دخولي شومه شول او په اوس كي بيا دسوريي جنګ ته تشويقوي. د ثورد انقلاب په حمايه روسيى بر بنده تيرى هم خميني په څرګنده ونه غندي.

د ښاغلي خميني خبري او شعارونه په پاريس كي، د تبعيد په زمانه كي او دغه راز په قم كي دهغه له عمل سره زيات توپير لري. ايراني سنيان هلته هم تر فشار لاندي دي.

په ظاهرآ به يي يو شي ويل خو په عمل ،تصميم او پروګرام كي نور څه وه ، دشيعه او سني ديووالي خبري به يي كولي خو په عمل كي به يي سنيان له منځه وړل .

زموږ باور دادي چي خميني ديوه مستبد حكومت تاداو اينودونكي و، چي دباچا پرځاي يي ولي فقيه كيناوه ، كه چيري دخميني ځاي ناستي ښاغلي خامنه يي اختياراتو ته توجه وشي هيڅ تفاوت دخميني، حسيني مبارك او معمرالقذافي له حكومت سره نه لري. دامام صاحب حركات دنازي هيتلر ته ورته دي. هره ديكتاتوري بده ده، مګر مذهبي ديكتاتور تر ټولو زلند او بي زړه سويه وي.

كه چيري افغانان ديوه عادل حكومت او خلكو دحكومت غوښتونكي وي، دمذهب تر عنوان لاندي داستبداد مخه ونيسي ، دايران او پاكستان افراطي ايديولوژي ګانو پرځاي دي ټولنيز عقلاني سياست ته پريږدي .

وايي : دمصر د الحرام د ورځپاني مدير ( حسن الهيكل )، چي دامام خميني ليدو ته ورغلي په اخير كي، چي تري راووت خبريالانو ته يي وويل : ما فكر كاوه چي امام يو اسلامي انقلاب كړيدي ، مګر دا په حقيقت كي يو شيعه انقلاب دي .

لينن غوښتل چي دنړئ دكاريګرانو تر عنوان لاندي په نړئ حكومت وكړي. امام غواړي چي دشيعه ايزم تر عنوان لاندي هم پر اسلامي نړئ حاكم شي او دشيعه اقليت پر ټوله سنيي نړئ باندي راحاكم كړي. سمه به داوي چي هرډول تفوق صرف نظر شي پردي ، چي (خداى يو، كلام يو، كعبه يوه او رسول يي يو دي )، يو پر بل په صداقت باور راشي، كيداى شي چي سره راټول شي او دي اصل ته پام وكړي. كوم فقهيي توپير چي په څوارلس پيړيو كي ندي حل شوي، اوس يي په ما څه؟؟ دزغم نه كار واخلي او مذهب دسياست وسيله نكړي. اسلام يوه عقيده ده، نه سياسي ايډيولوژي.

متاسفانه اوس لا هم اسلامي نړئ پدي اور كي سوځي، كله ارامه شي او كله بيرته راتاوده شي.

ايراني فرهنګي يرغل پدي كچه ډير شويدي چي ان زموږ په ادبياتو او االصلاحاتو را ګډ شويدي او ورځ په ورځ نور هم داخليږي، با په شعوري ډول او يا په غير شعوري ډول مثلاً : موږ ځيني نومونه عربي درلودل، اوس غوښتل كيږي چي په ايراني لفتونو او نمونو بدل شي لكه : ولد په فرزند، مامور په كارمند، وكيل په نماينده، خانم په بانو، شمسي په خورشيدي، مكتب په مدرسه، محكمه په دادګاه، متعلم په امرزګار، جاده په خيابان، سرحد په مرز، ليليه په خوابګاه، قوماندان په فرمانده، خوانده په اوازخوان او داسي نور ، دا يو فرهنګي يرغل دي، دا لغتونه او نمونه موږ ته پردي دي.

يا مثلاً په شعوري، له دي كبله چي ايرانيان د ميرويس نيكه د نامه سره حساسيت لري، هيڅ وخت ( ميرويس ميدان ) نه وايي، هغه كوټه سنګي بولي، نو په قصد سره ددي يادول قابل د مجازات دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال ( ۱۱۳ )

## دکانونو درایستلو مخنیوی

یوه لویه ستونزه او ننګونه چې داقتصادي، ملي لویو پروژو په عملي کولو کې ددولت په وړاندې شتون لري، هغه دځینو استخباراتي کړیو اوازي دي، چې دهیواد په ځینو برخو کې دزورواکانو او جنګسالارانو له خوا په لاره کې اچول کیږي او داقتصادي پروژو په استخراج او تړون کې خنډ او ځنډ رامنځته کوي. که چیرې ددولت ارګانونو له خوا یې اغیزمني او پریکړونې کړنې ونه شي نو هیڅکله به په هیواد کې لویې اقتصادي پروژې په کارونه لویږي.
دیوې باورې سرچینې په حواله دکانونو وزارت یو لیک دملي امنیت دشورا په نامه استولې، چې دهیواد په شمال کې دتیلو او کانې توکو داستخراج په مخکې دسیمه ییزو او زور واکانو له خوا یې مخه نیول .
وروسته له هغه چې دکانونو دسکتور دوامداره جامع پرمختیا لید لوري رامنځته شو، نو په تقنیني چارو کې په زړه پورې اصلاحات دنړیوالو تجربو په رڼا کې او دکانونو دستراتژیک اهمیت دهیواد دعوایدو په زیاتوالي کې دیوې کلیدي اداري په توګه داقتصادي پرمختیا او له بهرنیو سرمایه ګذاریو له پاره رامنځته شو.
لکه چې پدې وروستیو کې لیدل کیږي دسیمې استخباراتي سازمانونه، دخپلو بریځو له لارې داقتصادي ملي لویو پروژو داختلال له پاره متې رابدوهلي او دپروپاګند په لاره اچولو سره یې ددې پروژې له خنډونو سره مخامخ کوي.
سره له دې چې دافغانستان حکومت او دکانونو وزارت دمشرتابه پلاوې، ددغو استخباراتي شبکو دپرو پاګند څخه خبر دي او هغو ته یې اخطار ورکړې ، که چیرې په شعوري اویا هم په لا شعوري او یا دچا خبره ددښمنانو په ژرنده داوبو اچونې سره زموږ ملي ګټو ته ، چې یواځنې سرچینې دځان دبساینې او دهیواد دمالي استقلال شمیرل کیږي خپله موخه وګرزوی، نو دافغانستان دخلکو او حکومت په وړاندې به ځواب ورکونکې وي.
او اوس چې ددوو لویو پروژو ( دحاجیګګ پروژه او دامو دریا دنفتي حوزې پروژه ) په دې عبارت سره چې ګواکې دپروژو په تړون کې سیاسې کړنې او دغه تړونونه دهیواد په زیان دې او .... دسیمې داستخبارتو دپایځوړو له خوا پروپاګند کیږي .
دغه استخباراتي کړۍ دهغو تعلقاتو او مناسباتو له مخې، چې په دولتي ارګانونو کې دلوړپوړو چارواکو سره لري او هغه مطبوعات، چې له بهر څخه یې ملاتړ کیږي خپلې پروپاګند تنظیموي.
په همدې ډول دپارلمان یو شمیر غړي، چې دنوموړو پروژو په تخریب لاس پوري کوي او دامنیت شورا ورڅخه خبره ده دکانونو پروژې، چې دافغانستان ملي ګټې بلل کیږي او ددولت عواید ، دزیربناوو جوړول خلکو ته دوامداره کسب برابرول ، دچاپیریال ساتنه او دکلیو خلکو ته دجامع پرمختیا پروګرام په جوړولو کې ارزښتمن رول لري هغه تخریب کړي.
دغه ډول دیادوني وړ ده ، چې دحکومت له پلان سره سم چې امنیتي کمپنۍ اوس فعالیت نشي کولای او حکومت هم تر اوسه دامنیت له له پاره لازم ترتیبات نه دي نیولي، چې له دغه فرصت څخه دسیمه ییزي جنایي کړۍ او په حکومت کې دنفوذ خاوندان د متشبیثنو دازار لامل ګرزي ، چې دحکومت او متشبث ترمنځ بې باوري رامنځته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددي له پاره چي دهیواد په تاریخ کي لومړي ځل دي، چي افغانستان ته دغه طلایي فرصت په لاس ورغلي، تر څو خپلي کاني منابعو ته پراختیا ورکړي، له نیکه مرغه چي دټرونونو په برخه کي یي روڼ والي او دملي او دهیواد لوړي ګټي په کي په پام کي نیول شویدي.

هیله ده چي دامنیت ملي شورا دامنیتي تدبیرونو په برخه کي پورته ذکر شویو موضوعاتو په اړوند ددسیسه بازانو دتعقیب او دوزیرانو شورا په وړاندي دبي حرمتي، چي ملي ګټو ته زیان رسوي دقانون سره سم مخه ونیسي تر څو دهغو سبوتاژونو مخه چي یو تاریخي فرصت رامنځته شوي ونیسي.

اکثر لیدل کیږي یا اوریدل کیږي، ځیني چاروا کي خپله ډیره جزوي ګټه په درلودلو سره دولت او عامه ګټي ته ډیر دروند او ستر تاوان سبب شي. هر تاوان چي رسي دکور دننه خوا وي، لکه چي وایي کلا د دنني خوا خلاصیږي.

پدي برخه کي تر هر چا د والیانو رول اغیزمن دی، چي والي صاحبان د ( واجب الاقرم او غیر مسؤل) موقف نه راوزي. د ملت او حکومت تر منځ د ( پل ) موقف نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۱۴)

## دقروغ دغونډيو غصب

دباوري سرچينو په حواله چي دملاخيلو ، کاکړو، کوچيانو دقروغ دغره دببرک دکلا په سيمه کي استوګنه ؤ، دکورونو په جوړولو يي شروع کړي وه او د عيدوخيلو کوچيانو له خوا يي مخه نيول کيده .

په دغه ضمن کي دکابل دلويديزو برخو استوګنو خلکو په نوموړي سيمه ادعا درلوده چي دجمهوري فرمان په اساس نوموړي سيمه هديري ته بيله شويده .

په داسي حال کي چي په نوموړي سيمه کي دسيلاو او اوبو دوتللو او ريګريشن تاسسيات تر سترګو کيږي، چي دمحمديه ښارګوټي له خوا سازماندهي کيږي ، او له هغو رسمي معلوماتو له مخي چي څيرونکو ډلي تر لاسه کړيدي دغه سيمه دبيلا بيلو دولتي ادارو ملکيت دي.

که څه هم دکوچيانو او دکابل دلويديزو سيمو داوسيدونکو تر منځ دجوړجاړي هڅي کيږي ،خو څه پايلي ته نه رسيږي ، او دکورنو په جوړولو شروع کوي .

بالاخره په ۲۲/۵/۱۳۸۹ کال کي دکابل دلويديزو سيمو خلک د محمد هاني، حاجي نوروز او يو شمير نورو په هڅوني سره په بيلونو، کلندونو او چوني په اچولو سره خط اندازي کوي او د مسجد دځاي پر سر شخړه راپورته کيږي او پر دولتي مځکو جګړه راپورته کيږي.

ترڅو په پايله کي دنوموړي سيمي خلک دکوچيانو په خيمو او کورنو بريد کوي او دکوچيانو شته غارت کوي او اور ورته اچوي او هزاره ګان نور هم د ډير شدت نه کار اخلي.

وروسته له هغه امنيتي ځواکونه نوموړي سيمه نيسي او کوچيان د دارالامان قصر ته وړي. خو دلويديزو سيمو اشوبګر دځانګړي پروګرام له مخي د ۶،۵،۳ او ۱۳ مي ناحيو سيمه تر تخريب لاندي راولي او ديو زيات شمير دکانونه تاراج او ورانوي.

په پايله کي يو پلاوي دجمهوري رياست دمقام له خوا ګمارل کيږي او محمد هاني ، حاجي نوروز او ټول شريکان يي تر توقيف لاندي نيول کيږي، او داچي په پايله کي څه وشول مالومه نه شوه . غصب په سراسري ډول دود وموندي، مثلاً د دارلامان سيمه کي مځکه اوغونډی دحاجي محمد نبي خليلي ، داستاد خليلي ورور لاندي کړه. قرغه مځکي او غونډي وکيل ملا غيرت، دکابل ښاروالانو ، محمد انور جګدلک او روح الله امان په مرسته نمري کړه. دچمتلي دښت امان الله ګذر خطونه پکي کړه، يو اندازه استاد عبدالرسول سياف او دده وراره ممتاز اغا لاس پر کينود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۱۵)

## دافغانستان په جګړه کي دامريکا لويي تيروتني

دکابل چاپ دورځپانو له ډلي څخه يوي ورځپاڼي د ( دافغانستان په جګړه کي دامريکا لويي تيروتني ) تر سرليک لاندي يو مضمون خپور کړي چي لنډيز يي دادي :

امريکا ددي پرځاي چي يو پياوړي دولت درامنځته کيدو او ټينګښت او اغيزمنتيا له پاره يي په افغانستان کي کار کړي واي، او له هغي ډلي څخه يي لکه دملي دفاع ، کورنيو چارو ، ماليي ، پوهني، او دکليو دپرمختيا وزارتونه يي ځواکمن کړي واي او ديو واحد ملي دولت په اړوند يي کارکړي واي، او يالا اقل د خلکو دليدلو له پاره يي دکرزي حکومت ته يي باور او مشروعيت ورکړي واي ، برعکس هيڅ يو داسي بنيادي او اغيزمنه کړنه يي تر سره نه کړه .

دغه راز امريکا له شلو کلونو چي د روس حکومت ماته وخوړه څه شي زده نکړل ،چي څه يي بايد کړي واي، ديوه دموکراتيک ځواکمن دولت درامنځته کيدو مفکوره يي د فرهنګي او په ټولنه د مسلطو عناصرو دبدليدو د کرنيزو او اقتصادي بنيادونو په اړوند دامريکا يوه فانتيزي وه، چي هيڅ تحليلي او پلاني برنامه يي وروسته دحکومت دبدليدو له پاره ،چي په افغانستان او عراق کي څه کړي واي نه درلودله.

په مليونونو ډالره دامريکا او مرسته کوونکو هيوادونو له خوا افغانستان ته رادننه شول، په دغه اړوند چي ځومره دغه پيسي حيف او ميل شوي او ديو شمير صلاحيت لرونکو افغانانو او بهرنيانو جيبونو ته ولاړي او دغه راز، چي په خپله امريکا او مسوولينو يي ځومره په دغه فساد کي ګډون درلود او ځومره مسووليت لري او يا يي ورباندي سترګي پټي کړيدي او يا نه ليدلي او نه انګيرلي دي .

له يوي لسيزي څخه زياته موده کي ۳۴۱ کمپنی او نړيوال غير دولتي يا (آن جي او ګاني) په افغانستان کي جوړي او په فعاليت يي پيل وکړ، چي مليونونه افغانی يي افغانستان ته راوړي او ددغه مرسته شويو پيسو زياتره برخه دمعاشونو ، دکورونو دکرايي چي دمياشتي له پنځو زور تر شپږو زرو دالرو پوري رسيدي. دامنيتي افسرانو او سربازانو دمعاشونو، دلوکسو موټرونو، دمشاورينو اونورو کارکوونکو په معاشو ولګيدي، او يوازي له پنځلس سلني کمي پيسي له دغو مرستو شويو پيسو څخه دافغانستان په پروژو کي مصرف شوي، چي په پايله کي افغانستان داقتصاد له رويه په خپلو پښو ونه دريده چي داقتصاد اساسي شاهرګونو ته نوي سا ورونښي.

په همدي ډول يوه لويه تيروتنه داوه چي سپيني ماني دخپلو سرتيرو دوتلو نيټه اعلان کړه ،چي دغه موضوع دطالبانو دسياسي او جګړه ييز مورال دلوړيدو لامل شوه.

دغه راز په افغانستان کي د جګړي برياليتوب له پاره په کار وه ،چي دوه دولتونه ياني افغانستان او امريکا دواړه په کي ګډون وکړي، خو ديوه له فساد څخه ډک هيواد چي له امريکا سره يي لړزيدلي اړيکي درلودي، دويم داچي پاکستان دطالبانو دولت په خپله غيږ کي ونيو او څو ځله دناټو داکمالاتو دلاري دبنديدو لامل شو.

پورتنی وړانديز يا اعتراض پر ځای دی، هر څوک بايد خپل کور پخپله جوړ کړي، دبل نه هيله اشتباه ده، البته کومه مرسته چي دپردو نه کيږي يا کوم امکانات چي د نورو څخه چمتو کيږي، د خپله وسه د هغه نه ګټه پورته کړي، لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنوبي کوريا، جاپان او المان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۱۶)

## ليوني سپي

د کابل په ښارکي کوڅه ډبه سپي دومره زيات شويدي، چي وروسته له ماښام څخه يي کابل ښاريان له ګڼو ستونزو سره مخامخ کړيدي . او ددولت هيڅ يوه اړوند اداره لکه کابل ښآروالي، د عامي روغتيا او دکرهنی وزارتونه ورته پام نه اړوي. مور د بيلګي په توګه يوه مرينه، چي د خوړ لو له امله را منځه شويده رپوټ يي خپروو.

سيد نور آغا د سيد شير آغا زوی ادعا کوي، چي وررور يي سيد علي شاه په ۱۳۹۱/۳/۱۳ نيټه هغه مهال چي له دندي څخه د خپل کور په موخه روان و، دليوني سپي تر حملي لاندي راغي او ټپي شوي.

کله چي موضوع د اړوندو ادارو لخوا څيرل کيږي، داسي پايلي ته رسيږي چي د کابل ښاروالي او د عامي روغتيا وزارت د لايحي او طرز العمل له مخي په خپله دنده کي تعلل او غفلت کوي، چي دغه شان پيښي رامنځته کيږي.

ادعا کيږي، چي د محيطي روغيتا رياست رئيس امان الله حسيني خپله دنده نده اجراکړي او ددغه رياست نور کارکوونکي هر يو محمد سليم د عمر ګل زوی او عبدالحکيم د غلام شاه زوی هم ملزم ګڼل کيږي.

همدعه راز د کابل ښاروالي د تنظيف رئيس نثار احمد حبيبي، چي خپله دنده نه ده سرته رسولي اوپه خپل سر پرته له دي چي د محيطي روغيتا پلاوي حاضر وي سمي مواد (سترکنين) او د خوړو توکي مصرفوي، چي د هغه خوړو نه ناوړه ګټه پورته کوي.

نو دهغه الزام له مخي چي دقانون سره سم ور باندي لګول کيږي، توقيف او د شاروالي دوه تنه کارکوونکي احمد شاه دحسن زوی او مير احمد د پاينده محمد زوی او د محيطي روغتيا دوه تنه کارکوونکي تر نظارت لاندي نيول کيږي. دا کافي نده، دايو قتل دي، په پوره دقت بايد مطرح شي.

د کابل آسيا روغتون چي د نوموړي شخص له مريني سره تړاولري هم تر پوښتني لاندي راځي،مګر په نورو داسي پيښو کي ملزوم نه محکوميږي.

دکوڅو ډبو سپو کيسه آن دخلګو دشکايت پر بنا د بين المللي مډيا ته هم رسيږي، مګر مسؤلو کسانو سرپه ونه ګرځاوه.

دميزان پر اتمه کال ۱۳۹۰ د سهار دپنځو بجو د امريکا ږغ راديو هم خبرخپور کړ. موضوع ادارو ترمنځ ورکه ده. ښاروالی وايي چي سهمی مواد بي کيفيته دي، دروغتيا وزارت وايي، چي دښاروالی مامورين کومي غوښي چي بايد دا زهرجن مواد ورسره ګډ شي، تر سپو دمخه دښاروالی مامورين خپل ديګ په ګرموي. دپورتنيو ادارو تر څنګ دکورنيو چارو وزارت هم دنده لري، چي دولس امنيت وساتي، مګر دلته بي تفاوته يو مؤثر کلتور دي، چي وايي ( به ما چي ؟؟ ) . مسؤله اداره معلومه نشوه. د غريب څوک پوښتنه نه کوي، څوک چي په زرهي کروزين کي ناست وي، ددي ستونزي پروا نکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۱۷)

## لمرپه دوو ګوتو

د یوه باوري رپوټ په حواله، د کابل افغان د سوداګرۍ شرکت رئیس ښاغلی فرهاد، چي د پوهني وزارت د مسلکي او تخنیکي معینیت سره د خوړو د موادو قرارداد لري، د یوي اطلاعیي په ترڅ کي کشفي ارګانونو ته خبر ورکړي، چي د نوموړي معینیت د مالي امریت سر پرست ورځخه پنځه زره دالره بډي غواړي، چي داکار دقراردادیانو او مامورینو تر منځ یو منل شوی دود دي، یوه نه یم چي داځلي ولي شکایت پورته شو؟ چی ددي شرکت نه د وزارت مامور الماس نومي رشوت غواړي، چي نوموړي ته د یوه مختلطه پلاوي له خوا پیسي په نښه کیږي او د وزیر محمد اکبر خان په سیمه کي نوموړي ته ورکول کیږي او باالفعل نیول کیږي.

الماس ادعاکوي چي د کابل افغان سوداګري شرکت رئیس سره څوکاله کیږي چي روابط لري، نو ما ورڅخه د پور په ډول اووه زره ډالر غوښتني و، چي نن یي ماته زنګ وواهه او پنځه زره ډالریي راکړل. هر مجرم باید یوه پلمه ولري. داسي کسان نو بیا پوره تجربه لري او دفرار لار سنجوي.

دفساد ابتدائه محکمي د خپلي (145) 1391/11/30 فیصلي له مخي الماس نومي ته برائت ورکوي او مشهود جرم ته هم پلمه راوړي او دمجرم دپاره دفرار لار لټوي، لمر په دوو ګتو پټوي، نو بل وخت به څوک دا جرئت وکړي، چي دپولیسو سره مرسته او یا شکایت وکړي. دلته به ارومرو، زر او زور لوبیدلي وي.

د محاکمو دا بي تفاوتي او بي مسؤولیتي د فساد ډیربښت دي. د فساد د مخنیوی د پاره پولیس او یا مفتیشین او بیا محاکمه ډیر لوی رول لري، مګر په موږ کي دا خلا ډیره څرګنده ده، چي دا دواړي اداري لړلي دي.

په امنیت ملي کی هم د استخدام د پاره یو فرمول جوړ شوی ؤ، چي د همدي اداره د درو تنو په تصدیق او تضمین یو څوک مقرر کیدای شوای. څرګنده ده چي په دی اداره کی تنها دا یو قوم او یوه سیمه برلاسه وه، نورو ته چانس لږ ؤ.

ددي وړي سیمي تر منځ نژدیوالي یو فاشست حرکت مضبوطه کړی جوړه شوی وه، چي شکایت نه اوریدل اداکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۱۸)

## زورواکان او په ملیاردونو ډالر زیان !

د بي بي سي راډيو د ۲۰۱۳ کال ډسامبر د میاشتي په اتلسمه په خپل رپورټ کي، د افغانستان دروڼ والي دڅارونکي سازمان له خولي چي افغانستان د زورواکانو تر تصرف لاندي دي او داکار ددي سبب شويدي چي عادي خلکو ته په کال ملیاردونه ډالر زیان واړوي.

په نوموړي رپوټ کي څرګنده شويده، چي يو شمير وزيران ، د ملي شورا غړي، واليان د پوليسو قوماندانان، معينان د زور واکانو له ډلي څخه دي، چي موږ ورته په عامه ژبه بدماشان وايو.

همدي رپوټ پر بنا دغو زورمندانو د هيواد اقتصادي سيستم تر ولکي لاندي راوستلی. او دغه سازمان مونډلي ده، چي دغو افرادو لوړ ساختماني قرار دادونه، د نفتي مواد او غذايي توکو واردول په خپل انحصار کي راوستي دي. او له حکومت څخه يي غوښتي ، چي د هيواد اقتصاد د نوموړو زورواکانو له منګلو څخه خلاص کړي.

دغه رپورټ چي ۳۷ پاڼو کي ليکل شوي د سوداګرو، اقتصادي متخصيصينو ، سياستوالو سره په مرکوکي چي په کابل هرات، بلخ ،باميان ننګرهار کي سرته رسيدلي جوړشويدي.

يما ترابي چي د افغانستان درونوالي د څار سازمان رئيس دي، په يوه خبري غونډه کي څرګنده کړه ، دغه افراد چي موږ سياسي تصميم نيونکي ورته وايو، دهغوي کورنی په بانکونو او لويو شرکتونوکي برخه لري چي خلک يي شاهدان دي.

زورمندان د کاليو او نفتي توکو د بيي په ټاکلوکي اساسي ونډه لري او په دغه برخه کي ددخالت له امله په کال کي مليار دونه دالر خلګو ته زيان اړوي. يوه ساختماني پروژه د زور واکانو د امتياز او حقه نه پشپړ کيږي.

نوموړي سازمان وايي چي زورواکان د شتو د پيداکولو له پاره په قانوني او غير قانوني توګه او د بيلابيلو سوداګريو ته مخه کړيده .کله چي هيواد خپله شيرازه د لاسه ورکړه خپلسري او ناوړوګټو د څو مافيائي کړيو لاس ته وليدي ، کوم نوم چي افغان ولس په جهاد کي ګټلي و په دي وسيله يي د فساد پواسطه برباد کړ.

زورواکان دا نه پريږدي، چي لوړي بيي ټرونو نه هغه چاته پريږدي چي کمي سرمايي لري، په دغه رپوټ کي همداراز راغلي دي چي دولت دلوړي بيي قراردادونه او ساختماني چاري نوموړو زورواکانو ته وسپاري ځکه ددوي په اند هغوي د اجرا توان يي لري.

په رپوټ کي زياته شويده، چي زورواکانو خپلي شتمنی د نورو خپلوانو په نامه ثبت کړيدي دغه سازمان پيداکړيدي چي په مليونو دالر دداسي افرادو په نامه ثبت شويدي چي عمرونه يي له اووه لسو کلونوهم کم دي.

دغه سازمان داهم ليکلي دي چي دغه ډول کارونو، ددولت جوړوني پربهير ناوړه اغيزه کړيده او ددي باعث شويدي چي د خلګو باورپر دولت راکم شي او اقتصادي وده په ټپه و دريږي او دشتمنی کچه د هيواد په دننه کي راکمي شي.

دغه سازمان په پاي کي ليکلي دي، چي د هيواد اقتصاد د مجرمينو په منګلو کي لويدلي او هغوي له سيستماتيک او سازمان يافته نظامي ځواک څخه په ګټي اخيستني سره دشتمنی د راټو لولو او زياتو لو ته پام اړولي دي. يو کم خائين اقليت يو لوی مظلوم اکثريت ګروګان نيولي دي.

ټوله پدي پوه دي چي خائين او مفسد څوک دي، مګر دمحاکمي مجال يي نشته. قانون موجود دی، تطبيق يي دچا د وسه ندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۱۹)

### ددو ماشومانو اختطاف قضیه چي پایله یي په برائت سره تمامه شوه

له هغه راهیئي چي بهرني ځواکونه چي زموږ هیوادونه راتنوتلي ددي ترځنګ چي اداري فساد زور اخیستني او د ښځه یي توکو سرلیکه او قاچاق هم ورسره یو ځاي شوي. نو د شتمنو خلکو د اولادونو تښتونو چي مخکي له دغو کلونو څخه یي به افغانستان کي سابقه نه درلوده هم زور واخیست.

د یوي باوري سر چیني درپوټ په حواله نقیب الله د نصر الله زوی، ۱۶ کلن او د کندهار اوسیدونکي چي ددوماشومانو په تښتوني تورن او د 1383 کال غوایي د میاشتي په اتمه په جلال اباد کي نیول شوي و د تحقیقاتو دوسیه د لومړي حوزي ابتدائیه محکمي ته د حکم له پاره اشتول شوي وه نو د نوموړي محکمي د 71 — 1386/8/19 حکم له مخي په شپاړش کال بند محکوم او د استیناف محکمي (13) 1387/1/12 حکم پر بنا شپاړش کاله بند تائید، مګر د تمیز محکمي د الزام کاپي دلایل د نه شتون له کبله بري الزمه وباله .

د عدالت یوه نمونه چي تحتانی محاکمو باید دا دلایل مدنظر نیولي وای:

1) تښتونه یا اختطاف یو معینه انګیزه لري، یعني سیاسي، اقتصادي او یا انتقام.
2) مخکني روابط باید موجود وي او مختطف باید تر تعقیب لاندي نیول شوي وي، نه چي په یو ساعت او یوه ورځ کي دا کار پای ته ورسیږي.
3) نقیب الله تر اتهام لاندي ؤ، چي دا دوه ماشومان یي په ډک سرویس کي اختطاف کړیدي.
4) د اختطافچي او ماشومانو تر منځ د ژبي او کلتور توپیر ؤ، د نقیب الله فارسي نه وه زده اوسن یي هم لوړ ؤ.
5) ددغو دلایلو سره، سره محکمي په ۱۶ کاله بند حکوم وکړ. عالمه دا دي قضاوت او عدالت.
6) نقیب الله متهم و کابل او جلال اباد ته دا لومړی ځل تګ ؤ، پدي ښارو کي یي بلدیت نه درلود. شواهد موجود وه چي نقیب الله د خپل پخواني استاد په بلنه جلال اباد ته ورغوښتل شوی ؤ.
7) د نقیب الله تذکري ته چي تر پیښي پخوا اخیستل شوی وه، اعتبار ورنکړل شو او پر سن یي تجدید نظر وشو.

وایي ګناه کاره خوشي کیدل بد ندي، نه یو بیګناه بندي کیدل.

پدي ډول به ډیر بي ګناه کسان د امرالله صالح په وخت کي په کلونو په زندان کي پراته وه. ښاغلي صالح قاطع ؤ، د محکمو په فیصلو کي یي هم مداخله او اعتراض کاوه، ښه مدیریت او دسیپلین یي درلود، د ګناهکار او بي ګناه تر منځ یي توبیر نه کاوه، د عدالت پروا یي نه درلودل. دده د توطیي نه ډیر کسان په ډار کي وه، د چا عرض او دلایل نه اوریدل کیدل.

د پنچشیرانو او پښتنو تر منځ د جهاد او بیا د طالبانو د وخت نه یو خاص مخالفتونه او دوښمنی وي، چي عمده دلیل به ممکن د حکمتیار او احمدشاه مسعود او بیا د مسعود او ملا محمد عمر تر منځ انګیري وي. دده په وخت کی پر ولسمشر کرزی دوه ځلي حملي وشوي، لومړي د ۸ ثور د جشن په رسم ګذشت کي د ترور حمله وشوه ، چي تلفات یي هم درلودل، دوهم ځل د لوي جرګی پر خیمه د راکټ وار ؤ، چي ددي بي کفایتي پر بنا د ملي امنیت دریاست نه لیري کړل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۲۰ )

## دکور غل

لکه چي وايي ، چي کلا دننه خلاصيږي.

د ستري محکمي د کورني او بهرني دجرايمو په وړاندي، د مبارزي ديوان چي د ۱۳۹۲ کال د چنګاښ د مياشتي په نهمه نيټه د 1098 قضايي قرار له مخي قاري شير محمد درختي ګل زوی او مولوي محمد عالم د قطب الدين زوی، هر يو په اعدام محکوم شوي، قضيه يي داسي شروع کيږي.

په 1398/9/28 نيټه د سهار په شپږو او دير شو د قيقو، د کابل د هود خېلو په سيمه کي د ملي اردو د منسوبينو د ليږد په يوه موټر ځانمرګي بريد کيږي، چي له امله يي نوموړي موټر له منځه ځي او د ملي اردو دري تنه شهيدان او يو ولس تنه نور ډير زيات ټپي کيږي او په سيمه کي د خلکو ودانيوته هم زيات زيان اوړي.

ددغي پيښي په اړوند د ملي امنيت د اداري له خوا دوه تنه، دکمال ناصرد محمد يوسف زوی د موسهي اوسيدونکي او عاشق الله د غلام صديق زوی، دده سبز د ولسوالی دتره خيلو د کلي اوسيدونکي نيول کيږي. قضيه چي ډير اوږد بهير لري موږ يي لنډيز راخلو.

ثابيتيږي، چي نوموړي قضيه دقاري شير محمد او مولوي محمد عالم په مرسته سرته رسيږي.

د تحقيق په بهير کي په ډاګه کيږي، چي انتحاري واسکټ له مولوي سميع الله څخه مهاجر نومي کابل ته ليږدوي او داسي کيسه کوي، چي له انتحاري حملي څخه وروسته کله چي په پلچرخي کي خپلي مدرسي ته ستنيږي، د حميدالله په نامه د مدرسي مهتمم ورته وايي، چي الله ګل چي دده سبز اصلي اوسيدونکي دي او اوس د پلچرخي د ريګريشن په سيمه کي اوسيږي ،د ده سبز ولسوالي په ولسي جرګه کي استازي دي، ما ته راغي او ويي ويل، چي قاري شير محمد خبر کړي چي مدرسي ته رانه شي ځکه دولت وربادي خبر شويدي، چي قاري شير محمد په دغه حمله کي لاس لري او کوشش کوي چي هغه ونيسي، او ماوروسته خپل تګ اوراتګ مدرسي ته قطع کړ.

وګوري چي انتحاري حملي د چاله خوا په لاره اچول کيږي او د چاله خوايي حمايت کيږي ؟ نو په پايله کي دي نتيجي ته رسيږو، د خلکو هغه تبصري پرځاي دي چي وايي: تروريستان او انتحاريان دهغه چاله خوا کابل ته راوړل کيږي چي چاروکي او موټريي نه تلاشي کيږي. دکور غل نه نيول کيږي، دا دلستوني ماران دي، دطالبانو او ياغلو او بدماشانو ساتل ، دحريفانو د وړولو دپاره وي او يا ځان په ساتي. يوازي الله ګل، چي ځان ته مجاهد وايي ندي، بلکي بايد ووايو چي په اوسني ټولنه کي دخائين او خادم توپير چندان نکيږي. نور هم شته، چي داسي ترتيبات لري.

مطلب په حاجي الله ګل مجاهد د چا زور ونه رسيد، ولي چي مصؤنيت پارماني لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۲۱)

## زور حق دئ

راشد دین دتاج الدین زوی د احمد شاه مسعود اخښی په دوبۍ کي افغانۍ جنرال قونسل اصلي د پنجشیر او سیدونکي د رحماني سره په یوه معامله کي لانجه لري.

راشد دین دکوم څه چي دی یي خپل حق بولي، له دي کبله چي تراوسه هیڅ چا بازخواست ندی کړي په زور لاس پوري کوي، همدا ده چي وایي:

حق زورندی بلکه زور حق دی.

تزویري وکالت نامه چي دغلام حیدر در حمت بیګ د زوی په نامه، چي ددوبي د قونسلګرۍ د کارمندانو هریوه زړګي د داراب زوی او.... جوړه شویده او د بهرینو چارو وزارت په ۴۴۸۹۰ ۲۱/۱۲/۱۳۸۹ شمیره کي ثبت شویده اوله امله یي د احمد فواد رحماني یوه حویلي او ۲۷۵ جریبه ځمکه یي د بلخ ولایت د تاشقرغان په سیمه کي غصب کړي او سربیره پرهغي یي په ۱۳۸۹ کال د روژي د میاشتي په ۲۶ مه نیټه دهغه پر کرایي کور، چي په وزیر اکبر خان مینه کي موقعیت د رلود له خپلو وسله والو سړ وسره حمله او په زور واکي سره یي دري عرادي زرهي موټر د کور ټول شیان او میرمني دزیوراتو په ګډون له ځان سره وړي او سربیره پرهغي غوښتل چي په چک بوک جعلي سره د نوموړي له حساب څخه څلور ملیونه امریکایي هم دالر وباسي خو د بانک د کارکونکو دپیسو ایستلو نه ممانعت کوي.

دادهغي عرض پاڼي متن دی، چي احمد فواد رحماني د جمهوري ریاست مقام ته وړاندي کړي وه.

نو اوس قضاوت لوستونکو ته پریږ دو چي په هیواد کي د زورواکي او فساد له امله خومره خلک د خپل حق د تر لاسته کولو له پاره لالهانده دي. درحماني بازخواست چا ونه کړ، راشد دین زور او زر لري، ولي چي دشهید احمد شاه مسعود اخښی بلل کیږي. داؤ د سپیني ورځي د زور استعمال ، چي عدالت ورته عاجز دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۲۲)

## وسیله او واسطه

ترهغه وخته چي د يوه قوم مشران او ځيني چارواکي د اختلاس کوونکو او غلو ترشا ولاړوي، نو ايا اختلاس کوونکو ته څوک سزا ورکولاي شي؟ آيا له هغو څخه د دولت پیسي ځوک اخیستلاي شي؟

ځواب روښانه دي، نه هيڅکله به هم څوک سزا ورنشي کړاي او نه به هم د فساد، بډو، درغليو او اختلاس مخه ونيول شي، موږ غواړو چي د خپلي ادعا له پاره يوه بيلګه وړاندي کړو.

حاجي نعيم کوچی اود کوچیانو وکیلان او د کوچیانو د چارو رئیس ښاغلي غورځنګ کوچي، له ولسمشر څخه غواړي چي د عبدالقدوس د عبدالصمد زوی چي د خوست ولايت د افغانستان بانک خزانه دار او ۶۴۴۴۷۶۴۷ افغانی يي اختلاس کړيدي، د هغه نغدي جزا وبښي.

نوموړي خزانه دار دستري محکمي د عامه امنيت ديوان د 273-25/2/1391 له وروستي فيصلي سره سم ۵ کاله او يوه مياشت حبس او رد مال محکوم شو.

علي شا داکبر علي زوی چي محاسبي د مديرله مړيني څخه وروسته، د خوست بانک کي د محاسبي د مدير په توګه مقرريږي، وروسته له څيړني دي پايلي ته رسيږي او ولايت مقام ته خبر ورکوي، چي په بانک کي پيسي کمي دي .

وروسته څرګنديږي چي ۶۴۴۴۷۶۴۷ افغانی ورکي شويدي. د هغه د معادلو پيسو دور کړي په سزا محکوميږي، چي وروسته بيا 57 ميليونه بانک ته سپاري.

روي او رويداري زموږ هيواد کي ډير رواج او دود دي او تردي عنوان لاندي ( خيردي خيردي) . او که دي په خوله ونکړه بيا درسره مخالفت کوي او عقده اخلي. کوم کار دي، چي پدي کي به واسطه مداخله ونکړي ؟؟ واسطه او رشوت عين رول لري، چي قضيه د انحراف خوا ته وړي او واسطه يي قانوني ممانعت لري ،اما څوک دی چي مخه يي و نيسي؟. داسي مثالونه ډير دي، چی واسطه پکي کاري واقع کيږي.

اما په هر صورت په قاچاق او اختلاس کی تر نورو جرمو نه واسطه ډير ليدل کيږي، ممکن علت يي هم دا وي چي پيسی پکی سته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۲۳)

## د ۳ میلونه دالرو ورکیدل

د کلیو پرمختیا او بیا رغاوني وزارت د همبستګي برنامي لومړي GTZ موسسي او بیا وروسته له Maxwell Stamp موسسي سره د برنامي له پاره د مالي چارو د اجرا دپاره د سید شفیق الله (سادات هوفیاني) صرافي سر۲۰۰۹/۹/۱۴ دپکتیکا ولایت ته د همبستګي د برنامي د پیسو لیږد تړون لاسلیک کړ.

په داسي حال کي چي دنوموړي پروګرام د پیسو لیږد، نورو ولایتونو ته د بانک لخوا تر سره کیده خو دناامني له امله چي عنوان کیدي نوموړي ولایت ته د صرافي لخوا لیږدول کیدي، د همبستګي برنامي د قرار دادي صرافي له لاري شوراګانو ته پیسي دورکړي امر صادر کیدي، ولي چي بانک لا فعاله نه ؤ.

قراردادي به پیسي د همکارو موسسو (برک واریب) په حضور کي، شوار اګانو ته ورکولي او د ولایتي شورا لخوا به يي تصدیق کیدي.

وروسته به يي سند کابل ته رالیږه او دهغه له رویه به د صراف په خرڅ معامله کیدي، چي ددغه تړون له مخي کابو ۱۴۷۳۳۷۹۶۷ افغانی د سید شفیق الله (سادات هوفیایي) صرافي ته ورکړي وي، چي شوراګانو ته يي ورکړي، خو عملاً دغه پیسي شوراګانو ته ورکړل شوي نه دي.

وزارت د (۱۸۶۶۱) لیک ۱۳۹۱/۳/۲۴ پکتیکا ته خبر او هدایت ورکړي.

د کلیو د پرمختیا وزارت وروسته له ډیرو بحثونو سره، صرافي دیته اړ ایستله چي ۳۶ میلیونه افغانی شوراګانو ته ورکړي خو صرافي شپږ ملیونه شوراګانو ته ورکړي او د نورو پیسو له ورکړي يي انکار وکړ او د یوي عریضي په ترڅ کي (۶۰۵۲۱۲۴) افغانیو د پیسو غوښتنه کوي.

لنډه داچي تر اوسه دنوموړي تړون د ګډونوالو له خوا تیري او بیري شوي خدای ته به مالومي وي ، نو په پای کي وایو چي عجیب تړون ا و عجیبه ویشنه ( هغي ګتي چي دسرمایي سر يي وخوړه)

اصلی مطلب دادي چي د کلیو د پراختیا وزارت بي مسولیته او بي تضمینه ۳ ملیونه دالر ه ونوموړي صراف ته ورکړي هغه وخوړي، نور څه پلاس رانه غلل، فقط احسان ضیا وزیر پر بر طرف شو، چي اوس په جدي ډول د اپوزیستون په کتارکي ودرید.

هر څوک چي د مقام نه لیري شي ، پروپاګند، تخریب کوي او اپوزسیون شي.

دښاغلي محمد یاسین عثمانی کیسه کوم، چي د امریکا د سفارت په یو میلمستیا کي د ډیرو پخوانیو لوړپوړو چارواکو د ولمشر کرزی نه شکایت او بد ویل. سفیر زما نه و پوښتل ، چي ته ولي څه نه وایي: ما ورته وویل چي ( زه هم کله چي برطرفه سم بیا به شکایت کوم).

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۲۴)

## نورستان او د غنمو ويش

ټول په دي ټينګ باور لري، ترهغه وخته چي دولت د فساد له منځه وړلو له پاره ټينګ هوډ او پوره توان ونه لري ، نو هيواد به مو د فساد د نړيوال لړليک په سرکي ځاي ولري. او هيڅکله به هم د يادوني وړ لاسته راوړني ونه لري.

مرستيال صاحب عبدالکريم خليلي د ۶۵۵۰ ـــ ۱۷٫۱۰٫۹۲ په امر يو پلاوي نورستان ته حرکت وکړ.

نورستان چي يوه غرنۍ او ځنګلي سيمه ده، نو دولتي چاروا کوپه ۱۳۹۲ کال کي وپتيله چي د نوموړي ولايت ته ۳۰۰۰ ټنه غنم واستوي، تر څو مستحقو کسانو ته وويشل شي .

وروسته له هغه چي د نوموړو د غنمو د نه ويشلو په اړوند ګو نګسي راپور ته شوي، نو د افغانستان د جمهور رئيس ددويم مرستيال له خوا يو لوړ رتبه پلاوی د کرني او مالدارۍ د اداري مرستيال په مشرۍ نورستان ته سفر وکړ، تر څو د نوموړو غنمود ويش څرنګوالی وڅيړي.

نوموړي پلاوی په نورستان کي د هغه ځاي والي محمد تميم نورستاني او دمشرتابه پلاوی سره غونډه کوي او له والي څخه غوښتنه کوي، چي د نوموړوغنمو د ويش په اړوند معلومات ورکړي، هغه ورته وويل: چي که نوموړي غنم کار د غذا په مقابل کي ورکړل شي دا به ښه وي.

له کابل څخه ورغلي پلاوي له والي څخه پوښتنه وکړه، چي دغه غنم څه وخت چيري او چاته توزيع شويدي او ويشل يي په کومه مرحله کي قرار لري؟

په دي اړه د نورستان د بيړنيو مرستو رئيس داسي مالومات ورکړل:

نوموړو غنمو يوه اندازه د کنړ، لغمان په ذخيره ځايونو کي ځای پرځای شوي ، وروسته به وليږدول شي. په داسي حال کي چي اندازه يي مالومه نه وه.

لنډه دا پرته له دي چي کوم پلاوي د نوموړو غنمو ذخيره کولو او يا ويشلو په برخه کي نظارت وکړي. ضد او نقيض خبري کوي.

وايي چي ۲۴۰ ټنه پارون ته ليږل شوي، چي ۱۴۰ ټنه يي ويشل شوي ، سل ټنه يي په ګدام کي دي ، ۲۰۳ ټنه يي د نورګرام ولسوالی ته رسيدلي ، ۳۹۰ ټنه وايګل دري ته ليږل شوي او ۸۴ ټنه نور يي هم ورولېږل شي .

د محلي شورا رئيس انور خان ۲۲۲ ټنو ويشل تائيد کړل. لنډه دا چي ځينو خلکو د نوموړو غنمو د حيف وميل، چي په لغمان او کنړ کي پلورل شويدي ادعا وکړه او په پای کي داسي ارزونه وشوه ،چي په لغمان کي له ۱۲۶۲ ټنو څخه ۱۲۲۷ پاتي دي ، په کنړ کي له ۱۴۰۰ ټنو څخه ۵۳۱ ټنه ، په نورستان کي د ۶۰ ټنو څخه ۵۰ او په ننګرهار کي ۱۷۰ ټنه پاتي دي.

نور په هر ترتيب چي وه يو څه ويشل شوي او نور پلورل شوي او حيف وميل شويدي.

داوه د ۳۰۰۰ ټنو غنمو رپوټ چي ښکاره په کي دفساد حقايق څرګند دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعجب دادي ، هغه مرسته چي د منتها محتاجانو سره کيږي، دمحتجانو داحتياج او اسحقاق نه خورد او برد کيږي، نو خدای به پردي قوم څنګه ورحميږي ؟

زورواکان د زورور حق نه خوري او نه يي خوړه لای شي، يوازي غريبان د داسي اعمالو قرباني دي. دلته هم لکه په نورو ځايو کي حيف او ميل شول.

محمد عمر دشورای محلي غړی د غنمو د تسليمدو نه انکار کوي،عبدالغفور د ولايتي شورا غړی هم غنم حيف و ميل او خرڅ کړيدي، قاضي جمعه هم خپل حق غنم خرڅ او چور کړه، اداري رئيس هم بي برخي ندي پاته شوی. کوم ولسوالانو چي غنم اخيستي ؤ، هيڅ حساب ته حاضر نشول. پدي برخه کي محترم دايم کاکړ، دحوادثو دمبارزي رئيس هم بي کفايته دسم مديريت خاوند ندي.

حکومت او يا د حوادثو دمبارزي رياست هم دغنمو دانتقال تدبير نه ؤ نيولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۲۵)

## دسردار محمد داؤد خان روغتون

دهشت صبح ورځپاڼي د ۱۳۹۰ کال دوړي دمياشتي ددرويشتمي نيټي په ګڼه کي دوال ستريت ژورنال دورځپاڼي له قوله : له داسي جدي اوټکان ورکوونکي موضوع څخه پرده پورته کړه ، چي سردار محمد داؤد په روغتون کي فساد او غفلت ددي لامل شويدي چي يو شمير ټپيان خپل ژوند له لاسه ورکړي.

اودغه کار دوسله والو ځواکو دسرقوماندانی ، دملي دفاع وزارت چارواکو او دغه راز ډاکټرانو او نرسانودروغتون دخجالت ځاي دي ، چي په دغه کار سره ددي هيواد له قهرمانانو سره کيږي

دسرقومندان اعلي په توګه جمهور رئيس ته ښايي، چي په دغه برخه کي څيړنه وکړي او هغه کسان چي دغه خيانت يي کړي سزا ورکړي.

امريکايي مامورينو چي په دغه روغتون کي کار کوي موندلي وه، چي دورځي په لسهاوو ټپي سرتيري دساده عفو نت او آن داچي دلوږي له لاسه مري ، ځکه يو شمير بدي خوړونکي ډاکټران او نرسان دروغتيايي مراقبتونو او غذا له له پاره له هغوي څخه بدي غواړي .

ديوه امريکايي له قوله ويل شويدي، چي يوزيات شمير ناروغان خوار ځواکه شويدي او موږ خپلي لاسته راوړني دملي دفاع وزارت ته رپوټ ورکړي، خو هيڅ کړنه يي دکارونو دسمون له له پاره ونکړه، په ۲۰۰۸ کال دناټو روزنيزي برخي وليکل، چي يو شمير ډاکټران ادعا کوي چي دروغتون چارواکي ناروغانو ته تقلبي مورفين ورکوي او په ډاګه شوه چي امريکايي اصلي دوا بدليږي . دا هغه کسان دي چي د هيواد د امنيت او دفاع د پاره قرباني ورکوي.

ددغو کړونو په وړاندي جنرال احمد ضيا يفتلي، چي له لوړپوړو چارواکو سره تړاو لري ددي بدبختی لامل دي.

داسي رپوټونه هم ترلاسه شول چي دټپيانو ټپونه چنجي کړي ؤ او دهغو ټپيانو، چي بدن يو غړی يي پري شوي و نرسانو او ډاکټرانو هغه دلاس مينځلو ځاي ته دوړلو څخه ډډه کوله، چي له امله يي څلور تنه ناروغان هلاک شول .

کله چي امريکايي جنرال کالد له عبدالرحيم وردګ سره وليدل هغه يي اړ کړ چي ديفتلي په نيولو کي او دکار دڅرنګوالي په څيړنه کي شروع وکړي.

وايي جنرال وردګ ښه لايق او ډير ښه ؤ، مګر اداره يي کمزوري وه.

خو دبيا بيا ټينګار له امله يي ځواب ورنه کړ، يو تن امريکايي چي دنوموړي په پلټنو کي ګډون درلود ويلي دي چي جنرال وردګ اعتراف ورکړ، چي له يفتلي څخه پوښتني ستونزمني دي ځکه نوموړي ډيري سياسي اړيکي لري او د رباني بچه خوانده دی .

په دغه روغتون کي داسي رپوټونه تر لاسه شول چي يوه ناروغ دمسکن ټابليت غوښتنه کړي وه او دروغتون دمنتظم له خوا يي په مخ سوک خوړلي وو.

يو پوليس چي تاج الدين نوميده په څلويښتو ورځو کي شل کيلو وزن له لاسه ورکړي ؤ او دي ته ورته نوري کيسي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دملي دفاع وزارت ډېر پرسيدلي تشکيل لري، داستخباراتو اوتفتيش په نامه لوی،لوی رياستونه لري، په سر کي يي جنرالان قرار لري، چي ډېری غټی،غټی خيټي لري، مگر همت يي کوچنی دي. پر خپلو افرادو او سربازانو زړه سوی نلري، خدايه رحم وکړی.

آن دغه افشا گري چي په ملي او بين المللي ورځپاڼو کي خپره شوه، چا جدي ونه نيول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۱۲۶)

## لوړپوړي چارواکي په هیڅکله دعدالت میز ته راکش نه شي

دسخن جدید ورځپاڼي په خپله د ۱۳۹۰ کال دتلي دمیاشتي په اووه ویشتمه نیټه په یوه تحلیلي مطلب کې، چې د ضیا دانش له خوا يي ځیرنه شویده لیکلي چې موږ يي لنډیز را اخلو .

په دغه مقاله کې اداري فساد او هغه هم ددولت دلوړپوړو چارواکو له خوا په کې ځیرل شویدي چې وایي له اداري فساد سره دمبارزي عالي اداري اعلان کړیدي، چې دغي اداري دلوړ پوړو اشخاصو چې په اداري فساد کې لاس لري یو لست جوړکړي او هغه به په ډاګه کړي.

په داسي حال کې چې دلوړ پوړو چارواکو دمحاکمي له پاره ځانګړي محکمه هم جوړه شوه ، خو په خواشینی سره، چې تراوسه هیڅ یو لوړپوړي چارواکي محاکمه نه شو . او یو شمیر هغه چارواکي چې نومونه یي په رسنیو کې واخیستل شول اوس په بهر کې په هوسا ډول ژوند کوي .

په وروستي لسیزه کې کله چې علي احمد جلالي دکورنیو چارو وزیر ؤ، ژمنه کړي وه چې دهغو لوړپوړو چارواکو نومونه په ډاګه کړي، چې دمخدرو په قاچاق کې لاس لري، خو کلونه تیرشول او دغه کار ونه شو .

دلوړ پوړو چارواکو دفساد په اړوند دمبارزي په لار کې دغه ستونزي شتون لري .

1. نه ژمن سیاستوال : دجګړي په څو لسیزو کې سیاستوالو دځواک اوسیاست په بهیر کې په بیلا بیلو ډولونو باندي اخلاقي پولي وراني کړي، شخصي ګټي یي له ملي ګټو او مصلحتونو څخه قربان کړي.

په هغه ټولنه کې چې سیاست له اخلاق څخه پرته شکل نیسي نوپه اساني سره لیدل کیږي ، چې خلک دسیاستوالو په نظر کې څه شي نه دي، پرته له رعیت څخه چې په بیلابیلو ډولونو سره دهغوي له حال شتو اوځان څخه یي دخپلي بقا له له پاره کار اخلي .

2. له فساد سره په مبارزه کې صداقت شتون نه لري: په اوس وخت کې ددولت تیرو کارنامو ته په کتلوسره هیڅوک باورنشي کولاي، چې له فساد سره دقوي مبارزي هوډ شته .

3. ددولت مصلحتي جوړښت : په دولت کې دننه بیلا بیل دواک کړۍ شتون ، چې په واقعي توګه دقدرت واګي په لاس کې لري ، خو ددولت تر سیوري لاندي خپل شتون ته دوام ورکوي، او مرکزي دولت دخپلي بقا له له پاره په ښکاره توګه باج ورکوي.

4. ناوړي ګټي اخیستل: همدارنګه جګړه د ځینو له پاره سیاسي او مالي ګټه لري او اداري فساد هم دغو کسانو ته دناوړي ګټي زمینه برابروي، داسي کسان شتون لري چې دغي پدیدي ته دیوي پروژي په سترګه ګوري، چې دغه موضوع دزیات سیاسي او مالي شتو لامل ګرزي .

دفساد سوري او چیغي ټول وهي، اما نوم نه اخیستل کیږی او څوک محکمي ته نه راکشیږي، چې دنورو عبرت شي. داسوري او چیغي مفسدین جدي نه نیسي او خپل کار ته دوام ورکوي. آن هغه کسان چې پخپله تر ټولو لړلي دي، تر ټولو لوړي چیغي وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۲۷)

## دبریښنا په ریاست کي ناوړه ګټه

دبریښنا ریاست په تصدي کي دواک څخه دناوړي ګټي اخیستني یوه قضیه چي تور یي پر:

1. محمد طاهر دامیر محمد زوی دبریښنا دتصدي ریاست مرستیال
2. امر الدین دشیرګل زوی دخدماتو مدیر
3. امرالله دسلطان عزیز زوی دتهیي مدیر
4. سید محمد دخلیل الرحمن زوی داوبو او انرژي دوزارت دتفتیش غړي
5. نجیب الله دغلام رباني زوی دبریښنا موسسي دتخنیک غړي
6. عبدالصبور دمیرزا احمد زوی د بریښنا موسسي دمحاسبي غړي
7. عبدالواسیع دعبدالمجید زوی دخدماتو دمدیریت غړي او دخریداري پلاوي
8. محمد علم دمحمد عالم زوی دبریښنا موسسي غړي او دخریداري پلاوي
9. محمد همایون دمحمد طاهر زوی دپلان غړي او دخریداري پلاوي
10. محمد اکبر بارک زي دغلام حیدر زوی داوبو او انرژي وزارت مرستیال
11. غلام رباني د محمد یوسف زوی دبریښنا موسسي رئیس.

په رپوټ کي راغلي، چي په ۱۳۸۵ کال کي څرګندیږي، چي دبریښنا دتجهیزاتو دپیرودلو په برخه کي د ۴۹ حوالو په ترخ کي د ۱۱۱۹۱۴۲۱۱۲۹ افغانیو په ارزښت پرته له اعلان او قرار داد پیرودني شویدي . د تدارکاتو قانون نه مراعات کیږي ، چي دااداري فساد داستیناف محکمي ته ځي په خپل ۵۴ ۱۱/ ۳/ ۱۳۹۰ فیصله کي دابتدائیه محکمه په برائت تائیدوي، مګر دخدای په فضل په پای کي قضیه ستري محکمي عامه دیوان ته رجعت ورکول کیږي، چي هغه د ۲/ ۶/ ۱۳۹۰ قضایي غونده کي دنوموړو محکمو حکم ردوي او د عادلانه پریکړه هیله کوي. وکتل شي، چي څه به وشي. که مفسد غرض نه وي، ولي د تدارکاتو قانون نه مراعاتیږي ؟

پدي خریداري کي په تعجب ډول کومه نرخ ګیري چي کیږي دبرق د سامان نرخ دیو قصاب نه هم اخیستل شویدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۲۸)

## د یویشتمي پیړۍ په لومړي لسیزي کي د خپلسريو يوه بيلگه

دیویشتمي پیړي په لومړي لسیزه کي دنورو سازمان یافته جرمونو تر څنګ، زورواکانو او په لویو لارو کي دپرتو امنیتي پوستو له خوا په غیر قانوني او خپل سري سره دسوداګرۍ توکو او په ځانګړي ډول د خوراکي توکو دلیږدولو موټرو څخه په زور پیسي اخیستل یوه لویه ستونزه وه، چي لاهم ددغو غیر قانوني پیسو اخیستلو لړي روانه ده . ددي نمونه په هر ولایت کي لیدل کیږي.

که څه هم په دغه اړوند دجمهوري ریاست په خپل ۷۶۲ ــ ۲/۷/ ۱۳۸۷ حکم کي په لویو لارو کي دغیر قانوني پیسو داخیستلو دمخنیوي له پاره اړوندو ارګانونو ته سپارښتنه وشوه، خو بیا هم ددغو غیرقانوني پیسو اخیستلو مخه ونه نیول شوه، چي دغه کار ددي لامل شوي چي دخوراکي توکو دبیي په زیاتوالي کي خورا ناوړه اغیزه وکړي.

سربیره پردي چي څو ځله موټر چلونکو په دغه اړوند لاریونونه وکړل ، خو دمخنیوي په چاره کي کومه اغیزمنه کړنه ونه شوه ، او لاهم خپلسريو لړۍ روانه ده او داړوندو ادارو مسولینو ددي جوګه نه دي چي ددغو خپلسريو مخه ونیسي . ددي پاکټونه زغم کیږي، خساره بیچاره غریبان وړي. همدا سبب دي، چي ګمرکات په تاوان کي دي. ولي چي شهر بي پرسان دي.

دمالو راوړونکي ډیر وخت دوه ځلي محصول ورکولو ته اړشوي وه. دا پیسي به کله د بازسازي په نامه او کله د اعاني په توګه ټولیدلي. دا کرني په سرحدي ولایاتو کي دود وي. په کندهار کي ګل اغا شیرزی، په ننګرهار کي د حاجي قدیر کورنۍ ، عبدالکریم بهراوي په نیمروز او هرات کي جنرال محمد اسمعیل خان لخوا کړنه وه ، چي عملي کیدل.

د فساد بله نمونه په ساختماني قراردادو کي دا وه ، چي قرارداد یو پر بل په ټیټه بیه خرڅیدي. باالاخره به په وروسته کي یو بي کیفیته پروژه پاته شول. هر قراردادي به خپله مفت او هوایي ګټه تر لاسه او ورک به شو. لار به ورکه شوه چي حکومت په چا پسي ورمنډي کړي. مثلاً که یو تعمیر پر معیارو برابر ، مسلکي او فني ارزښت په یو میلون دالره قرارداد وشو، بل ته به یي ۸ لکه ، هغه به وبل ته په ۵ لکه ، بالاخره د توان په اندازه به یو پر بل خرڅیدي. په اخر کي به اصل پروژه د هغه اخیري او کښته په ارزش بي کیفیته جوړه شوه، چي یو یا دوه کاله وروسته به خرابه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۲۹)

## دبريښنا دتخنيکي اداري لخوا غصب

که له يوي خوا دزوراکانو له خوا دولتي ځمکي او شخصي ځمکي غصب کيږي، خو کله ناکله دولتي ادانو له خوا هم دخلکو ملکيت ته ملا تړي چي د بيلګي رپوټ يي وړاندي کوو:

عبدالروف مقصودي خپله عرض پانه دجمهوري رياست دلومړي مرسيتال حضور ته وړاندي کوي، چي د ۴۹۷ املاکي قبالي له مخي زما ۳۵ جريبه مځکه دبريښنا دتخنيکي اداري له خوا داساسي قانون د ۴۰ مي مادي پرخلاف غصب او تر اوسه يي ماته نه سپاري .

دجمهوري رياست دمقام لومړي مرستيال داساسي قانون د ۴۰ مادي پربنا خپل حکم، دعدليي وزارت په نامه صادروي او دعدليي وزارت دمرستيال ښاغلي هاشمزي په خپل ۱۵/ ۱/ ۱۳۸۶ نيټه حکم کي ددولت دقضاياوو رياست ته دموضوع سپيناوي حکم کوي، ولي بيا هم موضوع فيصلي ته نه رسيږي او ددولتي اړوندو ادارو ديوه اوږده بيروکراسي په لومو کي راښکيل کيږي.

او دځو هيأتو دقرار له مخي دمقصودي د ملکيت حق تثبيت دي، مګر دا چي د بريښنا او اوبو وزارت مامورينو ديو قرارداد د غير قانوني پر بنا يو چا ته په کرايه او اجاره ورکړيده، ( ارومرو به شخصي ګټي ) هم مطرح وي. واصلي مالک ته د تسليميدو نه ډډه کوي. هغه متل دي، چي وايي، دايي قباله په چا يي مني.

البته د وزير صاحب محمد اسمعيل خان علاقه هم د نظره نشو اچولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۳۰)

## دنفتو شرکت په نامه يوه جالبه درغلي

دکابل بانک دتصفيي اداري د ۱۳۹۳ کال دوري دمياشتي په پنځمه نيټه دخپل ۲۱ ،۱۴ ګڼه مکتوب کي چي دمالي منازعاتو دحل د کميسيون په نامه صادر شويدي، يو رپوټ په لاس راغلي دي چي لاندي يي خپروو:

دکابل بانک دتفصيي اداري په پورتني ليک کي ليکلي دي، چي دکابل دنفتو شرکت دکابل بانک دلويو پوروړو څخه شميرل کيږي.

هغه اسناد چي دکابل بانک له محاسبوي سيستم څخه په لاس راغلي دي په کي ليکل شوي، چي دکابل بانک دکريدت دفتر له مسوولينو له خوا ۲۱۴۵۹۱۹۹,۴۳ دالره د ۲۰۱۰ کال داګست مياشتي په ۳۱ مه دلسو حسابونو دپور خبر ورکړل شويدي .

چي له دغي جملي پيسو څخه ۱۱۵۸۰۵۸۹,۰۶ دالره اصلي پور او ۹۸۷۸۶۱۰,۳۷ دالره يي ټکټانه ده ، جالبه خو داده، چي هيڅ يوه شخصي ددغه شرکت مسووليت ته غاړه نه ږدي چي له همدي امله دکابل بانک نوموړي پور اداکول بې پايلي پاتي دي.

دکابل بانک دتصفيي اداري د موضوع دڅيړلو او مالومولو په اړوند په خپل ۱۲۸۶ ــ ۲۰۹۹ ـ ۷/ ۱/ ۱۳۹۱ شميري ليک کي د سوداګري او صنايعو وزارت ته ليکلي، چي د ۱۰۱۴۱ شميري جواز، چي دکابل نفت دشرکت پوري تړاو لري مالومات ورکړي چي داساسنامي له رويه يې محمد اسمعيل غضنفر ۳۰,۵ سلنه سهم ، خالد دنور محمد زوی چي دعطامحمد نور ورور دي ۲۵ سلنه سهم کمال الدين نبي زاده دغلام نبي زوی ۱۴ سلنه سهم، دسهمدارنو په نامه پيژندلي دي چي دغه موضوع دمالي منازعاتو دحل دکميسيون له خوا هم تعقيب شويده .

خو اکثريت دغه سهمداران وايي، چي لاسليک او دګوتي نښه يې دشرکت په اساسنامه کي شتون نه لري، نوموړي اساسنامه او جواز په درغلۍ سره جوړشويدي .

دمالي منازعاتو کميسيون په پايله کي پريکړه کړيده چي محمد اسمعيل غضنفر دي دوه مليونه دالره کابل بانک ته ورکړي.

دکابل نفت شرکت اساسنامي او جواز ته په کتو سره چي په درغلي توګه جوړشويدي.

کارپيژاندي په دي باور دي که چيري غضنفر دغه پيسي کابل بانک ته ورکړي، خو يو څه درد به يې دوا شي او که نه نو کابل بانک بله چاره نه لري پرته له دي چي نوموړي پيسي په زکات کي حساب کړي او يا دعوا و محکمي ته راجع کړي، چي کلونه به ونيسي. خو پيسي د بانکه وتلي، مګر پوره وړي معلوم ندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۳۱)

## دکرومایت د ډبرو استخراج

په هیواد کي دکانونو دغیر قانوني استخراج یوه هغه ستونزه ده، چي زورواکي له هغوي څخه ناوړه او شخصي ګټه پورته کوي ، ددغو کانونو په ډله کي هم دکرومایت دډبرو استخراج دي چي له قانون سره سم یي تړون نه دي شوي او له امله یي په غیر فني ډول ایستني دوام لري اود دولت عوایدو ته خورا زیات زیان اړوي.

دافغان کرومایت ګروپ کمپنۍ، چي ۱۲۰۰۵ جواز لرونکي ده دیوه لیک په ترڅ کي دقانون دتنفیذ ارګانونو ته دیوه لیک په ترڅ کي لیکلي دي، چي په ۳۱/۵/۱۳۸۷ نیټه یي دمیدان وردګو دبادام په سیمه کي دکرومایت دډبرو داوطلبي په غونډه کي ګډون کړي او خپل پروپوزل یي وړاندي کړیدي.

وروسته له لومړي بررسي څخه دکانونو وزارت له خوا ( میتال ویکي مینک) کمپنۍ لومړي او ( افغان کرومایت ) کمپنۍ دداوطلبي دویم وړونکي و پیژندل شوه .

وروسته مالومه شوه چي دخوست دکرومایت کان، دعبدالکریم په نامه یو شخص په اختیار کي لري چي له دووکلونو راهیسي دکرومایت په استخراج او هغه هم په ډیره ټیټه بیه لاس پوري کوي.

چي تر اوسه په دغه برخه کي قانوني کړني نه دي شوي او نه یي هم دولت ته پیسي ورکړیدي او وایي چي امنیت نشته او ټولي را ایستني په غیر قانوني توګه او دولت ته له عوایدو پرته دوام لري.

اوس دغه کمپنۍ چي دده په قول په خوست کي بریالي نه ده ، مګر بیا هم غواړي په میدان وردګو کي دخوست غوندي په کړونو لاس پوري کړي او د دولت له دغو کانونو څخه په ناروا ډول ګټه پورته کړي.

داپه داسي حال کي چي دزورواکي له امله د پوښتني "ابۍ " مړه ده ، نو ولیدل شي چي په دغه برخه کي دکانونو وزارت له خوا به کومه قانوني کړنه وشي او که نه.؟

دبدخشان کانو باندي جګړي رامنځ ته کیږي، چي دمحلي زورواکانو لخوا د لاجوردو کانې را ایستل کیږي.

دپنچشیر غرونه هم تالا شول. دا ټوله په امنیت پوري اړه لري او امنیت دحکومت په کمزوري پوري تړلي دي. داخلي مفسدین او بهرني برخمن ددي ستر علت بلل کیږي.

که موضوع په پام کي ونیول شي، د هیواد لاجورد، کرومایت، رخام، سنګ مرمر، قالین، چهارتراش او زړي اوسپني ( نظامي وسایطو) د کباړ سره پاکستان په ډیر حرص مارکیټ ورته جوړ کړي او د څو تنو ملي خائینانو او مفسدو مامورینو په مرسته د دوښمن په ژرنده اوبه ور اچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۱۳۲)

**دتوطيي نمونه**

واسع، عبدالحي، جيلاني دهرات امنيتي كاركونكي په كور كي د خپلو حساباتو دتصفيي په خاطر راټول او ناست دي، چي دفعتاً څو تنه دكنترول او تفتيش تر نامه څو تنو ښځو سره كور ته ورځي او د خپلو ورسره ښځو دا كسان د زنا په تور نيسي او پيسي هم تري اخلي .

دا كسان پيژندل كيږي چي رسميات نلري، نو د محكمي له خوا هر يو عبدالظاهر په ۱۴ كاله ، علي احمد په ۹ كاله ، عبدالخليل په لس كاله، عبدالله په ۴ كاله ، محمد علي ۳ كاله محكوميږي، مګر دتميز ديوان د ۱۲۱۰ نيټه ۹۲/ ۱۱/ ۲ قضايي قرار پواسطه په بطلان حكم كوي، چي دتحتاني دواړو محكمو د خپل صلاحيت نه بهر فيصله كړيده .

دعلاقي وړخبره داده چي ولي دا دوي محكمي په خطا تللي وي ؟

او دا بايد مجازات شي ، چي داسي اجرات دوخت ضايع او دخلګو سرګرداني سبب دي، نور به څومره غلطۍ شوي وي.

دمحكمو دفيصلوتر منځ معمولاً ډير توپيرونه موجود وي، چي د حيرانتيا سبب دي. معيار نشته، ولي قضا استقلاليت لري.

دمحكمي اشتباه دتوطيه ګرانو دفرار لامل شي، چي وايي د عالم فساد د عالم فساد دي.

پدي ډول د تميز فيصله د مجرمينو د فرار سبب وګرځيدل او قضيه په اصلاح په نخود سيا پسي ولاړه.

داؤ دتميز د محكمي يو بي تميزه فيصله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۳۳)

## دعزیز الله لودین او داکتر شریفي موازي اداري

دا دوي موازي اداري د تفتیش او کنترول وزیرانو په نامه او بله له ارتشا او اداري فساد سره د مبارزي ریاست ددولت په تشکیل کي رامنځ ته شوي، چي دفساد او رشوت سره مبارزه وکړی ، دایو پاتک دی، په عوض ددي چي ګټه ورسوي تاوان یي ډیرؤ، مامورین ککړ خلک ؤ، مګر دا اداره هم تر ټولو ککړه وه. او دیو فرمان په ترڅ کي په لویو قراردادو کي دمراقبت تر عنوان لاندي دګدون چانس وموند، ددوي مامورین ،چي پدي ډول به یي په دعواطلبي کي ګډون کاوه ، هغه باران دیده ګرګان ؤ، چي توبه ، توبه .

ښاغلی ابوالفضل نوري یو مامور، چي د وزارت دفاع او دکورنیو چارو تکړه ، تکړه فیشني جنرالان به ورته پر ګونډو ؤ. چاچي به لودین صاحب ته شکایت وکړ، لودین صاحب به ځان تیرکړ،ثبوت به یي وغوښت.

هر تدبیر به چي ونیول شو، ضرر به یي نور هم ډیره شو ،ولي چي په ریښتیا سیاسي تعهد او اساسي چاره موجود نشول.

د داکتر محمد شریف شریفي، تفتیش او کنترول ریاست په کال کي دقطعي ګزارش تر نامه لاندي یو بي ګټي تشکیل ، او دسو استفادي دپاره یو دام ؤ. پدي لسو کالو یو مستند او په زړه پوري کومه دکشف موضوع کشف نکړه، چي رامیدان ته شي، ښه جمله بندي ، ښه لغات به یي کابیني ته ور اورول، کابینه به چکچکي بدرګه کړي ، په اصلاح کابینه به یي فتح کړه ، مګر نتجه به هیڅ ؤ. ددي تشکیل او مصارف په هغه نتجه نه ارزیدل . دا تفتیش چا نشواي کولاي چي تفتیش یي کړي . داکتر شریفي راضي او هم وزیران راضي.

عزیز الله لودین داداري رئیس هم اوازي او انګازي پورته کړي، هري خواته بي سنده او بي ثبوته د ځان په ګټه تبلیغات وکارول. حرکتونه یي عقده من ؤ، کله به داکتر زاخیلوال پسي راخیستي او کله جنرال محمد اسمعیل. د ځان په ګټه به یي کار کاوه، چي شهرت پیداکړي، اساسي کار یي ونکړ. کله به یي داکتر صبا د هرات والي راشکیل کړ.

تلویزون یي ډیر خوښ ؤ، لکه بچه فلم هر ه ورځ به په تلویزون کي ناست ؤ. وروسته کي معلوم شو، چي دي هم لکه عبدالجبار ثابت صاحب غوندي دشهرت په شوق دریاست جمهوري مقام ته کاندید شو، چا رایه ورنکړه، په ډیرو رایو ناکامه او دپروسي څخه راووت. غټي خبري یي متاسفانه پایله نه درلودي، او هغه ریاست یي هم له لاسه ووت .

دفساد او درشوت دمبارزي اداره بالاخره په جوزا میاشتي وروستیو ورځو کي کال ۹۳ ولسي جرګه دا یوه شپږمه ګوته وبلل او دانحلال فیصله یي تصویب کړل، اما غلطه ستراتیژي او بیکاره پلان دناکامي سره مخامخ کړل، ددي دواړو په څنګ کی د امنیت ملي په عمومي ریاست کي د فساد سره ۸۲ ریاست تر نامه لاندي هم ریاست موجود دي. دکورنیو چارو وزارت کی د جرایم سنګین ریاست هم موجود دی، مګر بیا هم نتیجه منفی ده او شکایت لوړ دی. قصابان چي ډیر شي دابه مو حال وي. مصرف لا لوړ ځی، هره اداره خپل حق غواړي.

فساد دپخوا په شان جاري دي. داکتر لودین ته به چي چا وویل، چي غواړي ځان ګاندید کړي، دده ځواب داؤ، چي نه ! زه نه غواړم ، مګر خلګ غواړي. بالاخره خلګو هم رایه ورنکړه.

معلومه شوه ،چي دي خلګو غولولی ؤ اوده ځان غولولي ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داکتر شريفي هم په وضعيت پوه ؤ، گزاره کول او دچا سره يي ځان نه مواجه کاوه. له همدي سببه تر اوسه بي دردي سرپاته دي، گر چه د تشکيل يي هيڅ گټه نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۳۴)

## عبدالمجید زابلي دملکیتونو غصب

دباوري رپوټونو په حواله عبدالمجید زابلي چي يو وطن دوست او معارف دوست شخصيت و، نو وصیت یي وکړ چي دده ملکیتونه دي دمعارف په برخه کي وکارول شي، چي له امله یوه خیریه ټولنه د ( افغان رسانس فندیشن ) په نامه رامنځته کړه، دغه خیریه موسسه دپلان په وزارت کي راجستر شویده، د ( ۳۰۴ ـــ ۱۲۳۲ ) مورخ ۱۷/۶/۱۳۸۲ وثیقي له رويه د ۴ مي ناحیي دمحکمي له خوا تائید شویده . دزابلی جایداد په کابل، ننگرهار او هرات کي ؤ.

په هیواد کي دکورنیو جګړو او ناخوالو له امله یو شمیر فرصت طلبه او دځمکي او ملکیتونو دمافیایي کړیو له خوا دنوموړي ملکیتونه چي په کابل ننگرهار او دهرات په ولایتونو کي غصب او اوس یي ورثه او خیریه ټولنه یي له ستونزو سره مخامخ کړیده . اوس چي دولتي اداري دیته متي رابډوهلي دي، چي نوموړي ملکیتونه تثبیت او څرنگه تاراج شوي هغه تثبیت او دقانوني او حیازت ارگانوته وسپارل شي دیو اوږد بهیر پړاوونه وهي چي لا تر اوسه یي پای معلوم ندي .

جایدادونه تثبیت شویدي دیو شمیر اسنادو او وقایقو په اړوند قضا شک څرگندوي .

دستري محکمي دعالي شورا د ۷۸۶ مصوبې له مخي بنايي چي دحقوقي ادارو له خوا وڅیړل شي .

دمرحوم زابلي وصیت له مخي چي باید دنوموړي له جایدادونو څخه دمعارف په برخه گټه واخیستل شي او هغه بنیاد چي ددغي موخي له پاره رامنځته شوي، مگر محمد سلیم تره کي دهرات ښاروالي داجرا مخه یي نیسي . دمحمد سلیم تره کی حمایه گر جنرال محمد اسمعیل خان دي. سلیم تره کي هغه څوک دي، چی خپل والي داکتر صبا استعفا ته اړکړ.

دغه راز هغه قباله چي گڼه يي ۱ابر ۱۴۷۹ مورخ ۱۰/۷/۱۳۸۱ چي دانجبل دولسوالي دابتدائیه محکمي له خوا دتزویري اسنادو له مخي جوړه شوي او فریبا نومي چي دحاجي غلام احمد لور ده پرته له دي چي د پلورني دقانوني وکیل له خوا هبه شي. هغه باطله او دمحکمي له خوا يي حکم صادر شي او نوموړي ملکیت چي عامه ملکیت گڼل کیږي فریبا چي محمد اسمعیل خان داوبو اوبریښنا د وزیر ښځه ده وایستل شي او ددولت تر تصرف باید لاندي راشي . دزابلی دملکیت دتثبیت دپاره دده خانم ، فریده نومي هري خواته هلي ځلي کوي، چي د زابلی وصیت پرځای او داجایداد دښووني او روزني وزات ته وسپاري.

له دي کبله چي دزابلي ورثه په امریکا کي ده، دمرحوم دهرات ملکیت سلیم تره کي نیولی دي.

دکابل جایداد اکثره ددفاع وزات غصب کړیدی، دکام دفانتا او کولا شرکت، پارتمانونه، دوکانونه او سرایونه هم دهر چاچي وس شویدي، دهغو په لاس کي دی. دپغمان جایداد او چاراسیا هم خلکو نیولی دي.

جنرال محمد اسمعیل خان ، چی قباله یي دخدیجي د عبدالمجید زابلی د شیخ فاني لور څخه داخیستلو دعوا لري، مگرعزیز الله لودین دفساد اداری رئیس ډیر سوری او چیغي ووهلی. او دامعامله شفافه نه بولي.

ثرایا د عبدالرحیم ولد زابلي خانم د خدیجي لخوا دا معامله رد وي.

ثریا دعبدالرحیم زابلي میرمن دعبدالمجید زابلي مړور د خدیجي نومي لخوا معامله په کلکه ردوي، چي دمحمد اسمعیل خان دخرید ادعا یوه پلمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۳۵)

## ناوړه ګټه اخیستنه

دحج او اوقافو دمامورينو په هکله ، دباوري رپوټ په حواله ددندي له صلاحيت څخه ناوړه ګټه د حج په عملياتو كي،چي دهر يوه عطاالرحمن سليم دملک محمد زوى، سيد جمال دعصمت الله زوى، سيد ابراهيم حکمت دسيد محمد ناصر زوى، مولوي عبدالمعبود دحاجي عبدالروف زوى، شمس الحق دمحمد هاشم زوى، محمد قسيم دشزاد ګل زوى، محمد مسعود دګلزار زوى، ميرواعظ دمير احمد زوى په تور، چي قضيه دتحقيق له تکميليدو وروسته دکابل ولايت دعامه امنيت دمرافعي محکمي ته راجع او دنوموړي محکمي د ۱۳۸۴ کال د ۲۲۳۰ فيصلي له مخي، هر يو په يوه کال او دوو کلونو بند او دخساري د پريکولو په حکم محکوم شول ،چي بيا دغه فيصله دايستناف دمحکمي له خوا تائيد شوه .

تورن کسان وروسته د ۱۲۶ ــ ۲۰/۱/۱۳۸۴ او ۱۲۷ــ ۲۶/۱/۱۳۷۴ ګڼه فرمان له مخي ددي سزا نه معاف شول.

کيسه داسي ده، چي نهه مليونه افغانى د وخت د وزير له خوا د بعڅه پلاوي له پاره په سعودي عربستان کي د روح الله نام معتمد په وجه کي حواله او بيا وروسته مسعود نومي موقتي خزانه دار ته ورکړل شوي وي.

پيسي ورکي او مجرمينو سزا ونه ليدل.

کوم اصل چي وايي دسزا د مجرم د زجر او دنورو دعبرت سبب شي، مګر که دا ډول د مجازات معافيت وى، خود به نورهم خيانت تشويق شي، داهم بايد وويل شي، د عفوى فرمان په ساده ډول نه دى صادرشوي، زورمندانو به ارومرو پکي رول درلود، پدي موضوع کي دمحترم مارشال فهيم صاحب د نفوذ نه کار واخيست، آن مقاومت يي کاوه. کله چي به يي خبره ونه منل شول، جهاد به يي مخ ته کړ او دا اعتراض به يي کاوه ، چي ( مجاهدين به اشه وکنار تيله ګرديده است ). داچي عدالت او يا قانون خدشه داره کيږي، نوموړى مارشال يي څه پروا نکوي.

هغه متل دي چي دلته : « په هر چيز بازي حتى به ريش بابا هم بازي .»

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۳۶)

## دستري محكمي تجارت

ډير كلونه پخوا دعبدالرحيم هاتف چي د ډاكتر نجيب مرستيال ؤ، دكمونستانو په وخت كي د ډير ضرورت پر بنا دمخابراتو د وزارت يو دري منزله تعمير د مخابراتو د وزارت مربوط د ۱۲۸۷ ـــ ۷۰/۱۱/۱۹ فرمان په ترڅ كي ستري محكمي داستناف محكمي ته فقط دګتي دپاره وركړ، چي صفايي او نور مصارف يي تر اوسه دمخابراتو د وزارت لخوا تاديه كيږي. مګر پدي ورځو كي داتعمير دموقيعت دارزش په خاطر چي شاهزاده سراي او منډيي منطقي ته نژدي او فوق العاده تجارتي ارزښت لري، ستري محكمي دمخابراتو وزارت داجازي او موافقي نه پرته ځو تنو صرافانو باندي خرڅ كړيدي، چي هغه كسان به دلته ۱۷ منزله تعمير جوړوي .

تبصيري ډيري اوريدل كيږي، صرافانو سره معامله هم ساده نه وي ، پدي موضوع دلكو دالرو بحث دي .دنوي تعمير ابادي د نجيب الله اختري ، فريدون،شيرشاه او نور اجرا او په كار پيل شو.

هغه متل دي چي وايي : ( اگر نباشد چيزيكي ، مردم نگويد چيزها ) . منطقي استدلال هم داحكم كوي ، كه احياناً دا ملكيت دستري محكمي وي ، ايا ستره محكمه داحق لري ، چي دولتي ملكيت په شخصي ډول بيله دعوا طلبي خرڅ او يا اجاره كړي ؟

بهرني تبصيري همدا دي ، چي معامله كي دستري محكمي د اداري امر عبدالمالک كاموي لوي نقش درلود ، مګر پوهاند عظيمي هم په ګټه ښه پوه دي. بالاخره دمخابراتو وزير انجنير اميرزي سنګين دخپل حق دپاره سر ډبري ته ونيوي . انجنير هم پدي ګناه ونيول شو چي قاضي القضات يي په رسمي ليک لمبر ۳۰۵ ،نيټه ۹۱/۱/۱۷ مافيا خطاب كړي ؤ، معامله ورسوايي ته ورسيدل، پوهاند صاحب عظيمي بيا هم دپيسو دخوړلو په فكر كي شو . صرافان خو دومره خواره شومه نه وه ، دستري محكمي اداري رئيس حاجي محمد يعقوب د پوهاند قاضي القضات وراره يي په دي تهديد كړ چي مطبوعاتي كنفرانس غواړي ترتيب كړي ،چي بيچاره صرافان دوپه شويدي ، دبل مځكه پر خرڅه شويده ، حاجي محمد يعقوب دستي لاس په كار شو، يوځه پيسي مسترد شوي ، مګر يوځه لږ هم پاته دي . وزير دخپل مافيايي خطاب چي قاضي القضات ته يي كړي ؤ ، ددي اعتراض نه ونه ډاريدي .

دابايد ووايم چي دي وطن كي هرڅه ممكن دي، ستره محكمه هم غواړي چي تجارت وكړي .

دابه وايو چي: " اگر كفر از كعبه خيزد كجا ماند مسلماني ".

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۳۷)

## د پنجشیریانو په نامه یو لیک

د ډاکتر عبدالله عبدالله د ټاکنیزه دفتر د پنجشیرو خلکو په نامه یو لیک رسولي، چې له ورایه د پنجشیریانو دځان غوښتني مفکوره له ورایه په کې ځل وهي او پنجشیر یانوته په ډاګه سپارښت کوي، چې خپل اتفاق وساتي اویا دونه کوي، چې باید په حکومت او دولت کې خپله ۳۵ سلنه ونډه وساتي.

موږ ددغه لیک ژباړه خپروو، تر څو افغان وربا ندي قضاوت وکړي. ایا دا به ریښتیا وي که نه ؟ اما په خپل منځ کې یو څه لري.

د پنجشیر مسلمانو خلکو:

اسلام علیکم ورحمت الله وبرکاته:

لکه چې موږ د لوي سپه سالار احمدشاه مسعود د فکر او آرمان لارویان و او په دي کې هیڅ شک نشته ، کله چې سپه سالار احمد شاه مسعود د جهاد او مقاومت لاربنوونه په غاړه لرله ، موږ د هیواد او استقلال له پاره له هغه سره په یوه سنګر کې وو او لاهم دهغه غوښتنو او ارمانونو ته پا بند یو.

تاسو شاهدان یي، چې په دي ورځو کې ځیني د سپه سالار شهید له نامه او نیږ د یوالي څخه په ګټي اخیستني سره غواړي، چې د جهاد او مقاومت د سنګر والو په وړاندي د سیسه او توطیه وکړي.

احمد ضیا مسعود چې د احمد شاه مسعود ورور دي دا یوه ربښتیا خبره ده ،خو ورور ګلوي په دي مانا نه ده ،چې کولاي شي دهغه لوړ آرمانونو استازي تو ب وکړاي شي.

د سپه سالار د قیادت او لاربنوني له امله د پنجشیر ولسوالي ولایت ته پورته شوه، د ۳۵ سلني په شاوخواکي د حکومت لوړ پوړي چارواکي پنجشیر یان دي، نن ورځ پنجشیر د ولایت له کچې پوري تللي دي او لکه قندهار ددولت په تصمیم ګیري کي شریک دي .

پرون داسي تصور کیده ، چې که د کندهار خلک له چا سره نه وي هغه حکومت کو لاي نه شي ،نن ورځ د غسي تصور په پنجشیرکي دي، پنجشیر د لاربنوني په کچه د افغانستان د لوړو قومونو په کتار ګي را ځي. تا سو ویني چې نن ورځ د افغانستان تاجکان د پنجشیر له هویته پرته په هیڅ کي وي. پنجشیرنن په یوه داعیه بدل شوي، دغه داعیه او لاربنونه د افغانستان د یوه شریف قوم ده، د افغانستان ټول مجاهدینو او د مقاومت ځواک کي د پنجشیر لاربنونه قبوله کړیده.

خو په دغسي یو وضعیت کي ځیني د جهاد او مقاومت دبي بدیل رهبر له نامه څخه په ګټي اخیستني سره د پنجشیر د خلکوپه وړاندي درېږي.

هغه چا چې د احمد ضیا او جنرال جرئت په سپارښتني زلمي رسول ته رایه ورکړه څه فایده یي وکړه، پرته د احمد شاه مسعود د سنګردارانو له بي اتفاقي.

دغه ډله لاهم د کدورت او نفرت په فضا کي له موږ سره ژوند کوي ،غواړي چې داځل ستاسو رایي د اشرف غني احمدزي په لمن کي واچوي. هغوي د جهاد او مقاومت داعیه په زړه کي نه لري، یوازي د قدرت له پاره مبارزه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ځکه له تاسو غواړو چي له هغوي سره يو ځاي نشي او پنجشير چي د نيم افغانستان لاربنونه په غاړه لري ټوټه ټوټه نه کړي.

مړه دي وي د جهاد او مقاومت دښمنان

ژوندي دي وي پنجشير د شهيد سپسالار زيږن ځای . نیټه ۲۰۱۴/۵/۲۰

دډاکتر عبدالله عبدالله ټاکنيز دفتر

چي په پاي کي د ولايت د مرستيال له خوا داسي ليکل شوي.

وکتل شو: د ولايت مقام د شفاهي لاربنوني سره سم د حج او اوقافو رياست دي ددغه ليک متن د ټولو جومانونو د جمعي ورځي خطيبا توته وليږي تر څو هغوي دغه ليک تبليغ کړي.

د امنيه قومانداني دي ددغه متن کاپي دغو خلک ته خپور کړي.

لاسليک

نو اوس قضاوت خلکو ته پريږدو چي چا جهاد وکړاو ګټه يي څوک وړي ؟ دداسي نيت نه څه نه جوړيږي. که دا ډول خودخواهي اوسيمه ييزي ګټی مدنظر وي، دوطن وضعه به څنګه سمه شي ؟ نوره کړه خوله په سوک سميږي. کشر بايد لجاجت ونکړی،اومشر ورور خپله لمن همدا ډول پراخه وساتي. وحدت ملي يوازي د صداقت او باور دلاري راتلای شي او دراتلونکي تضمين به کوي، نه دا ډول ليکونه، که ريښتيا وي.

دجنرال ګروموف سره پرتوکونه هم د تاريخ سره ثبت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۳۸)

## د ایران فرهنګي یرغل

زمونږ پر هیواد کلتوري یرغل او لاسوهني کومه نوي خبره نه ده، بلکی دغه یرغل له کلونو کلونو راهیسي ایران زمونږ په فرهنګي برخو کي دخپل یرغل لړي د خپلو بریڅو له لاري، ساتلي او په دي ډول غواړي چي خپل عمال او امیال زمونږ په هیواد وتپي.

دپیژواک خبري آژانس د ۱۳۹۲ کال د غوایي د میاشتي په نهمه په یوه رپوټ کي ولیکل، چي د افغانستان په علومو اکادمي کي د ایران حکومت نفوذ کړي او په زیاترو برخو کي مداخله کوي.

د افغانستان د علومو اکادمي، چي د ۱۳۵۷ کال دکمونستانو په وخت کي د پښتو ټولني او د تاریخ ټولني آریانا دایرت المعارف او د پښتو د پراختیا او تقویي دریاستونو د یو ځاي کیدوله امله رامنځته شوه.

د علومو اکادمي په اډانه کي د ټولنیز ژوند علمي څانګي وجود لري، چي څلور علمي رتبي ورته په پام کي نیول شویدي.

د علومو اکادمي بشپړي دندي د هیواد د ملي اقتصاد دځواکمن کیدو د فرهنګي پرمختیا او رغاوني د علمي څیړنوپه لاراچول، د اوبود سرچینو، خاوري، د هوا د ګرموالي ، انرژي، منرالي توکو او دطبعي نور موادو په اړوند دعلمي تحقیقاتو په لاره اچول یي نوري دندي جوړوي.

یوه تن هیواد وال چي ونه یي غوښتل چي خپل نوم واخلي، د پژواک خبري آژآنس ته وویل : په تیر کال کي کله چي استاد رباني دسولي د عالي شورا پخواني رئیس د(اخوت اسلامي) کنفرانس کي د ګډون په موخه ایران ته تللي و،نومونږي سره په سفرکي سرمحقق عبدالباري راشد ملتیا کوله، خپلي فرهنګي اړیکي یي د ایران له کلتوري اتحاد یو سره ټینګي کړي او وروسته له هغه د ایران مداخله په علومو اکادمي کي زور واخیست.

هغه زیاته کړه ،چي اوس د ایران حکومت د علومو اکادمي یو زیات شمیر غړوته ځانګړي معاشونه ټاکلي او سربیره پرهغي کله ناکله نغدي مرستي هم ورسره کوي.

دغي سرچیني وویل: چي د تیر کال دزمري په میاشت کي د( سهم ایثار وجانفشاني در استقلال) تر نامه لاندي سمینار کي چي د ایران په مالي مرسته د علومو اکادمي د ځینو غړو له خوا په لاره اچول شوي و، د ( در سهاي از تاریخ) په نوم کتاب په کي وویل شو، چي په ټولنیزه توګه د افغانستان له هویت او تاریخ پر ضد لیکل شویدي.

دغه راز یو زیات شمیر تلویزیونونه او راډیوګاني هم د پردوپه مالي مرسته چلیږي .

امریکا او انګلستان هم معاش خوړونکي لري او یو ناماهم ځیني کسانو ته لکه ګلاب زوی، احمد سعیدی، یونس فکور، سلیمان لایق، وغیر..... مستمري معاش ورکوي.

ځیني ورځپاڼي او جریدي د خمیني عکسونه او ایراني خپروني کوي.

د علومو اکادمي نو موړي غړي زیاته کړه، چي په یاد سمینار کي د خامنه یي عکسونه نمایش ته ایښودل شوي و، چي زمونږ په هیواد کي د ایران د مداخلي ښکاره بیلګي دي.

د تیر کال په جریان کي دري سمینارونه د ایران په مالي مرسته جوړ شوي ، چي یوه یي هم قانوني صبغه نه درلودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړي وويل د قانون له مخي هيڅ يوه اداره صلاحيت نه لري، چي د بهرنيو چارو وزارت له لاري پرته بهرني ډيلوماتان دعوت کړي او يا له هغوي څخه مرستي تر لاسته کړي.

نوموړي داهم وويل (درسهاي از تاريخ) ، چي په نوموړي سمينار کي وويشل شو، د افغنستان تاريخ په کي مسخ شوي او د افغانستان پنځه زره کلن تاريخ يي جعلي بللي دي او افغانستان يي د ايران د خاوري يوه برخه بللي ده.

د علومو د اکادمي دغه غړي وړانديز کوي ، چي د علومو اکادمي مشر تابه پلاوي بايد بدل شي او هغه اشخاص يي په ځاي وګمارل شي ، چي وطن دوست او د بهرنيو له کړيو څخه آزادوي، که چيري داکار ونشي، لري نه ده، چي د هيواد د اصيل تاريخ کتابونه ورک او ياوسوځول شي او پرځاي يي د ايران کتابونه په علمي مرکزونو او پوهنتونونوکي د استفادي وړوګرزي.

د اکادمي يوه بل غړي چي خپل نوم يي ونه ښود پژواک آژانس ته وويل : چي د ايران فرهنګي اتشه په او ونی کي دري څلور ځله اکادمي ته راځي او له مشرانو سره خبري کوي او په سمينارونوکي يي د امريکا پرضد شعارونه ورکول.

او احمدي نژاد ايراني جمهور رئيس هم دډوډي خوړلو د ميز پرسر په ډيري بي حيايي سره زموږ هيواد اشغال شوي هيواد وباله. خو افغان ولسمشر په خپل بزرګواري او افغاني کلتور پربنا له زغم څخه کارو اخيست .د علومو اکادمي د نوموړي غړي له وينا سره سم په ؛ کتاب درسهاي از تاريخ ؛ نومي کتاب کي هڅه شوي، چي افغنستان د ايران يوه برخه معرفي کړي او د آريانا او خراسان نومونه يي دروغ او يوه افسانه بللي ده.

ددغه کتاب يوجلد د پژواک نماينده ته هم ورغلي ، چي داسي ليکني په کي شته چي د هيواد د ملي يووالي ته زيان اړوي.

ددغه کتاب له موضوعاتو څخه يوه يي هم د نوموړي کتاب ۴۱ مه پاڼه ده ، چي په کي ليکل شوي( نام افغانستان براي نفوس بخش اين کشور قابل قبول نيست و يک ګروه مردم به خاطر زمامداري قومي خود انرا برديګران تحميل ميکند که اينکار هويت ملي افغانستان را مغشوش نموده است).

نوموړي زياته کړه ، چي په علومو اکادمي کي د افغنستان د هويت د مسخ کيدو په کار کي په چټکه توګه هلي ځلي کيږي، چي په دغه اړوند غونډي او دسيسي رواني دي.

نوموړي زياته کړي، چي څومياشتي د مخه د اهل تشيع يو ملا د يوه کال په ترڅ کي ورته دماستري فوق العاده سند ورکړل شو، چي د ايران سفارت له خوا علومو اکادمي ته وروپيژندل شوي و، چي اوس د علومو اکادمي د څيړنو په برخه کي غړيتوب لري .

په دي ډول د ايران کلتور واردات لغتونه لکه دانشګاه ، دانشکده، دادګاه ، دادستان دوام لري او آن دا چي مياشتي لکه خرداد، اردي ،بهشت او نور کرار کرار را رواج کيږي، خو عبدالباري راشد دغه ډول څرګندولي ردوي.

کوم مهاجر افغانان چي په ايران کي ميشته دي، يوازی اهل تشيع افغانانو سره دتعليم په برخه کي مرسته کيږي، اونور افغانان دتحصيل چانس نلری. او وخت چي دضرورت شي، افغانان دعراق جګړي ته استوي. حتی زموږ په سياسي تصميم ګيری کي ددوی ( پيرسوخته ) سفير ظهره وند مداخله کوی، لکه څه وخت مخکي دمشرانو جرګي مسلميار مشر ته دامريکا دستراتيژي قرارداد په هکله په ډير بي حيايي سپارش کاوه.

دطالبانو په وخت کي هم ددوی ۱۲ تنه جاسوسان دډيپلوماتو تر نامه لاندي بلخ کي فعاليت کاوه، چي طالب يی په داد ورسيدل. دهغو په نامه استاد عطانور غوښتل چي يو واټ ددوی په نامه ونموي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکابل په جنوب کي د ( توانمندي) په نامه يو کلينيک د دولتي امنيتي ادارو د اجازي پرته جوړ کړي ؤ، چي دايران سفير به يي ليدو ته په منظم ډول تګ او راتګ کاوه، چي ديو ( لانه جاسوسي ) ډول يي کاوه. دهغه د منځ په وړلو کي دايران سفير ډير ممانعت کاوه.

دافغان ولس دپاره ډير دقت او احتياط په کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۳۹)

## انور ډنګر :

محمد انور دنګر دشمالي دشګر دري يو شجاع او دلاور جهادي قومندان ؤ، چي دهيواد استقلال او جهاد کي مخ کش قومندانيکړيده.

کله چي دکورني او بهرني کمونستان او ملحدينو ماتي وخوړل، قومندانانو دخود خواهي، جاه طلبي او شخصي اغراضو او شخصي ګټو پر بنا يو دبل سره ومښتل او يو پر بل يي هيڅ ډول ترحم نه درلود . د ولس په قضاوت د بدبختی په راوړلو کي دڅور اتمه ، دڅور داومي چندان کمي نه درلوده. په زرو کسان بي عزته او ووژل شول، ډير خرابي او ناخوالي راغلل ، او عمده علت په کي همدا دقومندانانو بي علمي او پر پردو مينتوب ؤ، جهاد بي ارزش او سپک شو .

قومندان محمد انور ډنګر ، هم لکه نور قومندانان دجهاد په وخت کي به هم ممکن مخالفت کړي وي او يا دخپلو قومندانانو سره په مخالفت کي مخامخ ؤ. دامخالفتونو چي دجهاد په ختم کي داستاد برهان الدين رباني په دوران کي اوج ته ورسيدل ، چي عمده علت داستاد بي کفايتي،حرص او خودخواهي ؤ ، چي د ليکني تفصيل يي دلته دحوصلي نه وتلي کار دي، کتابونه په ډک شول . که طالبان نه واي هغه حالت به تر اوسه دوام درلود، طالبانو دا دور ( شر او فساد ) وباله، او افغانستان يي دتجزيي نه وژغوري او هر يو يي پرځاي کښينوي، عزت او ناموس دارای يي اعاده کړه، البته چي طالبانو بيا نوري ستونزي لرلي.

ما چي کوم څه اوريدلي دي ، محمد انور ډنګر به ګرم وي او يا نه ، دهغه سره دناروا کارو ته دلوستونکو پام را اړوم .

دافغان قوم بيچاره پوښتنه هم بيله هغه څوک نکوي، البته افغانان په خپل منځ کي يو پر بل باندي دريغ نه کوي، چي پدي لړي کي ډنګر هم په پيشاور کي ترور شو، او تر شا يي شتمني او مراث ( کور، باغونه) پاته شول.

درژيم لومړي ورځي وي چي امان الله ګذر دشمالي تلوالي قومندان په حق او نا حق بيله سنده دقرض دعوا وکړه، چي دمارشال فهيم ددولت موقت مرستيال لخوا تائيد او دټولو ملي او بين المللي او نورنمونو خلاف ۳۶۰ ـــ نيټه ۸۱/۲/۱۵ د ډنګر دټوله دارايي او جايداد دصادري او ضبط فرمان دمحکمي پرعنوان صادر کړ. د ډنګر اوه قلمه ملکيت په جمله کي د دشهرارا دباغ زنانه څنګ ته تعمير او پارتمان هم شامل ؤ، محکمي خپل استقلاليت دنظر وغورځول او دحق او عدالت نه پرته فرمان ديو قرار قضايي په ترڅ کي ومانه او حکم صادر کړ. دقضاوت پوهانو سراج الدين، عبدالرحيم ګلبهاري او مولوي عبدالبصير فيضي لاندي لاسليک کړ. دارايي او جايداد امان الله ته تسليم ورکړه شو.

مارشال صاحب دقانون ، شرعيت ، عدالت، او بشريت خيال نساتي. ډنګر ممکن ددي ميراث دپاره وژل شوي وي. مګر اصلي اوازي دادي، چي ډنګر د طالبانو خوا ونيول. او امان الله ګذر ورور يي دخبرو پلمه دعوت او طالبانو ته په لاس ورکړ. دده ترور او دجايداد ضبتيدل دګذر د ورور دپيښي سره تړاو ورکول شوي وي، البته چي داعمل يو نامردانه عمل ؤ.

اما دولت او حقوقي نظام او د قانوني تګ لاري له نظره غورځيدلي ده.هرڅه چي کيدل، بايد د قانون په چوکاټ کي عملي شوی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۱۴۰)

## د پردو دمبایلو دنمبرو څخه ناوړه ګټه

عبدالقیوم په ارباب سره مشهور ، اختر محمد، عبدالرحمن دسیم بکس په نصبولو سره دابرار الله مراد دننګرهار د ولایتي شورا د وکیل په شخصي کور کي متهیم شول، چي د پردو دمبایلونو څخه ناوړه ګټه پورته کوي .

لومړي دري کسان دکابل دښار دلمړي حوزي له محکمي په ۲۸ ـــ لمبر او ۹۱/۲/۳ نیټه په پنځه، پنځه میاشتي حبس محکوم شول ، ولي چي غریب ؤ.

مګر د ولایتي شورا وکیل ښاغلي اربرار الله مراد له دي کبله چي نفوذ درلود چا بازخواست ونکړاي شواي. او تر اوسه دپولیسو لخوا مراعتآ دستګیر نه شؤ. دکورنیو چارو وزارت هم پدي هکله کوم علاقه ښکاره نکړه، البته پدي پوه یوو، چي دقانون تطبیق یوازی د غریبانو دپاره دي.

ناوړه ګټه په بله ګټه بدله شي. دځینو کسانو جلب دپولیسو دپاره یو دوامداره ګټه ده، چي په هر مراجعه کي پیسي اخلي او اداري ته پلمه کوي، چي پیدا یي نکړ. که یي راولي او که یي نیسي، اوامر اجراکړي. څرګنده ده ، چي دعایداتو چینه په ټپه و دریږي.

حاجی ابرار د حاجی ظاهر قدیر ملګری دي. په ۱۳۸۹ کال کي د کابل په خوشحال مینه کي همداسي دمبایل قضیه ؤ، چي انجنیر یي پاکستاني ؤ، دکانادا څخه راغوښتل شوي ؤ، دي قضیه کي هم حاجي ظاهر قدیر علاقه ښکاره کول. دا دحاجي ابرار دجلال اباد قضیه هم ممکن د کابل دقضیي دوام وي، ولي چي مجرمین هم په هغه یو جرم کي تخصص او تجربه لري او تل هغه تکتیک عملي کوي.

مثلاً کیسه بر هیڅ وخت قطاع العریق نه وي او یا برعکس قطاع العریق کیسه بري زده نه وي.

غریبان زندانیان شول، معتبره او واسطه لرونکي ازاد ګرځي.

زموږ هیواد د هر ډول جرم ابتکار ته زمینه برابره ده او نوي، نوي جرمونه منځ ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال ( ۱۴۱ )

**گندم نما جو فروش**

شریکه او ګډه ګټه سړي سره نژدي کوي او یو پر بل یي اعتماد هم ډیریږي ، تکراري موضوعات نور هم باور را ډیره وي.

دروغتیا وزارت په ۱۳۹۱ کال کي د ۱۲۷۱۹۶۴ افغانۍ په بیه ۱۳ قلمه کالي داحسان عمران خیل سره درانیولو قرارداد وکړ. مامورین یو خاص مهارت لري، هرڅه ته لار موندلای شي . مثال

درابعه بلخي او استقلال روغتونونو ډاکټران د مواد دبي کیفیتي نه شکایت کوي، اما څوک دي چي دبیچاره داکترانو عرض او شکایت ته غوږ ونیسي .

دفساد دپاره دګمرګ او د کرسي دسر قلفي په څنګ کي تر ټولو مهم دفساد سرچینه قرار دادونه ؤ، چي کشف او ثبوت به یي مشکل ؤ ، دهر قرارداد شاته په لوي لاسونه متنفذان او زورګویان او لوړ پوړي چارواکي ه ولاړؤ، البته چي ګټه به سره شریکه وه ، مثلاً : دکابل ښاروالي دښار د څلور دروازو قرارداد دحاجي کاتب سره ، چي باید ښاروالی ته ۴۰ په سلو کي ورکړي . دعایداتو یي ۴۰ په سلو کي د حاجي کاتب په لاس کي ؤ ، البته دیو سلو عایداتو ۴۰ په سلو کي یو مبلغ دي او د دوه سو، پنځه سوه ، ۴۰ په سلو کي بل مبلغ دي.

دا دوامداره عاید ؤ ، حاجي کاتب پنجشیري د مارشال فهیم دترور زوی او یا کوم بله خپلوي لري.

حاجي کاتب حساب او کتاب چا ونشوای کولای، چي برسی کړي ، یا داچي پنجشیری دي، کافي بلل کیږی، ولي هر پنجشیرئ شورای نظار دي ، او هر شورای نظار مجاهد او دمقاومت غړی او دامرصاحب شهید اوتوماتیک دوست دی، څوک تر سترګو پورته ورته نشي کتلای.

طالبانو به داکسان ( شر او فساد ) بلل، همدا کسان دجهاد له برکته هم قدرت وموند او هم ثروت.

کوم مارکیټونه چي حاجي کاتب ښاروالی سره د قرارداد پر بنا پخپل مصرف جوړکړي او بیا د هغه مارکیت څخه ښاروالئ ته هغه ۴۰ سلنه ګټه ورکوي، بي حسابه او بي کتابه د عایداتو چینه ده، چي څوک پوښتنه نشي کولای.

حاجي کاتب هغه کس دي چي هم زور لري او هم زر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۴۲)

## دجهاد اعلان

عبدالجبار ثابت د رایو اخیستلو په منظوري دفساد پر ضد د جهاد اعلان وکړ، بیله دي چي وخت ضایع کړي د ګټي وټي منظور د وحشت او دهشت فضا رامنځ ته کړه . تر ټولو د عزت په کسانو پسي ګرځیدي .

همدا وجه وه چي دعزت دساتلو په خاطر نور ماله رشوت څو چنده لوړ پورته شو، دده ژوند هم ژر تغیر وموند ، د دریم مکرویان د ۶ منزلي پارتمان کرایه د ۳۰۰ دالرو کرایه په وزیر اکبرخان شنه سیمه کي په مجلل کور بدل شو.

د کابل ښاروال روح الله امان ورته چاره سازي وکړه ، نوموړي ثابت په خپل کار کي ډیر ماهر بي لحاظه و سور سترګي ؤ، ولایاتو ته یي لشکر کشي طرحي کړي، هر ولایت کي یي کارنامي جوړي کړي ، دهغه زمري کیسه یي کوله ، لومړي به یي وژي او بیا به یي حساب کاوه ، ده به لومړی زندان ته اچول او بیا یي تصفیه حساب او تحقیق کاوه او هرات ولایت ته به د ۳۰ یا ۴۰ کسیزه لشکر په سرکي حرکت وکړ او مطبوعات د پاره به یي مواد تهیه کول، ولس دفساد په مقابل کي د اجراتو تنده لري، مګر تر یو وخت پوري باور راتلو. دده مرستیال نادر په چور مشهوره ؤ، چي دده ملګري به یي کول.

د مثال په توګه دنوموړي لشکر کشي دده مرستیال جنرال نادر کیسه را اخلم ، چه دده دلشکر کي مخ پر جلال اباد وخوځید . جنرال نادر چور د سروبي نه تر تور خم پوري ټوله د تیلو پمپونه پدي پلمه چي اوبه یي د نفتو سره ګډ کړیدي مهرولاک کړل ، نه ثبوت شته او نه بازخواست ، په ښار او ولایت کي یوه لویه غوغا پورته شوه، خلک په تنګ شول، عاجل اجراتو ته اړه لیدل کیږي . ثابت خپل داجراتو مرکز او قرارګاه د حاجي ظاهر قدیر په کور کي ونیول . تر څو چنده ټوله او پیسي د دالرو په حساب راجمع شوي، هر پمپ والا خپله برخه ادا کړه ، وساطت وشول، پیسي تاوبالا شوي، موضوع په خیر او خیرت سره حل شول ، مګر دا پیسي دجنرال نادر چور سر وخوړ. په فیصدو کي بي اتفاقي رامنځته شوله، نادر باندي بي اعتمادي راغلل او برطرفه شو، چور پوره ۵۰ فیصده غوښتل، مګر ثابت صاحب ودي ته چمتووالی نه درلود.

ثابت صاحب دخپلو اهدافو دپاره یو معتبره مافیایي ګروپ چي ده غوندي شخصیتونه پکي وه جوړ کړ، چي عبارت وه د داکتر عبدالله لغماني دامنیت ملي مرستیال، دکابل د قومنداني جنايي مدیر جنرال علیشاه پکتیا وال، محمد حلیم حلیمي دستري محکمي دتفتیش رئیس، د اداره امور مرستیال رویدار، داکبر بای هلک او ښکلي زوی ، ندا کیان ، د لسمي حوزي امر ډګروال محمد قسیم، وکیل بیدار ځاځي ، پدي کړئ کي هر یوه خپله دنده درلوده. ثابت صاحب دکندهار دوالي اسدالله خالد، کله چي هلته په لشکر کشي ولاړ، څلور سوه زره دالره، د صرافانو راجمع شوي پیسي جیب ته کړی، لیکل شوي سوالونه بیرته واخیستل، داؤ جهاد.

دا مصیبت تر څو میاشتو دوام وکړ، تر څو نوموړي ایشتیا نور هم چاغه شول او جمهوري ریاست ته کاندید شو او دحقاني دګروپ لخوا اختطاف شو، مګر دي هلته څه مات شو چي جناب جرئت تر ګنډو لاندي کړ، تر څو څه اصلاح سو. په لږ وخت کي د ډیرو پیسو خاوند شو. دامریکایانو کاندید ؤ. ډیري نکاحوي یي کړیدي، یو د بربریت دوره یي راوستل، چي څه نشوای ورته ویلای، قانون ده پخپله تر پښو لاندي کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۴۳)

## ابتکار په خیانت کي

دحاجي ذبیح الله شرکت دنور اغا دریور پواسطه د ۹۲/ ۲/ ۸ نیټه (۲۸) ټنه تیل دکابل نه بار او دکندهار پر لور حرکت کوي.

بالاخره په یوه پلمه او بله پلمه ، کله په میدان وردګ کي او کله په غزني کي ځان د محافظت عامه د قطار شاته کوي، ترڅو په یو مناسب فرصت خپل دتیلو ټانکر د چسپکي ماین پواسطه اور ور اچوي.

کوم تیل چي یي لا پخوا د میدان وردګ په تور بازار کي په خرڅ رسولي دي.

کله غواړي چي جوړجاړي وکړي، کله دشرکت مالک دموضوع د تصفیي نه ځان پټ کړي.

اجراات معلوم ندي، چي مسؤل کسان مجازات شي او دریور ځان ګوښه کړیدي.

داسي پیښی او یا توطیي ډیري اوریدل کیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۴۴)

## غصب په ۱۱ راکت لواکي

غصب یوه سراسري پدیده ده، چي تر اوسه یي مخنیوی ندي شوي.

غصب د زورواکانو ( بدماشانو ) لخوا په انفرادي ډول د فرد شخصي مځکو، دولتي مځکو، کله ، کله دولت هم دخلګو دمځکوپه غصب اقدام کوي، چي شمیر یي میلونو هکتارو ته رسیږي.

دلته زه د ۱۱ راکتي لوا د مځکو د غصب جریان عرض کوم. ددي لوا مځکي څرنګه چي دود دي، دافسرانو او دافسرانو دخپلوانو لخوا ددي لوا مځکي تالا شویدي.

دا کسان یا غاصبین پیژندل شویدي. او پدي هکله د ریاست جمهوري دمقام ۵۷۰۵ ـــ ۸۵/ ۴/ ۶ لمبر فرمان هم صادر شویدي.

څوک دي چي دا افسران دحق او یا بازخواست دپاره را حاضر کړي. آن دریاست جمهوري مقام ته مجدداً شکایت هم شویدي، د چا زور برابر ندي، چي دحق پوښتنه وکړي.

جرم ثابت دی او مجرم معلوم دی، مګر افسران به د قطعي نه څوک راکش کړي؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۴۵)

## په بریښنا ریاست کې فساد

د وږي په ۲۸ نېټه کال ۹۳ ، دخاصې خبرونو بولټن د څارنې او ارزونې ګډه کمېټه ، چې سیګار هم نومیږي د مشر ښاغلي ( دراګوکاش ) دخولي داسې لیکي : زورواکان په اندازه د ( ۹،۱) ملیارده افغانۍ د بریښنا له درکه پوره وږي دي، چې تراوسه دپور ورکولو ته چمتو ندي او په ډېره سپین سترګي مقامت کوي.

ددې د پاره چې دلست له مخې د زور واکانو نومونه مالوم شي، دبریښنا شرکت اداره وډاریدل، دمهمو چارواکو نومونه یې دلست نه وایستل، چې پدې ډول لست ناقص شو، چې ددې عمل نه ددې موسسې د ګډ هیأت مشر ښاغلی ترابي نور هم خپه شو.

د ۲۰۰۹ ـــ ۲۰۱۲ پورې ۳۴ میلونه دالره په هوا کې پاتې دي، ولې چې زورواکان سپین سترګي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۴۶)

## دولتي بي عدالتي

دعبدالروف مقصودي او محمد یوسف یعقوب مځکه په بګرامي ولسوالۍ کي د اوبو او بریښنا وزارت لخوا غصب او په اجاره ورکړه شویده، چي دمځکي اجاره دار تسلیمی او مستردي ته حاضر ندي. د وزارت دمامورینو هم څه ګټه او وټه پکي شته او خپل د اجاري قرار داد پلمه کوي .

موضوع ستري محکمي ته ورسیدل، چي ستري محکمي عالی شورا د لمبر ۱۴۴۹ نیټه ۹۰ / ۹/ ۸ داسي تصویب وکړ، « چي لومړی مځکه دسند لرونکي وخاوند ته مسترد او مقابل خوا کولای شي دعوا وکړي »، مګر ددي لوړ مقام مصوبه چا عملي نه کړه، ولي چي داوبو او بریښنا وزیر جنرال محمد اسمعیل خان یي شاته ولاړ ؤ . همدا متل دی ، چي وایي دایي قباله په چا یی مني، ولي چي اسمعیل خان هم شخصي زور لري او هم دولتي. او دوزارت مامورینو به دا مځکه ارومرو دیو بډو په مقابل کي اجاره کړي وي او دا اجاره باید بشپړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۴۷)

## په نفتو کی درغلي

بي پروايي، بي تفاوتي، بي بازخواستي د هيواد د بربادی او دبد شهرت سبب وګرځيدي، چي دلته په لنډ ډول يوه نمونه رانقل کيږي.

1) د تجارت وزير داکتر امين فرهنګ لخوا په نيټه ۸۶/ ۵/ ۲۱ ، د ( ۵۱۹۱۶) ټنه تيل قرارداد د ۸۶۹۳۷۰۰۰ دالرو په مقابل کی، بيله دي چي نرخګيري او دعواطلبي وشي، ۴ ميلونه دالره تحويل ، مګر تيل تراوسه رانغلل، ولي چي دکمپنۍ ادرس معلوم نه ؤ، څلور ميلونه ډالرو هوا وکړه.

2) دجنرال ترنګ د ازبکستان کمپنی سره في ټن ۵۴۰ دالره قرارداد شويدی، مګر په عين نيټه قرارداد ۶۲۰ دالر او ۸۳۸ دالر امضا شويدی.

3) د ۵۰۰۰ ټنه تيل د Active petroleum سره په نيټه ۲۳/ ۴/۲۰۰۸ قرارداد وشو، قرارداد ارزش پيدانکړ، چي کمپنۍ قيمت لوړ کړ او دي نه دولت ( ۶۶۶۶۶۶) دالره متضرر شو.

4) د تجارت وزير داکتر فرهنګ د ۳۰۰۰ ټنو پيچنو تيل د جمهوري رياست نه منظوري اخلي، مګر ( ۵۰۰۰) ټنه واردوي. پدي هکله محکمه په خپل لمبر ۵۳ ــ نيټه ۹۳/ ۴/ ۷ حکم د هيأت په مسؤليت حکم کوي او د وزير امين فرهنګ د تحقيق او تعقيب عدلي حکم صادروي، مګر څوک دی، چي وزيرصاحب د دومره درندي ضرر په مقابل کي وکولای شي چي حاضر يي کړي ؟ نوموړی فقط خپل سياسي نظرونه او تحليلونه کوي.

دمحکمي په ۵۳ لمبر، نيټه ۹۳/ ۴/ ۷ قرار د امين فرهنګ د تحقيق او تعقيب حکم صادر کړ.

ښاغلي محمد امين فرهنګ چي ځان ته اقتصاددان او درسنيو په ګردي ميزونو کي ښکاره کيږي او په اقتصادي ټولنيزو او سياسي برخو کي ددولت مهم منقتد بلل کيږي ، ددولتي ادارو په کړو وړو نيوکي کوي ، يو متل دي چي وايي " خپل عيب د ولو منځ او د بل چا عيب د کلي منځي " نو ددغه ښاغلي برخه کي پوره صدق کوي.

وګوري چي نوموړی ښاغلي نورو ته د قانون پر لار دتللو سپارښتنه کوي، خو خپله له قانون څخه سرغړونه کوي او په کارونو کي دخپلي ذاتي ګټي له پاره له قانون څخه پښه اړوي، چي د خبرو او عمل واټن يي څومره دي، موږ يي داختلاس يوه قضيه يي راسپړو.

کله چي نوموړی دسوداګری او صنايعو وزيرو، نو د ۱۹ مليونو ډالرو په اختلاس چي سلو زرو ټنو تيلو تړون په اړوند پرته له دي چي دتدارکاتو دقانون حکم په پام کي ونيسي قرار داد لاسليک کړي .

په رپوټ کي راغلي دي کله چي د وزيرانو شورا د نفتي توکو د بيو د زياتوالي د مخنيوي له پاره د سوداګري وزارت ته دنده وسپارله ترڅو چي د نفتي توکو په پيرودنه اقدام وکړي.

د همدي حکم له مخي خپل ۱۷۵ ـــــ ۱۹/۵/۱۳۸۶ شميره وړانديز د وزيرانو شورا ته وړندي کوي او حکم تر لاسه کوي.

د همدي حکم له مخي د سلو زرو ټنو نفتي توکو د نرخګيری له پاره يو پلاوي د اسيا ميانه هيوادو نو ته استوي او پلاوي له راتګ وروسته د ۱۹ مليونو ډالرو په ارزښت له بهرنيو کمپنیو او شرکتونو سره لاسليکوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه قراردادنه د تدارکاتو د قانون ۳۰ او ۳۴ مادو پر خلاف په بیلا بیلو بیو د ښاغلي فرهنګ او اداري رئیس عزیز الله روزي له خوا داسي قرار داد کیږي، چي پیسي يي باید پیشکي ورکړل شي.

او سربیره پردي پرته له دي چي کمپنو اعتبار په پام کي ونیسي، مخکي له مخکي بیه ورکړل کیږي او هغه هم یوازي د ښاغلي فرهنګ له خوا دغه کار شویدي .

او دریم داچي نوموړی پرته له دي چي د نورم او ستندرد یعني لیتر اف کردیت په نظر کي ونیسي او هغه دا چي کله واګونو نه بارګیري شي نو باید وروسته پیسي ورکړل شي ، خو د ښاغلي فرهنګ له خوا پیشکي پیسي ورکړل شوي دي .

دهیواد پیسي ولاړي او نفت راو نه رسیدل، او قراردادي کمپنی ورکي او ادرسونه يي بدل شول.

کمپنی چا پیدا نکړي، ځوک دي چي فرهنګ سره حساب وکړي.

دده منتخب رئیس عزیزالله روزي فرار وکړ ، پنځه کاله حبس ، مګر پر تطبیق نشو، وايي چي په بل نامه پاسپورت په لاس کي لري، په ازبکي پوهیږي ، ازبکستان او ترکمنستان ته تګ راتګ کوي .

پولیس ضرورت نه ویني، چي شخصي دښمني پرغاړه واخلي او روزي ونیسي، او کوم میاشتني حق چي ورکول کیږي، دهغه په نیولو کي به دمنځه لاړشي .

**قراردادونه:**

په قراردادونو کي فساد هغه موضوع ده، چي د هر افغان ذهن ځوروي.

دیوي باوري سرچیني په رپوټ کي راغلي دي، چي دنفتي او اوبلن ګاز ریاست د ۲۰۰۷ کال دلومړي میاشتي د ۳ ګڼه قرارداد له مخي، چي ایروپارتي کمپنی سره د ۲۰۰۰ ټنو ګاز چي بیه يي (۱۴۰۰۰۰۰) دالرو ته رسیده تړون کړي و.

نوموړي شرکت ۶۵۰/۱۰۲۹ ټنه د هرات دنفتو او ګاز ریاست ته سپارلي ، داپه داسي حال کي چي یو کیلو ګاز يي په ۴۸ افغانۍو رانیولي ؤ ، خو نوموړي ریاست یوه کیلو په ۱۷ افغانیو پلورلی دي.

دقانون دتنفیذ دارګانونو له څېړنو وروسته مالومه شوه، چي هر یو فیض احمد، عبدالغفار، جلیل او عبدالشکور دنوموړي اداري کارکوونکي مسوولیت لري او اتهام نامه يي ذیصلاح محکمي ته راجع شوه ددي له پاره، چي په څېړونو کي نیمګړتیاوي پلمه راوړي، نو دا د تورنانو حمایه لار ده . قضیه په ( نخود سیاه ) پسي ولاړه شي.

وروسته مالومه شوه چي دنوموړو اشخاصو ترڅنګ عزیز الله روزي دنفتي موادو رئیس، دوکتور میر محمد امین فرهنګ دسوداګرۍ او صنایعو پخوانی وزیر پکي مسؤول و ګڼل شول. خو زموږ هیواد کي معافیت دود دي. با الخصوص لوړ پوړي لکه ښاغلي فرهنګ ته به هیڅوک څه ونه وايي .

ناوړه ګټه په هره برخه کي لیدل کیږي. نو د خدای دکور په اجرااتو کي هم ناوړه ګټه تر ټولو ناوړه ده.

د سوداګري وزارت د تفتیش ریاست په خپل(۱۳۸۷) کال د وري د میاشتي په څلورمه نیټه د ۶۳۱ ګڼه لیک په ترڅ کي، چي د نفتو او ګاز د تصدي په نامه يي استولي او د نوموړي ریاست قراردادونه يي څېړلي دي، داسي لیکي هغه ۱۵ قراردادونه چي د نفتو او ګاز د تصدي له خوا شویدي، ټول یو جانبه او دبین المللي حقوقي معاهداتو او دنړیوال سوداګرۍ نورمونو پرخلاف لاسلیک شوید. چي دتصدي دمسوولینو داهمال او وظیفوي غفلت ثابتوي، چي هیواد ته دزیات زیان لامل ګرزیدلي دي.

1. داوي ګروپ ۱۱۹۰۰۰ دالره، ۱۷۱۰۰ دالره او نور

(c) ketabton.com: The Digital Library

2. کمپنی انترپرایس ۲۵۰۰۰ دالره
3. تخار متصریان
4. عبدالرؤوف متصدي
5. او نوري، نوري کمپنی

دتجارت وزارت دیو سازش له مخي دخپلو پیسو دتحصیل علاقه نه ښکاره کوي.

او دسید قاسم خزانه دار یو ملیون افغانی قرضداري هم څرگنده شویده.

تفتیش په خپل گزارش کي داهم علاوه کوي، چي دقراردادیانو سره قرارداد بیله دي چي مالیه واخیستل شي، قرارداد شویدي. دي لیک کي ډیر ظالمانه او ناوړه اجرا ت په گوته شویدي، چي دهغي جملی نه یو هم دانترپرایس سره پنځه زورو ټنو ډیزل، في ټن ۹۰۰ دالره قرارداد شویدي، چي په اخیر کي کمپنی في ټن نرخ د ( ۹۰۰ ) دالرو نه ( ۱۲۰۰ ) دالرو ته جگ کړي او خلاف د قرار دتجارت وزارت ۶۶۶۶۶ دالره تاوان ورسره ومانه ،چي دټولو نورونو خلاف عمل دي. همدا ډول چي دافغان د سر قیمت نلري، مال یي هم مباح دي.

هرڅه چي به کمپنی غوښتل، د تجارت وزارت بي زړه سوی ورسره منل، د ولس دزیان پروا یي نه کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۴۸)

## په فساد کي تخصص

په حیواناتو کي باز یو ډول حمله دلوري څخه خپل ښکار کوي، زمری بل ډول، شغال بل ډول او موږک بل ډول دي. مامور همدا ډول خپل ورته حاضر امکاناتو نه ګټه اخلي. دګمرګ مامورین دمحصول څخه ګټه پورته کوي، په نرخ او محصول کي پوره بلد دي، دقرارداد څانګي بل ډول ، د ترافیک مامورین بل ډول، ښوونکي او سرښوونکي سه پارچه او نمرو ورکول هم دخپلي تجربي نه کار اخلي، ښکار کوي او پیسي په لاس راوړي.

دلته د یوي اطلاع او راپور چي دهلمند د ولایت نه دی بحث کوو:

دلشکرګاه ښاروال محمد داؤد د والي ګلاب منګل په مرسته مځګه نمره کوي او هره مځکه د خپل جلا قیمت له مخي په تور بازار کي خرڅیږي، چي پیسي یي خپل جیب ته لویږي، مثلأ د بست دتصدي حق نمري د انجنیر حبیب الله پواسطه په تور بازار کي فروش لري او د ښاروال ورور سمیع الله او پلار یي نور الله دجلات زوی او د تره زوی ته علایده علایده نمري رسیږي. او پر عبدالصبور هم لس نمري خرڅیږي.

ښاروال د BU په برخه کي په ۸ میلونه کلدارو کور رانیولي دی. او یو بلاک د CU په برخه کي په دری لکه ډالره وکیل عبدالله بارکزي خرڅ کړ.

همدا ډول پر حاجي طاوس اسحق زی دری لکه دالره ، دناوي پر ملاشریف او پر حاجي شراف الدین ۲۰ جریبه مځکه په بدل کي ۴۵ نمري ورکړی.

دغنمو مرسته چي دمامورینو دپاره ؤ، خپل مصرف ورسولي. د۵۵۱ پلان کي ۲۷۵ نمري خپل ځان ته په شخصي ډول مصرف کړي. ښاروال د قدرت الله شرافت نه د ناقیلیونو په نامه تري رشوت واخیست او دښاروالی دوه عرادي کاماز موټران پخپله ګټه خرڅ کړل. دمامورینو داضافه کاري نه هم خپل حق اخلي.

داسي تور اوسور فساد په څرګند ډول نه یوازي په هلمند کي ، بلکي په هرات، بلخ، ننګرهار، بغلان او نورو سیمو کي لیدل کیږي. ولس ناتوانه ؤ، د زورګویانو مخ چا نشوای نیولای. ناوړي ګټي پورته کول دود شوي او چا یي بازخواست نه کاوه. ډول ، ډول زورګویانو او چارواکو لاس سره ورکړي او دفساد او شر سبب ګرځیدلي دی.

ټولنه دومره فاسده شویده، چی هیڅ شی عیب نه بلل کیږي. رشوت او قاچاق په څرګند ډول دی او دخلګو نه پټ نه وي، هرڅوک ، هرڅوک پیژني، چی داشتمني او لوکس ژوند یي د کومي خوا پیداکړ، آن ورسره تګ او راتګ کوي، آن جاسوسي او دبهرنیو غلامي عیب ندي، ډیر بي وسي ده، اکثریت خاموش د خائین قدرت ته په رونو سترګو ګوري.

همدا ډول دهرات دښاروالی د ناوړو اجرااتو او چور او چپاول د ۸ صبح ورځپانی د وږي پر څلورم کال ۱۳۹۳ یو ډیر لوی مضمون د ( پارک صنعتي هرات درچنګ زمین خواران) خپورشویدی، چی د ښاغلی اکبر رستمي په قلم دي، دا مضمون داسي لیکي:

دري زره جریبه مځکه د هوایي میدان ته ورڅیرمه د ملي تجارانو تر عنوان لاندي د صنعتي پارک په منظور تجارانو ته ورکړه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مگر متاسفانه هغه ټوله یا تعمیرونه شول او یا باغونه،۸ صبح لیکي چي دا تجاران ، چي ټوله زورمندان ، وکیلان او یا جهادي قوماندانانوته تړلي ؤ.

د جنرال محمد اسمعیل خان زوی محمد یاسر نومي هم ۸ نمري تر لاسه کړيدي. محمد سلیم تره کی ښاروال څلور نمري، ښاغلو فهیم، غلام صدیق، الیاس، سید گل اغا، میراعظم ، عزیز احمد احمدي، حفیظ الله ، محمد علي او نورو ته نمري رسیدلي دي.

د شورای ولایتي رئیس پدي هکله ډیر سرټکوی او دموضوع کنترول او یا مراقبت په برخه کي هر والي ناکامه شو. محمد داؤد صبا والي هم څه دلاسه پوره نشول، محمد ظاهر عنبر دفساد دمبارزي رئیس په غټو ، غټو سترگو ورته گوري، ښاغلي جامي د ولایت مرستیال هم لاس تر زنه ناست ، یوازي دا وایي چي مځکی د مځکو مافیا وخوړل او نور یي څه دلاسه نه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۴۹)

## د Anham کمپنۍ

د Anham امریکایي کمپنۍ لکه سپریم په امریکایي لوړپوړو چارواکو پورې تړلې او دناټو او ایساف سره جوخت ، د لوژیستیکي احتیاجاتو د پوره کولو د پاره زموږ هیواد ته تر ځینو شرایطو لاندې راننوتل. دا دواړې کمپنۍ چې نړیوال شهرت لري په هر ډول فساد ککړ دي.

کورنۍ کمیشن کار هم پدې برخه کې بې برخې پاته ندي او لاس یې ورسره یو دي. د ډیرو افغانانو سره یې ناروا هم وکړل، پیسې یې تري وګرځولې او فریب او چل او ول یې ورسره وکړ، چې په بدحالت کې په ادارو کې سرګردانه ګرځی.

کوم احترام چې افغان د میلمه پالنې تر کلتور لاندې لري مرعات او باور وکړ، مګر ددې کمپنیانو مشران او چارواکې پوره مفسدان دي او غلط قرارداونه یې په کار اچولي دي.

زه دلته د انهم کمپنۍ یو ګزارش دمثال په توګه را اخلم. انهم ۵۱۵ زره موټران پدې پلمه چې دناټو او ایساف د پاره دي او د ګمرګ او محصول نه یې ډډه وکړه، د MTN قرارداد یې پلمه کړ. کیسه داسې ده ، چې ټوله واریدات باید محصول شي، مګر کوم ضروریات چې دایساف او ناټو د پاره دي، منطقاً باید معاف شي. مګر ښه منطق او دلسوزي په چوکاټ کې باید تفکیک وشي، نه داچې شخصي شرکتونه ، چې ددوې د پاره کارکوي او خپله ګټه د ځان د پاره کوي، هم باید معاف شي.

د مالیې وزارت د ګمرکاتو د عایدو ریاست په ۳۲۹۶ لمبر نیټه ۳/۱۲/۹۲ لیک کې د عراده جاتو لید لیکي، مګر محصول او مالیه پدې ( شهر بې پرسان ) کې ونشوای کولای چې تحصیل کړي او د مامورینو هم چندان علاقه نشته. ځینې افغانان هم ددوې په یوه لب خند هرڅه ته حاضر دي. بهرنیان هم پوهیږي چې څنګه افغانان د افغانانو په مقابل کې استعمال کړي.

نو لدې کبله د بهرنیو چاروپخوانۍ مرستیال جاوید لودین، په کانادا کې افغاني سفیر بناغلی برنا او د واشنګټن پخواني سفیر طیب جواد په لوړ معاش استخدام کړل، چې ددوې داړیکو او نفوذ نه ګټه پورته کړي.

سپریم هم عین تکتیک لري، په ظاهره د هیڅ دپاره او دهیڅ په مقابل کې پخوانۍ وزیر محمد حنیف اتمر دي، چې د سپریم لخوا د میاشتې ۲۴ زره دالر مفت ورته ورکول کیږي، البته چې مفت به نه وي، یو څه خوبه ورته کوي، یا داسې پیښې نه وي، چې نه غواړي وپیژندل شي.

محمد حنیف اتمر چې په هر وزارت کې وي، د میاشتې ۴۰ زره دالره فوق العاده د انګریزانو لخوا ورته حواله وي، چې دهغو پواسطه خپل نفوذ ډیر کړي، تر څو شهرت ومومي. هغه به ځینو کسانو ته داپیسې ورویشلې، چې دده به خوښه ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۵۰)

## د ۱۱۱ قطعي د خوا وژنه

دکابل دقمبر د ځلور لاري د رحمت اباد په پروژه کي په ۱۳۷۲ کال کي ۲۹ نمري رهایشي کورنونه ښاري پلان شوه او پدي ترڅ کي عامه النفعه تاسیسات لکه مسجد، کلینیک، پارک، وړکتون هم په نظر کي نیول شویوه، مګر دا عام النفعه ځمکه بالاخره دعام النفعه تاسیساتو پر ځای د ملي دفاع د وزارت د تاسیساتو د ریاست لخوا نمره بندي او خط اندازي او په توزیع یي پیل شوه، چي بالاخره د سیمي خلګو ددي عام النفعه ځمکي دنمره بندي په مقابل کي مظاهره وکړه، چي دا مظاهره د ۵ حوزي د پولیسو لخوا تر کنترول او مراقبت لاندي ؤ، مګر ( ۱۱۱) فرقي مداخله وکړه، پولیس یي دقانوني مظاهري له کتاره لیري او نظامي برید وکړ، دفرقي د قومندان ښاغلی قدم شاه او دتاسیساتو رئیس جنرال عبدالمنان په قومنده مظاهره وتکول، ګلداد نومي زخمي او محمد صدیق نومي یي په قتل ورساوه، آن محل واقعه یي تر څو ساعتو پوري محاصره نیولي. او زخمي او مړي ته یي څوک نه ورپریښنول. بالاخره مړي یي په غلط نامه ( امام علي ) د سردار داؤد خان روغتون ته تسلیم کړ. دپیښي دنیټي د ۹۳/ ۴/ ۵ راهیسي جنرالان تحقیق ته حاضر نشول، نه دزخمي بازخواست چا وکړ او نه دمړي. دقانون څرګنده سرکشي او دقدرت نندارہ ده او یو دبل شا ته دریدل دي او زورواکي حاکمه ده، چي کله،کله صلح امیزه مظاهره هم سرکوبه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۵۱)

## دفوايد عامي د وزارت بي كفايتي

پدي بي خاونده وطن په تيره چي بي كفايتي ، بي مسؤليتي او ناوړه ګټه چي سره يوځای شي دا غريب وطن به په تدريجي ډول كرار،كرار د بدبختئ په لور نورهم ورټيل باسي، داسي ډير مثالو نه لرو، چي زموږ دهيواد وينه نه يوازي كورني خائينان ځبيښي، بلكي بهرنيان هم تر دوي كومه كمي نلري او دخيانت په تطبيق كي لايو څه نور هم وړاندي دي، مثال يي دادي:

په ۲۰۱۱ كال ۳۱ دسمبر مياشتي كي دفوايد عامي وزارت د ECCI امريكايي او بيا شريكي كمپنی ( METAG JV) سره دقيصارــــ لامان سرک د جوړولو قرارداد ۳۲۷ ميلونو دالرو په مقابل كي لاس ليک كړ، چي سرک ۲۳۳ كيلو متره اوږدوالی لري. ددي جملي نه دا لاندي مبالغ اجراشوي:

1. ۱۴۹,۴ ميلونه دالره تحويل وركړه شول
2. ۱۰۷ ميلونه پيش پرداخت
3. ۵۰ ميلونه دالر دامنيت په خاطر دكورنيو چارو وزارت ته.

قرار دادي بهرني شركتونه ، چي يو انچ سرک ته اقدام ونكړ.

په تيښته بريالي شول، ولي چي ضامن او تضمين تري اخيستل شوي نه ؤ، ممكن ادرس يي هم پوره څرګند نه وي.

كومي ۴۲ ميلونه دالره دتجهيزاتو او ماشين الاتو دخريداري په خاطر مخ كي وركړه شويدي. او داخريداري نده شوي، بايد لومړی الات راغلي او يا د چک په مقابل كي پخپله د فوايد عامي وزارت د رسيدو وروسته وركړي وای.

اوس ټوله حكومت او دولت لاس تر زنه ناست دي. اوسنی وزير ښاغلی اوژن دا پر پخواني وزير عبدالقدوس وراړوي، ګټه يي څه ده ؟ افغان ولس ګرچه يو دالر ته حيران پاته شي. دا دومره پيسي په هوا شوي. ستا پر حال بايد زار، زار وژاړم. كه دا په بل هيواد كي وای، مسؤل كسان بايد اقلاً بنديان وای او يا په اعدام محكوم. كه په كوريا شمالي كي وای، نو به يي دباغ وحش دليوانو شومه تري جوړه كړيوای.

زار- زار ، بايد ګريست.

بي پروايي هم اندازه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۵۲)

## استاد او فساد

پخوا په فرهنګي او روزنيزو موسسو کي دفساد هيڅ څرک نه لګيده ، له بده مرغه اوس دا فساد هلته هم رواج موندلي.

ماندګار ورځپاڼي د ۱۳۷۸ کال دلړم دمياشتي په يوه ګڼه کي د " بازداشت استادان دانشګاه" مشتي بردهان ازادي بيان تر نامه لاندي خپور کړي چي په کي ويل شويدي، چي مضمون ممکن دالبيروني د پوهنتون د استاد وي.

د البيروني دپوهنتون استاد محب الله بارش چي په بيګناه ډول زنداني شويدي مطلب ؤ، مګر حقيقت بل ډول ؤ، چي دپوهنتون دا مبارک استاد په څو ډولونو فساد او تقلب ککړ ؤ، چي دهغي جملي څخه دمحمد زبير محصل نه ۱۵۰۰ دالره دلندن بورس دورکولو او دلندن دسيتي کالج ته ليږلو په مقابل کي اخيستي اوپه خپل خط او کتابت يي رسيد ورکړيدي، چي دمحصلينو بهر ته ليږل دده د وسه نده پوره.

چي بالاخره په ۳ کاله بند محکوم مګر دواسطي په زور دا حکم تطبيق نشو.

ښاغلی بارش چي دالبيروني د پوهنتون رئيس ؤ، هرڅه چي ورته رسيدل، هغه يي کول. دپوهنتون د تعمير د قراردادي نه يي هم د قرارداد په مقابل کي څو زره دالره واخيستل. پدي هريو پوهيږي، چي دمحصلينو بورسونه او قرارداد پده پوري اړه نلري، بلکي دتحصيلاتو د وزارت دمقام صلاحيت دی، چي ځان ته جلا طرزالعمل لري، چي د تدارکاتو دقانون په چوکات کي دي، اجراکيږي، مګر استاد د ډير تګي او کلا برداري نه کارواخيست ، پيسي يي په لاس راوړي.

دپوهنتون د مرستي په نامه دښاغلی محمد يونس قانوني نه هم پنځه زره ډالره جيب ته کړه. شاګرد نه يوازی داستاد نه څه زده کړه کوي، بلکي پر ده هم زده کړه کوي، چي څه کرکتر او اخلاق لري.

ای افغانه ! حال دي زور وينم ، چي استاد دا ډول ککړ وي د توپکسالارانو به څه حال وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال (۱۵۳)

## قدم په قدم مفسد اجراات

سيد جان د هلمند اوسيدونکي ديو ملګرى سره دننګرهار څخه په کال ۱۳۸۵ ۵۰ کيلو هيروئين هلمند ته د نقلولو له پاره بار بندي کړه، چي هدف ته نارسيده د کابل او جلال اباد په لويه لار کي تلاشي او ونيول شو. بالاخره د محکمو لخوا په ۱۶ کاله بند دواړه ملګري محکوم او دکابل په پلچرخي کي زندانيان شول.

دځو مودي د تيريدو نه وروسته د عدلي وزارت مقام وطن ته د تبديليدو عرضه وکړه. معمولاً قاچاقبران له دي کبله چي خپل وطن کي نفوذ لري او يا نور شرايط ورته مهيا دي. خپل وطن غواړي او يا اکثراً د جرمي ډله د لاعلاجه او يا صعب العلاجه ناروغي پلمه راوړي.

په هر صورت سيد جان هم د وزارت د مقام نه ( د قانون سره سم د اجرااتو حکم په لاس راوړ)، نو دسيد جان تبديلي ديو نفر محافظ سره د هلمند په لوري حرکت وشو. په ده افغانانو کي مسؤل مامور سره ملاقات او په رستورانت کي کباب وخوړل شو او مسؤل مامور ۸۰ زره دالره نقدي واخيستي. دهلمند په لوري حرکت شو. کله چي هلمند ته ورسيدل، څرنګه چي ناوخته ؤ، محبس ته تسليم نشوه . څارنوال عبدالستار په يو کمزوري ضامن په اخيستلو دا ۱۶ کلن زنداني ته تر سبا رخصت ورکړ،دمحبس مدير ته چا څه ونه ويل، چي ددي لسو کالو راپدي خوا يى تر اوسه رخصت لا پاى ته نه دي رسيدلي. نوموړي زنداني د خپل ضامن سره وتښتيد،ګرچه عبدالستار څارنوال دري کاله بندي شوو.

دا ډول کړنى زموږ په هيواد کي ډيري شوي وي، چي ممکن څوک يي پوښتنه نکوي او عيب يي نه بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال(۱۵۴)

## شیر پور چورشو

دشیرپور تاریخي کلا چي اوس دشیرچور نوم یي ځانته غوره کړ او دافغانانو ویاړلي تاریخي کارنامي قهره مانی، شهکاریو او شهادتونو تاریخ په کي پروت وو، له بده مرغه چي دځان غوښتنکو کړیو له خوا ویجاړ او دنابودی کندي ته وسپارل شو.

ددي پرځاي چي ددغي تاریخي کلا، چي دانګلیسانو او یرغلګرو دماتي او دافغانانو دغزا اوبریاوودسمبول په نامه پاتي او په هغي کي داسي بناوي جوړي شوي واي، چي یي هم ددغي کلا تاریخي عظمت په کي ساتل شوي واي او هم دملي مبارزو کارنامي په کي ثبت او ضبط شوي واي.

وایي چي میګناتن همدلته دځوان سردار غازي محمد اکبر خان په چاړه ووژل شو. او دمیګناتن پر را ایستلي تفنګچه یي تري واخیستله. وایي چي هغه تفنګچه بیا جناب حضرت صاحب مجددي دخپل جمهوري ریاست په وخت کي پاکستاني جنرال حمید ګل ته سوغات کړل.

خو دریغه چي هغه د اجانبو په اشاره دملي دفاع وزارت چارواکو له لاري داسي خلکو ته داوسیدلو دکورنو دجوړولو له پاره وویشل شوي، چي حاکمه او زورواکو کړیو پوري یي تړاو درلود .

دغه تاریخي سیمه چي اوس دافغانانو له خوا د شیرچور په نامه یادیږي، ددي پرځاي چي د کابل ښاروالی له خوا چي یوازني دنده یي خلګو ته دکورنو او استو ګنو نومري ویشلي دي . یو معقول تصمیم نیول شوي واي برعکس د مارشال محمد قسیم فهیم له خوا، چي هغه وخت دملي دفاع وزیراو دجمهوري رئیس مرستیال ؤ خپلو خپلوانو او غیرمستحقو لاندي کسانو ته وویشل شوه ، ولي چي دشیرپور کلا په ملي دفاع وزارت پوري تړلي وه.

نوموړی سیمه چي زیات ارزښت درلودونکي ده په دومره پیسو ووشل شوه، چي دهغي سیمي لس سلنه ارزښت لري،چي موږ یي نوم لړ دګرانو لوستونکو د خبرولو او داچي دغه تاریخي موضوع دتاریخ له حافظي څخه بهر پاتي نشي خپروو یي. او په پایله کي هغه نوم لړ هم خبروو چي تراوسه یي ددغه جایداد قیمت هم نه دي ورکړي .

د ښاروال محمدانور جګدلک لخوا نمره بندي په خلګو ، بسوه په ۱۰۰۰ دالره پداسي حال کي چي همدلته بسوه دسلوزرو په شاوخوا کي قیمت لري خرڅه شول . بالاخره دشکایاتو په صورت کي دوزیرانو لخوا چي همدا وزیرانو ته هم په حق رسیدلي ؤ، بالاخره بسوه ۱۱ زرو دالرو ته پورته شول ، چي بیا هم همدا قیمت هم تحویل نکړ.

زورواکان خپلي حرامي پیسي په ډیر بي پروایي مصرف کړي. څرنګه چي اوس اینجوګاني هم ولاړي ،خارجیان هم لړ شول ، هغه ټوله مصرف عبث ؤ او کورنه بیکاره پاته دي . هغه کسان چي مخکيوررسیدلي دي دلته په لست کي دوي یوازي له دي کبله چي ونه پیژندل شي دتخلص نه صرف نظر کړیدي، یوازي علي احمد جلالي اتمر او استاد حاجي محمد محقق خپل تخلص ورکړیدي او ځینو کسانو نمره د زوی او یا ښځي په نامه اخیستي ده، چي ونه پیژندل شي.

شیرپور هم لکه د ۸ فرقي مځکي چي د اردو افسرانو لخوا غصب او کورونه پکي جوړشول، چي دهغي جملي نه یوازي یوسف احمد نورستاني دملي دفاع دوزارت مرستیال ۴ نمري واخیستي .

دشیر چور د ناحیي د نمرو د اخیستونکو نمونه دادي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لست افراد و اشخاص در رابطه به نمرات توزیع شده ساحه شیرپور

| شماره | شهرت | | نمبر زمین | واقع | قیمت فی بسوه زمین |
|---|---|---|---|---|---|
| | اسم | ولد | | | |
| 1 | عبدالمومن | عطا محمد | 1108 | پروژه شیر پور | 11250 دالرامریکائی |
| 2 | حاجی قیوم | باشی حکیم | 1180 | // | // |
| 3 | کرام الدین | محمد کریم | 1150 | // | // |
| 4 | محمد شعیب | محمد یونس | 1044 | // | // |
| 5 | محمد کریم | سرفراز | 1180 | // | // |
| 6 | جان محمد | عبدالباقی | 1068 | // | // |
| 7 | محمد سعید | فیض محمد | 1100 | | |
| 8 | عبدالمحمود | عبدالرازق | 4610 | // | // |
| 9 | محمد مهدی | محمد اکرم | 1046A | // | // |
| 10 | عتیق الله | محمد عثمالن | 1050 | // | // |
| 10 | صدیق الله | عبدالمعروف | 1140 | // | // |
| 21 | جان احمد | حاجی محمد شاه | 1124 | // | // |
| 31 | غلام نبی | دین محمد | 1020 | // | // |
| 41 | احمد جمشید | محد ایوب | 1015 | // | // |
| 51 | محمد واصل | محمد حسین | 1003 | // | // |
| 61 | سلطان محمد | عبدالودو | 1135 | // | // |
| 71 | انجنیر علی "عاصم" | محمد حیم | 1142 | // | // |
| 18 | عبدالرحیم | ولد عبدالغنی | 1147 | // | // |
| 19 | دین محمد | رجب علی | 1250 | // | // |
| 20 | اقیر | عبدالحفیظ | 1166 | // | // |
| 21 | محمد شاکر | عبدالرسول | 1141 | // | // |
| 22 | احمد صابر | محمد نعیم | 1057 | // | // |
| 23 | محمد ابراهیم | محمد یوسف | 1236 | // | // |
| 24 | محمد عیسی | محمد واصل | 1241 | // | // |
| 25 | محمد صابر | محمد طاهر | 1176 | // | // |
| 26 | تاج محمد | شمشیر خان | 1089 | // | // |
| 27 | امان الله | مومن خان | 1164 | // | // |
| 28 | حاجی محمد الماس | حاجی محمد اکبر | 1088 | // | // |
| 29 | نجیم | دین محمد | 1010 | // | // |
| 30 | شهزاده مسعود | محمد خان | 1162 | // | // |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 31 | داکتر حسام الدین | | 1275 | // | // |
| 32 | خالد ا حمد | دکتور محمد حسین | 866 | // | // |
| 33 | نجیبه | خدا بخش | 1277 | // | // |
| 34 | مولوی عبدالباقی | محمد قربان | 866 | // | // |
| 35 | سمیع الله | امین الله | 1133 | // | // |
| 36 | محمد شریف | محمد یوسف | 1048 | // | // |
| 37 | نجیبه | غلام حسین | 1232 | // | // |
| 38 | محمد یونس | محمد یوسف | 1049 | // | // |
| 39 | عبدالواحد | عبدالرزاق | | // | // |
| 40 | میر امان الله | میر عبدالله | 1013 | // | // |
| 41 | خانم گل | غلام سخی | 1065 | // | // |
| 42 | سید مصطفی "کاظمی" | حاجی ملکی | 1082 | // | // |
| 43 | قره بیک | محمد هاشم | 859 | // | // |
| 44 | عبدالسمیع | عبدالقدیر | 1139 | // | // |
| 45 | فضل الدین | تاج الدین | 1016 | // | // |
| 46 | محمد قسیم | قلعه داد | 1085 | // | // |
| 47 | سمیع الله | عبدالطیف | 1219 | // | // |
| 48 | حاجی قدیر | محد عثمان | 1097 | // | // |
| 49 | عبدالخالق | عبدالحمید | 1231 | // | // |
| 50 | زلمی "هیواد وال" | محد امین | 858 | // | // |
| 51 | گلستان | حاجی محمود | 1069 | // | // |
| 52 | محمد امرار | خیر محمد | 1279 | // | // |
| 53 | عبدالبصیر | عبدالحبیب | 1129 | // | // |
| 54 | بصیر "سالنگی" | | 1272 | // | // |
| 55 | نجیب ا لله | محمد یعقوب | 1136 | // | // |
| 56 | حاجی کاتب | حاجی شمشیر | 1130 | // | // |
| 57 | احمد نجیب | تاج محمد | 1163 | // | // |
| 58 | عبدالمومن | عطا محمد | 1108 | // | // |
| 59 | نور محمد | محمد قل | 1047 | // | // |
| 60 | میر حیدر | میر اکبر | 1228 | // | // |
| 61 | عبدالصمد | محمد نادر | 858 | // | // |
| 62 | محمد ایوب | محمد اسمائیل | 1263 | // | // |
| 63 | عبدالمالک | عبدالعلی | 1116 | // | // |
| 64 | محمد فاضل | محمد طاهر | 1174 | // | // |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 65 | محمد آصف | سربندل | 1235 | // | // |
| 66 | هدایت الله | بسم الله | 1091 | // | // |
| 67 | محمد نعیم | عبدالغیاث | 1262 | // | // |
| 68 | عنایت الله | بسم الله | 1092 | // | // |
| 69 | محمد عثمان | عبدالمجید | 1115 | // | // |
| 70 | محمد ریحان | محمد طاهر | 1116 | // | // |
| 71 | موجود | عظیم الله | 1035 | // | // |
| 72 | محمد اکبر | محد انور | 1017 | // | // |
| 73 | مقبول | عظیم الله | 1031 | // | // |
| 74 | قاری محمد علم | حاجی بیدل | 1144 | // | // |
| 75 | محمد طیب | قطب الدین | 1148 | // | // |
| 76 | شاه علم | میر محمد علم | 1056 | // | // |
| 77 | عبدالشفیق | عبدالطیف | 1165 | // | // |
| 78 | احمد ولی | عبدالاحد | 859 | // | // |
| 79 | حمید صدیق | حاجی عبدالطیف | 1041 | // | // |
| 80 | غلام یحیی | محمد ابراهیم | 1049 | // | // |
| 81 | محمد سرور | صالح محمد | | // | // |
| 82 | گل زرگ | گل ملک | 1175 | // | // |
| 83 | دولت میر | رئیس میر | 1142 | // | // |
| 84 | محمد قسیم | محمد حکیم | 1106 | // | // |
| 85 | سید فضل اکبر | سید علی اکبر | 166A1 | // | // |
| 86 | سید محمد حسن | سید احمد شاه | 1161A | // | // |
| 87 | سید ظاهر | سید حکیم شاه | 1168 | // | // |
| 88 | عظیم الدین | فضل الدین | 1102 | // | // |
| 90 | عبدالحیمد | امیر محمد | 1227 | // | // |
| 91 | بسم الله | غوث الدین | 1093 | // | // |
| 92 | محمد رفیق | عبدالطیف | 1125 | // | // |
| 93 | محد امین | غلام بهاوالدین | 1121 | // | // |
| 94 | عبدالحدود | عبدالحکیم | 1120 | // | // |
| 95 | عبدالله" توحیدی | نصر الله | 1234 | // | // |
| 96 | ذبیح الله | مومن خان | 1086 | // | // |
| 97 | احمد صابر | محمد نعیم | 1075 | // | // |
| 98 | محب الله | رحمت الله | 1058 | // | // |
| 99 | داکتر احمد مشاهد | محمد ایوب | 1059 | // | // |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 100 | محمد شریف | جمعه خان | 1062 | // | // |
| 101 | حاجی خالق | عبدالرازق | 1045 | // | // |
| 102 | محمد سرور | کاکو خان | 1322 | // | // |
| 103 | څارنوال میرجان | توره میر | 1149 | // | // |
| 104 | مولوی فضل هادی"شینواری" | سید جمال | 1163A | // | // |
| 105 | جاجی شمشیر خان | تاج محمد | 1132 | // | // |
| 106 | عبدالکریم | حاجی محمد امین | 1021A | // | // |
| 107 | عبدالحکیم | محمد افضل | 1244 | // | // |
| 108 | فضل احمد | محمد موسی | 1004 | // | // |
| 109 | اسد الله | غلام محبت الله | 1099 | // | // |
| 110 | باز محمد "احمدی" | احمد جان | 1052 | // | // |
| 111 | حبیب الله | عباد الله | 1083 | // | // |
| 112 | عتیق الله | رحمت الله | 1019 | // | // |
| 113 | غلام اکبر | غلام سرور | 1011 | // | // |
| 114 | سید مخدم"رحین" | میر محمد شریف | 1161 | // | // |
| 115 | حکیم الله | مومن خان | 1145 | // | // |
| 116 | محمد جلیل | محمد حکیم | 1143 | // | // |
| 117 | عبدالقدیم | قلعه داد | 1030 | // | // |
| 118 | محمد ابراهیم | ناصر علی | 1220 | // | // |
| 119 | محمد آصف | دلاور خان | 1110 | // | // |
| 120 | عبدالخالق | فضل احمد | 1113 | // | // |
| 121 | محمد هابیل | محمد صالح | 1073 | // | // |
| 122 | عبدامعروف | پروان خان | 1177 | // | // |
| 123 | عدالواسع | محمد غوث | 866YC | // | // |
| 124 | محمدعیسی | محمد غنی | 1051A | // | // |
| 125 | عبدالعلیم | محمد عظیم | 1060 | // | // |
| 126 | هلال الدین | محمد علی | 1271 | // | // |
| 127 | عبدالولی | عبدالحفیظ | 1182 | // | // |
| 128 | عنایت الله | نظر محمد | 1265 | // | // |
| 129 | محمد داود | محمد آقا | 1273 | // | // |
| 130 | افضل امان | عبدالامان | 1166B | // | // |
| 131 | محمد هارون"رسولی" | محمد اشرف | 1274 | // | // |
| 132 | حاجی قربان | شاه افغان | 1269 | // | // |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 133 | عبدالله | گلدین | 1263 | // | // |
| 134 | حنیف الله | نظر محمد | 1204 | // | // |
| 135 | گلبا الدین | محمد عالم | 1072 | // | // |
| 136 | عبدالمتین | محمد یعقوب | 1090 | // | // |
| 137 | سلطان محمد | عبدالودود | 1135 | // | // |
| 138 | عتیق الله "حبیبی" | عبدالروف | 1165 | // | // |
| 139 | عبدالسمیع | عبدالقدیر | 1139 | // | // |
| 140 | محمد نعیم | عبدالعنایت | 1162 | // | // |
| 141 | حاجی عبدالولی | عبدالحفیظ | 1182 | // | // |
| 142 | جاجی عبدالقیوم | باشی حکیم | 1180 | // | // |
| 143 | محمد کریم | میر نواز | 1180 | // | // |
| 144 | صالح محمد | حاجی قیاد | 1182A | // | // |
| 145 | محمد شاکر | عبدالرسول | 1141 | // | // |
| 146 | حاجی کاتب | حاجی شمشیر | 1130 | // | // |
| 147 | عبدالمعروف | پروان خان | 1177 | // | // |
| 148 | احمد جمشید | محمد ایوب | 1177 | // | // |
| 149 | محمد صابر | محمد طاهر | 1176 | // | // |
| 150 | احمد نجیب | تاج محمد | 1163 | // | // |
| 151 | محمد شفیق | عبدالطیف | 1165 | // | // |
| 152 | شهزاده مسعود | محمد خان | 1162 | // | // |
| 153 | عبدالبصیر | عبدالحبیب | 1129 | // | // |
| 154 | محمد امین | غلام موالدین | 1121 | // | // |
| 155 | حاجی شمشیر خان | تاج محمد | 1132 | // | // |
| 156 | نجیب الله | محمد.... | 1135 | // | // |
| 157 | سید ممتاز | حاجی محمد خان | 1109 | // | // |
| 158 | محمد آصف | دلاور خان | 1115 | // | // |
| 159 | عبدالمومن | عطا محمد | 1108 | // | // |
| 160 | مرزا رحیم | مرزا محمد | 1103 | // | // |
| 161 | سید ظاهر | سید حکیم شاه | 1168 | // | // |
| 162 | عبدالمالک | عبدالحلیم | 1112 | // | // |
| 163 | محمد عیسی | محمد علی | 1115 | // | // |
| 164 | محمد شفیق | عبدالطیف | 1113 | // | // |
| 165 | عبالودود | عبدالحیکم | 1125 | // | // |
| 166 | انجنیر علی عالم | محمد رحیم | 1142 | // | // |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 167 | نجیب الله | محمد عثمان | 1166 | // | // |
| 168 | قاری محمد علم | حاجی بدل | 1144A | // | // |
| 169 | امان الله | مومن خان | 1146 | // | // |
| 170 | حکیم | مومن خان | 1145 | // | // |
| 171 | غلام یحیی | محمد ابراهیم | 1149 | // | // |
| 172 | محمد طیب | قطب الدین | 1148 | // | // |
| 173 | رقیه | عبالحفیظ | 1166 | // | // |
| 174 | کرام الدین | محمد کریم | 1105 | // | // |
| 175 | حاجی محمد الماس | محمد اکبر | 1088 | // | // |
| 176 | خانم گل | غلام سخی | 1065 | // | // |
| 177 | عظیم الدین | فضل الدین | 1102 | // | // |
| 178 | څارنوال میرجان | توره میر | 1147 | // | // |
| 179 | مولوی فضل هادی شینواری | سید جمال | 1163A | // | // |
| 180 | دکتور حسام الدین | حاجی تاج الدین | 1166B | // | // |
| 181 | عتیق الله | رحمت الله | 1019 | // | // |
| 182 | محمد سرور | صالح محمد | 1025 | // | // |
| 183 | سید فضل اکبر | سید علی اکبر | 1166A | // | // |
| 184 | محمد واصل | محمد حسن | 1003 | // | // |
| 185 | غلام اکبر | غلام سرور | 1011 | // | // |
| 186 | نجیم | دین محمد | 1010 | // | // |
| 187 | محب الله | رحمت الله | 1058 | // | // |
| 188 | قدم شاه | عبدالروف | 1044 | // | // |
| 189 | عنایت الله | بسم الله | 1092 | // | // |
| 190 | هدایت الله | بسم الله | 1086 | // | // |
| 191 | بسم الله | غوث الدین | 1041 | // | // |
| 192 | تاج محمد | حاجی شمشیر خان | 1043 | // | // |
| 193 | حاجی خالد | حاجی عبدالرزاق | 1089 | // | // |
| 194 | مقبول | عظیم الله | 1045 | // | // |
| 195 | عبدالقدیم | قلعه داد | 1031 | // | // |
| 196 | عبدالصمد | محمد نادر | 1030 | // | // |
| 197 | عبدالکریم | محمد امین | 1051 | // | // |
| 198 | فضل الدین | تاج محمد | 1016 | // | // |
| 199 | محمد اکبر | محمد انور | 1017 | // | // |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 200 | میر امان الله | میر عبدالله | 1013 | // | // |
| 201 | فضل احمد | محمد موسی | 1004 | // | // |
| 202 | محمد یونس | محمد یوسف | 1049 | // | // |
| 203 | محمد شریف | محمدیوسف | 1048 | // | // |
| 204 | نور محمد | محمد قل | 1047 | // | // |
| 205 | عبدالمحمود | عبدالرازق | 1046 | // | // |
| 206 | باز محمد احمدی | احمدجان | 1052 | // | // |
| 207 | عتیق الله | محمد عثمان | 1050 | // | // |
| 208 | موجود | عظیم الله | 1035 | // | // |
| 209 | حمید صدیق | حاجی عبدالطیف | 1041 | // | // |
| 210 | محمد مجیدی | محمد اکرم | 1046A | // | // |
| 211 | عبدالقدیم | قلعه داد | 1084 | // | // |
| 212 | شهاب الدین | محمد عالم | 1072 | // | // |
| 213 | محمد هابیل | محمد صالح | 1073 | // | // |
| 214 | عبدالعلیم | محمد عظیم | 1061 | // | // |
| 215 | حبیب الله | عبدالله | 1083 | // | // |
| 216 | شاه علم | میر محمد علم | 1056A | // | // |
| 217 | محمد شریف | جمعه خان | 1062 | // | // |
| 218 | حاجی قدیر | محمد عثمان | 1047 | // | // |
| 219 | اسد الله | غلام جمت الله | 1099 | // | // |
| 220 | احمد صابر | محمد نعیم | 1075 | // | // |
| 221 | عبدالرشید | عبدالرحیم | 1217 | // | // |
| 222 | بی بی سلطنت | محمد دین | 1239 | // | // |
| 223 | عبدالواسیع | حاجی محمد غوث | 866G | // | // |
| 224 | عبدالواجد | حاجی عبدالرزاق | 866K | // | // |
| 225 | دولت میر | وقیش میر | 1142 | // | // |
| 226 | جان محمد | عبدالباقی | 1068 | // | // |
| 227 | گلستان | حاجی محمود | 1064 | // | // |
| 228 | سید مصطفی کاظمی | حاجی ملک سید گل | 1082 | // | // |
| 229 | محمد قسیم | محمد حکیم | 1106 | // | // |
| 230 | عبدالادیب | عبدالمقیم | 1084 | // | // |
| 231 | محمد سرور | کاکو خان | 1222 | // | // |
| 232 | سمیع الله | عبدالطیف | 1214 | // | // |
| 233 | محمد ابراهیم | محمد علی | 1220 | // | // |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 234 | عبدالله توحیدی | نصر الله | 1234 | // | // |
| 235 | نجیبه | غلام حسین | 1232 | // | // |
| 236 | مسیح الله | امین الله | 1233 | // | // |
| 237 | عبدالحمید | امیر محمد | 1227 | // | // |
| 238 | عبدالخالق | فضل محمد | 1216 | // | // |
| 239 | باطور | عبدالرشید | 1215 | // | // |
| 240 | فیض الله | محمد ابراهیم | 1216A | // | // |
| 241 | محمد ابراهیم | محمد یوسف | 1236 | // | // |
| 242 | عبدالکریم | حاجی محمد امیر | 1236 | // | // |
| 243 | سید نور الله | سید برهان الدین | 1215 | // | // |
| 244 | محمد عیسی | محمد وصال | 1241 | // | // |
| 245 | داد محمد | میر محمد عثمان | 1251 | // | // |
| 246 | عبدالحکیم | محمد افضل | 1244 | // | // |
| 247 | عبدالله | گلدین | 1243 | // | // |
| 248 | میر حیدر | میر اکبر | 1231 | // | // |
| 249 | عبدالطیف | عبد العزیز | 1228 | // | // |
| 250 | سید ا حمد | میر عالم | 1229 | // | // |
| 251 | صفت الله | نظر محمد | 858 | // | // |
| 252 | عبدالولی | عبدالاحد | 859B | // | // |
| 253 | گل محمد | عبدالقیوم | 1150 | // | // |
| 254 | افضل امان | عبدالامان | 1154 | // | // |
| 255 | جان احمد | حاجی محمد شاه | 1124 | // | // |
| 256 | سید حسین | سید آقا | 1155 | // | // |
| 257 | سید محد حسین | سید احمد شاه | 1161 | // | // |
| 258 | دین محمد | | 1241 | // | // |
| 259 | داکتر حسام الدین | | 1275 | // | // |
| 260 | محمد نعیم | عبدالغیاث | 1262 | // | // |
| 261 | محمد داود | محمد آقا | 1273 | // | // |
| 262 | نقیب الله | نظر محمد | 1276 | // | // |
| 263 | محمد حرار | خیر محمد | 1274 | // | // |
| 264 | سید مخدوم رحین | میر محمد شریف | 1161 | // | // |
| 265 | حاجی قربان | شاه افغان | 1262 | // | // |
| 266 | زلمی هیواد مل | محمد امین | 758A | // | // |
| 267 | مولوی عبدالباقی | محمد قربان | 866C | // | // |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 268 | محمد معصوم | مقصود خان | 866F | // | // |
| 269 | احمد صدیق | عبدالطیف | 1120 | // | // |
| 270 | سید ابراهیم | سید نور الله | 1199 | // | // |
| 271 | محمد عظیم | محمد غوث | 1128 | // | // |
| 272 | محمد قسیم | محمد حکیم | 1166 | // | // |
| 273 | محمد شریف | جمعه خان | 1062 | // | // |
| 274 | نورمحمد | محمد قل | 1047 | // | // |
| 275 | شاه علم | میر محمد علم | 1056 | // | // |
| 276 | فضل الدین | تاج الدین | 1016 | // | // |
| 277 | محمد اکبر | محمد انور | 1017 | // | // |
| 278 | غلام اکبر | غلام سرور | 1011 | // | // |
| 279 | محمد ایوب | محمد اسمعیل | 1263 | // | // |
| 280 | محمد ریحان | محمد طاهر | 1116 | // | // |
| 281 | بی بی سلطنت | محمد دین | 1239 | // | // |
| 282 | قاری محمد علم | حاجی بدل | 1144B | // | // |
| 283 | محمد معصوم | مقصود خان | F866 | // | // |
| 284 | محمد عثمان | عبدالمجید | 1115 | // | // |
| 285 | غلام نبی | دین محمد | 1020 | // | // |
| 286 | هدایت الله | بسم الله | 1043 | // | // |
| 287 | عبدالخالق | عبدالحمید | 1231 | // | // |

لست اشخاصیکه پول قسط اول دالری زمین خویش را تحویل نموده اند.

| شماره | شهرت | | نمبر زمین | مبلغ تحصیل شده قسط اول |
|---|---|---|---|---|
| | اسم | ولد | | |
| 1 | محمد ریحان | محمد طاهر | 1116 | 928125 |
| 2 | حبیب الله | عبدالله | 1083 | 1278482 |
| 3 | محمد کریم | سرفراز | 1180 | 436324 |
| 4 | افضل امان | عبدالامان | 1154 | 619882 |
| 5 | خانم گل | غلام سخی | 1065 | 695819 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 6 | ذبیع الله | مومن خان | 1086 | 1362826 |
| 7 | عتیق الله | مومن خان | 1019 | 767879 |
| 8 | عبدالکریم | حاجی محمد امین | 1230 | 504883 |
| 9 | زینب انوری | محمد علی | A1021 | 103850 |
| 10 | داکتر احمد مشاهر | محمد ایوب | 1081 | 675221 |
| 11 | احمد جمشید | محمد ایوب | 1177 | 876227 |
| 12 | عبدالصمد | محمد نادر | 1015 | 662313 |
| 13 | سید احمد | میر عالم | 858 | 671041 |
| 14 | محمد شاکر کارگر | عبدالرسول | 1005 | 1426597 |
| 15 | باطور | عبدالرشید | 1170 | 554625 |
| 16 | سید نور الله | سید برهان الدین | 1215 | 554625 |
| 17 | عبدالرشید | عبدالرحیم | 1217 | 582806 |
| 18 | عبدالخالق | فضل محمد | 1216 | 840823 |
| 19 | محمد عیسی | محمد علی | 1113 | 336593 |
| 20 | عزیز الله شفق | خادم حسین | 1022 | 874641 |
| 21 | نور احمد | همت خان | 1247 | 507314 |
| 22 | محمد هارون رسولی | محمد اشرف | 180/42 | 1092792 |
| 23 | عبدالعلیم | محمد عظیم | 122/3 | 970017 |

لست اشخاصیکه پول قسط اول دالری زمین خویش را تحویل نموده اند

| شماره | شهرت | | نمبر زمین | مساحت | موقعیت | قیمت متفاوت زمین های شیر پور |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | اسم | ولد | | | | |
| 1 | شیر احمد | نصر الله | 1223 | 230 | شیر پور | 1817651 |
| 2 | محمد امین | ناصر خان | 1053 | 484 | شیر پور | 2629802 |
| 3 | انور الحق | عبدالحق | 1153 | 440 | شیر پور | 2436687 |
| 4 | لطف الله | مومن خان | 1253 | 375 | شیر پور | 2076422 |
| 5 | محمد ابراهیم | عبدالحکیم | 1021 | 621 | شیر پور | 3435649 |
| 6 | حلیمه | عبدالغفور | 1249 | 344 | شیر پور | 1902853 |
| 7 | ابراهیم | عبدالرحمن | 1178 | 319 | شیر پور | 1688601 |
| 8 | دین محمد | محمدرمان | 1172 | 315 | شیر پور | 1603442 |
| 9 | بابه جان | قلندر | 1152 | 440 | شیر پور | 2439687 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 10 | عطامحمد | نور محمد | 1234 | 480 | شیر پور | 2068022 |
| 11 | ماهره | عبدالروف | 1056 | 484 | شیر پور | 2680357 |
| 12 | محمد کریم | محمداسلم | 1029 | 936 | شیر پور | 5182888 |
| 13 | محمدامین | محمدطوره | 1052 | 393 | شیر پور | 2730911 |
| 14 | سیدیحی | سیداقاگل | 1016 | 340 | شیر پور | 1909823 |
| 15 | عبدالحمید | محمدکبیر | 1014 | 300 | شیر پور | 1661138 |
| 16 | نورالله | عبدالحسین | 1026 | 630 | شیر پور | 3991478 |
| 17 | سیدنجیب الله | سیدقربان | 1064 | 440 | شیر پور | 2436335 |
| 18 | محمدیونس | محمدیعقوب | 1156 | 600 | شیر پور | 2027170 |
| 19 | بی بی سنبل | محمدعثمان | 1032 | 628 | شیر پور | 3475283 |
| 20 | بی بی ثریا | محمدعثمان | 1038 | 618 | شیر پور | 34191112 |
| 21 | بی بی زیاده | ملاعصیت الله | 1240 | 360 | شیر پور | 1992165 |
| 22 | نورحبیب | عبدالرسول | 10514 | 464 | شیر پور | 2581498 |
| 23 | محمدیحی معروفی | محمدعثمان | A1143 | 543 | شیر پور | 3006091 |
| 24 | عمر | محمد عارف | 1066 | 484 | شیر پور | 3006748 |
| 25 | احمد کمال | محمد اسماعیل | 1047 | 640 | شیر پور | 3542688 |
| 26 | عبدالرحیم | امیر محمد | 1061 | 471 | شیر پور | 2928298 |
| 27 | عبدالامین | قلعه دار | 1034 | 643 | شیر پور | 3986666 |
| 28 | عبدالحسین | قعله دار | 1039 | 630 | شیر پور | 3911172 |
| 29 | حاجی شیر علم | حاجی محمد | 1009 | 484 | شیر پور | 3006269 |
| 30 | عبدالمقیم | قعله دار | 1037 | 591 | شیر پور | 3665816 |
| 31 | حاجی مبین | مولوی متین | 1031A | 360 | شیر پور | 2236025 |
| 32 | خواجه نبی | خواجه شیر احمد | 1224 | 350 | شیر پور | 2165914 |
| 33 | محمد یاسین | محمد موسی | 1087 | 990 | شیر پور | 6215399 |
| 34 | محمد سعید | عبدالکریم | 1179 | 310 | شیر پور | 1920171 |
| 35 | محمد طیب | قطب الدین | 1148 | 650 | شیر پور | 3997410 |
| 36 | گل محمد | عبدالقیوم | 1177A | 402،46 | شیر پور | 1719440 |
| 37 | احمد عبیر | محمد یوسف | 1070 | 1096 | شیر پور | 6817411 |
| 38 | جلال | محمد خان | 1040 | 522 | شیر پور | 3278539 |
| 39 | محمد امان | محمد موسی | 1018 | 700 | شیر پور | 4345740 |
| 40 | فاطمه | محمد قسیم | 1075 | 485 | شیر پور | 3014591 |
| 41 | محمد داود | محمد حسین | 1012 | | شیر پور | 310868 |
| 42 | علی احمد جلالی | غلام جیلانی | 8866 | 880 | شیر پور | 5862512 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 43 | کبرا نامه | محمد امین | 1151 | 300 | شیر پور | 2487120 |
| 44 | محمد یوسف واعظی | محمد اسحق | 1024 | | شیر پور | 3910877 |
| 45 | محمد حنیف اتمر | محمد اصف | A 1172 | 360 | شیر پور | 1932869 |
| 46 | محمد معصوم | محمود خان | 866F | 461 | شیر پور | 2863292 |
| 47 | حیات الله | حمایت الله | A1036 | | شیر پور | 4097412 |
| 48 | تمیز خان | محمود خان | 1111 | | شیر پور | 4096884 |
| 49 | جلال الدین | امرالدین | 1036A | | شیر پور | 2283476 |
| 50 | امرالدین | حاجت میر | 1125 | 728 | شیر پور | 4050918 |
| 51 | فضل عظیم | غلام صحبت الله | 1055 | | شیر پور | 1030867 |
| 52 | بی بی شکریه | محمد حضرت | 1098 | | شیر پور | 3048667 |
| 53 | حاجی محمد محقق | محمد سرور | 1028 | 672 | شیر پور | 3735288 |
| 54 | نصیر احمد | شمشیر خان | 1095 | 500 | شیر پور | 2782605 |
| 55 | نعمت الله شهرانی | عیار الله | 1043 | 640 | شیر پور | 3987792 |
| 56 | می الدین | نور محمد | 1220 | 1029 | شیر پور | 1750194 |
| 57 | مقصود | عظیم الله | 1038 | | شیر پور | 3374175 |
| 58 | عبدالاحد | محمد سرور | | | شیر پور | 5562011 |

دهغي ډلي نه چي د خپل تخلص نه يي په لست کي مخ اړولی دی، يو هم استاد محمد کريم خليلی دی، چي د ( خليلي) د نامه يي مخ اړولي او ۱۰۲۹ نمبر دده ته ورکړه شويدي، که دا کار عادلانه او انصاف ندي ، نو ولي تخلص نه ليکي؟ او که بد دي، بايد نه يي وای کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثال ( ۱۵۵ )

## چور لمان

د ولس قضاوت، هغه اصلي او حقيقي قضاوت وي، گرچه ولس ډير ناتوانه هم وي ، يو ( اکثريت خاموش ) جوړه وي او ديو اقليت خائين دزورواکي په لاس برمته شوی وي.

دا اقليت معمولاً د قاچاق، غصب، بډي او اختطاف د لاري د قدرت او ثروت خاوندان شوي وي.

يوه مافيايي کړی يي جوړه کړي وي، ددي خائين کړي شاته يو دولتي چارواکي ولاړ او خپل حق اخلي، دی حمايه او روزي او دقانون دتطبيق مخنيوي ورباندي کوي.

ولي کله چي موږ زورواکي وايو، دهغو د ( زور) سرچينه دري منبع دي، يا دولتي چارواکي لکه حکومتي لوړ پوړي او يا پارلمانست او دکام په نامه يو مشر وي.

د زورواکانو يوه مهمه ډله ، دپارلمان غړي دي، چي ولس پارلمان ته ( چورلمان ) وايي، چي ددوي زورواکي ، لوچکي حکومت پر گنډو کړي او د حکومت د مشروع اجرااتو مخ نيسي.

بحث او يا اعتراض چي پر وکړي، يو هم ځان ته گوته نه نيسي، وايي زه نه وم، پداسي حال کي چي تر ټولو هغه لوی خائين به ( دی) وي.

دنارينو په څنگ ښځي وکيلاني لکه (.......) دوپښته ( دوسره ) کار کوي، هم يي کميشن کاري او هم يي فزيکي فروشات درلودل او پردو ته د خوند د پاره ځان په اختيار کي ورکاوه، اداره په اداره ، ديره په ديره به گرځيدل او په ډيره بي عزتي په هره دروازي کي ولاړول.

يو امتياز يي داؤ، چي په لږ يي قناعت درلود. ننگ دي وي پردي ملي نهاد او مرگ دي وي پردي نهاد.

که دا پوښتنه وشي، چي ولي ولس رايه ورکول ؟؟ ، يا په درغلي راغلي او يا په زور، آن پر ډيرو د وطن فروشي شک راتلي، چي د پردو لخوا اجاره او استخدام شويدي.

که ملي ( گټه ) په پام کي ونيول شي همدا سمه ده، چي هيڅ پارلمان ونلرو، ولي چي پارلمان ته هغه کسان راغلي ؤ ، چي سرمايه تر لاسه کړي. او هغه کسان چي سرمايه لري هغه وساتل شي. داخلاقو دسرحد سره ليکه دوی نه پيژندل، تل يي هڅه داوه ، چي حکومت کمزوری کړي، وزيران او واليان تابع کړي. او په غير دهغه ستونزي ورته جوړي کړي. کومه شخصي موضوع او يا لويه ملي موضوع به وي، چي ددي لړلي نهاد څو کسان پکي چنگاو نه وي.

داهم بايد ووايم، چي دافغان نجيب او مجاهد ولس ټيټ کسان په پارلمان کي انتخاب شوي وه، لکه گارگان د ولس پر غوښو اخته ؤ، شيخ پلمه يي درلوده، ( دولس استازی) چي دي جملي هيڅ حقيقت نه درلود. هرڅه د ځان دپاره ؤ، که به يي لنډه او شيخه گټه په موقتي ډول نه ليدل کيده، دکريديت او راتلونکي اعتبار به يي په پام کي ؤ. په علمي سويه کي د حکومت تر غړو او پارلمان تر منځ ډير تفاوت ؤ.

په هره ټولنه کي ښه او بد شته. دپارلمان غړو دبډو اخيستونکو، قاچاقبر،غله او وژونکي استازيتوب کاوه، دهغه په دفاع به يي هر ډول ذلت ته ځان ورکاوه او چني به يي وهلي( مرگ پر چورلمان او اعضاو باندي).

اساسي قانون کي بايد تغير او تبديل راشي، متهم يي عدالت ته وسپارل شي او دانحلال د پاره يي هم پام وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کومه مقرري به وي ، چي د وکیل صاحب لاس په کي نه وي؟ او په ډیرو اداروکي سم خپل سهم لري. هغه قران ( مجید) دي دوي ووهي ، چي دوی لاس پر ایښي دي.

که زندانونه وکتل شي، هلته یو غل ،یو قاچاقبر او بل قاتل دي. او داکسان طبعآ کله ، کله شریک د جرم هم لري. قاچاقبر غل نه وي او کیسه بر قاتل نه وي، مګر زموږ وکیلان دهرجاني شریک او شاته ولاړ وي، که قاچاق بر وي او که بدي خوړونکي.

پدي باید اعتراف وکړو، چي کمزوري حکومت او قوي پارلمان مو په دواړو دورو ( ۱۵-۱۶ ) دوره کي درلود. قوي پارلمان پدي مانا ، چي خودسره،سرکښه ، بداخلاقه او قانون شکفه ؤ. کوم څوک چي لار نه نیول لکه ، داکتر رنګین دادفراسپنتا، مجتبی پتنګ، عبدالرحیم وردګ، بسم الله محمدي، محمد اسحق الکو او داسي نور. کوم وزیر چي به چمتوالی درلود، دبیژندني په لومړی ورځ به تسلیم او خپل جیب ته لاس او په ټوله ماموریت دوره کي به یي خپل تعهدات پر ځای کوله. او که کوم څوک چي ناتوان او د عزت خاوند به ؤ، هغه به یي د کمپاین په لومړي ورځ کورته رخصت کړ.

ددوي یو صفت داؤ، چي نه یي عزت درلود اونه شرم.

ددوي په هکله تشخیص ؤ، مګر دارو او درمل یي چا اقدام ونکړ.

تر هر چا ولسمشر د چورلمان لخوا فوچوق ؤ، آن هغه ورسره مدا درکول، بي بندو باره کسان پکي راغلي ؤ. حاجي ظاهر قدیر، حاجي لالی حمیدزي، احمد بیهزاد، داکتر مهدي، اقبال صافی، میرا داد نجرابي، الله ګل مجاهد، دیو خوا به یي هر حق او ناحقه خوله خلاصول، په بودجه کي یي ستونزي رامنځ ته کولي، قراردادونه او پرتوکولونه یي نه منل او وزیرانو په ډیر مسؤولیته د رایو په وخت کي برخورد کاوه.

په پارلمان کي هر چا چي ډیر نفوذ او شهرت درلود، لکه عبدالرسول سیاف، برهان الدین رباني، او حاجي محمد محقق ډیر ناوړي ګټي اخیستي. ګرچه حاجي محقق د رباني او سیاف په کچه په ناوړو ګټو کي ډیر لاس نه درلود، یوازي د عبدالعلي مزاري دلاري لاروی ؤ. مزاري هغه څوک ؤ ، چي ( رقص مرګ ) یي اختراع کړ او دخلګو په سرو کي یی میخونه وهل او دښځو سیني یي ورپري کړي. ګرچه په حقیقت کي به یي ویل ، چي د تاجکانو مي بد راځي، مګر داستاد عطا نور ائتلاف یي خپله ګټه باله.

حامد کرزی ولي ونشوای کولای، چي عدالت تآمین او قانوني حاکمیت راولي ؟ او یا نه یي غوښتل او که یي نشوای کولای؟ ستر دلیل یي داؤ، چي دامریکا حمایه د شمالي ټلوالو سره دیو تعهد پر بنا د طالبانو په ټکولو کي لوی رول درلود او دهمدي حالت نه شمالي ټالوال او یا په بل عبارت د طالبانو ټکول شمالي تالوال په ځان پوري تړلي ؤ، بالخصوص د شورای نظار غړو، شورای نظار اصلاً د پنجشیر بل نوم ؤ.

هردم د بي امنیتي د خطر احساس کیدي. کرزي به هم ویل ، چي ( ماته کاسه ) یي په لاس کي نیولي ده، که وکولای شي چی دا بدماشان، سیاسي مبارزي ته راسوق کړي ، نه جنګي مبارزه ، حالت نازک ؤ، بهرني دوښمنان هم کمین کي ناست ؤ.

هیواد یوازي د کرزی نه ؤ، بلکي هر وګړی دا ملي احساس ولري، چي قانون تطبیق شي.

په ورستیو کي د کرزي ملي احساس او ملي غوښتني او بالاخره د ولس دفاع د امریکائیانو نه وغوښته ، دي نور هم په یو نامناسبه حالت کي قرار ونیوي، همداؤ ، چي قانون حاکم نه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرزی ونشوای کولای او یا چا نه پرینودي ، چي یو قوي او سپیڅلي کاري ټیم جوړ کړي. هر یو شاته بل موازي ځواک موجود ؤ، چي د کرزی د هغه لیري کیدو او یا مجازات توان نه درلود. مثلاً محمد سلیم تره کی دهرات ښاروال، چي دمحمد اسمعیل استازیتوب کاوه او دګټو حمایه یي کوله، څو تنه والیان ددندي ترک ته مجبور کړل. څرګنده ده چي د کرزی په محمد اسمعیل زور نه رسیدي، اسمعیل خان پرسونل جهادي درلود او زور او زر ورسره ؤ، خلک داهم وایي چي ایران یي هم شاته ولاړؤ.

استاد عطامحمد نور هم همدا ډول، لکه چي وایي، خرسکي دموړي په زور غورځي . استاد عطاهم د روسانو حمایه اوهم د پنچشیرانو حمایه ورسره وه. کرزی دحالت درک درلود. نور هم ؤ ، مګر تر ټولو شورای نظار ،چی مطلب د پنچشیرانو څخه دي، هر اړخیزه فعالیت درلود او مافیایي ډول حرکت کاوه او همدا ډول تشکیلات یي درلودل، چي یو بل سره تړلي ، اقتصادي مافیا، غصب، قراردادونه، نامشروع تجارت، قاچاق او وغیره. دغله ، قطاع الطریق، اختطاف چیان او دولتي لوړپوړي، همدا ډلي یو دبل په خدمت کي ولاړ ؤ.

په دولت کي دمقاوت په نامه د پنچشیرانو نفوذ تر دي اندازي پوري ؤ، چي آن استاد تري ډار درلود.

کله چي د شهید د اونی تر نامه لاندي ځیني مراسم تر سره کیږي، اما په اصل کي د احمدشاه مسعود د تجلیل نه مطلب دي او دا نور یو ضمني یاد دیږي.

په بسم تجلیل کي استاد په ډیر صراحت دا وویل، چي بي پلاره ( بي پدره شوی یم ، یو چي اصلي پلار مي مړ شو او بل چي امر صاحب شهید شو).

ممکن داهم کومه اخفا وي، چي پرده دهغو دو عربانو سره ، چي احمد شامسعود یي ترور کړي، دده راهنمایي ورسره ؤ، چي افشاګیري، دانجنیر عارف سروري لخوا کله کله پټه او کله ښکاره ډول ویل کیږي.

جمعیت اسلامي او استاد رباني هم په نامه ؤ، چي په اصل کي د پنچشیرانو په انحصار کي قرار لري.

زموږ دا هیوادوال لکه د یهودانو غوندي، هرڅه خپل منځي مخالفت چي ولري ، سور، زرغون، او توریي د شپي د خوا د پنجشیر په نامه د قانوني او مارشال په کور کي سره یو وي، پرچم او مجاهد پر دسترخوان ناست وي.

ګټه دهر چا خوښه ده، داستادانو ډیره خوښه وه، مګر په لږ تفاوت. استاد رباني سیاسي نفوذ خوښ ؤ، چی مالي ګټه په لاس راوړي، تر سیاست یي ګټي، مالي منفعت ډیر خوښ ؤ او دا هدف ته هم ورسید، مګر د استاد سیاف برعکس ګټه خوښه وه ، چی سیاسي نفوذ ته ورسیږي. په هرصورت ولس ته بي تفاوته ده، ولي چي جهاد په خاورو ګډ او په اوبو کي لاهو شو، خواري د در پدر ولس په برخه شول.

ددي غلا او اختطاف قطاع الطریقي په هکله کوم وخت کي عبدالبصیر سالنکي د کابل امنیتي قوماندان ؤ، ولسمشر تري پوښتنه وکړه، چي په کابل کي غلا څوک کوي؟ ده في البدیعه وویل، چي د خوست او کنړ خلک نه راځي، دغه یوه طبقه ده چي دشمالي نه چي په راس کي یي پنچشیران دي ، دا کار کوي. د همدي غلو شاته د پنجشیر لوړپوړي شاته ولاړ دي. دا باید ووایم چي دلته نود ( لوی ملا ) ځای دي، چي احمدشا مسعود کولاک ته، جنرال اسمعیل خان مشهد، جنرال عبدالرشید دوستم استانبول ته او حاجي قدیر پیښاور ته ځانونه په سلامتي ورسول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library




## د فساد مخنيوي

دفساد دمخنيوي د پاره لومړی سياسي اداره او توان پکار دی.

د شتنمي تپوس وشي ، د كومه راغلي او چيرته ځي؟

ددي دپاره:

1. مستند اطلاعات د استخباراتي ادارو لخوا.
2. دقيق تفتيش او تحقيق د څارنوالی لخوا.
3. عادلانه قضاوت د محكمي لخوا.
4. بشپړ تنفيذ حكم د حكومت لخوا.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**